بسم الله الرحمن الرحيم

درس کافیه

د علم نحو مشهور درسي کتاب (کافیه)

آسانه او مفصله پښتو شرح

تألیف

مولانا سید عبدالشکور بن
مقصود شاه [illegible]

تقریظ

مولانا ولي خان المظفر صاحب

مترجم

مولوي سفر محمد عابد

مکتبه اسلامیه
کانسي روډ کوټه

اَلصَّرْفُ أُمُّ الْعُلُوْمِ وَالنَّحْوُ اَبُوْهَا

درس کافیه

د علم نحو مشهور درسي کتاب (کافیه) آسانه او مفصله پښتو شرح

﴿لومړی ټوک﴾

تالیف

مولانا سید عبد الرشید بن مقصود هاشمي

تقریظ

مولانا ولي خان المظفر صاحب

مترجم

مولوي سفر محمد عابد

الناشر

مکتبه اسلامیه

کاسي روډ نزد حاجي غیبي چوک کوئټه

النور کتب مارکیټ نزد ګوالمنډي چوک کوئټه

محمود: ۰۳۲۱۸۱۲۸۵۸۴ محمد طیب: ۰۳۲۱۸۱۱۸۹۸۲

حقوق يې خوندي دي

د كتاب پېژندنه:

د كتاب نوم .... درس كافيه
مؤلف .... مولانا سيد عبد الرشيد بن مقصود هاشمي
تقريظ.............. مولانا ولي خان المظفر صاحب
مترجم .... مولوي سفر محمد عابد
ناشر .... مكتبه اسلاميه

مكتبه اسلاميه

كاسي روډ نزد حاجي غيبي چوک کوئټه
النور کتب مارکيټ نزد ګوالمنډي چوک کوئټه
محمود: ۰۳۲۱۸۱۲۸۵۸۴ محمد طيب: ۰۳۲۱۸۱۱۸۹۸۲

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى اَفْضَلِ الْمُرْسَلِيْنَ مُحَمَّدٍ وَعَلٰى آلِهٖ وَ اَصْحَابِهِ الطَّيِّبِيْنَ وَبَعْدُ!

لومړی (۱) درس

په بسم الله سره د شروع كېدو وجه او د الف لام قسمونه

اَلْكَلِمَةُ:

تشريح: د نن په سبقه كي درې خبرې دي ①: د كتاب په (بسم الله) سره د شروع كېدو وجه، ②: د كلمې پر كلام د مخكې كېدو وجه، ③: د الف لام قسمونه.

لومړی خبره: د كتاب په (بسم الله) سره د شروع كېدو وجه د كتاب مصنف (علامه ابن حاجب) رحمه الله د خپل كتاب شروع په (بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمَانِ الرَّحِيْمِ) په خو وجو وكړه ①: په قرآنكريم پسې اقتداء، يعني د قرآنكريم په متابعت كولو سره، چي د قرآنكريم شروع هم په (بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمَانِ الرَّحِيْم) سوې ده.

دوهمه ②: اقتداء په نبوي حديث شريف پسې، لكه چي په حديث شريف كي نبي كريم ﷺ وايي: كُلُّ اَمْرٍ ذِىْ بَالٍ لَمْ يُبْدَأْ فِيْهِ بِبِسْمِ اللّٰهِ، فَهُوَ اَبْتَرُ (او كماقال ﷺ)، نو په دې حديث د عمل كولو له وجې يې د كتاب شروع په بسم الله وكړه، او پخپله نبي ﷺ هم چي به كله څه ليكل، يا به يې چاته لېكل، نو مبارك عادت يې و، چي د هغه شروع به يې په (بسم الله) كوله، لكه چي د حديبې د صلحې له مكتوبه (ژمن لېک) څخه دا خبره ثابتېږي.

③: په پخوانيو صالحينو پسې د اقتداء له كبله، لكه چي ويل كېږي: الخبر مع اكابركم، نو پخوانيو صالحينو چي څومره كتابونه ليكلي، د هغو شروع په (بسم الله) سوې ده، له همدې وجې مصنف رحمه الله هم د خپل كتاب شروع په (بسم الله) وكړه.

سوال: پاتې سوه دا خبره، چي مصنف رحمه الله چي متابعت كاوه، نو ولې يې پوره متابعت نه دی كړی؟، يعني تر (بسم الله) وروسته به يې (الحمدلله) هم راوړه،

ځکه په قرآنکریم کي هم تر (بسم الله) وروسته (الحمدلله) راغلې ده او په حدیث شریف کي چي چیري کُلُّ اَمْرٍ ذِیْ بَالٍ لَمْ یُبْدَاْ فِیْهِ بِبِسْمِ اللهِ، فَهُوَ اَبْتَر راغلي، هلته کُلُّ اَمْرٍ ذِیْ بَالٍ لَمْ یُبْدَاْ فِیْهِ بِحَمْدِ اللهِ، فَهُوَ اَبْتَر هم راغلي دي؟

جواب: چي مصنف رحمه الله د قرآنکریم د ابتدائي نزول متابعت کړی دی او د نزول په اعتبار په شروع کي (بسم الله) نه ده راغلې، او د حدیث حکم عام دی، که عمل قولًا (د وینا) په ډول په وسي او که قراءةً عمل په وسي، یا فعلًا عمل په وسي، نو مصنف رحمه الله که څه هم فعلًا متابعت نه دی کړی، خو قولًا او قراءةً یې هرومرو متابعت کړی دی.

دوهمه خبره: د کلمې پر کلام د مخکي کېدو وجه:

علامه ابن حاجب رحمه الله خپل دغه په نړۍ کي نوموتی کتاب په ډېره مختصره توګه لیکلی دی، لکه چي هغه پخپله د دې لحاظ کړی، نو ځکه د کتاب مصنف رحمه الله له اختصار څخه کار اخستی، بیله کوم تمهید څخه یې د نحوي په موضوع، یعني کلمه او کلام شروع کړې او څرنګه چي کلمه په منزله د مفرد او کلام په منزله د مرکب وي او مفرد پر مرکب مخکي کول مشهور دي، ځکه یې نو هلته کلمه پر کلام مخکي کړه.

درېیمه خبره: د الف قسمونه:

لومړی الف پر دوه قسمه دی: ①: اسمي، ②: حرفي.

الف لام اسمي هغه ته وایې، کوم چي د اسم فاعل او اسم مفعول پر صیغو داخل وي، لکه: الضارب والمضروب (لکه چي موږ په نحومېر کي درس کړي دي)، دېته اسمي ځکه وایې، چي دا د (الذی) اسم موصول په حکم کي وي.

او له الف لام اسمي پرته الف لام حرفي دی، بیا حرفي پر دوه قسمه دی: ①: زائد، ②: غیر زائد.

زائد هغه دی، چي د حذف کولو له وجې یې د مقصود کلام په معنی کي هیڅ کمی نه راځي، لکه د علي په یوه شعر کي چي راځي:

وَ لَقَدْ اَمُرُّ عَلَى اللَّئِيْمِ يَسُبُّنِىْ
فَمَضَيْتُ ثَمَّه وَ قُلْتُ لَا يُعْنِيْنِى

یعني زه پر داسي سړي راغلم، چي ماته يې ښکنځل کول، نو زه له هماغه ځخه سیده ولاړم او په زړه کي مې وويل، چي دا ښکنځل يې ماته نه دي کړي.

دلته پر (اللَّئِيْم) الف لام زائد دی، ځکه چي صفت يې (يسبنى) د جمله فعليه په صورت راغلی دی او جمله فعليه من حيث الجمله د نکره په حکم کي وي، نو که چيري د (اللئيم) الف لام زائد ونه منل سي، نو معرفه به بلل کېږي، که معرفه و ګڼل سي، نو بيا د صفت او موصوف تر مينځ مطابقت نه راغی.

او غير زائده الف لام هغه دی، چي د حذف کولو له وجې يې په مقصودي معنا کي خرابي لازمېږي، لکه (الرجل قَائِمٌ) دا دواړه په خپل مينځ کي مبتداء او خبر دي، له دې ځخه که چېري الف لام حذف سي، نو د يوه د نکره مبتداء کېدل لازمېږي، کوم چي صحيح نه دی، ځکه په دې صورت کي دا مبتداء او خبر نه پاتېږي، بلکي موصوف او صفت ځيني جوړېږي.

بيا غير زائد پر ځلور قسمه دی: ①: الف لام جنسي، دا هغه الف لام دی، د کوم له مدخول نه چي افراد مراد نه وي، بلکي د افرادو ماهيت او صفات مراد وي، لکه: په الرجل خير من المرأة کي د (الرجل) او (المرأة) الف لام.

②: الف لام استغراقي دا هغه الف لام دی، چي له مدخول ځخه يې ټول افراد مراد وي، لکه په (وَالْعَصْرِ اِنَّ الْاِنْسَانَ لَفِيْ خُسْرٍ) کي د (الانسان) الف لام.

③: الف لام عهد ذهني، دا هغه الف لام دی، چي له مدخول ځخه يې ځيني افراد مراد وي، کوم چي دمتکلم په ذهن کي معلوم وي، ليکن د سامع په ذهن کي متعين نه وي، لکه په (اِنِّىْ اَخَافُ اَنْ يَّأْكُلَهُ الذِّئْبُ) کي د (الذِئب) الف لام.

④: الف لام عهد خارجي، دا هغه الف لام دی، د کوم له مدخول ځخه چي بعض متعين افراد مراد وي، يعني متکلم او سامع دواړو ته معلوم وي، لکه په (فَعَصٰى فِرْعَوْنُ الرَّسُوْلَ) کي د (الرسول) الف لام، ځکه چي هر چاته معلوم دي، چي فرعون ملعون د کوم رسول مخالفت او سرغړونه کړې وه.

د ټول درس خلاصه دا سوه، چي له دريو وجونه يې د خپل كتاب شروع په (بسم الله) كړې او كلمه يې پر كلام ځكه مخكي كړې، چي كلمه د مفرد په منزله ده او كلام د مركب په منزله دی، تر هغه وروسته الف لام دوه قسمه يعني اسمي او حرفي راځي، بيا حرف پر دوه قسمه زائد او غير زائد راتلی، او بيا په اخيري كي غير زائد پر څلور قسمه راځي.

دوهم ② درس

كلمه او په هغې كي دالف لام څېړنه

الكلمة:

تشريح: د نن په سبق كي دوې خبرې دي: ①: په الكلمة كي د الف لام تعيين، ②: د كلمه د لفظ تحقيق.

په الكلمة كي دالف لام تعيين:

لومړۍ خبره: په الكلمة كي د الف لام تعيين:

په مخكني درس كي د الف لام قسمونه زموږ په مخكي واضح كړل سو، د نن په درس كي دا رابنيي، چي په (الكلمة) كي الف كوم قسم دی؟

نو ددې په هكله عرض دادی، چي په (الكلمة) كي الف لام اسمي خو نسي كېدای، ځكه چي (الكلمة) نه خو د اسم فاعل صيغه ده او نه د اسم مفعول.

او الف زائد هم نسي كېدل، ځكه الف لام زائده هغه وي، د كوم چي د دخول او نه دخول له كبله د كلمې د تنكير او تعريف ترمينځ هيڅ فرق نه راځي، بلكي د ده تر داخلېدو وروسته هم كلمه نكره پاتېږي، حال داچي دلته د الف په داخلېدو (الكلمة) معرفه جوړېږي، لكه چي همدلته معرفه واقع سوې ده او په حذف كېدو يې نكره جوړېږي، نو دا خبره معتين سوه، چي په (الكلمة) كي الف لام زائد نه دی، بلكي غير زائد دی، لېكن غير زائد هم پر څلور قسمه دی (كمافي الدرس السابق) نو په هغو كي كوم قسم دی؟

د دې جواب دادی، چي دا الف لام جنسي هم جوړېدای سي، مراد ځيني ټولې نحويه كلمي دي، په دې صورت كي د (الكلمة) تاء كه څه هم د وحدت لپاره ده

(کوم چي په ظاهره له جنس سره منافي او متعارض ده)، ځکه چي جنس کثرت او عموم غواړي او وحدت د خصوص غوښتونکی دی، خو داخبره په ياد لرئ، چي هره تاء د وحدت له جنس سره منافي نه وي، بلکي وحدت پر څو قسمه دی: ①: وحدت فردي، يا شخصي، لکه زيدٌ او فاطمة، ②: وحدت جنسي، لکه امرأةٌ او رجلٌ، ③: وحدت نوعي، لکه: انسانٌ، په دې قسمونو کي يوازي وحدت فردي له جنس سره منافي دی، ځکه چي دا کثرت او عموم نه غواړي، بلکي پر يوه معلوم ذات دلالت کوي، او دلته په (الکلمة) کي تاء د وحدت فردي نه ده، بلکي د وحدت جنسي ده.

او الف عهد خارجي هم مراد کېدای سي، په دې صورت کي هم له دې څخه مراد معهود فی الذهن وي، په دې ډول، چي زموږ بحث له نحوي څخه دی، نو له دې کلمې څخه هم نحوي کلمه مراد ده، نه چي منطقي او لغوي کلمه.

الف استغراقي نسي کېدای، ځکه چي موږ پخپله وويل، چي له (الکلمة) څخه مراد صرف کلمه نحوي ده او عهد ذهني هم نسي کېدای، ځکه چي د هغه په داخلېدو اسم معرفه نه جوړېږي، حال داچي دلته په واضح ډول معلومه ده، چي (الکلمة) په ترکيب کي مبتداء واقع سوې ده او مبتداء همېشه معرفه وي.

د (الکلمة) د لفظ تحقيق او څېړنه:

دوهمه خبره: د (الکلمة) د لفظ تحقيق او څېړنه:

د کلمه په هکله درې بحثونه دي: ①: (الکلمة) اسم مشتق ده، يا جامد، (②: کلمٌ جمع ده، يا اسم جنس ده، (③: د دې په اخر کي د تاءِ وحدت وضاحت.

لومړی بحث (کلمه) مشتق ده، که جامد:

د کلمه په مشتق او جامد کېدو کي د نحوي د علماؤ دوه مذهبه دي: ①: د ځيني نحوي علماؤ په نزد اسم مشتق ده، ځکه چي دا له کَلْمٌ (زخمي کېدو په معنی) څخه جوړه سوې ده او دلته د اسم مشتق او مشتق منه ترمينځ مناسبت په معنوي او لفظي دواړه ډوله سته، لفظي خو دادی، چي د (کلم او کلمه) دواړو ماده يوه ده او معنوي مناسبت يې دادی، چي دواړه د زخمي کېدو په معنی دي، لکه چي علي ﷺ ويلي دي:

حَرَاحَاتُ السَّنَانِ لَهَا اِلْتِيَامُ
وَ لَا يَلْتَامُ مَـــــا جَرَحَ اللِّسَانُ

يعني د توري زخم جوړېږي، خو د ژبې زخم کله هم نسي جوړېداى.
او يو پښتون شاعر د دې شعر په لاندي ډول ترجمه کړې ده:

په درمل خو د نېزې زخم جوړېږي
جوړ به نشي په دارو پرهـر د ژبې.

او يوه بل شاعر بيا داسې ترجمه کړې ده:

زخم د تورې به مې جـــوړ شي
جوړ به نشي ستا د ژبې پرهرونه

②: د نحوي د جمهورو علماؤ په نزد دا اسم جامد دى، د اسم مشتق منلو په صورت کي د ليري مناسبت ارتکاب لازمېږي (کما مر بيانه فى مذهب بعض العلماء).

(كَلِمْ) جمع ده، يا اسم جنس:

دوهم بحث چي (كَلِمْ) جمع ده، يا اسم جنس:
د (كَلِمْ) په هکله اختلاف دى، چي دا جمع ده، که اسم جنس، نو د نحوي ځيني علماء (يعني د لباب او صحاح مصنف علامه جوهري او د ده ملاتړي) وايي، چي دا جمع ده، دلېل يې دادى، چي که چېري جمع نسي، نو د ده اطلاق به پر يوه او تر يوه پرپورته هم کېداى، حال دا چي د ده اطلاق صرف تر دوو پر زياتو کېږي.
او د نحوې جهمور علماء وايي: چي داسي نه ده، دا اسم جنس ده، کوم چي پر قلېل او کثېر دواړو صادقېږي، دوى پر خپله دغه دعوه دوه دلېلونه وايي: لومړى دلېل يې دادى، چي په قرآنکريم کي اللّٰه جلاله وايي: اِلَيْهِ يَصْعَدُالْكَلِمُ الطيبِ وَالْعَمَلُ الصَّالِح، غوره وکړئ، چي (الكلم) که چېري اسم جنس نه سي، نو آيت به داسي کېږي (اليه يصعدالكلم الطّيبة)، يعني يو خو د فعل واحده مؤنثه په صيغه سره را خي.

او بل دا چي (الطيبة) كوم چي د الكلم صفت دى هغه به (الطيبة)، يا (الطيبات) مفرد مؤنث يا جمع مؤنث راځي، ځكه قاعده ده، چي د لا يعقل جمع د واحده مؤنثه په حكم كي وي.

دوهم دلېل دادى، چي (كَلِمْ) د (فَعِلْ) پر وزن دى او د جمع په ټولو وزنونو كي دا وزن نسته، نو دا خبره معلومه سوه، چي (كلِم) اسم جنس دى، نه جمع.

او د صاحب اللباب او صحاح د راوړل سوي دلېل جواب دادى، چي اعتبار د اصل وضع كېږي، د استعمال اعتبار نه كېږي او د (كلمْ) وضع د واحد، تثنيه او جمعي ټولو لپاره راغلې وه، خو تردوو په زياتو كي يې د كثرت استعمال له كبله داسي سو، لكه چي تردوو له زياتو سره خاص وي.

د جمهورو د دلېل جواب صاحب اللباب والصحاح داسي كړي، چي په ايت مباركه كي تر (الكلم) مضاف اليه مخكي لفظ د (بعض) مضاف محذوف دى، نو ګواكي معنا يې داسي سوه، چي (اليه يصعد بعض الكلم الطيب)، نو د (يصعد) فاعل هم لفظ د (بعض) دى، كوم چي واحد مذكر دى او (الطيب) هم د دغه (بعض) لفظ صفت دى، نو د جمهورو ذكرسوې خرابي هم نه لازمېږي.

خو جمهورو نحاتو د دې جواب داسي كړى، چي دلته د (بعض) لفظ مقدر منل صحيح نه دي، ځكه چي په آيت مباركه كي د بعضيت معنى له مخكي لا موجوده ده، هغه په دې ډول، چي الله پاك ته ټولې خبرې نه پورته كېږي، بلكي يوازي پاكي خبرې پورته كېږي، نو ګواكي د بعضيت معنى له مخكي نه لا موجوده ده.

درېيم بحث: په الكلمة كي د (تاء) لفظ وضاحت:

د (الكلمة) په اخيركي چي كومه د كړى په ډول تاء راغلې ده، هغه د وحدت ده، پر دې هغه مشهور سوال واقع كېږي، چي تاء د وحدت لپاره څرنګه صحيح كېږي، حال دا چي الف لام جنسي دى، لكه چي تېر سو، نو بيا يې په اخير كي د وحدت تاءِ څرنګه راغلې ده؟، نو د دې جواب مخكي تېر سو، د الف د تعيين په بحث كي يې وګورئ.

نو چي كله دا خبره روښانه سوه، چي د دوى دواړو ترمينځ منافات نسته، نو اوس د (الكلمة) معنى داسي كېږي، چي د نحوي دعلماؤ په نزد جنس كلمه او ددې ماهيت دادى، چي (لفظٌ وُضِعَ لِمَعْنًى مفرد).

د ټول سبقه خلاصه دا سوه، چي په (الكلمة) كي الف لام جنسي هم كېداى سي او عهد خارجي هم او (كَلِمْ) اسم مشتق دى، په معنا د زخمي كولو او دا د جمهورو په نزد اسم جنس او د ځيني علماؤ په نزد د جمع صيغه ده او په اخيري كي (تاء) دوحدت جنسي ده، كوم چي له الف لام جنسي سره منافي او معارض نه دى.

درېيم ③: درس

د لفظٌ وُضِعَ لِمَعْنًى تحقيق

لفظٌ وُضِعَ لِمَعْنًى مفردٌ:

تشريح: د نن په سبق كي دوې خبرې دي:

①: د لفظ لغوي او اصطلاحي تعريف، ②: د وُضِعَ او لِمَعْنًى تحقيق.

لومړى خبره د لفظ لغوي او اصطلاحي تعريف:

لفظ: په لغت كي رمى (ويشتلو) ته وايې، لكه چي عربو به ويل: اَكَلْتُ التَّمْرَةَ وَ لَفَظْتُ النَّوَاةَ (يعني ما خورما وخوړه او منډكه مې وغورزوله) او لفظت الرَّحَى، الدقيق (يعني ژرندې اوړه وغورزول).

او د نحويينو په اصطلاح كي د لفظ تعريف په دې ډول دى (مَا يَتَلَفَّظُ بِهِ الْاِنْسَانُ قليلا كَانَ او كثيرًا، موضوعًا كان او مهملا، حقيقتًا كان او حكمًا، مفردًا كان او مركبًا) يعني لفظ هغه كلمه ده، په كومه چي انسان تلفظ وكړي، هغه كه لږ وي، كه ډېر، كه وضع سوى لفظ وي، كه مهمل (بې معنى) او كه حقيقتًا وي، كه حكمًا او كه مفرد وي، كه مركب.

په (مَايَتَلَفَّظُ بِهِ الْاِنْسَان) سره دومره ښكاره سوه، چي د ملائكه وو او پېريانانو كلام د لفظ له تعريف څخه ووتل، خو د (قليلا او كثيرًا (كه لږ وي، كه ډېر) په قيد دا دواړه داخل سو، يا دا چي په تعريف كي د بالقوة قيد محذوف دى، لكه

چي دې طرفته موږ د ترجمې كولو په مهال اشاره كړې، يعني هر هغه كلام پر كوم چي انسان د تلفظ قدرت لري، لكه د فرشتو دا قول:

ان في الجنة نهرًا من لبن
لعلي وحسين و حسن

او د پېريانانو دا كلام:

قبر حرب بمكان قفر
و ليس قرب قبر حرب قبر

په دغو كه څه هم انسان تلفظ هم نسي كولاى، خو د تلفظ قدرت يې لري، نو دا د كلمې په تعريف كي داخل سو.

دا راز د (موضوعًا كان او مهملا) قيد له وجې مهملات او موضوعات ټول پكي شاملېږي.

او د (حقيقتًا او حكمًا) په قيد سره په دغه تعريف كي هغه ضمائر هم داخل سو، كوم چي په بعض كلماتو كي مستتر (پټ) وي. لكه په قرأ كي (هو) او اقرأ كي (انت). په دغو ضميرونو كه څه هم حقيقتًا تلفظ نه كېږي، خو حكمًا هرومرو تلفظ په كېږي.

د (مفردًا او مركبًا) په قيد سره په دغه تعريف كي له مفرداتو سره مركبات هم شامل سوه.

الكلمة: دا مبتداء ده او مؤنث ده او (لفظ) يې خبر دى، كوم چي مذكر دى، حال دا چي د مبتداء او خبر تر مينځ په تذكير او تانيث كي مطابقت لازمي دى، د دې جواب دادى، چي د مطابقت دا شرط د اسماء مشتقه وو لپاره دى او (لفظ) خو اسم مصدر دى او مصدر كله مذكر وي، او كله مؤنث، نو دلته ګواكي مؤنث دى. نو د دواړو تر مينځ په حكمي ډول مطابقت راغى.

دوهمه خبره: دوُضِعَ او لِمَعْنَى تحقيق:

وُضِعَ: دا د فتح يفتح له باب څخه ده، د ماضي مجهولې صيغه ده او (وضع) له مصدر څخه مشتق ده، لغوى معنا يې ده (ښودل او متعين كول).

او په اصطلاح کي وضع (تخصیص الشئ بالشئ بحیث متی، اطلق او احسّ الشئ الاول فُهم منه الثانی) ته وایې، یعني یو شی له بل شی سره په داسي ډول خاص کول، چي کله لومړی شی وویل سي، یا محسوس کړل سي، نو له وجې یې دوهم شی پخپله په پوهه کي راځي، لکه چي دود ولېدل سي، نو د اور موجود کېدل بخپله په ذهن او پوهه کي راځي (کما فی تیسیر المنطق).

لِمَعنًی، په لغت کي (مایُقصد بشئ ای المقصود من الشئ) ته وایې، یعني هغه شی، کوم چي د بل شی په ذریعه مرادېږي او د نحوي په اصطلاح کي دا له (عَنَی یَعْنِیْ ضرب یضربُ) څخه، یا د اسم مفعول صېغه ده، یا مصدر مېمي دی، یا اسم ظرف دی، که چېري د اسم مفعول صېغه سي، نو اصل یې له رَمَی، یرمی څخه د (مرمویٌ) په ډول (معنُوْیٌ) کېږي، د (سَیِّدٌ) په قانون سره (واو) (یاء) کړل سو او یاء په یاء کي مدغمه سوه، نو (معنًی) څېني جوړ سو، بیا د (دِعِیٌ) په قانون سره د یاء د ماقبل ضمه په کسره بدله سوه، نو (مَعْنِیٌّ) سو، تر دې وروسته د (قال، باع) په قانون یاء په الف بدله سوه، نو (معنانٌ) څېني جوړ سو، بیا د التقاء ساکنین په قانون لومړی ساکن حذف کړل سو، نو (مَعْنًی) څېني جوړ سو، دا راز په دې کي توټل شپږ قوانین جاري کېږي.

او که چیري معنًی اسم ظرف، یا مصدر مېمي سي، نو په دواړو صورتونو کي یې معنی غلطېږي، مثلا د اسم ظرف په صورت کي یې معنا داسي کېږي، چي کلمه هغه لفظ ده، کوم چي د مکان د قصد کولو لپاره وضع سوی وي او د مصدر مېمي په صورت کي یې هم معنا غلطېږي، هغه داسي، چي کلمه هغه لفظ ده، کوم چي د نفس قصد او ارادې لپاره وضع سوې وي، نو په دې دواړو صورتونو کي یې د اسم مفعول معنا کېږي، ځکه چي قاعده ده، چي چیري هم اسم ظرف، یا مصدر واقع سي، او پر خپله حقیقي معنی نسي حمل کېدای، نو هلته د اسم مفعول په معنی اخستل کېږي.

څلورم ۞ درس

د مفرد د لفظ تحقیق او اعرابي صورتونه يې:

مفردٌ:

تشریح: د نن په درس کي صرف دوې خبرې دي:

①: د مفرد تحقیق او اعرابي صورتونه يې، ②: د کلمې په تعریف کي د قیدونو فائدې:

لومړۍ خبر: د مفرد تحقیق او اعرابي صورتونه:

مفردٌ: دا د افعال له باب څخه د اسم مفعول صیغه ده، په لغت کي يوازې سوې ته وایې او د نحوي په اصطلاح کي يې معنا ده: مَا لَا یدلّ جزءُ لفظِهِ علیٰ جزء معناه (یعني مفرد هغه لفظ دی، چي اجزاء يې د معنا پر اجزاء دلالتَ نه کوي)، مثلا (کراسةٌ) یو مفرد لفظ دی، معنا يې ده (کاپی)، خو په دې کي داسې نسې کېدای، چي د (کراسة) له کاف څخه د کاپۍ جلد مراد واخستل سي او له (راء) څخه يې پاڼې او له الف او سین وغیره څخه لیکي مراد واخستل سي، دا راز د زید له (زاء) څخه د زید سر او له (یاء) څخه يې نس او ملا او له (دال) څخه يې کوم بل اندام مراد سي، بلکي د ټولو الفاظو مجموعه پر خپله معنا دلالت کوي، لیکن دده اجزاء د معنا پر اجزاؤ دلالت نه کوي.

مفردٌ: مفرد په ترکیبي اعتبار پر درېو طرېقو ویل روا دي:

①: مفردٍ د مجرور ویلو په صورت کي د (لمعنی) مجرور لپاره صفت واقع کېږی، لکه چي په دې صورت کي يې مطلب دادی، چي کلمه داسې لفظ ده، کوم چي د مفردي معنی لپاره وضع کړل سوی وي.

②: مفردً د منصوب ویلو په صورت کي پکي دوه احتماله دي، یو دا چي دا د (وُضِعَ) له ضمیر څخه (کوم چي فاعل حکمي دی، خو صاحب مفصل علامه ابن یعیش نحوي رحمه الله دا هم فاعل حقیقي ګڼلی دی) حال واقع کېږي، نو مطلب يې داسو، چي کلمه داسې لفظ ده، کوم چي وضع کړل سوی وي، په داسې حال کي چي مفرد وي.

فائده: ①: له قاعدې سره سم د حال او ذوالحال تر مینځ فاصله نه راځي، خو دا قاعده هلته وي، چیري چي له بلې کلمې څخه د حال واقع کېدو التباس لازمېږي، لیکن دلته د (وُضِعَ) له ضمېر څخه د حال واقع کېدو په صورت کي له کوم بل چا سره التباس نه لازمېږي، ځکه نو دلته د حال او ذوالحال تر مینځ فاصله جائزه ده.

دوهم احتمال دادی، چي دا له (معنًی) څخه حال واقع سوی دی، نو مطلب یې دادی، چي کلمه داسي لفظ ده، کومه چي د معنی لپاره وضع وي په داسي حال کي چي هغه معنی مفرده وي.

فائده ②: د حال تعریف په عامه توګه داسي کېږي، چي حال هغه اسم دی، کوم چي د فاعل او مفعول د واړو حالت بیانوي، خو دا د حال پوره تعریف نه دی، بلکي پوره تعریف یې هغه دی، کوم چي علامه ابن مالک نحوي رحمه الله کړی دی، چي حال هغه دی، چي له فاعل، مفعول، مبتداء، خبر او اسم مجرور څخه د یوه حال بیانوي، لکه دلته چي یې د مجرور حال بیان کړی دی.

فائده ③: څرنګه چي مونږ په نحومېر کي یوه قاعده وېلې وه، چي ذوالحال په عامه توګه معرفه وي، خو که چیري نکره وي، نو هلته حال پر ذوالحال مخکي کېږي، چي د دواړو له صفت او موصوف سره التباس لازم نسي، لکه (لقیتُ رَاکِبًا رجلًا)، خو چېري چي ذوالحال مجرور وي، څرنګه چي هلته د التباس وېره نه وي، نو ځکه هلته له معمول سره سم ذوالحال مخکي او حال وروسته راځي، چي دلته تاسو ورته وګورئ (الکلمة لفظٌ وضع لمعنًی مفردٌ).

③: مفردٌ د مرفوع ویلو په صورت کي د مخکي (لفظٌ) لپاره صفت ثاني کېږي، مطلب یې داسي کېږي: چي کلمه داسي لفظ دی، کومه چي د معنی لپاره وضع سوې وي، خو په دې صورت کي یو سوال پر کېږي، چي د مصوف اوصفت په قواعد کي یوه قاعده دا هم سته، چي کله موصوف یو وي، او صفتونه ډېر وي، نو په داسي وخت کي ځیني صفتونه مفرد وي او ځیني مرکب وي، او مفرده صفتونه به پر مرکبه صفتونو مخکی کېږي، خو دلته خبره پر عکس ده؟

جواب: چې دا قاعده کليه نه ده، بلکې دا قاعده اکثريه ده، که نه نو په قرآنکريم کې نه جاري کېږي;(هَذَا كِتَابٌ اَنْزَلْنَاهُ مُبَارَكٌ) دلته وګوره (کتاب) موصوف دی، (انزلناه) ټوله جمله يې صفت اول او (مبارک) يې دوهم صفت دی.

دوهمه خبره: په مذکوره تعريف کې د قيدونو فائدې:

د کلمې د تعريف کولو لپاره ابن حاجب رحمه الله څلور کلمات ذکر کړي دي ①: لفظْ، ②: وضع، ③: لمعنی، ④: مفرد، په دوی کې اول (لفظ) د جنس په درجه کې دی، نو په تعريف کې ټول هغه شيان داخل سول، کوم چې موږ په مخکنې سبق کې د لفظ په تعريف کې ذکر کړي وه، يعنې (که قليل وي، که کثيروي، مهمل وي، که موضوع، مفرد وي، که مرکب.....الخ)، خو (وُضِعَ) چې فصل اول ده، په دې سره مهملات ټول ووتل، او په (لمعنی) فصل ثاني حروف هجاء (کوم چې د محض ترکيب لپاره وي) ووتل، خو حروف معاني اوس هم داخل پاتې دي، ځکه چې هغه (موضوع للمعنی) وي، او په (مفردٌ) فصل ثالث مرکبات ووتل، ځکه چې پر دوی د کلام تعريف صادقېږي، کوم چې راتلونکی دی او زموږ دا بحث له کلمې څخه دی، له کلام څخه نه دی.

پنځم ⑤ درس

د کلمې اقسام او ترمينځ يې وجه د حصر

و هی اسمٌ وَ فِعْلٌ وَ حَرْفٌ، لِاَنَّهَا اِمَّا اَنْ تَدلَّ عَلَى معنًى فِيْ نفسها اولا، الثانی الحرف، والاوّل امّا ان يقترن بأحدالازمنة الثلاثة اولا، الثانی الاسم، والأوّل الفعل، و قد عُلِم بذالک حَدُّ کُلِّ منها.

ترجمه: او (کلمه) اسم، فعل او حرف دي، ځکه چې پر خپله معنا به يا پخپله دلالت کوي، يا نه، دوهم قسم حرف دی او لومړی به يا په يوه له دريو زمانو پوري مقترن وي، يانه، دوهم قسم اسم دی او لومړی فعل او په يقيني توګه (زموږ له دې لنډ عبارت څخه) د کلمې د دريو قسمونو تعريفونه هم معلوم سول.

تشريح: د نن په سبقه کې درې خبرې دي:

①: د کلمې د دریو قسمونو دعوی، ②: پر مذکوره دعوی دلیل، ③: د مصنف رحمة الله عليه د هرراز ذهن لرونکو طالبانو مخاطب کول.

لومړی خبره: د کلمې د دریو قسمونو دعوی:

په (و هی اسمٌ وَ فعلٌ و حرفٌ) سره مصنف رحمة الله عليه خپله دعوی وړاندې کوي، چې کلمه پر دریو قسمونو ده، نه تر دې کم او نه زیات او دا درې قسمونه اسم، فعل او حرف دي.

په ترکیبي اعتبار (هی) ضمیر مبتداء ده او (اسمٌ و فعلٌ وحرفٌ) یې ټول خبر دي، دلته یو سوال واردېږي، هغه دا چې جناب! د مبتداء او خبر لپاره یوه قاعده ده، چې (الضمیر اذا دار بین المرجع والخبر فرعایة الخبر اولی من المرجع و هکذا حکم خبر اسم الاشارة)، یعني ضمیر چې کله د مرجع او خبر تر مینځ واقع سي، نو د مرجع پر ځای د خبر رعایت کېږي، د هغه مذکر، یا مؤنث راوړل واجب دي، دا راز د اسم اشاره هم د مشارالیه پر ځای د خپل خبر موافق راوړل واجب دي، لکه چې د الله جل جلاله وینا ده: (فَلَمَّا رَأَى الشَّمْسَ بَازِغَةً قَالَ هَذَا رَبِّی) وګوره دلته د (هَذَا) مشارالیه (الشمس) مؤنث دی، لیکن راتلونکی لفظ (ربی) یې خبر مذکر دی له همدې وجې یې اسم اشاره مذکر راوړې ده، نو صاحب کتاب رحمة الله عليه ته هم پکار وه، چې د (هی اسمٌ) پر ځای یې (هواسمٌ) ویلي وای؟

جواب: چې مذکوره قاعده پر خپل ځای بلکل سمه ده، خو دلته د (هی) ضمیر خبر (اسمٌ) نه دی، بلکي دده خبر لفظ د (منقسمةٌ) دی، کوم چې محذوف دی او (اسمٌ) د مبتداء محذوف خبر دی، نو د عبارت تقدیر داسې کېږي (و هی ای: الکلمة منقسمةٌ الی ثلاثة انواع: احدها اسمٌ و ثانیها فعلٌ و ثالثها حرفٌ).

الملاحظة: صاحب کتاب رحمة الله عليه د دعوې کولو په مهال اسم مخکې کړی دی، ځکه چې اسم په کلام کې عمده وي، ځکه اسم مسند هم او مسندالیه هم دواړه جوړېدای سي، او په را روان دلیل او وجه د حصر کې یې حرف مقدم کړی دی، ځکه اسم او فعل د مرکب په درجه کې او حرف د مفرد په درجه کې دی، نو

کوا کې مفرد يې پر مرکب مخکې کړی دی، غرض دا چې دلته د اسم مخکې کول صحيح و او هلته د حرف مخکې کول صحيح دي.
پاتې سوه داخبره، چې اسم ته اسم ولې وايې، نو په دې هکله د بصريينو او کوفيينو اختلاف، دا راز د فعل اوحرف د تسميه وجه په پوره تفصيل سره په هداية النحو کې تېر سوي دي، هلته يې وګورئ.

دوهمه خبره: د مذکوره دعوې دليل:

لانها اما ان تدل علی معنی فی نفسها ....الخ په دې عبارت سره ابن حاجب رحمه الله د خپلې دعوې دليل او د کلمې په دريو قسمونو کې د حصر وجه بيانوي، چې ما او د نحوي نورو علماؤ چې د کلمې کوم درې قسمونه ښودلې دي، هغه ځکه چې د کلمې له صفاتو څخه دادي، چې هغه به پر خپله معنا پخپله دلالت کوي، يا نه، که يې دلالت نه کاوه، نو داسې قسم ته حرف ويل کېږي، په متن کې چې پردې ځای د (الثاني) کوم لفظ لېکل سوی دی، هغه د (الکلمة) صفت نه دی، ځکه چې دا مذکر دی، بلکې دا د (القسم) موصوف محذوف صفت دی (کما اشار اليه الناکت رحمه الله) او که يې پر خپله معنا دلالت کاوه، نو هغه به له دوو حالونو څخه خالي نه وي، يا به له خپلې معنا سره، سره په يوه له دريو زمانو پوري پيوست وي، يا به نه وي، که چيري په زمانه پوري پيوست و، هغه ته فعل ويل کېږي، او که نه وو، نو ورته اسم ويل کېږي.
دلته دا سوال وارديږي، چې په (لانها) کې د (ها) ضمير کوم چې د (انّ) اسم دی، دا کلمې ته د راجع کېدو له کبله ذات دی او (ان تدل علی معنی فی نفسها) په تاويل د مصدر د (انّ) خبر دی، حال دا چې مصدر وصف دی، نو د وصف حمل پر ذات راغی، او دا منع دی؟
د نحوي علماؤ په خاصه توګه فاضل هندي رحمه الله او د غاية التحقيق ملاصاحب او شيخ رضي او مير سيد شريف الجرجاني رحمهم الله د دې سوال بېلابېل جوابونه ورکړي دي، خو د جامي ملا صاحب رحمه الله ښه جواب ورکړی دی، هغه دا چې (ان تدل) بېله واسطې د (انّ) خبر نسي کېدای، بلکې دا مبتداء مؤخر ده او (من صفتها) محذوف يې خبر مقدم جوړيږي، مبتداء مؤخر سره له خبر مقدم جمله

اسمیه د (انّ) لپاره خبر جوړیږي، نو د (انّ) د خبر تر جوړېدو مخکې دا جمله سوه، او جمله من حیث الجمله پر ذات مع الوصف دلالت کوي او د ذات مع الوصف حمل پر ذات روا دی فما بقی الاشکال..

درېیمه خبره: و هر راز ذهن لرونکو طالبعلمانو ته د مصنف رحمه الله خطاب په (و قد علم بذالک) سره د مصنف رحمه الله پر طالبانو د مهربانۍ اندازه لګېږي، هغه په دې ډول، چې په عامه توګه طالبانو پر درې قسمه وي: ①: زېرک، ②: مینځني، ③: غبي او کوته ذهنه.

زېرک طالبان د دعوې په ذکر کولو او دلیل یعني د حصر په وجه د اسم، فعل او حرف په تعریفاتو پوهېږي، نو ګواکې مصنف رحمه الله زېرکو طالبانو ته په دعوی او دلیل د حصر خطاب وکړ.

او په (قد عُلم بذالک) سره یې د مینځني ذهن لرونکي طالبان متوجه کړل، چې بچیانو! تاسو پوه سواست، که نه، چې مخکې چې کومه وجه د حصر تېره سوه، په هغې کې د اشارة النص په ډول د اسم، فعل او حرف تعریفونه هم وسول، نو زېرک چې لږ زور وکړي، نو پوهېږي، او د کمزورې ذهن لرونکو طالبانو لپاره یوازې دغه دوې طریقې بسنه نه کوي، بلکې د هغوی لپاره به د اسم، فعل او حرف د هر قسم لپاره مستقل عنوان راوړل کېږي، د هریوه به په پوره ډول وضاحت کېږي، بیا به پر هغه سربېره د هغه علامې هم ورته ذکر کېږي.

د (بذالک) اسم اشاره مشارالیه وجه د حصر ده، که څه هم قریب ده، خو د (ذلک الکتاب لاریب فیه) په ډول یې د ده د شان د لوړېدو لپاره په اسم اشاره بعید سره اشاره ورته وکړه.

شپږم ⑥ درس

د کلام تعریف او صورتونه یې

الکلام ما تضمن کلمتین بالاسناد ولا یتأتی ذالک الا فی اسمین او اسم و فعل:

ترجمه: کلام هغه لفظ ته وایي، کوم چې دوو کلمو ته متضمن وي او دا نه حاصلېږي، مګر په دوو اسمونو سره، یا په یوه اسم او فعل سره.

تشریح: د نن په سبق کي درې خبرې دي:
①: د کلام لغوي او اصطلاحي تعریف، ②: په ذکر سوي تعریف کي د قیدونو فائدې، ③: د کلام د حاصلیدو صورتونه.

لومړۍ خبره: د کلام لغوي او اصطلاحي تعریف:

مصنف رحمه الله چي کله د کلمې له تعریف او تقسیم څخه فارغه سو، نو اوس يې د کلام تعریف پیل کړ، څرنګه چي د کلام لغوي معنی داده، چي (مَا يُتَكَلَّمُ بِهِ قليلاً کان او کثیرًا) يعني کلام هغه لفظ دی، په کوم چي تکلم او تلفظ کېږي، هغه که لږ وي، که ډېر.

او د نحاتو په اصطلاح کي د کلام تعریف په دې ډول دی: الکلام ما تضمن کلمتین بالاسناد (يعني کلام هغه لفظ دی، چي لږ تر لږه به له دو(حقیقي، یا حکمي) کلمو څخه جوړ سوی وي او ددې دوو کلمو تر مینځ به نسبت اسنادي وي، يعني یوه کلمه به مسند او دوهمه به مسندالیه وي، لکه (قرأ بکرٌ او اِقرَأ)، دا راز (نَعَم) هم پوره کلام دی، په دې شرط، چي دا د هغه سړي په جواب کي وويل سي، چي سوال وکړي، چي (هَلْ زَيْدٌ عَالِمٌ).

دوهمه خبره: په ذکر سوي تعریف کي د قیدونو فائدې:

د مصنف رحمه الله په ذکر سوي تعریف کي (الکلام) معرّف دی او (ما تضمن کلمتین بالاسناد) يې تعریف دی، په دې تعریف کي (ما) کلمه جنس ده، کومه چي مهملات، مفردات، مرکبات کلامیه او غیر کلامیه يعني مرکب تام او مرکب ناقص ټولو ته شامل دی (تضمن کلمتین) لومړی فصل دی، په دغه فصل د کلام له تعریف څخه مهملات او مفردات دواړه ووتل، (بالاسناد) دوهم فصل دی، د دې په ذریعه مرکبات غیر کلامیه، يعني مرکبات ناقصه مثلا کتاب، زید وغیره ووتل، ځکه چي د اسناد تعریف په هدایة النحو کي تېر سوی دی، چي (الاسناد نسبة احدی الکلمتین الی الاخری، بحیث تفید المخاطب فائدةً تامة ویصح السکوت علیها) يعني اسناد دېته وایي، چي په دوو کلمو کي د یوې و بلې ته داسي نسبت سوی وي. پر کوم چي مخاطب ته پوره ډول فائده واخلي، يعني

مخاطب ته هم په اصلي مقصود ترلاسه كيدو كي كومه سختي نه وي او متكلم ته هم پرده سكوت (چوپتيا) صحيح وي، لكه (زَيْدٌ عالِمٌ) وغيره، نو د (بالاسناد) په قيد سره مركبات ناقصه ووتل.

درېيمه خبره: د كلام د حاصلېدو صورتونه:

كه په عقلي اعتبار و كتل سي، نو د كلام تولټل شپږ صورتونه جوړېږي، مثلا ①: له دوو اسمونو څخه، ②: له دوو فعلونو څخه، ③: له دوو حرفونو څخه، ④: له اسم او فعل څخه، ⑤: له اسم او حرف څخه، ⑥: له فعل او حرف څخه، خو په (ولا يتأتى ذالک) سره مصنف رحمه الله په ډاګه كړه، چي د كلام د جوړولو لپاره صرف دوې طريقې او دوه صورتونه دي، پاتې صورتونه هيڅ اعتبار نلري.

يو دا چي دوه اسمونه سره يوځاى سي، كلام ځيني جوړ كړي، ځكه چي په كلام كي د دوو شيانو كېدل ضروري دي، هغه دوه مسند او مسند اليه، څرنګه چي اسم مسند او مسند اليه دواړه جوړېداى سي، نو په دواړو كي يو مسند او بل مسند اليه جوړ كړه، بيا كلام ځيني جوړ كړه، لكه: (زَيْدٌ تِلْمِيْذٌ).

دوهمه طريقه دا چي يو اسم او يو فعل سره يوځاى كړه، كلام ځيني جوړ كړه، هغه په دې ډول، چي فعل مسند او اسم مسند اليه جوړ كړه، لكه: (قراسعيدٌ)، دا راز (يا زيدُ، يا سعيدُ) هم په دې قسم كي داخل دي، ځكه چي (يا) حرف نداء د (ادعو) فعل پرځاى ولاړه ده او (سعيدٌ) اسم دى، نو له يوه اسم او يوه فعل څخه خو كلام جوړېداى سي.

اووم (٧) درس

داسم تعريف اوعلامې يې

الاسم ما دلّ على، معنًى فى نفسه غير مقترن بأحدالازمنة الثلاثة ومن خواصّه: دخول اللام والجرّوالتنوين والاضافة والاسناد اليه.

ترجمه: اسم هغه كلمه ده، چي پخپله پر خپله معنى دلالت كوي او په دريو زمانو كي په يوه پوري مقترن نه وي، او له خواصو څخه يې د ①لام او ②حرف جر داخلېدل دي او③ په اخيري كي يې تنوين راوړل له خواصو څخه دي او④

دده د بلې کلمې وطرفته مضاف کېدل او ⑤مسندالیه کېدل یې له خواصو څخه دي.

تشريح: په مذکوره عبارت کې څلور خبرې دي:

①: د (ما) دکلمې وضاحت، ②: د اسم تعریف، ③: په تعریف کې د قیدونو فائدې، ④: د اسم علامې.

لومړۍ خبره: (دما) کلمې وضاحت:

د اسم په تعریف کې له (ما) کلمه څخه مراد څه دي؟ په دې کې که څه هم مختلف احتمالات سته، خوتر ټولو صحیح قول دادی، چې له (ما) څخه مراد (کلمه) ده.

بیا دلته یو سوال واردېږي، چې په دې صورت کې د راجع او مرجع تر مینځ مطابقت رانغی، ځکه چې په (دَلَّ) کې (هو) ضمیر فاعل دی، کوم چې مذکر دی او د کلمې وطرفته راجع دی، کومه چې مؤنث ده؟

جواب: چې په (دلّ) کې ضمیر د کلمې وطرفته راجع نه دی، بلکې د (ما) وطرفته راجع دی، ځکه (ما) د لفظ په اعتبار مذکر ده او د معنا په اعتبار مؤنث ده، او داسې لفظ ته د مؤنث او مذکر دواړو ضمیرونو راجع کېدای سي، نو مورږ د (هو) ضمیر د (ما) طرفته راجع کوو، بیا له (ما) څخه (کلمه) مرادوو.

داسم تعریف

دوهمه خبره: د اسم تعریف:

لکه څرنګه چې مخکې دا خبره تېره سوه، چې د کافیه ملا صاحب علامه ابن حاجب رحمه الله د نبوت د علومو د طالبانو د درېو قسمونو لپاره د کلمې د اقسامو تعریف درېو مرحلو ته وېشلی و، نو کوم تعریفونه چې یې وکړل هغه د زېرک او متوسط ذهن لرونکو طالبانو لپاره وه، اوس یې دلته دکمزورې ذهن لرونکو طالبانو لپاره په پوره وضاحت سره تعریف وکړ، ځکه یې د اسم تعریف بیان کړ، چې (الاسم مادلّ علیٰ معنًی فی نفسه غیر مقترن باحدالازمنة الثلاثة)، یعني اسم هغه کلمه ده، کوم چې خپله معنا په خپله ښیې، یعني په خپلو معنا ښودلو کې بلې کلمې ته اړتیا نه لري او په درېو زمانو کې په یوه پورې هم مقترن نه وي، لکه (کِتَابٌ او قَلَمٌ).

درېيمه خبره: د اسم په تعرېف كي د قيدونو فائدې:

وګوره! وروره د هر شي په تعرېف كي څلور شيان اړين وي: ①: معرَّف، ②: تعرېف، ③: جنس، ④: فصل، نو دلته هم (الاسم) معرَّف دی او له (مادَلّ) څخه تر (باحدالازمنة الثلاثة) پوري پوره عبارت يې تعرېف دي او په تعرېف كي (ما) كلمه جنس ده، كومه چي درې سره قسمونو (اسم، فعل او حرف) ته شامل دي او (دَلّ على معنى فى نفسه) يې لومړی فصل دی، له وجې يې حرف له تعرېف څخه ووت، خو فعل تر اوسه هم پاتې و، نو (غير مقترن باحدالازمنة الثلاثة) چي فصل ثاني دی ذكر يې كړ، په دې سره فعل هم ووت، ځكه چي هغه په درېو زمانو كي په يوه پوري مقترن وي، نو دا تعرېف يوازې او يوازې د اسم لپاره خاص سو.

د اسم په تعرېف كي د (غير) پر لفظ درې ډوله اعراب راځي، يعني منصوب، مجرور او مرفوع، مرفوع ځكه راځي، چي د (الاسم) خبر ثاني دی، او منصوب ځكه راځي، چي له (معنًى) څخه حال واقع كېږي، يا دا چي له (مادلّ) څخه مستثنى ده او مجرور ويل يې ځكه روا دي، چي دا د معنى صفت واقع كېږي.

د اسم علامې

څلورمه خبره: د اسم مشهورې علامې:

ومن خواصّه: مصنف رحمه الله د اسم په علامو كي څو مشهورې علامې بيان كړي دي، خو تر دې مخكي د (خواصّ) لفظ لندې څېړنې ته غوږ سي: (خواص) د (خاصّةٌ) جمع ده او د (خاصّة) لغوي معنا ده (الامر المختص بالشئ) يعني د يو حكم، يا يو شي له يو شي سره خاص كېدل.

او په اصطلاح كي (خاصة) ويل كېږي: (خاصة الشئ ما توجد فيه ولا توجد فى غيره) يعني د يو شي خاصه هغه وي، چي صرف په همدغه شي كي راځي، له ده پرته په بل شي كي نه راځي.

(خواصّ) د منتهى الجموع صيغه ده، كومه چي په جمع كثرت كي شامله ده او د جمع كثرت اطلاق تر لسو پر كم نه كېږي، دلته يې هم (خواصّ) راوړې دی، نو د دې غوښتنه خو داوه، چي مصنف رحمه الله لږ، تر لږه لس علامې بيان كړې وای،

حال داچي دلته يې صرف پنځه علامې بيان کړي دي، نو ددغه سوال د جوابولو لپاره مصنف رحمه الله تر (خواصه) مخکي (مِنْ) تبعيضيه ذکر کړ، په کوم سره چي په ټولو علامو کي د ځينو وطرفته اشاره ده، د کافيه د ملا صاحب رحمه الله د ذکر سويو علامو تفصيل په لاندي ډول دی:

① دخول اللام: يعني پر کومه کلمه چي الف لام داخل وي، هغه د دغې کلمې د اسميت علامه ده.

فائده: په عامه کتابونو کي د نحوي علماؤ پر دې ځای (الف لام) دواړه ذکر کړي دي، خو مصنف رحمه الله يوازي (لام) ذکر کړی دی، چي پکي اختلاف دی، چي (الف لام) دواړه حرف تعريف دي، که يوازي (الف، يا لام)؟ نو په دې کي دري مذهبونه دي: ①: د امام سيبويه په نزد يوازي (لام) حرف تعريف دی، خو ابتداء په ساکن محاله وه، نو ځکه يې په پيل کي (الف) راوړی دی، ②: د امام خليل بن احمدالنحوي رحمه الله په نزد (الف لام) دواړه حرف تعريف دي، لکه چي د دوی مشهور قول دی: (اَلْ کَهَلْ)، يعني لکه څرنګه چي (هَلْ) دواړه حرف استفهام جوړېږي، دا راز په (اَلْ) کي هم دواړه حروف يوځای حرف تعريف جوړېږي، ③: امام مبرد رحمه الله وايي: حرف تعريف يوازي (الف) دی، خو له همزه استفهام څخه د جلا کېدو لپاره يې ورسره (لام ساکن) راوړی دی.

په مذکوره اقوالو کي د مصنف رحمه الله صرف د (لام) له ذکر کولو څخه معلومېږي، چي د ده په نزد د امام سيبويه قول راجح دی.

②: (وَالجرّ) د اسم دوهمه علامه (جر) ده، يعني د کومي کلمې مجرور کېدل د دغې کلمې اسم کېدل په ګوته کوي، نه فعل او نه حرف کېدل.

وس وګوره! په کتاب کي (الجرِّ) مرفوع او مجرور دواړه ليکل سوی دی، دا په اصل کي د ترکيبي حالتونو وطرفته اشاره ده، د مجرور کېدو په حال کي دا پر (اللام) عطف کېږي. هغه چونکه مجرور بالمضاف دی. ځکه نو دا هم مجرور سو او د مرفوع ويلو په صورت کي دا پر (دخولُ) عطف کېږي، هغه مرفوع وو، نو دا هم مرفوع سو.

(۳): (والتنوین) د اسم دریمه علامه تنوین ده، یعني کوم اسم چي منون وي، پر هغه دا حکم کېږي، چي اسم دی، لکه: وَرَقَةٌ او سبورةٌ.

فائده: تنوین پر پنځه قسمه دی، تاسو حضرات یې په لاندي فارسي شعر کي وواياست:

تنوین پنج قسم است ای یارِ من بگیر
اول تمکن است، عوض، ثــالث تنکیر
دیگر مقــابله است، تــرنم برادرم
این پانج قسم یاد کن که شوی شاه بینظیر

د دې تفصیل په نحومیر او هدایة النحو کي تېر سوی دی، دلته یې یوازي عرض کړی دی:

تنوین تمکن هغه دی، کوم چي د اسم پر منصرف کېدو دلالت کوي، لکه: سعیدٌ او زَیْدٌ.

تنوین تنکیر هغه دی، چي د اسم نکره کېدل ښیي، لکه (صَهٍ)، د دې ترجمه په عربي په دغو الفاظو سره کېږي (اُسکت سکوتًا مَّا فِی وقتٍ مَّا) یعني په کومه طریقه چي هم وي او په هر وخت کي چوپ سه او همدا (صَهْ) که چېري ببله تنوین څخه وه، نو هغه مهال دا نکېره نه بلکي معرفه وي، ځکه بیا یې معنا داسي کېږي (اسکت السکوت الآن) یعني اوس چوپ سه.

تنوین عوض هغه دی، کوم چي پر یو مضاف اسم د حذف شوي مضاف الیه په عوض کي راغلی وي، لکه: (یومئذٍ، حینئذٍ) او لکه چي د اللّٰه جل جلاله وینا هم ده: (وَ جَعَلْنَا بَعضهم فوق بعضٍ) ای: جعلنا بعضهم فوق بعضهم یعني (بعضٍ) د (هم) ضمېر وطرفته مضاف و، دا یې حذف کړل او په عوض کي یې پر (بعضٍ) تنوین عوضي داخل کړ.

تنوین مقابله هغه ته وایې، کوم چي د جمع مذکر سالمي د نون په بدل کي د جمع مؤنث سالمي په اخیري کي راغلی وي، لکه: مسلماتٌ او مؤمناتٌ.

او تنوين ترنم هغه ته وايي، کوم چي د شعرونو په اخير کي راځي، که د شعر اخيري کلمه اسم وي، يا فعل وي، يا حرف وي، پر ټولو داخلېږي، لکه جرير بن عطيه چي ويلي دي:

اَقل اللَّومَ عاذل والعتابن و قولى اِن اصبتُ لقد اصابنْ

وګوره! دلته په اخيري کلمه (اصاب) فعل ماضي ده او تنوين پر داخل سوى دى.

او زياد بن معاويه المعروف بالنابغة الذيبانى هم ويلي دي:

ازف الرَّحيل غير انَّ رکابنا لَمَّا نزل برحالنا وکان قدِنْ

وګوره! دلته په اخيرکي د (قد) کلمه ده، چي حرف ده او تنوين پر داخل سوى دى.

په مذکوره پنځو قسمونو کي لومړى څلور په اسم پوري خاص دي او پنځم قسم يعني تنوين ترنم عام دى، د اسم، فعل او حرف هريوه په اخير کي راتلاى سي.

④: (والاضافة) د اسم څلورمه علامه د کومي کلمي مضاف، يا مضاف اليه کېدل دي، لکه: کتابُ بکر.

فائده ①: په دې هکله د نحويينو اختلاف دى، چي مضاف کېدل د اسم علامه دي، يا مضاف اليه کېدل، خو تر ټولو صحيح خبره داده، چي دا دواړه د اسم علامې دي.

دلته سوال کېږي، چي جناب! تا خو مضاف او مضاف اليه دواړه د اسم علامې وبلل، حال داچي ډېرى وختونه فعل هم مضاف اليه واقع کېږي، لکه په (يَوْمَ يَنْفَعُ الصّٰدِقِيْنَ صِدْقُهُمْ) کي (يوم) مضاف ده او (ينفع) جمله فعليه يې مضاف اليه ده؟

جواب: د دې جواب دادى، چي داسي مثالونه ډېرلږ دي او حکم پر اکثرلګېږي، دوهم دا چي (ينفع) که څه هم صورةً فعل ده، خو په حقيقت کي دا په تاويل د مصدر اسم دى، نو د عبارت تقدير داسي کېږي: (يوم نفع الصادقين صدقهم).

فائده ②: د مضاف او مضاف اليه د پېژندګلوى لپاره خو علامې ډېري دى، خو په هغو کي يو څو علامې په لاندي ډول دي:

①: دوه یا که تر دوه زیات اسمونه وو، په هغو کي اخیري معرف باللام و، او تر د: مخکي بېله الف لام څخه و، نو داسي اسماء په خپلو کي مضاف او مضاف الیه جوړېږي. لکه (کتاب ... رسول الله).

②: دوه. یا تر دوه زیات اسمونه وو، په هغو کي اخیري اسم علم (یعني د یو چا نوم) و. تر ده مخکي اسم نکره وي، نو داسي اسماء هم په خپلو کي مضاف او مضاف الیه جوړېږي، لکه: کتابُ سعید وَ قلم بکرٍ.

③: که دوه. یا تر دوه زیات اسمونه وي، اخیري یې اسم موصول وي او تر ده مخکي اسماء نکره وي، نو داسي اسماء هم په خپلو کي مضاف او مضاف الیه جوړېږي. لکه: (مصدّق الذی).

④ که دوه، یا تر دوه زیات اسمونه وي، اخیري یې اسم اشاره وي او تر ده مخکي عام اسماء نکره وي، نو داسي اسماء هم په خپلو مضاف او مضاف الیه جوړېږي. لکه (فلیعبدوا رب هذا البیت) او کتاب هذا.

⑤ که دوه اسمونه وي، یا تر دوه زیات اسمونه وي، اخیري یې اسم ضمیر وي. تر د: مخکي عام اسماء نکره وي، نو داسي اسماء هم په خپلو کي مضاف او مضاف الیه جوړېږي، لکه: قلمکَ او کتابکَ.

⑤: (والاسناد الیه) د اسم پنځمه علامه د ده مسندالیه کېدل دي، لکه په (کتبَ زیدٌ) کي چي د کتابت نسبت د زید وطرفته سوی دی، نو زیدٌ د مسندالیه کېدو له کبله اسم دی.

پنځمه خبره: د پنځو ذکر سویو علامو له اسم سره د تخصیص وجه:

د نحوي علماؤ رحمهم الله چي مذکوره علامې له اسم سره خاص ګڼلې دي، نو د دې لپاره یې ځیني وجې هم بیان کړې دي: مثلاً دخول اللام یې ځکه د اسم خاصه بللی. چي د ده له کبله کلمه معرفه ګرزي او معرف ونکره اسم راتلای سي، نه فعل او حرف.

او جریې ځکه د اسم خاصه بللی، چي جر به یا د حرف جر له وجې راغلی وي، یا به د مضاف له وجې او دا دواړه صرف پر اسم داخلېږي.

او تنوین یې ځکه د اسم خاصه بللی، چې تنوین پر پنځه قسمه دی، څلور خو له اسم سره خاص دي، او یو قسم د کلمه د دریو اقسامو ترمینځ مشترک دی، نو د (وللاکثر حکم الکل) قاعدې ته په کتلو یې دا د اسم خاصه بللي دي.

او اضافت یې ځکه داسم خاصه بللی، چې مضاف به یا (بتقدیراللام) وي، یا به بتقدیر (مِن) وي او دا دواړه حرف جر دي اود حرف جر له اسم سره خاص کېدل ښکاره دي، لکه (غلام زید) په اصل کې (غلام لزید) و او (خاتم فضة) په اصل کې (خاتم مِن فضة) و او دوهمه وجه یې دا هم ده، چې اضافت تعریف، تخصیص، یا تخفیف فائده کوي، او دا درې سره له اسم سره خاص دي.

او مسندالیه کېدل یې ځکه له اسم سره خاص کړي دي، چې د اسم په دواړو قسمو یعني فعل او حرف کې د مسندالیه جوړېدو وړتیا نه وه، نو هرومرو د اسم خاصه سو.

اتم (۸) درس

دمعرب اومبني بیان

و هو معربٌ و مبنيٌّ، فالمعرب: المركب الّذی لم یُشْبِهْ مبنيَّ الاصلِ.

ترجمه: او هغه (اسم) پر دوه قسمه دی ①: معرف او ②: مبني، یا معرب (له خپل عامل سره) هغه مرکب اسم دی، چې له مبنی الاصل سره مشابهت نه لري.

تشریح: د نن په سبق کې درې خبرې دي:

①: د عبارت پر ترکیب سوال او د هغه جواب، ②: د معرب او مبني تعریف او د قیدونو فائدې، ③: د معرب او مبني دواړو د تسمیه وجه.

لومړی خبره: د عبارت پر ترکیب سوال او د هغه جواب:

(وهو معربٌ ومبنيٌّ) که چیري د دې ترکیب داسې وي، چې (هو) ضمیر مبتداء او (معربٌ و مبنيٌّ) معطوف سره له معطوف علیه خبر د مبتداء سي، مبتداء سره له خپل خبره جمله اسمیه خبریه سي، نو محترمه! پردې داسوال کېږي، چې (هو) ضمیر عام دی، کوم چې داسم ټولو اقسامو ته شامل دی او معرب و مبني خاص دي او قاعده ده، چې خبر پر مبتداء حمل وي، نو خبر د مبتداء ټولو افرادو ته

شامېږي او معنى يې داسي جوړېږي: چي د اسم ټول افراد معرب هم دي او مبني هم دي، حال داچي داسي کېدل ښکاره غلط دي؟

جواب: جنابه! د (هو) ضمير خبر معرب او مبني نه دي، بلكي د دې خبر (قسمان، يا نوعان) محذوف دي، نو اوس معنى داسي کېږي: چي د اسم ټول افراد پر دوه قسمه دي: احدهما معربٌ و ثانيهما مبنىٌ، نو اوس هېڅ سوال باقي نه پاتېږي.

دمعرب اومبني تعريف

دوهمه خبره: د معرب او مبني تعريف:

معربٌ: مشتقي اسم دی، کوم چي د افعال له باب څخه د اسم مفعول او ظرف دواړو صيغه کېداى سي.

د اعرب، يُعربُ إعرابًا لغوي معنى ده (أَوضَحَ) يعني واضح کېدل.

او د نحويينو په اصطلاح کي يې ځيني حضراتو داسي تعريف کړی، چي (هو ما اختلف آخره بدخول العوامل المختلفة عليه) يعني معرب هغه اسم دی، چي اخيرې د عواملو په بدلېدو مختلف کېږي، لکه چي يوه فارسي شاعر ويلي دي:

مبنى ان باشد کــه ماند برقرار
معرب آن باشد که گردد بار بار

او د کتاب مصنف علامه ابن حاجب رحمه الله يې په نورو ټکو تعريف کړی دی: المركب الّذى لم يشبه مبنى الاصل يعني معرب هغه اسم کوم چي له خپل عالم سره مرکب وي او له مبنى الاصل سره مشابهت نلري، لکه په (قَرأ زيدٌ) کي (زيدٌ) معرب دی او کوم اسم چي له مبنى الاصل سره مشابه وي، هغه مبني وي، لکه په (هؤلآء) کي (هؤلآء) مبني دی، ځکه لکه څرنګه چي حروف په خپله معنا ورکولو کي ضم د ضميمي ته محتاج وي، دا راز (هؤلآء) هم په خپله معنى ورکولو کي خپل مشاراليه ته محتاج وي.

د کافيه ملاصاحب رحمه الله ولي له ځانه نوی تعريف غوره کړی، له عامه نحاتو رحمهم الله څخه يې ولي مخالفت کړی دی؟، د دې وجه داده، چي عامه نحاتو

د معرب په تعریف، کولو د معرب یو صفت او عارض بیان کړی دی خو مصنف رحمه الله په خپل تعریف کي د معرب ذات ته اشاره کړې ده او د ذات تر صفت افضل کېدل خو تر لمر ښکاره دي.

دوهمه خبره: په ذکر سوي تعریف کي د قیدونو فائدې:

فالمعرب: المرکب الذی لم یُشْبِه مبنیّ الاصل په دې کي (المعرب) معرف او باقي یې تعریف دی، بیا په تعریف کي (المرکب) لومړی فصل دی، چي له کبله یې ټول مفردات مثلا اسماء اصوات، اسماء معدوده، حروف هجاء او زید، عمرو بکر وغیره وزي، (الذی لم یشبه مبنی الاصل) دا دوهم فصل دی، په دې سره هغه مرکبات هم وزي، کوم چي له مبنی الاصل سره مشابهت لري، لکه په (قام هؤلاءِ) کي (هؤلاء) که څه هم له خپل عامل سره مرکب دی، خو له مبنی الاصل سره مشابهت لري (کما مرآنفًا).

د معرب او مبني د تسمیه وجه

درېیمه خبره: د معرب او مبني د تسمیه وجه:

معرب ته ځکه معرب وایي، چي د افعال له باب یعني له (اعرب یُعرِبُ اِعرابًا) څخه د ده مصدري معنا ده (ښکارول) او (معربْ) له همدغه باب څخه د اسم مفعول او اسم ظرف صیغه ده، نو معنی یې ده (ښکاره کړل سوی او د ښکارولو ځای)، څرنګه چي پر معرب هم اعراب ښکارېږي، ځکه نو ورته معرب و ویل سو.

او ځیني نحوي علماؤ رحمهم الله یې د تسمیه وجه داسي بیان کړې، چي د افعال د باب همزه د مأخذ د سلب لپاره راځي، په دې اعتبار سره د (عَرِبَ یَعْرَبُ سَمِعَ یسمع) له باب څخه دده معنا سوه (فاسد او خرابېدل)، لکه چي ویل کېږي: (عربتْ معدةُ فُلانٍ) د فلاني سړي معده خرابه سوه، کله چي همدا ماده د افعال له باب څخه راوړل سي، نو بیا یې مصدري معنا داسي کېږي (د فساد او خرابۍ زائلول)، نو د اسم مفعول او اسم ظرف په صورت کي یې معنی داسي کېږي: فساد زائل کړل سوی او د فساد زائلېدو ځای، نو په دې اعتبار معرب ته معرب

ځکه ویل کېږي، چي پرده د اعراب د ظاهرېدو له وجې د معنی خرابي او فساد زائلېږي.

نهم (۹): درس

داسم معرب حکم

و حکمه: ان یختلف آخره باختلاف العوامل لفظًا او تقدیرًا.

ترجمه: او د معرب حکم دادی، چي د ده اخیر د عواملو په بدلېدو بدلېږي، هغه که په لفظي توګه وي، یا په تقدیري توګه وي.

تشریح: د نن په سبق کي صرف دوې خبرې دي: ①: د معرب حکم او د یوه سوال جواب، ②: د لفظًا او تقدیرًا تحقیق.

لومړۍ خبره: د معرب حکم او د یوه سوال جواب:

و حکمه ان یختلف آخره، مصنف رحمه الله د اسم معرب حکم بیان کړی دی، چي د معرب حکم او پرده مرتب سوی اثر دادی، چي د عواملو په بدلون سره د ده اخیر بدلېږي، هغه بدلېدل که په لفظي ډول وي، لکه (جاءني ابوک و رأیت اباک و مررت بابیک) او (جاء نی زیدٌ وَ رأیتُ زیدًا وَ مررتُ بزَیْدٍ)، که په تقدیري ډول وي، لکه: (جاءنِیْ مُوسَی، و رأیتُ موسی، و مررت بموسی).

دلته داسي سوال کېږي، (العوامل) د منتهی الجموع صیغه ده، تر کومه لاندي چي لږتر لږه درې افراد هرومرو وي، ګواکي مطلب یې داسو. چي تر څو پوري پر یو معرب لږترلږه درې عوامل داخل سوي نه وي، تر هغه مهاله د ده اخیر نه بدلېږي، حال داچي موږ وینو، چي په (جاء نی زیدٌ وَ رأیتُ زیدًا وَ مررتُ بزَیْدٍ) کي یوازې د یوه عامل له وجې د.ده اخیر بدل سوی دی؟

جواب: ستاسو خبره بیخي سمه ده، خو پر (العوامل) الف لام جنسي داخل سوی دی او قاعده ده، چي کله پر جمع (الف لام) جنسي داخل سي، نو د دغې جمع جمعیت له مینځه ځي، نو (العوامل) که څه هم منتهی الجموع دی، خو مراد ځیني یو عامل دی.

فائده: یادلره، چي د عواملو د بدلېدو مطلب د هغه په عمل کي مختلف کېدل دي، صرف په نوعیت کي د هغه مختلف کېدل مراد نه دي، که نه ډېر عوامل داسي سته، چي نوعیت یې که څه هم مختلف وي خو عمل د ټولو یو وي. لکه (انّ زیدًا قائمٌ، ضربتُ زیدًا او انی ضارب زیدًا) غور وکړه (زیدٌ) معرب دی، پر ده مختلف النوع عوامل بدل سوي دي، خو عمل یې نه دی بدل سوی، نو ځکه دا خبره په یاده لره، چي د عواملو د بدلېدو مطلب دادی، چي د مختلف قسم عمل کوونکي عامل پر ده داخلېږي.

د لفظًا او تقديرًا تحقيق

دوهمه خبره د لفظًا او تقديرًا تحقيق:

مصنف رحمه الله لفظًا او تقديرًا داسي الفاظ راوړي، چي په کوزه کي یې دریاب ځای کړی، یو له مغزنه ډک مضمون یې یوازي په دوو کلمو کي ځای کړی، تشریح یې په دې ډول ده چي د عواملو په بدلېدو سره د معرب اخیري بدلېږي، دا پر دوه قسمه دی: لفظي او تقديري، لفظي هغه کوم چي په ژبه ویل کېږي او تقديري هغه دی، چي په ژبه نه ویل کېږي، بلکي صرف عقل د هغه تبدیلي تسلیموي.

بیا لفظي پر دوه قسمه دی: ذاتي او صفتي، ذاتي دا مطلب چي د معرب اخیري حرف په بل حرف بدل کړل سي، بیا دا هم پر دوه قسمه دی: ذاتي حقيقي او ذاتي حکمي.

د ذاتي حقيقي مثال، یعني په کوم کي چي د معرب ذات یعني اخیري حرف په حقيقي ډول بدل سوی وي، لکه د اسماء سته مکبره اعراب، لکه: (جَاءَنی ابوکَ وَرَأيت اباکَ و مررت بابيک).

او د ذاتي حکمي مثال یعني په کوم کي چي د معرب ذات یعني اخیري حرف یې په حقيقي ډول نه وي بدل سوی، بلکی په حکمي ډول بدل سوی وي، لکه: د تثنیه اوجمع سره له خپلو اقسامو د حالت نصبي او جري اعراب، لکه: (رأيتُ نحيفين وانثين کليهما) او د جمع مثال (رأيتُ مسلمين وعشرين اولیٰ مالٍ).

او صفتي هم پر دوه قسمه دی: صفتي حقيقي او صفتي حكمي، د صفتي حقيقي مثال لكه: د مفرد منصرف صحيح، جاري مجرای صحيح او جمع مكسر اعراب، لكه: (جَاءنی زيدٌ و ظبیٌ و رجالٌ).
او د صفتي حكمي مثال، لكه: د غير منصرف او جمع مؤنث سالمي په حالت نصبي او جري كي اعراب، لكه (رأيتُ عمرَ ومسلماتٍ و مررت بعمرَ ومسلماتٍ).
او د تقديري حقيقي مثال لكه: (جاءنی فتًی و رأيتُ فتًی و مررتُ بفتًی) وګوره د دې اصل (فتیٌ، فتيًا او فتیٍ) وو، په دريو سره كي د (قالَ او باع) په قانون سره (ياء) په الف بدله سوه، بيا د (التقاءساكنين) له وجې (الف) وغورزول سو.
او د تقديري حكمي مثال، لكه: د اسم مقصور اعراب مثلاً (جَاءنِیْ مُوسَیٰ، و رأيتُ موسیٰ و مررت بموسیٰ)، نو دا ټول مضمون مصنف رحمه الله صرف په دوو كلمو (لفظًا او تقديرًا) كي بيان كړی دی.
لفظًا او تقديرًا: دا دواړه له څو وجو منصوب دي: ①: يوه خو دا چي د (يختلف) نسبت چي د كوم فاعل وطرفته سوی و په هغه كي ابهام و، چي څرنګه د هغه اخير بدلېږي، نو د هغه ابهام د ليري كېدو لپاره د كافيه ملا صاحب رحمه الله تميېز ذكر كړ، چي (لفظًا او تقديرًا) يعني د دې د بدلېدو مطلب دادی، چي هغه په لفظي، يا تقديري ډول بدلېږي، نو د تميېز كېدو په وجه منصوب سوه (كمامرّ تفصيله آنفًا).
②: د لفظًا او تقديرًا د منصوب كېدو دوهمه وجه داده، چي دا دواړه د (كان) محذوف خبر دی، نو عبارت داسي كېږي (و حكمه ان يختلف آخره باختلاف العوامل لفظيًا كان ا لاختلاف او تقديريًا).
③: دريېمه وجه دا چي دا د حذف شوي مفعول مطلق لپاره مضاف اليه دي، نو په دې صورت كي د عبارت تقدېر داسي كېږي: (و حكمه ان يختلف اختلاف لفظٍ او تقديرٍ آخره باختلاف العوامل)، نو (اختلاف) مصدر حذف سوی دی او مضاف اليه يعني (لفظًا او تقديرًا) يې قائمقام سوه، د مفعول مطلق اعراب يې وركړ، دېته د نحاتو په اصطلاح كي (المنصوب بنزع الخافض) ويل كېږي.

④: څلورمه وجه يې دا هم كېداى سي، چي دا د محذوف مصدر، يا مفعول مطلق محذوف المضاف لپاره صفت واقع سوي دي، په دې صورت كي نو د عبارت تقدير داسي كېږي: (و حكمه ان يختلف آخره اختلافًا ملفوظًا او مقدرًا) والله اعلم بالصواب وعلم اتم واكمل.

لسم(۱۰) درس

اعراب او د عامل تعريف او د اعراب قسمونه

الاعراب ما اختلف آخره به ليدلَّ على المعانى المعتورة عليه.

و انواعه: رفعٌ و نصبٌ و جرٌّ، فالرفع علَم الفاعلية والنصب علَم المفعولية والجرُّ علم الاضافة، والعامل ما به يتقوم المعنى المقتضى للاعراب.

ترجمه: اعراب هغه دى چي په ذريعه يې د معرب اخير بدلېږي، د دې لپاره چي پر هغو معناوو دلالت وكړي، كومې چي پر اسم معرب يوه وروسته تربلي راځي او د دې قسمونه: رفع، نصب او جر دي، رفع د فاعل علامه ده، نصب د مفعول علامه ده او جر د اضافت علامه ده او عامل هغه شى دى، د كوم په ذريعه چي داسي معناوې حاصلېږي، كومې چي د اعراب غوښتنه او تقاضا كوي.

تشريح: د نن په سبق كي څلور لنډې خبرې دي:

①: د اعراب تعريف، ②: د اعراب حكمت او وجه، ③: د اعراب قسمونه، ④: د عامل تعريف.

لومړۍ خبره: د اعراب تعريف:

كله چي علامه ابن حاجب رحمه الله د معرب له تعريف څخه فارغ سو، نو اوس د اعراب تعريف راته كوي، نو ورته غوږ سه! (الاعراب ما اختلف) يعني اعراب هر هغه حرف، يا حركت دى، چي له وجې يې د اسم معرب اخير بدلېږي، لكه (جَاءَنِيْ زَيْدٌ و رَأَيْتُ زَيْدًا وَ مَرَرْتُ بِزَيْدٍ)، په دې مثال كي (جَاءَ) عامل دى، او د (زيدٌ) اخيري حرف يعني (دال) د اعرابِ محل (محاى) دى او پر ده چي كومه (رفع) راغلې ده، هغه اعراب ده، همدا راز د اعراب حرفي مثال، لكه (جَاءَنِيْ اَبُوْكَ وَ رَأَيْتُ اَبَاكَ وَ مَرَرْتُ بِاَبِيْكَ).

داعراب حكمت اووجه يې:

دوهمه خبره: د اعراب حكمت او وجه يې:

د عامل په ذريعه د معرب د اخير اعراب ولې بدليږي؟، د دې وجه مصنف رحمه الله بيان كړې ده، چي (ليدلّ على المعانى المعتورة عليه) يعني د دې لپاره چي دلالت وكړي پر هغو معناگانو (فاعليت، مفعوليت او اضافت) كومې چي پر اسم معرب يوه په بله پسې راځي.

فائده: (المعتورة) دا د افتعال له باب څخه ده، د فعل متعدي د اسم فاعل صيغه ده او په فعل متعدي كي دا قاعده ده، چي په صله كي يې (على) نه راځي، او دلته راغلې ده؟

جواب: د دې جواب دادی، چي دا د صنعت تضمين له وجې راغلې ده، يعني مورږ دا د (الواردة) په معنا اخستې ده او د (الواردة) په صله كي (على) راتلای سي، نو د (المعتورة) په صله كي هم (على) راغلې ده.

داعراب قسمونه

درييمه خبره: د اعراب قسمونه:

و انواعه رفعٌ و نصبٌ و جرٌّ! مصنف رحمه الله د اعراب قسمونه بيانوي، چي د اعراب درې قسمونه دي: رفع، نصب او جر، په حقيقت كي كه وكتل سي، نو د اعراب ټوټل قسمونه څلور جوړيږي: رفع، نصب، جر او جزم، خو دلته يې درې ځكه ويلي، چي دلته د اسم اعراب بيانيږي او د اسم اعراب درې دي، پاتې سو جزم، نو هغه يوازي له فعل سره خاص دی، ځكه يې دلته د هغه ذكر ونكړ.

فائده: د كافيه ملاصاحب رحمه الله دلته په خپل عبارت كي (انواعه) راوړی دی، (اقسامه) يې نه دی راوړی، په دې كي يې يوې اهمې نكتې ته اشاره كول مقصود دي، هغه دا چي په هره نوع كي دننه افراد وي، دلته يې هم د دري سره انواعو د افرادو وطرفته اشاره كړې ده، چي تر (رفع) لاندي درې افراد دي: واو، الف اوضمه او تر (نصب) لاندي څلور افراد دي: ياء، الف، نصب او كسره، او تر (جر) لاندي درې افراد دي: ياء، نصب او جر (كما لا يخفى على احدٍ منكم).

فالرفع علم الفاعلية مخکي د کافيه ملاصاحب رحمه الله د اسم د اعراب درې قسمونه (رفع، نصب او جر) را وښودل، نو د هغه لپاره د دليل په ډول وايي، چې ما د اعراب درې قسمونه ځکه در وښودل، چې د اسماؤ هم درې قسمونه دي: مرفوعات، منصوبات، مجرورات، پر دې سربېره کوم بل قسم نشته، نو (رفع) که د حرکت په صورت وي، يا د حرف په صورت وي، دا د مرفوعات علامه ده او (نصب) د منصوبات علامه او (جر) د مجرورات علامه ده.

فائده: پر فاعليت او مفعولية دواړو يې (ياء مشدده) راوړې ده، ځکه چې په دوی دواړو کې مصدري معنا پيداکېدل مطلوب وه او په اضافت کې له مخکې لا مصدري معنا وه، ځکه نو هلته د (ياء) راوړلو اړتيا نه وه، هغه يې هماغسې بېله ياء ذکر کړ.

د مصدر اقسام

فائده: مصدر پر درې قسمه دی:

① : مصدر اصلي: دا هغه مصدر دی، چې پر داسې معنا دلالت کوي، کومه چې له ذات څخه خالي وي، په دې شرط، چې په شروع کې يې ميم نه وي او په اخير کې داسې مشدده ياء زائده هم نه وي، تر کومه وروسته چې تاء تانېث وي، لکه: علمٌ، فضلٌ فهمٌ وغيره.

کله چې مصدر مطلقًا ذکرسي، نو ځيني همدا قسم مراد وي، او د مصدر دغه قسم سماعي دی.

② : **مصدر ميمي**: دا هغه مصدر دی، چې پر داسې معنا دلالت کوي، چې له ذات څخه خالي وي او په شروع کې يې ميم راغلی وي او په اخيري کې يې داسې ياء مشدده زائده نه وي راغلې، چې تر دې وروسته تاء تانېث وي، لکه: مطلبٌ، معدلٌ، مجلبةٌ.

③ : **مصدر صناعي**: دا هر هغه مصدر دی، چې په اخير کې يې ياء مشدده زائده راغلې وي، تر هغه وروسته تاء تانېث مربوطه زياده راغلی وي، لکه: له اسدٌ څخه اسديةٌ، له فاعلٌ څخه فاعليةٌ او له مفعولٌ څخه مفعوليةٌ.

د مصدر همدا دوه قسمونه قیاسي دي (درس مقامات).

دعامل تعریف

څلورمه خبره: د عامل تعریف:

د معرب د حکم د بیانولو په ضمن کي د عامل ذکر هم راغلی و، نو د کافیه ملاصاحب رحمه الله د اعراب او دهغه داقسامو تر بیانولو وروسته مناسب (ور) وګڼل، چي د عامل په پوره ډول تعریف وکړي: (والعامل ما به یتقوم المعنی المقتضی للاعراب) یعني عامل (هغه که لفظي وي، که معنوي) هغه دی، چي په ذریعه یې هغه معنا حاصلیږي، چي اعراب یې تقاضا (غوښتنه) کوي، لکه په (جاءني زَيْدٌ) کي (جَاء) عامل دی او د ده په سبب په (زید) کي د فاعلیت معنا پیداسوه او په اخیر کي یې رفع د فاعلیت علامه ده، دا راز په (رَأَيْتُ زَيْدًا) کي (رَأَيْتُ) عامل دی، له کبله یې په (زیدًا) کي د مفعولیت معنا پیداسوې ده او نصب چي پر چا راغلی دی، هغه د مفعولیت علامه ده (وهکذا تقول فی مررت بزيدٍ):

یوولسم (۱۱) درس

داعراب لومړی قسم

فالمفرد المنصرف والجمع المكسر المنصرف بالضمة رفعًا والفتحة نصبًا والكسرةُ جرًّا.

ترجمه: نو د مفرد منصرف او جمع مکسر اعراب دادی، چي دا دواړه په حالت رفعي کي په ضمه سره وي او په حالت نصبي کي په فتح سره او په حالت جري کي په کسره سره وي.

تشریح: د نن په سبق کي څلور خبرې دي:

①: د مفرد منصرف صحیح او جمع مکسر تعریفونه، ②: د دوی دواړو اعراب، ③: د دواړو د ذکر سوي اعراب ورکولو وجه، ④: د (رفعًا، نصبًا او جرًّا) اعراب.

دمفردمنصرف صحیح اوجمع مکسر تعریفونه

لومړی خبره: د مفرد منصرف صحیح او جمع مکسر تعریفونه:

المفرد المنصرف هو الاسم الذى لايكون مثنىً ولامجموعًا ولا غير منصرف كزيدٍ ور حلٍ.

ترجمه: مفرد منصرف صحیح هغه اسم دی، چي تثنيه او جمع هم نه وي او غير منصرف هم نه وي، لکه: (زيدٌ او رجلٌ)، د کافيه ملاصاحب رحمه الله د نحو د عامو علماؤ رحمهم الله په ډول دلته د (صحیح) قيد ځکه ونه لګاوه، چي مفرد منصرف جاری مجرای صحیح یعني (دلوٌ او ظبیٌ) هم پکي داخل سي.

الجمع المكسر المنصرف هو الجمع الذى لم يُسلم فيه بناء الواحد ولا يكون غير منصرف كرجالٍ و طلبةٍ.

ترجمه: جمع مکسر منصرف هغه اسم دی، په کوم کي چي نه د خپل مفرد بناء صحیح او سلامته پاتي وي او نه هم غير منصرف وي، لکه (رجالٌ او طلبةٌ)، کوم چي د (رجلٌ او طالبٌ) جمع ده.

دوهمه خبره: د دې دوارو قسمونو اعراب:

د دې دوارو اعراب د کافيه ملاصاحب رحمه الله بيان کړی، چي (بالضمة رفعًا والفتحة نصبًا والكسرة جرًّا)، یعني په حالت رفعي کي د دوی درې سره وو رفعه په ضمه سره راځي، لکه: (جَاءَنِیْ زیدٌ و رجالٌ و هذا دلوٌ) او په حالت نصبي کي په فتحه سره راځي، لکه (رأيتُ زيدًا ورجالًا ودلوًا) او په حالت جري کي په کسره راځي، لکه (مررت بزيدٍ و رجالٍ و دلوٍ).

درېيمه خبره: دې دوارو ته د ياد شوي اعراب د ورکولو وجه:

د اسم متمکن په قسمونو کي يې دغو دوو ته ولې دا اعراب ورکړی دی؟، نو د دې يوه خاص وجه شته، هغه دا چي د اعراب په ټولو صورتونو کي دا صورت (یعني اعراب بالحركة لفظي غير تبعي) اصل دی او د اسم متمکن په ټولو قسمونو کي هم دا دواړه قسمونه اصل دي، لکه څنګه چي مفرد د تثنيه او جمعي په مقابله کي اصل دی او منصرف د غير منصرف په مقابله او صحیح اصل ده د معتل په مقابل کي او جمع مکسر منصرف هم اصل ده د جمع مکسر غير منصرف

په مقابله كې، نو چې د دغو اصل كېدل ثابت سول، نو ګواكې اصلي ته يې اصلي اعراب وركړ.

د (رفعًا نصبًا او جرًّا) اعراب

څلورمه خبره: د (رفعًا نصبًا او جرًّا) اعراب:

په ذكر سوي عبارت كې (رفعًا نصبًا او جرًّا) درې سره منصوب دي، د دې څو وجې دي: ①: دا درې سره مفعول فيه دي، په اعتبار د حذف د مضاف، نو ګواكې اصل عبارت داسې دی: (حالة الرفع والنصب والجرّ)، ②: دا درې سره مفعول مطلق دي په اعتبار د موصوف كوم چې محذوف دی، په دې صورت كې عبارت داسې كېږي (تُعرب هذه الأقسام اعرابًا لفظًا)، ③: دا درې سره په تركيب كې حال واقع سوي دي، هغه داسې، چې (رفعًا ونصبًا و جرًّا) درې سره مصدر په معنا د مفعول دي، ځكه چې قاعده ده، چې مصدر كله د اسم فاعل په معنا وي او كله د اسم مفعول په معنا وي، لكه چې (رفعًا دمرفوعٌ) په معنا دی، نو عبارت داسې كېږي: (يُعربان بالضمة حال كونهما مرفوعين والفتحة منصوبين والكسرة مجرورَين).

دوولسم (١٢) درس

د اعراب دوهم او درېيم قسم

جمعُ المؤنث السَّالم بالضمة والكسرة غيرُ المنصرف بالضمة والفتحة.

ترجمه: د جمع مؤنث سالم اعراب دادی، چې په حالت رفعي كې ضمه پر راځي او په نصبي او جري حالت كې وربانديې كسره ا و د غير منصرف اعراب دادی، چې په حالت رفعي كې په ضمه سره وي او په حالت نصبي او جري كې په فتحه سره وي.

تشريح: د نن به سبق كې څلوري خبرې دي:

①: د جمع مؤنث سالم تعريف او اعراب يې، ②: د نصب د جر د تابع كېدو وجه، ③: د غير منصرف اعراب، ④: په غير منصرف كې د جر د نصب د تابع كېدو وجه.

د جمع مؤنث سالم تعريف او اعراب يې

لومړۍ خبره: د جمع مؤنث سالم تعريف او اعراب يې:

الذي يكون جمعه بالالف والتاء يعني د نحوينو په نزد جمع مؤنث سالمه هغه د جمع صيغه ده، چي په اخير كي يې (الف او تاء) راغلي وي، مفرد كه يې مؤنث وي، لكه چي د (مؤمنهٌ) جمع (مُؤْمِنَات) او د (مسلمهٌ) جمع (مسلماتٌ) راغلي دي او كه مفرد مذكر وي، لكه چي د (مرفوعٌ) جمع (مرفوعاتٌ) او د (منصوبٌ) جمع (منصوباتٌ) راغلي دي.

د كافيه ملاصاحب رَحِمَهُ اللهُ د دې اعراب په ډېرو لنډو ټكو كي بيان كړي دي، له كوم سره چي كه چېري بين السطور كلمات يو ځاى سي، نو په اسانۍ سره سړى په پوهېږي، مثلاً چي داسي وويل سي (بالضمة رفعًا والكسرة نصبًا وجرًا) يعني د جمع مؤنث سالم اعراب دادى، چي په حالت رفعي كي په ضمه سره وى، او په حالت نصبي او جري دواړو كي په كسره سره وي، لكه (جاء نى مسلماتٌ ورأيتُ مسلماتٍ و مررتُ بمسلماتٍ).

د نصب د جر د تابع كېدو وجه

دوهمه خبره: د نصب د جر د تابع كېدو وجه:

په جمع مؤنث سالمه كي يې نصب د جر تابع كړى دى، كوم چي اوس تېر سول، چي نصب اوجر دواړه يې په كسره سره وي، نو ددې وجه داده، چي جمع مؤنث سالمه د جمع مذكر سالم فرع ده او په جمع مذكر سالمه كي نصب د جر تابع دى، نو دلته هم داسي سول، د دې لپاره چي د اصل او فرع ترمينځ مطابقت راسي.

دلته يو سوال پيداكېږي، چي دا د جمع مذكر سالمه فرع ده، نو بيا دي دېته هم هماغه ډول اعراب بالحرف وركول سي، حال داچي ده ته خو اعراب بالحركت وركول سوى دى؟

جواب: د دې جواب دادى، چي بلكل همداسي پكار وه، خو اعراب بالحرف پر داسي كلمه راځي، چي په اخير كي يې حرف علت وي، حال دا چي د جمع مؤنث سالمه په اخيري كي حرف علت نه وي، ځكه نو جمع مؤنث سالمه ته اعراب بالحركة يعني اعراب بالاصل وركول سو.

د غیر منصرف اعراب

دریمه خبره: د غیر منصرف اعراب:

د غیر منصرف په اعراب بیانولو کي د کافیه ملا صاحب رحمه الله ویلي دي: چي (غیر المنصرف بالضمة والفتحة) له کوم سره چي بین السطور کلمات او نکتې یو ځای سي، نو عبارت داسي کېږي: (غیر المنصرف بالضمة رفعًا والفتحة نصبًا وجرًّا) یعني د غیر منصرف اعراب دادی، چي په حالت رفعي کي پر دده ضمه راځي، لکه (جاءنی عمرٌ) او په حالت نصبي او جري دواړو کي پر دده فتحه راځي، لکه (رأیتُ عمرَ و مررتُ بعمرَ).

په غیر منصرف کي د جر د نصب د تابع کېدو وجه

څلورمه خبره: په غیر منصرف کي د جر د نصب د تابع کېدو وجه:

په غیر منصرف کي یې جر د نصب تابع کړی دی، د دې وجه داده، چي غیر منصرف د فعل فرع دی او پر فعل کسره نسي راتلای، نو د فعل په تابع کي (یعني پر غیر منصرف) هم کسره نسي راتلای، د دې لپاره چي د اصل او فرع تر مینځ مطابقت راسي، د دې پوره تفصیل به انشاء الله تعالی د منصرف په بحث کي راسي.

پاتې سوه داخبره، چي غیر منصرف کله فرع دی، نو ده ته اعراب هم فرع والا ورکول پکار و، یعني اعراب بالحرف ورکول، حال دا چي ده ته اصل اعراب یعني اعراب بالحرکة ورکول سوی دی؟

نو ددې درې وجې دي: یوه دا چي غیر منصرف د فعل فرع دی او د فعل اعراب په عامه توګه په حرکت سره وي، ځکه یې نو ده ته هم اعراب بالحرکة ورکړ، دوهمه وجه داچي چي په ظاهره که څه هم اعراب اصلي پر لګېدلی دی، خو په حقیقت کي دا اعراب اصلي نه دی، بلکي فرعي دی، ځکه چي په درېو سره حالتونو کي صرف پر دوو حالتونو اعراب ظاهر ول که څه هم اعراب بالحرکة دی، بیا هم دا فرعي اعراب شمېرل کېږي، او دلته هم ظاهره ده، چي په دوو حالتونو (نصبي او رفعي) کي که څه هم اعراب ظاهر سوی دی، خو په یوه حالت (جري) کي هېڅ ظاهر سوی نه دی، نو فرع ته اعراب فرعي ورکول سو.

دريېمه وجه داده، چي د غيرمنصرف دوه طرفونه دي، له يوه طرفه د فعل فرع دى او له بل طرف څخه دا د تثنيه او جمع لپاره اصل دي، دا ځکه چي غير منصرف اکثره وخت مفرد وي او مفرد اصل وي، نو پرده د کسرې نه راتلو په صورت کي د ده فرعيت يعني د فعل کېدو اعتبار کېږي او د اعرب بالحركة د ورکول کېدو په صورت کي دده اصليت يعني د تثنيه او جمع د اصل کېدو اعتبار کېږي، ځکه اعراب بالحركة اصل ته ورکول کېږي.

ديارلسم (۱۳) درس

داعراب څلورم قسم

ابوكَ و حموكِ و هنوكَ و فوكَ و ذومالٍ مضافةً الى غير ياء المتكلم بالواو والالف والياء.

ترجمه: او (ابوكَ اخوك) يعني د اسماء سته مكبره په داسي حال کي چي مضاف وي د غير ياء متكلم وطرفته (نو د ده اعراب دادی چي) په حالت رفعي کي په واو سره کېږي او په حالت نصبي کي په الف سره او په حالت جري کي په ياء سره.

تشريح: د نن په سبق کي درې خبرې دي:

①: د اسماء سته مكبره اعراب، ②: د اسماء ستّه مكبره لفظي او لغوي تحقيق،

③: په اسماء سته مكبره کي د قيدونو فائدې او د هريوه اعراب..

داسماء سته مكبره اعراب

لومړی خبره: د اسماء سته مكبره اعراب:

تر دې ځايه پوري د اعراب بالحركة بيان و اوس له دې ځای نه د اعراب بالحرف بيان کېږي، لکه څرنگه چي په اعراب بالحركة کي تر ټولو لومړی داعراب بالحركة غير تبعي بيان سوی و، دا راز دلته هم تر ټولو لومړی د اعراب بالحرف غيرتبغي بيان کېږي:

څرنگه چي مصنف رحمه الله د اسماء سته مكبره اعراب بيان کړ، چي (بالواووالالف والياء) دا پوره عبارت سره له نکتو داسي جوړېږي: (بالواو رفعًا والألف نصبًا، والياء جرًّا) يعني دا اسماء په حالت رفعي کي په واو سره وي،

لکه (جاءنی اخوکَ وابوکَ ...الخ) او په حالت نصبي کي په الف سره کېږي. لکه (رأیتُ اخاک و اباک ...الخ) او په حالت جري کي په یاء سره وي، لکه (مررتُ بأخیک وابیک...الخ).

داسماء سته مکبره لفظي اولغوي تحقیق

دوهمه خبره: د اسماء سته مکبره لفظي او لغوي تحقیق:

په دې اسماؤ کي لومړني (اَبٌ، اخٌ، حمٌ، هنٌ) ناقص واوي دي، ځکه چي په اصل کي دا (ابوٌ، اخوٌ، او هَنَوٌ) پر وزن د (فعلٌ) وو، د دوی پر ناقص واوي کېدو د دوی تثنیه او تصغیر هم دلالت کوي، ځکه چي تثنیه یې (ابوان، اخوان، حموان، هنوان) راغلي دي او تصغیر یې (اُبَیٌّ، اُخَیٌّ، حُمَیٌّ او هُنَیٌّ) رغلی دی، بیا په دې ټولو کي واو خلاف القیاس حذف کړل سوی دی او اعراب پر عین کلمه جاري سوی نو (ابٌ، اخٌ، حمٌ او هنٌ) ځیني جوړ سو.

خو کله چي دا کلمات مضاف سي، یا تثنیه ځیني جوړه سي، نو حذف سوی واو بېرته را ګرزي، لکه (ابوکَ و ابوانِ وغیره).

یو سوال او جواب یې:

دلته سوال واردېږي، چي کله د (قَالَ او بَاعَ) قانون موږ لرو، چي د دې قانون له مخې واو په الف بدلېږي، بیا د التقاء ساکنین له وجې غورزول کېږي، دا قانون مو ولي پرېښود، چي د خلاف القیاس لاره مو غوره کړې ده؟

جواب: دا چي بیا ده ته دغه مذکوره اعراب نه ورکول کېږي، بلکي ده ته بیا د اسم مقصوراعراب ورکول کېږي، ځکه مو نو د خلاف القیاس لاره غوره کړه.

(فَـمٌ) دا اجوف واوي دی، ځکه په اصل کي (فَوَهٌ) وو او جمع یې (افواهٌ) راځي، لکه چي د (ثوبٌ) جمع (اثوابٌ) راځي، (هاء) یې خلاف القیاس حذف کړه، (واو) یې په (میم) بدل کړ، ولې که واو په میم بدل نه کړل سي، نو د اعراب یې پر (واو) د راتلو له وجې (واو) متحرک کېدی، بیا د (قال او باع) په قانون سره په (الف) بدلېدی، نو د التقاء ساکنین په وجه غورزېدی، نو (ف) به ځیني جوړ سوی وای، او د معرب پر یوه حرف پاتېدل نا روا دي.

خو کله چي یې اضافت وسي، یا جمع ځیني جوړه سي، نو حذف سوی (واو) بېرته راګرزي، ځکه چي د بدلېدو علت له مینځه ولاړ، لکه (فوکَ او افواهٌ).

او (ذُو) لفیف مِقرون دی، ځکه چي په اصل کي (ذَوَوٌ) پر وزن د (فَعَلٌ) و، دوهم (واو) حذف سو، اعراب یې لومړي (واو) ته ورکړ، نو (ذَوٌ) پر وزن د (یَدٌ او دَمٌ) سو، بیا پکي د اضافت له وجې د (ذَوٌ) تنوین وغورزېد او ضمه د (ذال) وطرفته نقل کړل سوه، واو ساکن پاتې سو، نو (ذُومالٍ) ځیني جوړ سو.

دلته دا سوال کېږي، چي د پورته اسماء سته مکبره اضافت خو د اسم ضمېر وطرفته کېدی او د (ذو) اضافت د اسم ظاهر او اسم جنس وطرفته وسو، نو دا ولې؟

جواب: چي د (ذو) اضافت د اسم ضمېر وطرفته له سره روا نه دی، ځکه چي د (ذو) وضع د دې لپاره راغلې ده، چي تر ده وروسته اسم ظاهر تر ده د مخکي اسم لپاره صفت جوړوي، لکه (زیدٌ ذومالٍ وعَمرٌو ذو علمٍ) یعني زید د مال څښتن او عمرد علم والا دی، کله چي په مخکي پنځو اسماؤ کي دا خبره نه وه، نو ځکه د دوی تر مینځ فرق وسو.

درپیمه خبره د قیدونو فائدې او د هریوه اعراب:

په نورو کتابونو کي چي وګورې، نو له اسماء سته مکبره سره یې قیدونه هم لګولي دي، لهذا مناسبه معلومېده، چي که چیري د دې قیدونو فائدې دلته ذکر کړل سي، نو د عزتمنو طالبانو لپاره به د فائدې لامل او باعث وګرزي، مثلاً د نحومیر ملا صاحب ویلي دي: (الاسماء الستة مکبّرةً موحدةً مضافةً الی غیر یاء المتکلم):

①: الاسماء الستة چي یې وویل نو معلومه سوه، چي مذکوره اعراب صرف د مذکوره شپږ اسماؤ لپاره دی، له دوی پرته کوم بل اسم ته دا اعراب نه ورکول کېږي.

②: په مکبره ویلو معلومه سوه، چي دا اسماء چي کله د اسم مکبر په صورت وي، نو یې دا مذکوره اعراب دی، خو که چېري د مصغر په صورت کي وي، نو

بیا یې د جاري مجرای صحیح اعراب دی، لکه: (جاءَنِیْ اَخِیٌ، و رایتُ اخیًا و مررت باخیٍ).

③: د مؤحدةٌ په ویلو معلومه سوه، چي د مفرد کېدو په صورت کي خو همدا مذکور اعراب دی، لیکن دغه اسماء که چېري تثنیه راسي، نو اعراب یې د مثنی په ډول وي، لکه چي را روان دی، مثلا (جاءَنِیْ اباءٌ و رأیتُ اباءً و مررت باباءٍ) او (جاءَ نِیْ اِخوةٌ و رایتُ اِخوَةً و مررت باخوةٍ).

④: د مضافةٌ په ویلو معلومه سوه، چي که چېري دا اسماء مضاف نه وي، نو په دې صورت کي یې هم اعراب د مفرد منصرف صحیح اعراب دی، لکه: جاءنی اخٌ و رأیتُ اخًا و مررت باخٍ).

⑤: الی غیریاء المتکلم په ویلو دا معلومه سوه، چي که چېري همدا اسماء د یاء متکلم وطرفته مضاف وي، نو په دې وخت کي یې اعراب د (غلامی) په ډول تقدیري وي، لکه: (جاءَ نِیْ اَخِیْ وَ رأیتُ اخیْ ومررت بأخیْ).

څلورمه خبره: اسماء سته مکبره ته د مذکوره اعراب ورکولو وجه:

اسماء سته مکبره ته یې اعراب بالحروف ځکه ورکړی، چي لږ مخکي به انشاء الله دا خبره معلومه مي، چي تثنیه او جمع ته یې اعراب بالحرف ورکړی، نو په همدې مناسبت سره دلته مفرد ته هم اعراب بالحرف ورکول سو، د دې لپاره چي د مفرد، تثنیه او جمع درې سره وو اعراب یو رنګه سي او په مینځ کي کوم منافرت او بېلوالی پاتې نسي.

دوهم په دې خبره پوهېدل پکار دي، چي دلته یې شپږ اسماء په دې اعراب سره ولې خاص کړل، تر دې په لږو، یا زیاتو یې ولې خاص نکړل؟

جواب: د دې د اخوات یعني تثنیه او جمع هم درې، درې قسمونه دي، مثلا تثنیه درې قسمه ده: تثنیه حقیقي، تثنیه صوري او تثنیه معنوي او جمع هم پر درې قسمه ده: جمع حقیقي، جمع صوري، او جمع معنوي، دا ټوټل شپږ قسمونه جوړېږي، نو کله چي د دې اخوات شپږ قسمونه وو، نو مفرد یې هم شپږ اسماء جوړ کړ، د دې لپاره، چي د مفرد هر یو اسم د یوه مستقل قسم قائم مقام سي.

بیا سوال کېږي، چي دا شپږ اسماء یې ولې خاص کړل؟، ولې له دي ماسوی په نورو اسماؤ کي دا وړتیا او صلاحیت نه و؟

جواب: هوکې! له دې شپږو پرته هېڅ اسم داسي نه و، چي په اخیر کي یې حرف علت وي او د اعراب بالحروف د قبلېدو صلاحیت دي ولري.

دوهم جواب دا چي دا شپږ اسماء له تثنیه او جمع سره معنًا مشابهت لري، یعني لکه څنګه چي په تثنیه او جمع کي تعدد و، دا راز په دې اسماؤ کي هم تعدد سته، مثلاً په (ابٌ) کي پلار او اولاد دواړه راځي، ځکه چي ترڅو پلار نه سي، نو د اولاد کېدل محال دي، او ترڅو چي اولاد نه وي، نو د چا پلار کېدل هم محال دي او په (اخ) کي دوه افراد وي، ځکه ترڅو چي یو سړی د بل ورور، یا خور نه وي، نو تر هغه وخته هغه د چا حقیقي ورور نسي جوړېدای.

خوږګی: که چېري یو څوک ووایې، چي جناب! دا تا څه نوې خبره وکړه، موږ وینو، چي په پوره هېوادونو کي بیخي ډېر اولادونه بېله پلرونو شتون لري؟

نو د دې جواب دادی، چي وروره! زه مسلمان یم او د مسلمانانو خبرې کوو، نو د مسلمانانو په اند د حلال اولاد نسب خو ثابت وي، لیکن د حرامي هېڅ نسب ثابت نه وي، او دداسي اعتراض کوونکو مثال خو بلکل داسي دی، لکه چي یوه مولوي صاحب په بیان کي ویلي وه، چي ګورئ زما ورونو! پرناپاکه جامو او مردار ځای لمونځ نسي کېدا، نو مخامخ یو روشان خیاله او تهذیب یافته، بلکي تعذیب یافته سړی ولاړ و، ویې ویل: مولوی صاحب څوک وایې، چي نسي کېدای، وګوره! زه یې کوم، څنګه نه کېږي؟، نو د ټولو خلګو په وړاندي د کچرو پر یوه انبار ودرېد، پوره شل رکعت لمونځ یې وکړ، بیا یې وویل: وګورئ یاره! تاریک خیال او انتها پسند مولوي صاحب وایې، چي پر داسي ځای لمونځ نسي کېدای، نو داسي کېږي، که نه؟ (تف او لعنت دي وي پر داسي روشن خیالي).

څورلسم (۱۴) درس

دا عراب پنځم او شپږم قسم

مثنی و (کلا) مضافًا الی مضمر و اثنان واثنتان بالالف والیاء، جمع المذکر السالم.
واولو وعشرون واخواتها بالواو والیاء.

ترجمه: او تثنیه او (کلا) چي کله د کوم ضمیر و طرفته مضاف وي او د (اثنان او اثنتان) اعراب دادی: چي حالت رفعي یې په الف سره وي او حالت نصبی او جري (دواړه) یې په یاء (ماقبل مفتوح) سره وي او د جمع مذکر سالم او (اولو او عشرون) او د دهٔ داخواتو اعراب دادی، چي حالت رفعي یې په واو سره وي او حالت نصبي او جري دواړه یې په یاء (ماقبل مکسور) سره وي.

تشریح: د نن په سبق کي دوې خبرې دي:

①: د تثنیه، جمع او ددوی د ملحقات تعریفونه، ②: د مذکوره شپږو قسمونو اعراب.

د تثنیه، جمع او د دوی د ملحقاتو تعریفونه

لومړۍ خبره: د تثنیه، جمع او د دوی د ملحقاتو تعریفونه:

د کافیه ملاصاحب رحمه الله په پورتني عبارت کي د تثنیه او جمع درې، درې قسمونه یوازي په نامه بیان کړل او د هغو اعراب یې په مختصره توګه بیان کړ، نو مناسب معلومېدل، چي د هغه تعریفونه هم (که چیري په پوه سئ)، وکړل سي، نو ګټور به وي.

①: تثنیه حقیقي: تثنیه حقیقي هغه اسم دی، په کوم کي چي درې شیان وي، لومړی دا چي هغه پر دوو افرادو دلالت کوي، دوهم دا چي له همدې مادې څخه د هغه مفرد هم مستعمل سوی وي، درېیم دا چي په دې کي د تثنیه علامه وي، لکه (رجلان، تلمیذان) وغیره.

②: تثنیه صوري: تثنیه صوري (یا ملحق بالمثنی لفظًا) هغه اسم ده، په کومه کي چي له مذکوره خبرو څخه دوې خبرې وي، یوه داچي هغه پر دوو افرادو دلالت کوي، دوهم دا چي په دې کي د تثنیه علامه وي، لکه: (اثنان واثنتان).

③: تثنیه معنوي: تثنیه معنوي (یا ملحق بالمثنی معنًا) هغه اسم دی، په کوم کي چي په مذکوره خبرو کي یوازي یوه خبره راغلي وي او هغه دا چي هغه اسم به پر دوو افرادو دلالت کوي، لکه (کلا او کلتا).

دا راز جمع هم درې قسمونه لري، مثلا:

جمع حقيقي هغه اسم دى، په کوم کي چي درې خبرې راغلي وي، يوه دا چي هغه به تر دوو پر زياتو افرادو دلالت کوي، دوهمه دا چي له همدې مادي څخه به يې مفرد او تثنيه هم جوړېږي، دريمه خبره دا چي په دې کي به د جمع علامه راغلي وي، لکه (مسلمون) دا تر دوو پر زياتو افرادو دلالت هم کوي، (مسلم او مسلمان) د دې مفرد او تثنيه هم جوړېږي او په اخيري کي يې (واو او نون) د جمع علامې هم راغلي دي.

په همدې ترتيب سره د جمع د دوو قسمونو (اولو او عشرون تا تسعون) تعرېفونه هم پر دې قياس کړئ، يعني په جمع صوري، يا ملحق بالجمع لفظًا کي به دوې خبرې راغلې وي او په جمع معنوي يا ملحق بالجمع معنًا کي به صرف يوه خبره راغلي وي.

دوهمه خبره: د مذکوره شپږو قسمونو اعراب:

تثنيه حقيقي او صوري او (کلا چي کله مضاف وي)، نو د دې درېو سره اعراب دا دى، چي حالت رفعي يې په (الف) سره وي، لکه: (جاء نى رجلان، اثنان، كلاهما) او حالت نصبي او جري دواړه يې په ياء ماقبل مفتوح سره وي، لکه: (رايتُ رجلين، اثنين، كليهما و مررت برجلين اثنين كليهما).

د کافيه ملاصاحب رحمة الله عليه له (کلا) سره د اعراب لپاره دا شرط لګولی و، چي (مضافًا الى مضمرٍ) يعني کله چي دا مضاف وي د اسم ضمير وطرفته، نو بيا يې دا اعراب وي، دا شرط يې ځکه ولګاوه، چي که چېري د اسم ظاهر وطرفته مضاف وي، نو بيا يې اعراب په اعراب بالحركة تقديري سره وي، لکه (جاء نى كِلَا الرَّجلين و رأيتُ كِلَاالرَّجلين ومررتُ بكِلَاالرَّجلين).

دلته د کافيه ملاصاحب يوازي د (کِلا) په ذکر اکتفاء کړې ده، (کلتا) يې نه دى ذکر کړي، ځکه چي کلا اصل ده او قاعده ده، چي (ذكرالاصل يستلزم ذكر الفرع) يعني د يو شی د اصل په ذکر کولو سره د هغه د فرع ذکر پخپله راځي.

پر دې سوال کېږي، چې کله د کلا په ذکر کولو سره د کلتا ذکر پخپله متصور کېدی، نو په (اثنان او اثنتان) کي به يې هم داسي کول، يعني يوازي به يې (اثنان) ذکر کاوه، د (اثنتان) ذکر به يې ضمن پخپله راغلی وای؟
جواب: د دې جواب دادی، چي اسماء عدد اکثره وخت مخالف القياس وي، لکه (ثلاثة رجالٍ) او ثلاث نساء)، يعني د مذکر او مؤنث دواړو معدودو يو له بل سره مخالف وي، نو دا شبه کېده، چې کېدای سي د دوی اعراب به هم يو له بل سره مخالف وي، نو مصنف رَحِمَهُ اللّٰه د دواړو بصراحتًا ذکر کول دې طرفته اشاره ده، چي دلته هيڅ اختلاف نسته، بلکي ددواړو اعراب يو رنګه دی.
په عبارت کي (مضافًا) منصوب دی، ځکه چي دا له (کلا) څخه حال واقع سوی دی او کلا په اصل کي نائب فاعل ده د فعل محذوف لپاره، د عبارت تقدېر داسي کېږي: (ويُعرب المثنى وکلا) نو ځکه دا سوال نه کېږي، چي (کلا) خو نه فاعل ده او نه مفعول نو بيا (مضافًا) څرنګه حال ځيني جوړېدای سي.
د جمع مذکر سالم او د دې د ملحقاتو د اعراب بيانولو په مهال يې ويلي وه، چي د دوی اعراب دادی، چي حالت رفعي يې په (واو) سره وي، لکه (جاءني مسلمون، عشرون، اولو مالٍ) او حالت نصبي او جري دواړه يې په ياء ماقبل مکسور سره وي، لکه (رأيتُ مسلمين، عشرين، اولی مالٍ، و مررتُ بمسلمين، عشرين، اولی مالٍ).
(اولو) د (ذو) جمع ده، ليکن من غير لفظه دی، نو کوم شرط چي مونږ په اسماء سته مکبره کي د (ذو) په اړه ويلی و، هماغه شرط دلته هم د ذو د جمع (اولو) لپاره دی، يعني په دې شرط چي دا به د يو اسم ظاهر وطرفته مضاف وي، د دې وجه هلته تېره سوې ده، ويې ګورئ.

پنځلسم (۱۵) درس

داعراب پاته جمله قسمونه

التقدير فيما تعذّر کعصا و غلامي مطلقًا او استثقل کقاضٍ رفعًا وجرًّا و نحو: مسلميَّ رفعًا واللفظی فيما عداه.

ترجمه: او تقديري اعراب په هغو صورتونو كي وركول كيږي، چيري چي د اعراب لفظي ظاهرول يا له سره ممتنع وي، لكه د (عصا او غلامى) په دري سره حالتونو كي، يا ممتنع خو نه وي، ليكن ثقيل بلل سوى وي، لكه په رفعي او جري حالت كي د (قاضٍ) اعراب او دا راز په حالت رفعي كي د جمع مذكر سالم اعراب، لكه (مسلميّ) او له دې صورتونو پرته اعراب لفظي وي، يعني چيري چي اعراب متعذرا و ثقيل نه وي.

تشريح: د نن په سبق كي دري خبري دي:

①: اعراب تقديري او مواقع يې، ②: د څو كلماتو تحقيق، ③: د (واللفظى فيماعداه) وضاحت.

تمهيد: مصنف رَحِمَهُ الله تردې ځايه د اعراب بالحركة لفظي او اعراب بالحرف لفظي بيان وكړ، په كوم كي چي يې د اعراب شپږ قسمونه او د اسم متمكن دوولس قسمونه بيان كړل، دري قسمونه پاتې سوه، په كومو كي چي به د اسم متمكن پاتي څلور قسمونه درته بيان سي انشاء الله تعالى.

اعراب تقديري او ځايونه يې

لومړۍ خبره: اعراب تقديري او ځايونه يې:

اعراب تقديري دا معنا، چي په لفظ كي خو اعراب نه ليدل كيږي، ليكن دننه او په تركيبي اعتبارېې اثرات موجود وي، لكه د بريښنا تارونه چي په ظاهره پكي هيڅ شى نه ليدل كيږي، خو چي لاس ورږي، نو د هغه دننه ځواك له وجې كرنټ وركوي، لكه (جاءَ نِي مُوْسَى و رايتُ مُوْسَى و مررت بموسى) دلته په دري سره حالتونو كي اعراب په سترګو نه ليدل كيږي، دننه په تركيبي اعتبارېې د خپل عامل اثرات موجود دي.

د اعراب اووم قسم:

وايې: چي (التقدير فيما تعذّر) يعني د اعراب اووم قسم دادى، چي رفع په ضمه تقديري، نصب په فتحه تقديري او جر په كسره تقديري سره وي، د اعراب دا قسم په دوو اسمونو پوري خاص دى: يو اسم مقصور (وهو ما فى آخره الفْ

مقصورةً) يعني اسم مقصور هغه اسم دی، چي په اخير کي يې الف مقصوره وي، لکه (عصا).

او دوهم له جمع مذکر سالم پرته په هر هغه اسم پوري خاص دی، چي د یاء متکلم وطرفته مضاف وي، لکه (غلامی، کتابي، کرّاسنی وغیره)، نو دغه دواړه اسمه معرب د اعراب په درې سره حالتونو کي پر یوه حالت پاتېږي، لکه (هذه عصا و غلامی ورأیتُ عصا وغلامی و مررت بعصا وغلامی).

داعراب اتم قسم:

او استثقل: د اعراب اتم قسم بیانېږي: چي رفع په ضمه تقدیري سره وي. نصب يې په فتحه لفظي، يعني په ښکاره فتحه سره او جریې په کسره تقدیري سره وي.

د اعراب دا قسم په داسي اسم معرب پوري خاص دی، پر کوم چي د لفظي اعراب راتلل که څه هم متعذر خو نه وي، لیکن مشکل هرومرو وي، مثلا اسم منقوص (و هو ما فی آخره یاءٌ ماقبلها مکسور کقاضٍ) يعني اسم منقوص هغه اسم دی، چي په اخير کي یاء ماقبل مکسور وي، لکه (جاء نی القاضیُ ورأیت القاضیَ و مررت بالقاضیْ) دلته په حالت رفعي او جري دواړو کي اعراب تقدیري دی.

داعراب نهم قسم:

(ونحو مسلمیَّ رفعًا) په دې عبارت کي د کافیه ملاصاحب رحمه الله د اعراب د نهم قسم وطرفته اشاره کوي، چي رفع په واو تقدیري سره وي او نصب وجر دواړه يې په یاء ماقبل مکسور سره وي.

د اعراب دا قسم په جمع مذکر سالمه (چي کله د یاء متکلم وطرفته مضاف وي) پوري خاص دی، لکه: (جاءنی مسلمیّ ورأیتُ مسلمیّ ومررت بمسلمیّ) دلته یوازي په حالت رفعي کي اعراب تقدیري دی.

دوهمه خبره: د څو کلماتو تحقيق:

د مذکوره عبارت په بعض کلماتو کي څه تفصيل سته ورته غوږ سئ!

①: تعذّر: دا د تفعّل له باب څخه د ماضي معلوم واحد مذکر غائب صيغه ده، مصدري معنا يې ده: داسي شی چي ورته رسېدل ممکن خو وي، ليکن په مشقت او تکليف سره وي، ليکن دلته دا د (امتنع) په معنا دی، نو مطلب يې دا سو، چي چېري لفظي اعراب ممتنع وي، هلته تقديري اعراب راځي.

②: استثقل: دا د استفعال له باب څخه د ماضي مجهول واحد مذکر غائب صيغه ده، مصدري معنا يې ده: د يو شی مشکل او سخت بلل، دلته يې ځيني مراد دادي، چي پر (قاضٍ) لفظي اعراب راتلل ناممکن خو نه دي، ليکن ثقېل او مشکل هرومرو دی.

نو د تعذّر او استثقال ترمينځ فرق دا را ووت: چي په تعذّر کي پر يو کلمه اعراب ويل بلکل ناممکن وي، لکه (عصا) په اخير کي يې (الف) دی او هغه اعراب نسي زغملای، خو که چيري ځوک په زور اعراب پرولګوي، نو بيا هغه الف الف نه پاتېږي، بلکي همزه ځيني جوړېږي او په استثقال کي پر کومه کلمه د اعراب لفظي راتلل ناممکن نه وي، بلکي د اعراب ورتيا هم لري، خو مشکل هرومرو وي، لکه (غلامی) دلته د ميم کسره د ياء نسبتي له وجې ده نو که موږ اعراب لفظي هم ورباندي داخل کړو، نو په يوه وخت به دوه حرکتونه په يوه اسم کي جمع سي، کوم چي نا روا دي.

③: عصا: دا ناقص واوي ده، په معنا د لکړې، دا په اصل کي (عَصَوٌ) وو، واو متحرک ماقبل يې مفتوح وو، د (قال او باع) په قانون سره (الف) ځيني جوړ سو، نو (عَصَانٌ) سو، بيا د التقاء ساکنين له وجې (الف) وغورزېدی، نو (عصا) ځيني جوړ سو، دا که چيري له الف سره وويل سي، نو الف مقصوره په لفظ کي راځي، لکه (العصی) او که الف ورسره نه وي، نو الف مقصوره تقديري کېږي، لکه: (عصا).

④: مطلقًا: دا د افعال له باب څخه اسم مفعول د مفرد مذکر صیغه ده، په معنا د (خلاص پرېښودل سوي ده، دلته یې معنا ده: په هر حالت کي، یعني د عصا او غلامی دواړو په دري سره حالتونو کي اعراب تقدیري دی.
او په ترکیبي اعتبار (مطلقًا) له عصا او غلامي دواړو څخه حال واقع سوی دی، نو مطلب یې داسو، چي د دې دواړو په دري سره حالتونو کي اعراب تقدیري وي.
یا دا یوازي له (غلامي) څخه حال واقع سوی دی، په دې صورت کي داسي څرګندېږي، لکه د کافیه مصنف رحمه الله چي پر هغو نحوېینو رد کوي، کوم چي د (غلامي) په حالت جري کي دٔ اعراب لفظي قائلین دي، نو د کافیه ملاصاحب رحمه الله وایې، چي د (غلامی) په اخیرکي چي کومه کسره ده، هغه د کوم عامل له وجې نه ده، بلکي د (یاء) د مناسبت له وجې ده، که چېري دا د عامل له وجې وای، نو د بل عامل په راتلو به بدلېدای، حال دا چي دا د بل عامل راتلو په وخت کي هم پر خپل حال وي.
⑤: قاضٍ: دا اسم منقوص دی او د اسم فاعل صیغه ده، دلته ځیني مراد هغه اسم معرب دی، چي په اخیرکي یې (یاء ماقبل مکسور) وي، کله چي دا معرف باللام وي، نو (یاء) ثابته پاتېږي، که نه وو، نو ساقطېږي.
دا په اصل کي (قاضیٌ) و، پر (یاء) ضمه ثقیله وه، هغه یې وغورزوله، بیا د التقاء ساکنین له وجې (یاء) حذف کړل سوه، نو (قاضٍ) ځیني جوړ سو، او اعراب وربانديي راتلل که څه هم ممتنع نه دی، لیکن د ثقیل کېدو له وجې نه دی ورباندي راغلی.
⑥: مسلمیّ: دا د افعال له باب څخه د جمع مذکر اسم فاعل صیغه ده، په اصل کي (مسلمون) و، د جمع نون د اضافت له وجې وغورزېدی او (واو) د (سیدٌ) په قانون سره په (یاء) واوښت، بیا د (متجانسین) په قانون سره دواړه (یاء ګان) مدغم کړل سوه، نو (مسلمیّ) جوړ سو.
وګورئ! تر دې اعلال وروسته (واو) باقي نه سو پاته، ځکه نو د کافیه ملاصاحب رحمه الله وویل، چي دده ضمه په واو تقدیري سره وي.

دلته له (مسلمیّ) څخه مراد هر هغه جمع مذکر سالمه ده، چي د ياء متكلم وطرفته مضاف وي.

د(واللّفظی فيماعداه) وضاحت

دريمه خبره: د(واللّفظی فيماعداه) وضاحت:

واللّفظی فيماعداه: په دې عبارت کې مصنف رحمه الله يوه ضابطه بيانوي، چي چېري، چېري اعراب بالحركة ممتنع وي، لكه په (عصا او غلامی) كي، يا ثقيل وي، لكه په (قاضٍ) كي، دا راز چي چيري اعراب بالحروف ثقيل وي، لكه په (مسلمیّ) كي، نو په دې څلور سره قسمونو اسماؤ كي اعراب تقديري وي، له دې پرته چي څومره صورتونه دي، كوم چي مخكي تېر سول، په هغو ټولو كي كه اعراب بالحركة وي، يا اعراب بالحروف وي، په ټولو كي لفظي دی.

د (فيماعداه) دضمير په مرجع کې د نحوي د علماؤ يو څه خبره سته، ليكن صحيح قول هغه دی، كوم چي علامه تاشكندي رحمه الله کړی دی، هغه دا چي د (عداه) ضمير په مخكي عبارت (فيما تعذّر) كي د (ما) كلمه ته راجع دی.

شپاړسم(۱۶) درس

دغير منصرف بيان

غير المنصرف ما فيه علّتان من تسع او واحدةٌ منها تقوم مقامهما و هی:

(عَـــدْلٌ وَوَصْفٌ وَتَأْنِيْثٌ وَمَعْرِفَةٌ وَعُجْمَةٌ ثُمَّ جَمْعٌ ثُمَّ تَرْكِيْبٌ . وَالنُّوْنُ زَائِدَةٌ
مِـــنْ قَبْـــلِهَا اَلِـــفٌ وَوَزْنُ فِـــعْلٍ وَ هَـــذَا الْقَوْلُ تَقْرِيْبٌ).

مثل: عمرَ و احمرَ و طلحةَ و زينبَ و ابراهيمَ و مساجدَ و معديكربَ و عِمرَانَ و احمدَ.

ترجمه: غيرمنصرف هغه (اسم معرب) دی، چي پكي له نهو سببونو څخه دوه سببونه، يا يو سبب، چي د دوو سببونو پر ځای ولاړوي راغلي وي، هغه نه سببونه دادي: عدل، وصف، تانيث، معرفه، عجمه، جمع، تركيب، او هغه نون، كوم چي زائد وي، تر ده مخكي الف او وزن فعل وي او دا قول حق ته ډېر نژدې دی، لكه:

عمرَ و احمرَ و طلحةَ و زينبَ و ابراهيمَ و مساجدَ و معديكربَ و عِمرَانَ و احمدَ.

تشریح: د نن په سبق کي څلور خبرې دي:
①: د غیر منصرف لغوي او اصطلاحي معنا او د تسمیه وجه یې، ②: د عبارت لنډه تشریح، ③:د والنّون زائدةٌ ترکیبي صورتونه، ④: د وهذا القول تقریبٌ مختلفه توجیهات.

تمهید: کله چي مصنف رحمه الله علیه د اسم د اعراب له تفصیل څخه فارغ سو، د کوم په ضمن کي چي د غیر منصرف اعراب هم بیان سو، نو اوس له دې ځایه په باقاعده ډول تفصیل بیانوي، او اسم منصرف یې ځکه بیان نکړ، چي هغه د ډېر استعمالېدو له وجې معروف دی، دوهمه وجه دا چي د غیر منصرف په تعریف سره د منصرف تعریف پخپله معلومېږي، لکه چي وایي: (و بضدّها تتبيّن الاشياء).

د غیر منصرف لغوي او اصطلاحي معنا او د تسمیه وجه

لومړۍ خبره: د غیر منصرف لغوي او اصطلاحي معنا او د تسمیه وجه:
د غیرمنصرف لغوي معنا داده، چي (هُواسمٌ غیر قابل للزّیادة ای الکسرة و التّنوین) یعني غیر منصرف هغه اسم معرب دی، چي زیاتوب، یعني کسره او تنوین نه قبلوي.
او د نحوییانو په اصطلاح کي غیر منصرف دېته وایي: (وهو ما فیه علّتان من تسع او واحدةٌ منها تقوم مقامهما) یعني غیر منصرف هغه اسم معرب دی، په کوم کي چي د منع صرفۍ له اسبابو څخه دوه سببونه، یا یو داسي سبب، چي د دوو سببونو پر ځای ولاړ وي.
موږ په عبارت کي د (ما) کلمه معنا په اسم معرب وکړه، ددې لپاره، چي څوک په (ضربَتْ) اعتراض ونکړي، چي په دې کي دوه سببونه یعني تانیث او وزن فعل موجود دي، بیا هم غیر منصرف نه ده، ځکه چي (ضربَت) فعل دی او مبني هم ده، چي دواړه زموږ له موضوع څخه وتلي دي.
همدا راز په (حضار، قطار او نزال) کي هم که څه هم دوه سببونه یعني علمیت او تانیث موجود دي، لېکن د مبني کېدو له وجې دا هم زموږ له تعریف څخه وتلي دي، ځکه چي زموږ بحث له معرب څخه دی.

او (نوحؑ) كه څه هم معرب هم ده او دوه سببونه يعني علميت او عجمه هم پكي راغلي دي، خو بيا هم غيرمنصرف ځكه نه دى، چي مخته به دا خبره راسي، چي عجمه د غير منصرف لپاره سبب مؤنث هغه وخت جوړېږي، كله چي پكي له دوو شرطونو څخه كوم شرط شتون لري، يعني يا خو هغه اسم (زائد على الثلاثة) وي، ياخو به لږ ترلږه (متحرک الاوسط) هرومرو وي، او دلته له دغو شرطونو څخه يو شرط نسته.

او وجه د تسميه يې داده، چي د منصرف معنا ده گرزېدونكى او د غير منصرف معنا ده نه گرزېدونكى، نو اسم منصرف هم د عواملو له وجې د مختلفو حالتونو طرفته گرزي، ځكه نو ورته منصرف وايي او په غير منصرف كي په ځيني حالاتو كي گرزېدل نسي راتلاى، نو ځكه ورته غيرمنصرف وايي.

دوهمه خبره: د عبارت لنډه تشريح:

د منع صرفي (غير منصرف كېدو) اسباب نه دي، كوم چي شيخ ابو سعيدعبدالرحمان بن محمد بن عبيدالله الانباري الكوفي رحمه الله په خپلو دوو شعرونو كي جمع كړي دي، تر هغو دوو شعرونو مخكي هم يو شعر دى، كوم چي په كتاب كي محشي صاحب را نقل كړى دى، له هغه سره چي يو ځاى سي، نو پوره اشعار به لاندي ډول دي:

موانع الصّرف تسعٌ كلّما اجتمعت
ثنتان منها فما للصّرف تصويب
عدل ووصف و تانيث و معرفة
و عجمة ثم جمعٌ ثم تركيبٌ
والنّون زائدةٌ من قبلها الفٌ
ووزن الفعل و هذا القول تقريب

په دې شعرونو کي لکه څنګه چي له عدل څخه تر عجمه پوري (واو) د عطف لپاره دی، همدا راز په (ثم جمع ثم ترکیب) کي (ثم) هم د عطف لپاره دہ، نه د تراخي لپاره، که داسي نسي، نو په معنا کي خرابي لازمېږي، ځکه چي بیا یې مطلب داسي کېږي: چي په کوم اسم کي جمعیت وي، نو تر جمعیت مخکي به پکي عدل، وصف، تانیث، معرفه او عجمه وي، تر دغو وروسته به جمعیت وي، پاتې سوه داخبره، چي د (ثم) پر ځای یې (واو) ولې نه دی راوړی، نو واو یې ځکه نه دی راوړی، چي د شعر وزن پر قرار پاتې سي.

درېیمه خبره: د والنون زائدة ترکیبي صورتونه:

په شعر کي (زائدةٌ) منصوب او مرفوع دواړه ویل کېدای سي، که چېري مرفوع و، نو د (النون) لپاره صفت کېږي، په دې صورت کي د (النون) الف لام یا خو زائد دی، یا عهدذهني دی، ځکه چي په دې دواړو سره هېڅ اسم معرفه نسي کېدای، بلکي نکره پاتېږي، نو د موصوف او صفت تر مینځ په تعریف او تنکېر کي د عدم موافقت سوال نه واردېږي.

او د منصوب کېدو په صورت کي زائدةٌ له (النون) څخه کوم چي د (تمنع) محذوف فعل لپاره فاعل دی حال واقع کېږي، په دې صورت کي د عبارت تقدېر داسي کېږي: (تمنع النون الصَّرفَ حال کونها زائدةً).

او په (من قبلها) کي دوه احتمالونه دي، یو دا چي دا جار او مجرور متعلق سي د (ثابتٌ یا کائنٌ) په محذوف اسم پوري، په دې صورت کي دا خبر مقدم کېږي او (اَلفْ) مبتداء مؤخره کېږي، لکه چي په کتاب کي ناکت صاحب لېکلی دی.

دوهم دا چي (من قبلها) متعلق سي په (ثبتَ) فعل محذوف پوري، په دې صورت کي اَلفْ د (ثبتَ) فعل محذوف لپاره فاعل جوړېږي، په دې صورت کي عبارت داسي کېږي: (تمنع النونُ الصرفَ حالَ کونها زائدةً ثابتةً او تثبت من قبلها الف) دا د احوال مترادفه صورت دی.

او بیا په (من قبلها الفْ) پوره جمله کي دوه احتمالونه دي، یو دا چي دا هم د (النون) فاعل څخه حال جوړېږي، څرنګه چي په دې صورت کي له یوه ذوالحال څخه دوه حالونه واقع کېږي، ځکه نو ورته احوال مترادفه ویل کېږي.

دوهم دا چي دا پوره جمله د (زائدةٌ) له مستتر (پټ) ضمیر ځخه حال جوړه سي، په دې صورته کي دېته احوال متداخله ويل کېږي، ځکه چي په دې صورت کي يو حال په دوهم حال کي داخلېږي، اوس د عبارت تقدير داسي کېږي: (و تمنع النونُ الصَّرفَ حال کونها زائدةٌ من قبلها الفٌ).

لیکن په دې دوو صورتونو کي صرف د (نون) زائدِ کېدل معلومېږي، نه چي د (الف) هم، ځکه دِ هغه صرف ثابت کېدل معلومېږي، نو غوره او ښه ترکيب دادی: چي (الفٌ) د (زائدةٌ) صيغه اسم فاعل لپاره فاعل جوړ سي او (من قبلها) جار و مجرور تردغه (زائدةٌ) پوري متعلق سي، نو د عبارت تقدير داسي کېږي: (و تمنع النونُ الصَّرفَ حال کون الالف زائدةٌ من قبلها) په دې صورت کي د الف زائد کېدل خو ښکاره دي، پاتي سو د نون زائد کېدل، نو هغه د عربو له يوې محاورې ځخه معلومېږي، هغه دا چي کله عرب دا وواېي (جاءَ زَيْدٌ راکبًا من قبله اخوه)، نو د دی مطلب دا وي، چي د رکوب (سپرتيا) په صفت کي زيد او دده ورور دواړه شريکان دي، خو په راتلو کي د زيد ورور مقدم دی، دا راز دلته هم د زيادت په وصف کي الف او نون دواړه شريکان دي، خو په زائد کېدو کي الف ترنون مقدم دی.

(مثل عمرُ و احمرُ ا لخ) مصنف رحمه الله لکه څرنګه چي په شعر کي د منع صرفي اسباب ذکر کړي دي، د منع صرفي مثالونه يې هم پر هغه ترتيب راوړي دي، د دې زيات وضاحت ضرورت نسته، ځکه چي ناکت بين السطور په هر مثال کي د اسبابو راتلل په ګوته کړي دي.

دوهذاالقول تقريب توجيهات

څلورمه خبره: د و هذا القول تقريب توجيهات:

دلته په وهذا القول تقريب کي علامي جامي رحمه الله درې وجې ذکر کړي دي:

①: (تقريب) مصدر په معنا د فاعل دی، نو عبارت داسي کېږي (وهذا القول مقرِّبٌ الی الحفظ)، يعني د منع صرفي اسباب داسي د شعر په صورت کي ډېر اسانه په يادېږي.

②: (تقریب) په اصل کي (تقریبیٌ) په معنا د (مجازیٌ) ده. د کوم طرفته چي ناکت هم اشاره کړي ده، مجازي يې ځکه ورته ویلي دي. چي په حقیقت کي ټول نه اسباب نه دي، بلکي په دوی کي يې د دوو علتونو مجموعي ته مکمل یو سبب ویلي دي، په دې حساب ورته نه ویل حقیقة نه دي، بلکي د مجاز په ډول دي.

③: مصدر په معنا د مفعول یعني (هذا القول مقرَّبٌ الی الصَّواب) نو مطلب يې دا سو، چي د منع صرف د اسبابو په شمېر کي اختلاف دی، د ځینو په نزد نه دي، د ځینو په نزد یوولس دي، او د ځینو په نزد اووه دي، خو په ټولو کي صحیح قول همدا دی، چي نه دي.

اوولسم (۱۷) درس

له غیر منصرف سره څه تړلې مسئلې

و حکمه: ان لا کسرة ولا تنوین ویجوز صرفه للضرورة او للتناسب، بمثل: (سلاسلًا و اغلالًا) و مایقوم مقامهما الجمع والفا التانیث.

ترجمه: د غیر منصرف حکم دادی، چي پر ده نه کسره راتلای سي، او نه تنوین او روا ده، چي غیر منصرف د کوم ضرورت شعري له وجې، یا د مناسبت له وجې منصرف سي، لکه (سلاسلًا و اغلالًا) او هغه اسباب کوم چي (یو وي) پر ځای ددوو سببونو ولاړ وي، هغه جمع منتهی الجموع او د تانیث دوه الفونه دي.

تشریح: تر دغه عبارت لاندي موږ څلور خبرې ذکر کوو:

①: د غیر منصرف حکم، ②: پر ده دکسرې او تنوین د نه راتلو وجه، ③: د غیر منصرف د منصرف جوړېدو ځایونه، ④: هغه اسباب کوم چي ددوو پر ځای ولاړ وي، او دهغوی وضاحت.

دغیر منصرف حکم

لومړۍ خبره: د غیر منصرف حکم:

د غیر منصرف تر تعریف وروسته مصنف رحمه الله د غیر منصرف حکم بیانوي. لکه چي وایي: د غیر منصرف حکم دادی، چي پر ده کسره او تنوین نسي راتلای.

دوهمه خبره: پر غیر منصرف د کسرې او تنوین نه راتلو وجه؛

پر غیر منصرف ځکه کسره او تنوین ځکه نسي راتلای، چي غیر منصرف له فعل سره په فرعیتینو کي مشابهت لري، یعني لکه څنګه چي فعل د دوو شیانو فرع دی، یو د معنا په اعتبار او دوهم د اشتقاق په اعتبار، یعني په معنا ښیندلو کي فاعل ته محتاج دی او په جوړېدو کي و مصدر ته محتاج دی، نو ګواکي فاعل او مصدر اصل سوه او فعل یې فرع سو، دا راز غیر منصرف هم په غیر منصرف کېدو کي د منع صرفی په اسبابو کي دوو سببونو ته، یا یوه داسي سبب ته چي ددوو سببونو پر ځای ولاړ وي محتاج دی، او دا ظاهره خبره ده، چي په دې اسبابو کي هر یو سبب د یو شی فرع وي، مثلاً عدل د معدول عنه فرع دی او وصف د خپل موصوف فرع دی، تانیث د تذکیر، معرفه د نکره، عجمه د عربي، جمع او ترکیب د مفرد، وزن فعل د وزن اسم، الف او نون زائدتان یا خو د (مزیدٌ علیه) فرع دي، یا د الف ممدوده او مقصوره فرع دی(علی اختلاف الاقوال کما سیأتی بیانه بالتفصیل ان شاء الله تعالی).

نو څرنګه چي د غیر منصرف له فعل سره مشابهت ثابت سو، نو د دواړو حکم هم یو سو، یعني لکه څرنګه چي پر فعل کسره او تنوین نسي راتلای، نو پر غیر منصرف هم نسي راتلای او پر فعل ځکه نسي راتلای، چي دا د اسم خاصي دي او قاعده ده چي (خاصة الشئ لا توجد فی غیره) یعني د یو شی خاصه په بل شی کي نسي راتلای.

له غیر منصرف څخه د منصرف جوړېدو ځایونه

درېیمه خبره: له غیر منصرف څخه د منصرف جوړېدو ځایونه؛

مصنف رحمه الله د (الضرورات تبیح المحذورات او د یجوز فی الشعر ما لایجوز فی غیره) د قواعدو په مخکي د ښودلو له کبله ویلي دي، چي په دوو ځایونو کي د غیرمنصرف منصرف کېدل روا دي؛

لومړی ځای:

د ضرورت شعري له وجې، دا بیا پر درې قسمه دی؛

①: چي د غیرمنصرف مستعمل کېدو له کبله د شعر وزن خرابېږي، یعني د شعر خپل خاص عروضي اوزان ټوټه، ټوټه کېږي، لکه د فاطمه رضي الله عنها شعر، کوم چي یې د رسول الله ﷺ پر روضه مطهره په داسي حال کي ووایه، چي یو موټ خاوري یې را پورته کړي، په سترګو یې و مښلې:

ما ذا عــلی مَنْ شَمَّ تُربةَ اَحْمَد
اَنْ لا یَشُمَّ مدی الزَّمَان غوالیا
صُبَّت علیَّ مصائبٌ لــــو اَنّها
صُبَّت علی الایام صِــــرنَ لِیَا

ترجمه: پر هغه څه واجب دي، کوم چي د قبر شریف خاورې بوی کړي؟ پر هغه واجب دي، چي ټول عمر بله خوشبویي بوی نکړي، پر ما داسي مصیبتونه راغله، که چیري پر ورځو راغلي وای، نو شپې به ګرځېدلي وای.

وګورئ! دلته یې (مصائب) له غیر منصرف کېدو سره، سره منصرف ویلی دی، ځکه که چیري غیر منصرف وویل سي، نو د شعر وزن خرابېږي.

②: وزن قافیه، یعني د شعر د اخیري برخې وزن خرابېږي، لکه د علي رضي الله عنه شعرونه:

سلامٌ علیٰ خیر الانام و ســــید
حبیب الــــه العالمـــین محمَّدٍ ﷺ
بشیرنذیر هـــــاشمیِّ مکرَّم
عطوفٍ رؤوفٍ من یسمّی بأحمدٍ ﷺ

د دې شعر په اخیرکې یې مبارک نوم احمد ﷺ له غیر منصرف کېدو سره، سره د قافیه د برابرېدو لپاره منصرف ویلی دی.

③: له زحاف څخه د ځان ژغورني له کبله (زحاف په لسو مشهورو ارکانو کي د کوم رکن تبدیلۍ ته وایې، چي تفصیل به یې انشاء الله تعالیٰ په علم عروضو کي ووینئ)، لنډه دا چي کومه غیر منصرف کلمه که چېري په شعر کي غیر منصرف وویل سي، نو وزن شعر خو باقي پاتېږي، لیکن له کبله یې سلاست

(روانګي) له مينځه ځي، لکه څرنګه چي امام شافعي رحمه الله د امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله په ستاينه کي ويلي دي:

هنيئًا لأربابِ النعيم نعيمُهم ◦ وللعاشق المسكين ما يتجرَّعُ

أعِدْ ذكرَ نعمانٍ لنا إنَّ ذكرَهُ ◦ هـــوالمسک اذا كرّرته يضوَّع

ترجمه: د نعمتونو څښتنانو ته دي د دوی د نعمتونو مبارک سي، د مسکين عاشق لپاره د جدايي غوړپ، زما په وړاندي د نعمان بن ثابت يادونه په وار، وار وکړه، ځکه چي هغه د مشکو په څېر زياتېږي، تر څو چي ته د هغه يادونه کوي. وګوره! دلته (نعمان) که څېري غير منصرف يعني (نعْمانَ) وويل سي، نو مذکوره خرابي لازمېږي، يعني سلاست او روانګي له مينځه ځي.

دوهم ځای:

او للتناسب: د غير منصرف د منصرف جوړېدو دوهمه وجه تناسب دی، د تناسب مطلب دادی، چي په فصيح کلام کي د منصرف اسم تر څنګ يو غير منصرف هم راغلی وي، نو د غير منصرف د اسم منصرف په ګاونډ کي د واقع کېدو له وجې (دصحبت صالح تراصالح کند) مصداق جوړېږي منصرف ويل کېږي، مثلا د الله جل جلاله وينا ده (إِنَّا أَعْتَدْنَا لِلْكَافِرِيْنَ سَلَاسِلًا وَ اَغْلَالًا وَ سَعِيْرًا) وګوره! دلته (سلاسل) پخپله غير منصرف دی، ليکن له (اغلالًا) سره د مناسبت له وجې منصرف ليکل سوی دی.

د (سلاسلا) له (اغلالًا) سره مناسبت لفظي او معنوي دواړه سته، لفظي خو دا رازدی، چي دا دواړه اکثره وخت يو ځای راځي او معنوي مناسبت يې دادی، چي (سلاسل) په معنی د ځنځېر ده او (اغلالا) په معنا د طوق ده او دا د واړه شيان د مجرم لپاره د سزا په ډول کارېږي.

څلورمه خبره: دهغو اسبابو وضاحت، کوم چي د دوو سببونو پر ځای ولاړ وي:

و ما يقوم مقامهما الجمع والفا التانيث :

اوس غواړي چي دا را وښيي چي د منع صرف له اسبابو څخه دوه سببونه داسي دي، چي که څېري له دوی څخه يو سبب هم راسي، نو له وجې يې هغه اسم

غیرمنصرف کېږي، ځکه له دغو دوو څخه هر یو د دوو پر ځای ولاړ دی. یو (تانیث بالالف) یعني الف ممدوده او الف مقصوره، دوهم جمع منتهی الجموع. تانیث بالالف د دوو سببونو پر ځای ځکه درېږي، چي یو خو په ده کي دننه تانیث دی او دوهم لزوم د تانیث دی، یعني یو خو د ده صرف د تانیث لپاره کېدل او دوهم د ده له تانیث څخه کله هم نه بېلېدل دي، یعني لزوم تانیث، دوهم د یوه مستقل تانېث په حکم کي دی، نو ګواکي په ده کي دوه تانیثه راغله.

او جمع منتهی الجموع هم د دوو سببونو پر ځای ځکه درېږي، چي په دې کي جمع مکرره وي، هغه که حقیقتًا وي، لکه (اکالبُ) جمع د (اکلب) او (اکلب) جمع د (کلب)، دا راز (اساور) جمع د (اِسورة) او (اسورة) جمع د (سوار)، او که حکمًا تکرار وي، یعني په حقیقت کي پکي جمع مکرره نه وي، لیکن د منتهی الجموع پر وزن د راتلو له وجې ورته جمع الجمع ویل سوي وي، لکه (مساجد او مصابیح) وغیره، نو ګواکي، چي په دې کي دننه جمع مکرره ده او هره جمع مستقل د یوه سبب په درجه کي ده، نو ګواکي دوه سببونه پکي راغله.

اتلسم (۱۸) درس

عدل او تعرېف یې

فالعدل خروجه عن صیغته الاصلیة تحقیقًا کثُلاث و مَثلَث، و اُخَرَ و جُمَعَ او تقدیرا کعُمَرَ و باب قَطَام فی تمیم.

ترجمه: نو د عدل معنا داده، چي اسم له خپلې اصلي صیغې څخه را کاږي، هغه که په حقیقي توګه وي، لکه (ثُلاث و مَثلثَ او اُخَر و جُمَع)، یا په فرضي او تقدیري توګه وي، لکه: عُمَر او د (قَطَام) وزن هم د بنو تمیم په لغت کي.

تشریح: د نن په سبقه کي څلور خبرې دي:

①: د عدل د تقدیم وجه، ②: د عدل لغوي او اصطلاحي تعرېف، ③: د خروجه د ضمېر مرجع او په تعرېف کي د قیدونو فائدي، ④: د عدل قسمونه.

لومړی خبره: د عدل د تقديم (مخکي کېدو) وجه:

د منع صرف اسباب يې په شعر کي په اجمالي ډول بيان کړي وه، اوس يې په تفصيل کي عدل ځکه مقدم کړ؛ چي هلته په اجمال کي مخکي و، نو د دغه مناسبت له وجې يې دلته هم مخکي کړ.

دوهمه وجه يې داده، لکه څرنګه چي تاسو ووېل، چي عدل په منزله د مطلق دی، يعني د غيرمنصرف د سبب جوړېدو لپاره له ده سره کوم قيد نسته، حال دا چي له ده پرته ټول اسباب په منزله د مقيد دي، ځکه چي له هغو څخه له هريوه سره يو نه يو نه قيد او شرط هرومرو وي، نو ګواکي مطلق يې پر مقيد مخکي کړ، ځکه قاعده دا چي مطلق پر مقيد مقدم کېږي.

د عدل لغوي او اصطلاحي تعريف

دوهمه خبره: د عدل لغوي او اصطلاحي تعريف:

د عدل لغوي معناوي ډېري دي، چي يو څو يې په لاندي ډول دي:

①: که يې چيري په صله کي (عَن) راغلی و، نو معنا يې ده اعراض کول، لکه (صنع زيدٌ فعدل عن المعاصي).

②: او که يې چيري صله (الی) راغلې وه، نو معنا يې ده رجوع کول، لکه (مسافر عدل الی بيته).

③: او که يې چيري صله (مِنْ) راغلې وه، نو معنا يې ده ليري کېدل، لکه: (عدل الجمال من البعير).

④: او که يې چېري صله (فِيْ) راغلې وه، نو معنا يې ده عدل او انصاف کول، لکه: عدل عمرو فی حکمه.

⑤: او که يې چيري صله (بَيْنَ) راغلې وه، نو هم يې معنا انصاف او برابري کول دي، لکه (عدل سعيدٌ بين ازواجه) (کما مر فی تقرير الکافية).

او د عدل اصطلاحي معنا د کافيه ملاصاحب رحمه الله بيان کړې ده، چي (خروجه عن صيغته الاصلية تحقيقًا کثلاث و مثلث و اُخر وجمع او تقديرًا کعمر) او د نحوي نورو علماؤ رحمهم الله يې دا راز تعريف کړی، چي (خروجه عن صيغته

الاصلیة الی صیغة اخری تحقیقًا کان او تقدیرًا مع بقاء المادة الاصلیة بلا قاعدة نحویة وقانون صرفیّ) یعني داسم خپل اصلي صورت پرېښودل، د کوم بل صورت طرفته بېله نحوي او صرفي قاعدې اوښتل کېدل، بیا که دا اوښتل په حقیقي ډول وي، لکه (ثلاث او مثلث او اخر او جمع)، یاپه تقدیري و فرضي ډول وي، لکه: (عمر زفر وغیره)، په دې شرط، چي اصلي ماده، یعني حروف اصلي یې پر خپل حال پاتې وي.

درېیمه خبره: د خروجه د ضمېر مرجع او په تعرېف کي د قیدونو فائدې:

خروجه: د ضمېر مرجع یې اسم ده، په ماقبل کي اسم که څه هم په لفظ کي مذکور نه دی، لیکن دا بحث او مقام پخپله پر دې خبره دلالت کوي، چي مرجع یې اسم ده، ځکه چي دا بحث دی د اسم.

خروجه عن ضیغته: د کتاب مصنف رحمه الله د عدل په تعرېف کي له (خروجه) سره د (صیغته) قید لګولی دی، له دې څخه معلومه سوه، چي تغېر صرف په صیغه کي وي، له صیغې پرته ماده اوحروف اصلي پر خپل حال پاتې وي، لهذا په دې قید سره هغه اسماء وزي، په کومو کي چي له صیغې سره ماده هم بدلېږي، لکه (یدٌ او دمٌ) چي په اصل کي (یدوٌ او دموٌ) وو.

بیا چي یې کله د (صیغته) اضافت د ضمېر وطرفته وکړ، نو مطلب یې داسو، چي هغه له خپلې صېغې څخه را واوښت، نو په دې سره اسماء مشتقه ووتل، ځکه هغه له خپلو صیغو څخه نه بلکي له اسم مصدر څخه را اوښتی دی.

او د (الاصلیة) په قید سره مغیرات شاذه وزي، لکه (اقوس او انیب) کوم چي د (قوسٌ او نابٌ) جمع دي، حال دا چي له قاعدې سره موافق د دوی اصلي صیغه (اقواسٌ او انیابٌ) کېدل پکار وه، ځکه چي د اجوف لپاره قاعده ده، چي جمع یې د (افعالٌ) پر وزن راځي، لکه له قومٌ څخه اقوامٌ او له قولٌ څخه اقوالٌ.

د عدل قسمونه

څلورمه خبره: د عدل قسمونه:

تحقيقًا.....او تقديرًا: دلته مصنف رحمه الله اشاره وكړه، چې عدل دوه قسمونه لري: عدل تحقيقي او عدل تقديري.

عدل تحقيقي هغه ته وايې په كوم كې چې د يو اسم پر معدول عنه له غير منصرف ويلو پرته كوم خارجي دليل هم موجود وي، لكه چې د دې لپاره مصنف رحمه الله څلور مثالونه راوړي دي:

(١=٢) ثلث او مثلث دا دواړه غير منصرف دي، ځكه چې وصف اوعدل تحقيقي پكې راغلي دي، په دوى كې دعدل كېدل موږ يو خو د دوى د غير منصرف كېدو له وجې منو او له غير منصرف كېدو پرته له موږ سره خارجي دليل هم موجود دى، هغه دا چې د ثلاث او مثلث په هره ژبه كې ترجمه وكړې، نو ته به ووينې چې په هغه كې به تكرار راغلى وي، لكه د الله جل جلاله مباركه وينا ﴿فَانْكِحُوْا مَا طَابَ لَكُمْ مِنَ النِّسَاءِ مَثْنَىٰ وَثُلَاثَ وَرُبَاعَ﴾ نو تاسو له هغو ښځو سره نكاح كوئ، چې ستاسو خوښې وي، له دوو، دوو سره، او له درېو، درېو سره او له څلورو، څلورو سره.

وګوره! دلته په الفاظو كې هېڅ تكرار نسته، خو په معنا كې تكرار راغلى دى او قاعده ده، چې (انّ تكرار المعنىٰ يدلّ علىٰ تكرار اللفظ) له دې څخه معلومه سوه، چې مثنى په اصل كې اثنان اثنان او ثلاث په اصل كې ثلاثة ثلاثة او رباع په اصل كې اربعة اربعة وو، نو ګواكې چې د ده له غير منصرف ويلو پرته هم له موږ سره دليل پيدا سو.

فائده: په ياد لرئ، چې دا ثلاث مثلث رباع وغيره كله په تركيب كې واقع سي، نو دا يا خو د موصوف لپاره صفت واقع كېږي، يا د ذوالحال لپاره حال، يا د مبتداء لپاره خبر، لكه جَاءَ الْقَوْمُ رُبِعَ، اى: اَرْبَعَةً اربعة و ذَهَبُوا اُحَادَ، اى: واحدًا واحدًا، يعني راغى ماته قوم په داسي حال كې چې څلور، څلوريو ځاى راغلو، بيا بېرته ولاړو په داسي حال كې چې يو، يو ولاړو.

③: اُخَرُ: دا هم د عدل تحقيقي مثال دى، د ده پر معدول عنه په خارج كې له موږ سره دليل دادى، چې دا د اسم تفضيل صيغه ده، كوم چې د (اخرى) اسم تفضيل

مؤنث جمع ده، لکه چي د (ضُرَبٌ ضُرِبَی او فتحٌ فتحی) جمع ده او داسم تفضیل په هکله موږ په نحومیر کي دا قاعده بیان کړې وه، چي پر دې طریقې استعمالیږي: ①: په مِنْ سره، لکه زیدٌ اعلم من عمرو، ②: په الف لام سره، لکه: جَاءَ نِیْ زیْد الأفضل، ③: په اضافت سره، لکه: مکة والمدینة اشرفا المدن.

لیکن دلته چي کله موږ وګورو، نو په دغو دریو طریقو کي په یوه طریقه هم نه دی مستعمل سوی او بیا هم عربو ویلي دي، چي دا د اسم تفضیل صیغه ده، نو لازمي ده، چي دا ومنو چي په دغو دریو صورتونو کي له کوم صورت څخه را معدول سوی دی، نو دلته هم له غیرمنصرف پرته دوهم دلیل پیدا سو.

④: جمعُ: مصنف رحمه الله د عدل تحقیقي دا څلورم مثال وړاندي کړ، لکه چي له موږ سره دده پر معدول عنه په خارج کي دلیل دادی، چي دا د (جمعاء) پر وزن د (فعلاء) جمع ده او (فعلاء) پر دوه قسمه ده: اسمي او صفتي، د اسمي مطلب دا چي د ده پر وزن راتلونکې کلمه به یا اسم جامد وي، یا به د چا نوم وي، لکه (صحراء) او د صفتي مطلب دا چي د ده پر وزن په راتلونکې کلمه کي به د صفت معنا وي، لکه (حمراء) او قاعده داده، چي د (فعلاء) اسمي جمع پر وزن د (فعالی)، یا (فعلاوات) راځي، لکه د (صحراء) جمع چي (صحراواتٌ) او (صَحَارَی) راغلې ده، نو ګواکي د (فعلاء) د جمعې درې وزنونه متعین سول، حال دا چي (جُمَعُ) په دغو دریو کي پر یوه وزن هم نه ده او بیا هم موږ وایو، چي دا د (جمعاء) جمع ده، نو لازمي به موږ دا منو چي دا په (فعالی، فعلاواتٌ او فعلٌ) کي له کوم وزن څخه را معدول سوې ده.

او تقدیرًا: دا د عدل دوهم قسم عدل تقدیري دی، د دې تعریف دادی، چي پر معدول عنه کلمه له غیرمنصرف ویلو پرته نه موږ سره په خارج کي هیڅ دلیل نه وي، بلکي صرف په فرضي ډول یکي عدل منو، لکه چي له نامه (تقدیري کېدو) څخه یې هم معلومیږي.

د کتاب مصنف رحمه الله د عدل تقدیري مثال (عُمَرُ) راوړی دی، په دې کي تفصیل دادی، چي عرب حضراتو دا غیرمنصرف ویلی و، خو کله چي موږ یکي د

منع صرفي اسباب ولټول، نو له معرفه کېدو پرته مو بل هیڅ سبب پیدانکړ، بیا هم عربو غیرمنصرف وایه، نو موږ مجبور سو، چي یو یکي عدل هم ومنو، هغه په دې ډول چي دا (عمر) له (عامرٌ) څخه را معدول سوی دی.

د تحقیقًا.....او تقدیرًا په ترکیب څو احتمالات ستة:

①: د خروجه نسبت کوم چي د ضمیر وطرفته سوی، په هغه کي ابهام و، نو د نسبت اضافیه د ابهام د لیري کېدو لپاره د تمییز په ډول راوړل سوی دی.

②: دا دواړه د (کَانَ) محذوف خبرونه دي، په دې صورت کي د عبارت تقدیر داسي کېږي: تحقیقًا کان الخروج او تقدیرًا.

③: دا د محذوف فعل لپاره مفعول مطلق دی، په دې صورت کي د عبارت تقدیر داسي کېږي: حقق العدل تحقیقًا او قدر العدل تقدیرًا.

④: دا له خروجه څخه حال واقع سوی دی.

وباب قطام فی تمیم: قطام د عدل تقدیري دوهم مثال دی، د دې پر اصل هم د (عمرُ) په ډول به خارج کي هیڅ دلیل نه و، نو موږ فرض کړل، چي دا له (قاطمة) څخه را معدول کړل سوی دی.

له قطام سره لفظ د باب راوړل دېته اشاره ده، چي د دې مقصد صرف د (قطام) کلمه نه ده، بلکي له دې څخه مراد هر هغه اسم دی، کوم چي د (فعالِ) پر وزن وي او په اعیان مؤنثه (په ښځېنه وو کي د کوم چا) نوم وي، په دې شرط چي په لام کلمه کي یې (راء) نه وي راغلې، نو د بنو تمیم په نزد د عدل تقدیري او معرفه په وجه دا هم معرب او غیرمنصرف دی.

فائده: په هدایة النحو کي د اسماء افعال په بحث کي تاسو دا خبره ویلې، چي (قطام) د (فعالِ) پر وزن ده او دا د فعال وزن پر څلور قسمه دی:

①: د فعالِ وزن د امر په معنا هم راځي، لکه (نزالِ) په معنا د (انزِل) یعني را کښته شه.

②: د فعالِ وزن د مصدر معرفه په معنا هم راځي، لکه (فجار) په معنا د (الفجور) یعني گناه کول.

③: د فَعالِ وزن د مؤنث صفت لپاره هم استعمالېږي. لکه (فساقِ) په معنا د (فاسقة)، یعني سرغړوونکې ښځه).
④: د فَعالِ وزن په ښځینه وو کي د یو ښځې لپاره د نامه په ډول هم کارېږي. لکه: قطام، غلابِ، حضارِ.

نولسم (۱۹) درس

دغیرمنصرف ددوهم سبب (وصف) بیان

الوصف شرطه ان یکون فی الاصل، فلا تضره الغلبة، فلذلک صُرف اربعٌ فی مررتُ بنسوةٍ اربعٍ و امتنع اسودُ و ارقمُ للحیة و ادهمُ للقید، وضعف منع افعیٰ للحیة و اجدلُ للصقر، واخیلُ للطائر.

ترجمه: د وصف لپاره شرط دادي چي د اصلي وضع په اعتبار به وصف وي، د اسمیت غلبه به ضرر نه ور رسوي، له همدې وجې په (مررت بنسوة اربعٍ) کي (اربع) منصرف دی او (اسود، ارقم، ادهم) غیرمنصرف دي او دد غو دریو (افعیٰ واجدل و اخیل) غیرمنصرف کېدل کمزوري دی.

تشریح: د نن په سبق کي څلور خبرې دي:
①: د وصف لغوي او اصطلاحي معنا، ②: د وصف د غیرمنصرف لپاره د سبب جوړېدو شرط، ③: د مذکوره شرط وجه، ④: پر مذکوره شرط د تفریعاتو وضاحت.

دوصف لغوي او اصطلاحي معنا

لومړۍ خبره: د وصف لغوي او اصطلاحي معنا:
د وصف معنا که څه هم د کافیه ملاصاحب رحمه الله نه ده بیان کړې، خو د فائدې د تمامیت لپاره دلته څرګندېږي، چي د وصف لغوي معنا داده: (المعنی القائم بالغیرسواءٌ دلّ علیٰ کماله او علیٰ نقصه، ای: علیٰ مدحه او علیٰ ذمه.
او د نحوییانو په اصطلاح کي وصف دېته ویل کېږي: (کون الاسم دالًا علیٰ ذاتٍ مبهمةٍ ماخوذةٍ مع بعض صفاتها، سواء کانت هذه الدّلالة بحسب الوضع او بحسب الاستعمال).

ترجمه: د یو اسم د ذات مبهمه پر څینې صفاتو دلالت کول، دا دلالت که د اصلي وضع په اعتبار وي، یا په وروسته کي د صفت په معنا کي داستعمالېدو له وجې وي، لکه اسماء مشتقه.

دوهمه خبره: د وصف د غیرمنصرف لپاره د سبب جوړېدو شرط:

وصف هم د منع صرف په اسبابو کي یو سبب دی، خو دا هغه مهال مؤثر جوړېږي، کله چي د اصلي وضع په اعتبار د وصف لپاره وضع سوی وي، نو هر هغه اسم کوم چي په اصل وضع کي د صفت لپاره نه وي، په وروسته کي که څه هم د صفت په ډول استعمال سوی وي، دا که څه هم وصف خو دی، لیکن د غیرمنصرف لپاره سبب نسي کېدای، خو هغه اسم چي واضع د وصف لپاره وضع کړی وي، په وروسته کي که څه هم پر ده علمیت غالب هم سي او د صفت معنی په ده کي لږ سي، نو بیا هم دا د غیر منصرف لپاره سبب جوړېدای سي او دعلمیت پر ده غالب کېدل کوم تاوان نه کوي، ځکه چي اعتبار اصل وضع ته وي، لکه (اجملُ) دا په اصل کي د وصف یعني (خوبصورتي) لپاره وضع سوی و، لیکن په وروسته کي علمیت ورباندي غالب سو، لهذا اوس دا د وصف اصلي او وزن فعل له وجې غیرمنصرف جوړېدای سي، نه چي د وصف او علمیت له وجې، ځکه چي تاسو ته په هدایة النحو کي دا قاعده ښودل سوې چي وصفیت او علمیت سبب مؤثر جوړېدای سي، جمع کېدای نسي (کماسیأتی بعدسطور فی کتابنا هذا ایضًا).

درېیمه خبره: د مذکوره شرط وجه:

د وصف لپاره پورتنی شرط ځکه لګول سوی، چي په اسماؤ کي اصل انصراف وي او عدم انصراف فرع وي، نو د دوی له خپل اصل څخه د فرع طرفته د را اوښتلو لپاره ځواکمن سبب ته ضرورت و او وصف هغه مهال ځواکمن سبب جوړېدای سی، کله چي د اصل وضع په اعتبار سره وصف وي، نه چي هغه وخت په ده کي وصف عارضي او الحاقي وي.

څلورمه خبره: پر ذکر سوي شرط د تفریعاتو وضاحت:

علامه ابن حاجب رحمه الله د (فلذلک) په پيل کي (فاء) تفريعيه او لام تعليليه راوړی دی (شرطه ان يکون فی الاصل او فلاتضره الغلبة) دواړه اصلونه يې د (المذکور) په تأويل سره اخستي دري قسمه تفريعات يې ذکر کړي دي:

①: صُرف اربعٌ: په دې هکله يې ويلې چي دا منصرف دی، ځکه چي موږ شرط لګولی و چي (ان يکون فی الاصل) او د اصل په اعتبار وصف هغه ته وايې، کوم چي پر ذات مبهمه دلالت کوي، حال دا چي (اربع) خو پر يوه معلوم شی، يعني (مابين الثلاثة والخمسة) شمېر دلالت کوي؛ لهذا دا په (مررت بنسوة اربع) کي که څه هم د وصف لپاره دی، ليکن دا وصف عارضي او الحاقي دی، نو دا د غيرمَنصرف لپاره سبب نسي جوړېدای، ځکه چي اوس په ده کي صرف يو سبب يعني وزن فعل پاتې سو، کوم چي يوازي د دوو پر ځای درېدای هم نسي، نو ځکه (اربع) پر خپل اصل يعني انصراف پاتې سو.

②: و امتنع اسود و ارقم للحية وادهم للقيد: د دې دريو سره په هکله يې ويلې چي په دوی کي هريو د خپل اصل په اعتبار د صفت لپاره وضع سوی دی، يعني د اسود وضع د تور رنګ لپاره او د (ارقم) وضع د برګ (تور او سپين) لپاره او د (ادهم) وضع د تک تور لپاره سوې ده، په وروسته کي که څه هم دا نوم سو او علميت يې پر وصفي معنا غالبه سوی دی، ځکه چي کله هم د دغو اسماؤ ذکر وسي، نو د اورېدونکي ذهن سمدستي د تور مار او تور رنګ لرونکي ځنځير وطرفته ځي، خو بيا هم د علميت پر غالب کېدل مضر نه دي، بلکي ځرنګه چي تر علميت مخکي په ده کي وصفيت سبب جوړېدی، اوس هم سبب جوړېږي، نو دغه دري سره اسماء د وزن فعل او وصف اصلي له وجې غيرمنصرف کېږي، نه چي د علميت او وزن فعل له وجې.

فائده: د علميت او غلبه علميت تر مينځ فرق دادی، چي د غلبه علميت له وجې معنی وصفي بلکل له مينځه نه ځي، او دعلميت له وجې معنی وصفي بلکل ختمېږي، له همدې وجې د هداية النحو ملاصاحب رحمه الله د وصف په هکله ويلي دي، چي (فلا يجتمع مع العلمية اصلًا).

③: و ضعف منع افعى للحية و اجدل للصقر و اخيل للطّائر.

ترجمه: د افعى، اجدل او اخيل دريو سره غيرمنصرف کېدل ضعيف دي، ځکه چي د دې دريو سره د اصل وضع په اعتبار سره په وصفيت کي اختلاف دی، دځينو علماؤ په نزد په دوی کي وصف اصلي دی، هغه په دې ډول چي (افعى) له (فعوة) په معنى د هر خبيث شی څخه مشتق ده، بيا په وروسته کي د مار نوم سو او (اجدل) له جدل (په معنى د قوت او ځواک) څخه مشتق ده، بيا په وروسته کي د شکره نومي مرغۍ نوم سو، دا راز (اخيل) له خيلان (په معنا د تورتکي لرونکي شی) څخه مشتق ده، بيا په وروسته کي د يوې شين رنګي (چي څه دهبه پکي وي) مرغۍ نوم سود دې علماؤ په نزد دا دري سره د وزن فعل او وصفيت له وجې غيرمنصرف دی، حال داچي ځيني نورو علماؤ دغه مذکوره اسماء له اسماؤ څخه مشتق نه دي منلي، نو ددوی په نزد دا ټول منصرف دي.

څرنګه چي علامه ابن حاجب رحمه الله د دغو دواړو ډلو ترمينځ د دريمګړي په ډول دا فيصله کړې، څرنګه چي دا دواړه طرفونه د نحوي د علماؤ اقوال دي او دواړو پرخپل، خپل ځای صحيح ويلي دي، لېکن څرنګه چي اصل په اسماؤ کي انصراف دی او عدم انصراف فرع دی، نو دوی پر خپل اصل په پرېښودلو د غيرمنصرف منونکو قول ضعيف بللی دی.

فائده: له ذکر سويو دري تفريعاتو څخه په لنډو دومره معلومه سوه، چي هغه اسماء په کومو کي چي د وصفيت معنى موندل کېږي، هغه پر دري قسمه دي:

①: هغه اسماء چي د اصل وضع په اعتبار پکي د وصفيت معنا نه وي، بلکي وروسته پکي راغلې وي، لکه (اربعٌ)، نو داسي اسماء په اتفاق منصرف دي.

②: هغه اسماء چي د اصل وضع په اعتبار پکي د وصفيت معنا وي، لکه (اسود، ارقم او ادهم)، نو داسي اسماء په اتفاق غيرمنصرف دي.

③: هغه اسماء چي پکي اختلاف وي، يعني د ځينو علماؤ په اند د اصل وضع په اعتبار پکي د وصفيت معنا وي، او د ځينو په نزد پکي اصلي نه وي، بلکي عارضي اوالحاقي وي، لکه (افعى، اجدل او اخيل)، نو دداسي اسماؤ غيرمنصرف کېدل ضعيف دي، ځکه چي اصل په اسماؤ کي انصراف وي.

شلم (۲۰) درس

دغير منصرف د دريم سبب (تانيث) بيان

التانيث بالتاء شرطه العلمية والمعنوي كذلك و شرط تحتم تاثيره الزيادة على الثلاثة او تحرك الاوسط اوالعجمة، فهندٌ يجوز صرفه و زينبُ و سقَر و ماه وجورُ ممتنعٌ، فان سُمّيَ به مذكر، فشرطه الزيادة على الثلاثة، فقدمٌ منصرفٌ و عقربٌ ممتنعٌ.

ترجمه: تانيث په تاء، ددې لپاره شرط علمیت دی او تانيث معنوي هم همداراز دی او د ده په حتمي او وجوبي ډول د غيرمنصرف سبب جوړېدو لپاره شرط دادی، چې تر دريو حرفونو به زيات وي (كه چېرې داسې نه و) متحرک الاوسط به وي (كه چېرې داهم نه وي، نو لږترلږه) عجمه خو به وي، له همدې وجې د (هندٌ) منصرف ويل هم روا دي او (زينب، سقر او ماه او جورُ) ټول غيرمنصرف دي، يا كه چېرې د تانيث معنوي په ذريعه د كوم مذكر نوم كېښېښودل سي، نو بيا يې د مؤثر سبب جوړېدو لپاره شرط دادي، چې هغه به زائد على الثلاثه وي، همدا وجه ده، چې (قدمٌ) منصرف دی او عقرب غيرمنصرف دی.

تشريح: د نن په سبق كي درې خبرې كېږي:

①: د تانيث قسمونه، ②: د دوارو قسمونو د غيرمنصرف جوړېدو لپاره شرطونه، ③: د شرطونو وجه.

د تانيث قسمونه

لومړۍ خبره: د تانيث قسمونه:

د غيرمنصرف دريم سبب تانيث دی، تانيث پر دوه قسمه دی: ①: تانيث لفظي، ②: او تانيث معنوي.

تانيث لفظي هغه اسم دی، په كوم كي چې د تانيث علامه راغلې وي، لكه (حمراء، حبلى، فاطمة او حمزة) او تانيث معنوي هغه اسم دی، په كوم كي چې د تانيث علامه نه وي راغلې، خو پكي تاء مقدره (په حقيقي، يا حكمي ډول) راغلې وي، لكه (الارض او زينب).

دوهمه خبره: د تانیث د دواړو قسمونو لپاره شرطونه:
تانیث الفي یعني د الف ممدوده او مقصوره لپاره کوم شرط نسته، بلکي هغه په هر صورت کي د غیرمنصرف لپاره سبب جوړیږي، لیکن دلته د تانیث بالتاء بیان دی، د هغه لپاره علامه ابن حاجب رحمه الله ویلي دي (شرطه العلمیة والمعنوي کذلک)، چي د تانیث بالتاء په دواړو قسمونو کي که علمیت و، نو د غیرمنصرف لپاره سبب جوړیږي، که نه نه جوړیږي، لیکن د دواړو ترمینځ فرق سته، چي په تانیث لفظي کي که شرط پوره سي، نو غیرمنصرف ویل یې واجب دي، او په تانیث معنوي کي که شرط راسي، نو غیرمنصرف ویل یې واجب نه، بلکي صرف جائز دي، له همدې وجې مصنف رحمه الله د ده لپاره بېل عبارت راوړل (والمعنوي کذلک) یې وویل او (شرطهما العلمیة) یې ونه ویل.
وشرط تحتم تأثیره: وایي، چي د تانیث معنوي د یقیني او وجوبي اثر کوونکي جوړېدو لپاره شرط دادی، چي له علمیت سره، سره به هغه اسم (پر دریو حرفونو زیات) هم وي، لکه (زینب، سعادُ او کلثومُ) او داسي نورو، که چېري (پر دریو حرفونو زیات نه و)، نو (د مینځ حرف به یې حرکت لري) لکه: (سَقَر) کوم چي د جهنم د یوې طبقې نوم دی او که چېري (متحرک الاوسط) هم نه و، نو لږ ترلږه عجمه خو به هرومرو وي، لکه (ماه و جورُ)، کوم چي د دوو ښارونو، یا قلعه ګانو نومونه دي.
غرض دا چي له دغو دریو څخه یو شق په (تانیث معنوي) کي راسي، نو په وجوبي ډول د غیرمنصرف سبب جوړیږي، که نه وي، نو صرف په جوازي ډول جوړیږي.
په (هندٌ) کي له دغو دریو شقونو څخه یو هم نسته، نو غیرمنصرف ویل یې صرف جائز دي، واجب او ضروري نه دي.
فإن سُمِّيَ به مذکرٌ فشرطهُ الزیادةُ علی الثلاثة: ویلي یې دي، چي د تانیث معنوي په ذریعه که چېري د کوم مذکر نوم کړل سي، نو د غیرمنصرف د سبب جوړېدو لپاره یې په مذکوره دریو شرطونو کي یوازي (زیادت علی الثلاثه) کېدل شرط دی، لکه (عقربُ او زینبُ)، که چیري د انسانانو نومونه سي، نو دا

غیرمنصرف کېږي، ځکه څرنګه چي مخکي غیرمنصرف وه، اوس هم مذکوره شرط پکي جاري کېږي، لیکن که چیري (قدْم) د ښځي نوم کېښودل سي، نو که څه هم مخکي غیرمنصرف و، ځکه چي په ده کي تانیث له خپل شرط (متحرک الاوسط) سره و، خو اوس دا منصرف کېږي، ځکه چي اوس شرط ببله مشروط (تانیث) پاتې نسوی دی.

درېیمه خبره: د مذکوره شرطونو وجه:

د تانیث بالتاء لپاره علمیت ځکه شرط ىسوی، چي په ده کي کومه تاء ده، هغه حرف زائد ده او د زائد حرف د زوال خطره وي، نو له دې حطرې څخه د ځان ساتلو لپاره له ده سره علمیت شرط سو (لان الاعلام تکون محفوظة عن التغیر بقدرالامکان)، یعني اعلام له تغیر او تبدل څخه تر وسه پوري محفوظ دي.

او د تانیث معنوي لپاره پر ذکر سوي شرط سربېره دوهم شرط (زائد علی الثلاثة) ځکه لګول سوی، چي په ده کي څه ثقل او سختي پیداکېږي، مثلا په (زائدعلی الثلاثه) اسم کي څلورم حرف د تاء تانیث پر ځای وي، همدا وجه ده، چي د تصغېر را ایستلو په مهال په ده کي تاء نه راځي، لکه چي د (زینبُ) تصغېر (زُوَیْنَبُ) راځي، او هغه اسم کوم چي (زائد علی الثلاثه) نه وي، نو د هغه په تصغېر کي تاء راځي، لکه چي د (قدْم) تصغېر (قدیمة) راځي.

او د متحرک الاوسط کېدو شرط ځکه لګول سوی، چي که څه هم دا (زائد علی الثلاثه) خو نه دی، لیکن د ده متحرک الاوسط کېدل ګواکي د څلورم حرف قائمقام دی او د عجمه شرط هم یوازي پکي د ثقل پیداکېدو لپاره لګول سوی دی.

تانیث معنوي چي کله د مذکر نوم کړل سي، نو په ده کي هم د (زائد علی الثلاثه) شرط ځکه لګول سوی، چي د مذکر د نامه د ویلو له وجې که څه هم په ظاهره د ده تانیث ختمېږي، خو د هغه قائمقام (څلورم حرف) موجود وي.

یوویشتم (۲۱) درس

د غیرمنصرف د څلورم سبب (معرفه) بیان

المعرفة شرطها ان تكون علميةً.

ترجمه: معرفه، د معرفه شرط دادی، چي هغه به علميت وي.

تشريح: په ذکرسوي مختصرعبارت کي صرف دوې مختصرې خبرې دي:
①: د معرفه لغوي او اصطلاحي معنا، ②: د معرفه د غيرمنصرف لپاره د سبب جوړېدو شرط او وجه يې.

د معرفه لغوي او اصطلاحي معنى

لومړۍ خبره: د معرفه لغوي او اصطلاحي معنى.

د معرفه لغوي معنى ده د حقيقت پېژندل، او په اصطلاح کي يې معنى داده، چي (هی اسمٌ وضع لشئ معين) يعني معرفه هغه اسم ده، چي د يو خاص معلوم شی لپاره وضع سوی وي، هغه معلوم شی که له ذوالعقول څخه وي، لکه (زيد، عمر، بکر) او که له غيرذوالعقول څخه وي، لکه: الکتاب، القلم وغيره.

دوهمه خبره: د معرفه د غيرمنصرف لپاره د سبب جوړېدو شرط او وجه يې:

معرفه د غيرمنصرف لپاره مؤثرسبب هغه مهال جوړېږي، کله چي پکي علميت شتون ولري او د معرفه په اوو قسمونو کي يې يوازي علميت ځکه خاص کړ، چي له علميت پرته چي څومره قسمونه دي، هغه غيرمنصرف نسي جوړېدای، مثلا لومړی درې قسمونه: مضمرات، اسماء اشارات او اسماء موصولات خو مبني دي او زموږ بحث له معرب څخه دی، نو دا درې قسمونه ووتل او د معرف باللام او مضاف په وجه خو غيرمنصرف هم منصرف کېږي، د غيرمنصرف لپاره سبب کېدل خو پر لويه لاره پرېږده، که نه دا به د موږکانو په پشي له ساتلو سره مترادف وي، او معرفه په نداء هم د معرف باللام په حکم کي ده، ځکه د (يارجل) معنى (ياايّهاالرجل) ده، نو صرف اعلام پاتې سو، ځکه مونو خاص کړل.

سوال: که څوک ووايي، چي دلته مو د معرفه د سبب جوړېدو لپاره علم شرط کړی، ولي مو د دې پرعکس نه کول؟

جواب: دا سوال غلط دی، ځکه که چيري معرفه د علم د سبب جوړېدو لپاره شرط سي، نو هيڅ فائده نه کوي، ځکه چي علم له مخکي نه معرفه دی، بلکي اعرف دی، او که داسوال صحيح هم سي، نو جواب يې دادی، چي د غيرمنصرف

ټول اسباب د فروعاتو له قبیلې څخه دي. لکه څنګه چې مخکې تېر سو، نو د معرفه د سبب جوړېدو په مهال ده ته د نکره فرع ویل زیات مناسب او ظاهر دي. پر ځای د دې چې د علم سبب جوړ سي. او ورته د نکره فرع ویل سي.

فائده: معرفه له ټولو سببونو سره یو ځای کېدای سي، پرته له وصف څخه. ځکه چې وصف پر ذات مبهم دلالت کوي او معرفه پر ذات معین.

دوویشتم (۲۲) درس

د غیرمنصرف د پنځم سبب (عجمه) بیان

العجمة شرطها ان تکون علمیةً فی العجمة وتحرُّک الاوسط اوالزیادة علی الثلاثة، فنوحٌ منصرف و شترُ وابراهیم ممتنعٌ.

ترجمه: عجمه (د عجمه د غیرمنصرف لپاره د سبب جوړېدو) شرط دادی، چې دا به په عجمي ژبه کې علم وي او متحرک الاوسط، یا زائد (علی الثلاثة) به وي، نو له همدې وجې (نوحٌ) منصرف دی او (شترو ابراهیم) غیرمنصرف دي.

تشریح: په مذکوره عبارت کې درې خبرې دي:

①: د عجمه لغوي او اصطلاحي تعریف، ②: د عجمه د غیرمنصرف سبب جوړېدو شرطونه، ③: د شرطونو وجه.

د عجمه لغوي او اصطلاحي تعریف

لومړی خبره: د عجمه لغوي او اصطلاحي تعریف:

په عربي کې د عجمه معنا ده (اللُکنة وعدم افصاح الکلمة) یعني ګونګی او د خبرو په پوره فصاحت د کولو ځواک نه لرل.

او د نحو په اصطلاح کې عجمه (کون اللفظ غیر عربي) ته وایې. یعني د یو لفظ له عربي پرته له بلې ژبې نه کېدل.

دوهمه خبره: د عجمه د غیرمنصرف لپاره د سبب جوړېدو شرطونه:

د عجمه د غیرمنصرف سبب جوړېدو لومړی شرط دادی، چې هغه په لغت عجمي کې د یو چا نوم وي، دا نوم کېدل که په حقیقي ډول وي، لکه (ابراهیم او اسماعیل)، یا په حکمي ډول وي، لکه (قالون)، دا لغت عجم یعني په رومي ژبه

کي د چا نوم نه و، بلکي اسم جنس و، یعني هر بڼه او کره شی ته رومیانو (قالون) ویل، یا عربي ژبې ته راغی، عربو په اوو قاریانو کي پر نافع (د ده د ښه او کره قراءت ویلو له کبله) نوم کېښېښود.

دوهم شرط داچي هغه اسم به زائد علی الثلاثه وي، لکه (ابراهیم) دلته علمیت او عجمه سره له خپل شرطه راغلي دي او که چیري زائد علی الثلاثه نه و، (خو په دې شرط چی هغه متحرک الاوسط) وي، لکه شَتَرُ (د بکر د سیمي د یوې قلعه نوم دی) دلته هم علمیت او عجمه سره له خپله شرطه یعني (متحرک الاوسط) کېدل راغلي دي او په (نوحْ) کي لومړی شرط سته خو د دوهم شرط په دواړو شقونو کي یو شق نسته، نو ځکه منصرف دی.

درېیمه خبره: د مذکوره شرطونو وجه:

په عجمه کي د غیرمنصرف سبب جوړېدو لپاره دا دوه شرطونه ځکه لګول سوي، چي عرب غواړي چي په هره ثقیله کلمه کي هغه که عربي وي، که عجمي وي د هغې د اساني لپاره تغیر او تبدل وکړي، حال دا چي د عجمه د منع صرف لپاره سبب جوړېدل یوازي د دې ثقیل کېدل دي، نو که چیري د عربو تر تغیر او تبدل وروسته د عجمه ثقل ختم سي، نو بیا هغه دسبب جوړېدو لائق نه پاتېږي، ځکه علت ولاړی، لهذا موږ دا شرطونه ولګول، د دې لپاره چي عجمه پر خپل ثقالت پاته سي او له هر قسم تغیېر او تبدل څخه محفوظ سي.

دروېشتم (۲۳) درس

د غیرمنصرف د شپږم سبب (منتهی الجموع) بیان

الجمع شرط صیغة منتهی الجموع بغیرهاء، کمساجد ومصابیح، واما فرازنةٌ فمنصرف و حضاجر علمًا للضبع غیرمنصرف لأنّه منقولٌ عن الجمع و سراویل اذا لم یُصرف وهوالاکثر فقد قیل اعجمیٌ حمل علی موازنة، وقیل عربیٌ جمع سروالة تقدیرًا واذا صرف، فلا اشکال، ونحو جوارٍ رفعًا وجرًّا کقاضٍ.

ترجمه: د جمع (د غیرمنصرف سبب جوړېدو لپاره) شرط دادی، چي هغه به د منتهی الجموع صیغه وي، بیله (هاء)، لکه مساجد او مصابیح او پاتي سوه

(فرازنة) نو هغه منصرف ده او (حضاجر) کوم چي د سِمسیارې نوم دی غیرمنصرف دی، ځکه چي دا له جمع څخه را نقل سوې ده او (سراویل) چي کله غیرمنصرف وي او د دې په ډول اکثره غیرمنصرف استعمالېږي، چا ویلي دي چي دا پر خپلو هم وزن کلماتو حمل سي، نو عجمي کېږي او داهم ویل سوي دي، چي دا عربي کلمه ده او د (سروالة) تقدیري جمع ده او کله چي دا منصرف وویل سي، نو بیا هېڅ سوال نه کېږي او که د (جوارٍ) په ډول کوم اسم وي، په حالت رفعي او جري دواړو کي یې اعراب د (قاضٍ) په ډول دی.

تشریح: د نن په سبق کي پنځه خبرې دي:

①: د جمع تعریف او د غیرمنصرف لپاره یې د سبب جوړېدو شرطونه، ②: د جمع منتهی الجموع تعریف او علامه یې، ③: د شرطونو لګولو وجه، ④: دوه مقدر سوالونه او جوابونه یې، ⑤: د جوارٍ تفصیل.

د جمع تعریف

لومړۍ خبره: د جمع تعریف او د غیرمنصرف لپاره یې د سبب جوړېدو شرطونه:

هی الصّیغة الّتی تدلّ علی الثلاثة فما فوقها یعني جمع هغه اسم ده، کومه چي پر درې، یا تر دریو پر زیاتو دلالت کوي، لکه: مسلمون، مؤمنون وغیره.

جمع د غیرمنصرف لپاره مؤثر سبب هغه مهال جوړېږي، کله چي پکي دوه شرطونه راغلي وي، یو وجودي او یو سلبي:

وجودي شرط دادی، چي هغه به د منتهی الجموع صیغه وي، هغه که په حقیقي توګه وي، که په حکمي ډول وي، حقیقي دا معنا چي په واقعي توګه جمع الجمع وي، لکه د (کلب) جمع (اکلب) او د (اکلب) جمع (اکالیب) ده او د حکمًا معنا داده، چي په واقع کي هغه جمع الجمع نه وي، بلکي صرف د جمع الجمع پر وزن راغلي وي، لکه د (عصفورٌ) جمع (عصافیر) او د (مصباح) جمع (مصابیح).

د جمع منتهی الجموع تعریف او علامه یې

دوهمه خبره: د جمع منتهی الجموع تعریف او علامه یې:

هى الصّيغة الّتى لا تجمع جمع ا لتكسير مرةً اخرىٰ كانّ جمعيّتها وصلت الى الانتهاء.

يعني جمع منتهى الجموع هغه جمع دہ، د كومې چې مزيد جمع تكسيره نه جوړېږي، ګواكې د دې جمعيت پاى ته رسېدلى وي، له همدې وجې ورته منتهى الجموع ويل كېږي.

او علامه يې داده، چې تر دې مخكې دواړه حرفونه مفتوح وي، په درېيم ځاى كې الف وي، تر هغه وروسته كه چېرې يو حرف و، نو مشدد به وي، لكه (دَوَابُّ، صَوَافُّ)، كه چېرې دوه حرفونه وه، نو لومړى مكسور او دوهم مضموم كېږي، لكه: مَسَاجِدُ، مَكَاتِبُ او كه چېرې درې حرفونه وه، نو په مينځ كې به يې ياء ساكنه وي، لكه: (مَصَابِيحُ، اَكَالِيْبُ).

او سلبي شرط يې دادى، چې په اخير كې به يې داسې تاء نه وي كومه چې د وقف په حال كې په (هاء) بدلېږي، كه يې په اخير كې داسې تاء راغلې وه، نو هغه اسم منصرف كېږي، لكه: فرازنةٌ، خو كومه هاء چې له تاء څخه بدله نه وي، هغه غيرمنصرف كېږي، لكه: فَوَارِهُ.

درېيمه خبره: د مذكوره دوو شرطونو وجه: د جمع لپاره د منتهى ا لجموع وزن شرط ځكه لګول سوى، چې هغه له تغيېر او تبدل څخه محفوظ دى او دا وزن له تغير څخه ځكه محفوظ دى، چې و هاخواته جمع نسي جوړېداى.

دوهمه وجه داده چې جمع د غيرمنصرف هغه سبب دى، كوم چې د دوو سببونو پر ځاى ولاړ دى، نو ورسره د منتهى الجموع شرط ځكه لګول سوى چې د دې بناء هم دوه واره سوې ده يو وار له مفرد څخه د جمع وطرفته او دوهم وار د جمع له طرفه د منتهى الجموع وطرفته (كمامر فى الدرس السابع عشر).

او د دوهم شرط وجه داده، چې هر هغه اسم چې په اخير كې يې (ګردى) تاء وي، نو هغه د مفرد علامه وي، لهذا هر هغه اسم كوم چې د جمع اقصىٰ پر وزن وي،

لیکن په اخیر کې یې همدا تاء وي، نو هغه به هرومرو یا مفرد وي، لکه: کَرَاهِیَةٌ، یا به له مفرد سره التباس لري، لکه: فَرَازِنَةٌ.

ځلورمه خبره: دوه مقدره سوالونو او جوابونه یې:

سوال (۱): دلته سوال پیداکېږي، چې مخکې مصنف رَحِمَهُ اللهُ د جمع د غیرمنصرف دسبب کېدو لپاره شرط لګولی و، چې جمع به وي او دا جمع به هم منتهی الجموع وي، حال دا چې (حَضَاجِرُ) د منتهی الجموع پر وزن خوده لېکن پخپله جمع نه ده، نو ګواکې شرط بېله مشروطه راغی، سره له دې چې دا حضاجر د علم نحوي د علماؤ په اتفاق غیرمنصرف ده، نو دا ولې؟

جواب: (حضاجر) په اصل کې د (حِضْجِرٌ) جمع ده او د (حِضْجِرٌ) معنا ده لویې خېټې والا، بیا دا د سمسیارې لپاره نوم کېښودل سو، ځکه چې د دې نس هم غټ دی، تر دې پورې چې د مبالغې په ډول ویل کېږي، چې د یوې سمسیارې خېټه د یوه جماعت خلکو (چې خېټې یې غټې وي) له خېټو سره برابره ده، تر دې چې مړي هم له قبرونو راکاږي او خوري یې، ځکه نو دیوې سمسیارې (حضاجر) جمع بلکې د جمع الجمع نوم کېښودل سو، دا که څه هم فی الحال مفرد ده، لیکن د خپل اصل په اعتبار دا جمع ده، نو د اصل په اعتبار کولو موږ غیرمنصرف وګڼله.

سوال (۲): دوهم سوال دا پیداکېږي، چې (سراویل) یې ولې غیرمنصرف بللی، حال دا چې دانه فی الحال جمع ده او نه په اصل کې؟

د کافیه ملاصاحب رَحِمَهُ اللهُ د دې سوال دوه جوابونه کړي دي، یو د بعض علماء نحو له لوري او دوهم د علم نحوي د اکثرو علماؤ له لوري:

جواب (۱): د بعض علماء نحو له طرف نه یې جواب ورکړی، چې حضرت! دا خو ته وایې، چې دا غیرمنصرف ده، موږ یې منصرف بولو، په دې صورت کې **ګواکې له سره سوال نه وارديږي**.

جواب (۲): د نحوي د اکثرو علماؤ له لوري یې دا جواب کړی، چې دا غیرمنصرف ده، نو اوس که سوال وارد سي، نو جواب ورکوونکي دوې ډلې دي،

لو مړی ډله یعني امام سیبویه او امام ابو علی رحمهما الله او د دوی تابعدارانو په دې ډول جواب کړی، چې دا عجمي کلمه ده او په عربي ژبه کې چې پر دې وزن څومره کلمې دي، هغه ټولې غیرمنصرف دي، نو دا هم پر خپلو هموزنو کلمو د حمل کېدو له وجې غیرمنصرف ویل کېږي.

او دوهمې ډلې، یعني امام مبرد او د ده متبعینو په دې ډول جواب کړی، چې دا خو د ه عربي کلمه او عربو غیرمنصرف استعمال کړې. موږ چې هر څومره وکتل، تر اوږده فکر وروسته هم موږ د دې د غیرمنصرف کېدو سبب پیدا نکړ، نو په پای کې موږ دا جمع حقیقي نه، بلکې جمع اعتباري وګڼله. فرض مو کړل، چې دا د (سِروالة) جمع ده او جمع هم د منتهی الجموع پر وزن ده. کومه چې د دوو سببونو پر ځای ولاړه ده، نو ځکه غیرمنصرف وویل سوه.

پنځمه خبره: د جَوَارٍ تفصیل او شننه: جَوَارٍ: دلته له جوار څخه د اسم منقوص هر هغه کلمه مراد ده، کومه چې د (فَوَاعِلُ) پر وزن وي، هغه که ناقص یائي وي، لکه (جَوَارِيُ) چې جمع د (جَارِيَة) ده. یا ناقص واوي وي، لکه: (دَوَاعِيُ) چې جمع د (دَاعِيَة) ده.

دلته دا خبره ښودل پکار دي، چې د جمع لپاره موږ کوم شرط لګولی و، چې هغه به د منتهی الجموع صیغه وي، نو دا شرط چې په کومه جمع کې نه وي، هغه غیرمنصرف نه، بلکې هغه منصرف ده، لکه: جوارٍ، دواعٍ په حالت رفعي او جري کې منصرف کېږي، ځکه دا دواړه که څه هم جمعې خو دي، لیکن د منتهی الجموع پر وزن نه دي، خو په حالت نصبي کې شرط سته، نو په هغه کې دا دواړې غیرمنصرف دي.

ځیني حضراتو دلته داسې تفصیل کړی، چې خلاصه یې داده، چې مصنف رحمه الله په (ونحو جوار) کلمه سره صرف د دې د استعمال طریقه ښودل غواړي، له انصراف او عدم انصراف څخه یې هیڅ بحث نه کوي، ځکه چې په انصراف او عدم انصراف کې اختلاف دی او د دغه اختلاف مدار پر یوه بل اختلاف دی، هغه

دا چي د عربو په کلماتو کي انصراف او عدم انصراف مقدم دي، که اعلال مقدم دی؟

نو امام کسائي رحمه الله او د ده متبعین وايي، چي اصل انصراف او عدم انصراف دي، دلیل یې دادی، چي اعلال د ثقل د لیري کېدو لپاره وي او ثقل په تلفظ کي وي، لومړی دا فیصله کېږي، چي دا منصرف دی، که غیرمنصرف، نو د دوی په نزد (جَوَارِیْ او دَوَاعِیْ) تر اعلال مخکي په دریو سره حالتونو کي غیرمنصرف دي، ځکه چي جمع هم دي او شرط هم پکي راغلی دی، څرنګه چي حالت رفعي د اعلال تقاضا کوله، نو تر اعلال وروسته که څه هم جمع خو پاته دي، لیکن شرط یې نسته، نو په حالت رفعي کي منصرف سو، پاتې سو حالت نصبي او جري، نو هغه د اعلال تقاضا نه کوله، نو پر هغو دواړو حالتونو غیرمنصرف کېږي.

او د ځينو په نزد اعلال تر انصراف او عدم انصراف مخکی دی، دلیل یې دادی، چي د اعلال تعلق د کلمې له ذات سره وي او د انصراف او عدم انصراف تعلق د کلمې له وصف سره وي او قاعده ده، چي ذات مقدم وي پر وصف، نو اعلال مقدم کېږي تر انصرف او عدم انصرف، بیا دا علماء دوې ډلې دي:

①: امام زجاج رحمه الله او د ده متبعین هم وايي، چي د دوی خو تر اعلال مخکي هیڅ اعتبار نسته، لیکن تر اعلال وروسته دوی غیرمنضرف کېږي، ځکه چي کومه یاء حذف سوي ده، هغه د ملفوظ په حکم کي ده، لانّ المحذوف کالملفوظ، نو ګواکي جمع سره له خپل شرطه باقي ده، پاتې سو ددې په اخیر کي تنوین، نو هغه تنوین عوضي دی، کوم چي پر غیرمنصرف راتلای سي.

څلېرويشتم (۲۴) درس

د غیرمنصرف داووم سبب (ترکیب) بیان

التركيب شرطه العلمية وان لايكون باضافة ولا اسناد، مثل بَعْلَبَكُّ.

ترجمه: ترکیب، د ده د غیرمنصرف سبب جوړېدو لپاره شرط دادی، چي هغه به علم وي او دوهم شرط یې دادی، چي مرکب اضافي او مرکب انسادي نه وي، لکه: بَعلبکُّ.

تشریح: د نن په سبق کې درې خبرې دي:

①: د ترکیب لغوي او اصطلاحي تعریف، ②: د ترکیب د غیرمنصرف لپاره دسبب جوړېدو شرطونه، ③: د شرطونو وجې.

د ترکیب لغوي او اصطلاحي تعریف

لومړۍ خبره: د ترکیب لغوي او اصطلاحي تعریف: د ترکیب لغوي معنا ده (جوړښت او سره یو ځای کول) او د نحوي د علماؤ رحمهم الله په اصطلاح کې ترکیب دېته وايي: (هو جعل الكلمتين كلمةً واحدةً بغيرحرفية احدالجزئين) یعني هغه اسم په کوم کې چې دوې کلمې یوه سوې وي، بېله دې چې په دغو دوو کلمو کې کومه یوه حرف وي، نو په (النجم او بصري او ضاربة) هېڅ اعتراض نسي کېدای، چې دا دوې، دوې نه کلمې سي هم مرکب نه دي، ځکه چې په دوی کې یو یو جزءیعني په لومړۍ کلمه کې الف لام، په دوهمه کې یاء او په درېیمه کې تاء راغلي دي، کوم چې حروف دي.

دوهمه خبره: د ترکیب د غیرمنصرف لپاره د سبب جوړېدو شرطونه: ترکیب د غیرمنصرف لپاره مؤثر سبب هغه وخت جوړېږي، کله چې پکې درې شرطونه راغلي وي یو وجودي او دوه سلبي.

وجودي شرط دادی، چې هغه به علم وي، او سلبي دادی، چې هغه به مرکب اضافي نه وي، لکه غلام زید او کتاب بکر او مرکب اسنادي به هم نه وي، لکه: تأبطَ شرًّا او شابَ قَرناها.

درېیمه خبره:د شرائط مذکوره وو وجې: د علمیت شرط یې ځکه لګولی، چې په اصل کې د هرې کلمې وضع بېله، بېله او مستقله سوې ده، یعني هېڅ کلمه (اسم او فعل) دکومې بلې کلمې محتاجه نه وي، لېکن کله چې دوې کلمې یوه کېږي، نو دا به په لازمي ډول د کوم عارض له وجې وي، او عارض چې کله ختم سي، نو دا ترکیب هم نه پاتېږي، بلکي له مینځه ځي، نو د علمیت شرط د شرط په لګېدو سره ترکیب د زوال له احتمال څخه وژغورل سو، ځکه چې اعلام کلمې له زوال او تغییر او تبدل څخه محفوظ ساتي، دوهمه وجه دا چې علمیت د منع صرف

په اسبابو کي قوت پیدا کوي، نو ګواکي د ده د زیات قوي کېدو لپاره یې دا شرط ولګاوه.

پاتې سو د مرکب اضافي نه کېدو شرط، نو هغه یې ځکه لګولی چي د اضافت له وجې خو غیرمنصرف هم منصرف کېږي، یا دمنصرف په حکم کي کېږي (علیٰ اختلاف الاقوال)، دا خو پرېږده، چي منصرف غیرمنصرف کړي.

او دمرکب اسنادي د نه کېدو شرط یې ځکه لګولی، چي هغه د مبنیاتو له قبیلې شخه دي، او غیرمنصرف د اسم معرب له قبیلې شخه دی.

پنځویشتم (۲۵) درس
دغیرمنصرف داتم سبب (الف ونون زائدتان) بیان

الالف والنّون ان کانتا فی ا سم فشرطه العلمیة، کعمرانَ او صفة فانتفاء فعلانة وقیل وجود فَعْلیٰ و من ثَمَّ اُختلف فی رحمــــنَ دون سکرانَ و ندمانَ.

تشریح: د نن په سبق کي څلور خبرې دي:

①: د الف ونون د تسمیه وجه او د غیرمنصرف لپاره یې د سبب جوړېدو وجه، ②: د ده دغیرمنصرف کېدو لپاره د سبب جوړېدو شرطونه، ③: د شرطونو لګولو وجه، ④: تفریعات.

لومړۍ خبره: د الف ونون زائدتان د تسمیه وجه او د غیرمنصرف لپاره دسبب جوړېدو وجه:

د غیرمنصرف اتم سبب الف او نون زائدتان دی، د نحوي د علماؤ په نزد د دې دوه نومونه دي، یو الف و نون زائدتان، دوهم الف نون مضارعتان:

زائدتان يې ځکه ورته ويلي دي، چې دا په کومه کلمه کې هم وي، هغه د حروف اصليه په مقابله کې نه وي، بلکې زائد وي، لکه: عمران او سکران پر وزن د فَعْلَان او فِعْلَان.

او مضارعتان يې ځکه ورته ويلې، چې د مضارعت معنا ده مشابهت او دا هم له الف ممدوده او الف مقصوره سره د تاء تانيث د داخلېدو په امتناع کې مشابهت لري، يعني څرنګه چې د دوی دواړو په اخير کې تاء تانيث نسي راتلای، دا راز د دوی په اخير کې هم نسي راتلای.

د غيرمنصرف لپاره د الف ونون زائدتان د سبب جوړېدو وجه د کوفيينو په نزد داده، لکه څرنګه چې د منع صرف اسباب ټول د فروعاتو له قبيلې څخه دي، داراز دا دواړه هم د هغه اسم اوصفت فرع دي پر کومو چې دوی داخل سوي وي، مثلاً په عمران کې لومړی درې حرفونه د اصل په توګه دي او دغه دواړه د دوی فرع دي او د بصريينو په نزد د دوی اصل (د تاء تانيث د داخلېدو په امتناع) کې الف ممدوده او الف مقصوره دی او دغه دواړه (الف اونون زائدتان) يې فرع دي.

دوهمه خبره: د دوی د غيرمنصرف لپاره دسبب جوړېدنې شرطونه:

الف نون زائدتان به يا په اسم جامد کې وي، يا به په صفت کې وي، که چېرې په اسم جامد کې وي، نو شرط يې دادی، چې هغه به د يو چا علم وي او که په صفت کې وي، نو د نحوي د اکثرو علماؤ په نزد يې شرط دادی، چې دده دصفت مؤنث به د فعلانۃٌ پر وزن نه وي، لکه د خصمانٌ مؤنث خصمانۃٌ راځي او د ځينو نحوي علماؤ په نزد يې شرط دادي، چې د ده د صفت مؤنث به د (فَعْلَیٰ) پر وزن وي، نو ګواکې چې د بعضو په نزد صرف (انتفاء د فعلانۃ) او د بعضو په نزد له دې سره، سره (وجود دفعلی) هم ضروري دی.

ليکن مصنف رحمه الله دغه دوهم قول د (قيل) په لفظ ذکر کړی، دا دېته اشاره ده، چې دا قول ضعيف دی، ځکه د (غضبانْ) مؤنث (غضبی) راغلی دی، سره له دې منصرف هم ده.

درېيمه خبره: د ذكر سويو شرطونو وجه:الف او نون ته كه چېري مزيدتين وويل سي، لكه چي د كوفيينو قول دى، نو د دوى لپاره علميت ځكه شرط سوى، چي هرزائد شى د زوال په محل كي وي او دا هم زائد دى، نو له زوال څخه يې د ژغورنې لپاره علميت ورته شرط سوى، ځكه علميت د حروفو د حفاظت يوه محفوظه قلعه ده.

او كه چېري الف او نون ته مضارعتين وويل سي، لكه چي د بصريينو قول دى، نو علميت ځكه ورته شرط سوى دى، چي حروف يې محفوظ پاتې سي او له الف ممدوده او مقصوره سره د ده مشابهت كمزورى نسي، او كه چيري دا په صفت كي وي، نو د ده لپاره (انتفاء د فعلانة، يا وجود د فعلىٰ على اختلاف القولين) هم ځكه شرط سوي دي، چي له الف ممدوده او مقصوره سره يې مشابهت ضعيف نه سي، **بلكي هغه پر ځاى پاتې سي.**

څلورمه خبره:له وَمِنْ ثَمَّ اُخْتُلِفَ څخه تفريعات:

څرنګه چي الف نون زائدتان كله په اسم صفت كي وي، نو د ده د شرط په تاثير كي اختلاف تېرسو، چي د ځينو په نزد (انتفاء د فعلانة) او دځينو په نزد (وجود دفعلى) شرط دى، ځكه چي د بعض كلماتو په انصراف او عدم انصراف كي هم اختلاف وي او په بعضو كي اتفاق، مثلا د (رحمانٌ) لفظ صفت جلاله د (انتفاء فعلانة) د قائلينو په نزد غيرمنصرف دى، ځكه چي دده مؤنث بيخي نسته، دا خو پرېږده، چي د فعلانة پر وزن راسي او د (وجود فعلى) د قائلينو په نزد دا منصرف دى، ځكه چي د دې مؤنث بيخي نسته، دا خو پرېږده، چي د (فعلى) پر وزن راسي.

دوهم مثال (سكرانُ) دى، دا په اتفاق غيرمنصرف دى، ځكه چي د ده مؤنث د (سكرىٰ) پروزن د (فعلى) راغلى دى، نو دواړه شرطونه پكي شتون لري (انتفاء د فعلانة) هم او (وجود دفعلى) هم.

درېيم مثال (ندمان) دى، په دې كي څه تفصيل سته، هغه دا چي دا په دوو معناوو كي مستعمل دى، يو په معنى د (نادمٌ) اسم فاعل، دوهم په معنى د (نديمٌ) صفت مشبه، كه چېري په معنا د (نادمْ) وي، نو د ده مؤنث ندمانة راځي،

نو په دې صورت کې په اتفاق سره دا منصرف کېږي، ځکه چې پکې له دواړو شرطونو څخه هیڅ شرط نسته او که چېرې په معنا د (ندیمْ) و، د کوم چې مؤنث (ندمی) دی، نو په اتفاق سره غیرمنصرف کېږي، ځکه چې پکې دواړه شرطونه شتون لري.

شپږویشتم (۲۶) درس

د غیرمنصرف د نهم او اخیري سبب (وزن فعل) بیان

وزن الفعل شرط ان یختص به کشمَّر وضُرِبَ او یکون فی اوله زیادةٌ کزیادته غیرقابل للتاء ومن ثُمّ امتنع احمرُ وانصرف یعملٌ.

ترجمه: وزن فعل: د وزن فعل لپاره شرط دادی، چې هغه به پر داسې وزن وي، کوم چې په فعل پورې خاص وي، لکه: شمَّر او ضُرِبَ، یا دا چې د ده په پیل کې به هغه زائد حروف وي، کوم چې د فعل په پیل کې زائد راغلي وي، په داسې حال کې چې هغه تاء نسې قبلولای، له همدې وجې احمرُ غیرمنصرف ده او یعملٌ منصرف ده.

تشریح: د نن په سبق کې درې خبرې دي:

①: د وزن فعل تعریف او مشهور وزنونه یې، ②: د وزن فعلِ د غیرمنصرف لپاره د سبب جوړېد شرطونه، ③: د شرطونو وجه یې.

د وزن فعل تعریف او مشهور وزنونه

لومړۍ خبره: د وزن فعل تعریف او مشهور وزنونه.

د وزن فعل تعریف دادی، چې (کون الاسم علیٰ وزنٍ یُعدّ من اوزان الفعل) یعني د اسم پر داسې وزن راتلل، کوم چې د فعل په وزنونو کې شمېرل کېږي او د فعل مشهور وزنونه دادي (شمَّرَ، ضُرِبَ، احمدُ، یزیدُ، یشکُرُ، تغلبُ او تدمُرُ).

دوهمه خبره: د وزن فعل د غیرمنصرف لپاره د سبب جوړېدو شرطونه:

وزن فعل د غیرمنصرف لپاره مؤثر سبب هغه مهال جوړېږي، کله چې پکې له دوو شرطونو څخه یو شرط راغلی وي.

لومړی شرط: دادی، چي د ده اسم به پر داسي وزن راغلی وي، چي د اصل وضع په اعتبار سره له فعل سره خاص وي، یا له هغه ځخه را نقل سوي وي، اسم ته راغلی وي، مثلاً شمّر دا د تفعیل له باب ځخه د ماضي معلومې لومړنۍ صیغه ده، چي مصدري معنا یې ده (پایڅې رابډ وهل)، یا په رووسته کي له دې معنا را نقل سوه، د حجاج بن یوسف د یوه تېزتګ کوونکي آس نوم سو، نو اوس دا د علمیت او وزن فعل له وجې غیرمنصرف سو.

دا راز ضُرِبَ د ماضي مجهول صیغه ده، لیکن که چیري د چا نوم سي، نو دا هم د علمیت اووزن فعل له وجې غیرمنصرف کېږي.

دلته داخبره په ذهن کي ونیسئ، چي مصنف رحمه الله د ماضي مجهول مثال راوړی، نه چي د معلومې، وجه یې داده، چي د ماضي معلوم وزن مثلاً فَعَلَ صرف له فعل سره نه دی خاص، بلکي دا وزن په اسم کي هم راځي، مثلاً شَجَرٌ، قَلَم وغیره، پاتې سود دې په اخیر کي تنوین نو هغه د وقف په محل کي دی، لهذا په وزن کي یې څه اعتبار نه کېږي.

دوهم شرط دادی، چي که چېري د داسي اسم پر وزن وي، کوم چي په فعل پوري خاص نه وي، نو په شروع کي یې له حروف (اَتَيْنَ) ځخه یو حرف راتلل ضروري دي، لکه چي د فعل مضارع په پیل کي وي، دوهم دا چي په اخیر کي به تاء د تانیث نه قبلوي، لکه (احمر) دا که څه هم په فعل پوري خاص نه دی، لیکن بیا هم غیرمنصرف ده، ځکه چي پکي د مذکوره شرط دواړه شقونه راغلي دي، یعني په شروع کي یې له حروفو اتین ځخه همزه ده او په اخیر کي تاء مدوره هم نه قبلوي، نو دا د وصف او وزن فعل له وجې غیرمنصرف دي او د (يعملٌ) په شروع کي که څه هم یاء راغلې ده، لیکن په اخیر کي یې تاء مدوره ګرځي (ۃ) راتلای سي، لکه چي ویل کېږي (ناقَةٌ یعملةٌ) ځکه نو دا منصرف ده.

درېیمه خبره: د مذکوره شرطونو د لګېدو وجه:

د وزن فعل د غیرمنصرف د سبب جوړېدو لپاره د (ان یختصَّ به) شرط ځکه لګول سوی، چي په دې کي څه ثقل پیدا کېږي، ځکه چي کوم وزن په فعل پوري خاص

وي، نو هغه دا غواړي، چې هغه صرف په فعل کي استعمال سي. ليکن له دې سره، سره چې کله له ده څخه را نقل سي، په اسم کي استعمال سي، نو هغه هرومرو ثقيل کېږي، نو څومره چې ثقېل وي، په هماغه اندازه په تاثير کي زياتوب راځي.

پاتې سو د دوهم شرط شق اول يعني په شروع کي له حروف اتين څخه د يوه حرف راتلل، نو هغه شرط يې ځکه لګولی، چې دا وزن صرف په فعل پوري خو خاص نه دی، ليکن د دغه شرط په وجه لږ، تر لږه له فعل سره د ده مشابهت پيدا کېږي.

او ددې دوهم شق يعني په اخير کي د تاء مدوره نه راتلل، دا شرط ځکه لګول سوی، چې تاء مدوره کلمه له ا سم سره خاصوي، لهذا که چېري دا شرط ونه لګول سي، نو له فعل سره دده مشابهت ختم کېږي.

اوويشتم (۲۷) درس

له غيرمنصرف سره تړاو لرونکې څو مهمې مسئلې

و مافيه علمية مؤثرةٌ اذا نكّر صُرِفَ لما تبينَ من انّها لا تُّامَ مؤثرةً الّا ما هى شرط فيه الّاالعدل و وزن الفعل و هما متضادان، فلا يكون معها الّا احدهما، فاذا نُكرَ بقى بلا سبب او على سبب واحدٍ.

ترجمه: او هغه اسماء په کومو کي چې علم کېدل اغېزناک وي (په دې ويلو يې له جمع منتهی الجموع څخه احتراز وکړ)، کله چې دا اسماء نکره جوړ کړل سي، نو هغه منصرف کېږي، ځکه چې دا ښکاره خبره ده، چې علميت (په داسي حال کي چې اثر کوونکی وي) جمع نسي کېدای، مګر له هغو اسبابو سره په کومو کي چې دا شرط دی، خو په عدل او وزن فعل کي له شرط پرته اثر انداز کېږي او دا دواړه (عدل او وزن فعل) يو د بل ضد دي، نو له علميت سره په دوی دواړو کي يو راځي، بيا چې کله (هغه اسم په کوم کي چې علميت مؤثر وي)نکره جوړېږي،

نو هغه به يا بېله سببه پاتېږي (كه چېري علم دده لپاره شرط وي)، يا به پكي يوازي يو سبب پاتېږي (كه چېري علم دده لپاره سبب محض وي).

تشريح: د نن په سبق كي څلور خبري دي:

①: د غيرمنصرف د منصرف جوړېدو قاعده، ②: د علم د نكره جوړېدو طريقه، ③: هغه اسباب په كومو كي چي علميت شرط دی، ④: د يوه سوال جواب.

لومړۍ خبره: د غيرمنصرف د منصرف جوړېدو قاعده:

و ما فيه علميةٌ مؤثرةٌ اذا نُكِّر صُرِفَ:

په دې عبارت كي دا قاعده بيان سوې، چي هر هغه اسم په كوم كي چي علميت د غيرمنصرف جوړېدو لپاره مؤثر (اغېزناک) وي، هغه كه د شرط په ډول وي، يا د سبب محض په ډول وي، كله چي دا اسم نكره سي، نو هغه منصرف كېږي.

مصنف رحمه الله د دې وجه دا بيان كړې، چي هغه اسباب په كومو كي چي علميت كېدل شرط دی، كله چي له دوی څخه علميت ختم سي، نو نكره جوړېږي، نو هغه اسم بېله سببه پاتېږي، مثلا زينب او كلثوم دا دواړه د تانيث او علميت له وجې غيرمنصرف دي، ليكن كله چي له دوی څخه علميت ختم سي، نو يوازي تانيث پاتېږي او هغه بېله شرطه ګواكي چي هيڅ سبب پاتې نسو، نو په لازمي ډول زينب او كلثوم منصرف ګرزي.

او هغه اسباب په كومو كي چي علميت شرط خو نه وي، بلكي د عامه اسبابو په ډول دا هم د سبب محض په ډول ورسره جمع كېږي، كله چي له دغو څخه علميت ختم سي، نو هغه اسم پر يوه سبب پاتېږي، مثلا عمر د عدل او علميت له وجې غيرمنصرف دی، كله چي علميت ځيني ختم سي، نو پكي صرف عدل پاتېږي، لهذا داهم منصرف جوړېږي.

دوهمه خبره: د علم د نكره جوړېدو دوې طريقې:

د كافيه ملاصاحب رانبيي، چي (وما فيه علمية مؤثرة اذا نكر، صُرِف) ليكن دا زدكول پكار دي، چي د علميت د نكره جوړېدو طريقه څه ده؟، نو په ياد لره، چي د اسم علم د نكره جوړېدو دوې لارې دي:

Scanned by CamScanner

لومړۍ طريقه: دا چي علم که وويل سي، نو ځيني د صاحب علم مشهور وصف مرادېږي، لکه چي و ويل سي (لکلّ فرعون موسیٰ، ای لکل مبطل محق) دلته وګوره د فرعون لفظ که څه هم په اصل کي غيرمنصرف و، خو دلته ځيني هغه خاص فرعون مراد نه دی، بلکي هر باطل (په کوم کي چي د فرعون وصف مشهور وي، يعني سرکښه وي) مراد دی، ځکه نو منصرف ځيني جوړ سو، فرعونٍ ويل کېږي.

دوهمه طريقه دا ده: مثلاً د يوه پوره جماعت نوم عثمان وي، نو علم (عثمان) وويل سي، بېله تعين څخه د يوه فرد د مراد اخستلو، لکه (التقيت عثمان و عثمانًا آخر) دلته لومړی عثمان معرفه دی، ليکن دوهم د نکره کېدو په وجه منصرف کېږي.

هغه اسباب په کومو کي چي علميت شرط دی

دريمه خبره: هغه اسباب په کومو کي چي علميت شرط دی:

د منع صرف له اسبابو څخه پنځه (يعني تانيث بالتاء، معرفه، عجمه، ترکيب ا و الف نون زائدتان) چي کله په اسم کي وي، نو په دوی کي علميت شرط دی او له عدل او وزن فعل سره صرف د سبب محض په ډول جمع کېږي ا و له منتهی الجموع او تانيث بالالف سره جمع کېدای خو سي، ليکن پکي مؤثر کېدای نسي، پاتي سو وصف او الف نون زائدتان چي کله په وصف کي وي، نو له دوی دواړو سره له سره جمع کېدای نسي، ځکه چي وصف پر عموم دلالت کوي او علميت پر خصوص، لنډه دا چي ټوټل پنځه اسباب داسي دي، په کومو کي چي علميت شرط دی او دوه داسي دي له کومو سره چي علميت د سبب محض په ډول جمع کېږي.

څلورمه خبره: په و هما متضادان سره د يوه سوال جواب:

دلته يو سوال کېږي، چي که چېري په کوم اسم کي دري سببونه جمع سي، يعني علميت، عدل او وزن فعل، نو چي کله له داسي اسم څخه علميت ختم سي، نکره ځيني جوړ سي، نو بيا هم هغه کلمه غيرمنصرف پاتېږي، ځکه چي اوس هم پکي دوه سببونه عدل او وزن فعل پاتي دي؟

نو د کتاب مصنف رحمه الله په (وهما متضادان) ویلو جواب ورکړ، چې عدل او وزن فعل په یوه اسم کې جمع کېدل ممکن نه دي، ځکه چې د عدل ټول شپږ وزنونه دي، یعني فَعَلِ، اَمسِ، فَعَلُ سَحَرُ، فُعالُ ثلاثُ، فُعَلُ، عُمَرُ، مَفعَلَ مَثلَث، فَعَالِ، نَزَالِ، او دا ټول اوزان سماعي دي او له عدل سره خاص دي، د دې په مقابله کې چې د فعل څومره وزنونه دي، هغه ټول قیاسي دي، نوګواکې چې دا دواړه یو د بل ضد سو او دوه ضدین نسي سره جمع کېدای.

سوال: دلته داسول کېدای سي، چې تاسو وویل: عدل او وزن فعل نسي جمع کېدای، حال دا چې اِصمِتْ کوم چې د یوه ځنګل نوم دی په دې کې وزن فعل هم راغلی او عدل هم، ځکه چې دا د نصرینصر له باب څخه دی، له قاعدې سره سم (اُصمُتْ) پکار وه، لیکن له قاعدې خلاف (اصمِتْ) دی، نو معلومه سوه، چې پکې عدل راغلی دی او وزن فعل خو یې ښکاره دی؟

دا راز په (آخَرُ) کې هم وزن فعل او عدل تحقیقي راغلي دي، نو دلته خو دواړه جمع سوي دي، حال دا چې تاسو وویل، چې الضدان لا یجتمعان؟

جواب: موږ د داسي عدل اووزن فعل د جمع کېدو نفي کړې، چې مؤثر وي، حال دا چې دلته په دواړو مثالونو کې که څه هم جمع خو دي، لیکن مؤثر نه دي، ځکه چې په دواړو کې د عدل تر منلو مخکې دوه سببونه سته، د کومو له وجې چې دا له مخکې نه غیرمنصرف دي، مثلاً اِصمِت د علمیت او تانیث له وجې او آخر د وصف او وزن فعل له وجې غیرمنصرف دي.

اتویشتم (۲۸) درس

دامام سیبویه او امام اخفش اختلاف

و خالف سیبویه الأخفشَ فی مثل احمرَ علمًا اذا نکّر اعتبارًا للصّفة الأصلیة بعدالتنکیر و لایلزمه بابُ حاتمٍ لما یلزم من اعتبار المتضادّین فی حکمٍ واحدٍ و جمیع الباب باللام او بالاضافة ینجرُّ بالکسر.

ترجمه: او اختلاف کړی دی امام سیبویه له امام اخفش سره په (احمر) یعني داسي اسماؤ کې کله چې هغه د علمیت پر حال وي، بیا نکره ځیني جوړ سي، نو تر

نکره کېدو وروسته هم دصفت اصلي په اعتبار کولو سره (غیرمنصرف پاتېږي) او د امام سیبویه لپاره څه لازمي نه دي، چي د (حاتم) رنګه په اسماؤ کي د وصف اصلي اعتبار وکړي، ځکه چي په دې صورت کي د دوو متضادو شیانو (وصفیت او علیمت) په یوه اسم کي جمع کېدل لازمیږي او د غیرمنصرف پرپوره باب چي کله الف لام داخل سي، یا یې اضافت وسي، نو د هغه جر په کسره سره کېږي.

تشریح: د نن په سبق کي څلور خبرې دي:

①:د امام اخفش مصداق، ②: مثل د احمرُ او پکي د اختلاف وضاحت، ③: په ولا یلزمه باب حتم سره د اعتراض دفع، ④: د غیرمنصرف د منصرف جوړېدو یوه بله طریقه.

لومړۍ خبره: د امام اخفش رحمه الله مصداق:

په عامه توګه د نحوي په کتابونو کي د اخفش په نامه درې کسان مشهور دي:

①: اخفش کبیر، کوم چي د امام سیبویه استاذ و، چي نوم یې ابوالخطاب او عبدالحمید بن عبدالحمید دی.

②: اخفش صغیر، کوم چي د امام سیبویه شاګرد دی، چي نوم یې ابوالحسن سعید بن سعده دی.

③: اخفش اوسط کوم چي د امام سیبویه هم عصره او د امام مبرد شاګرد و او نوم یې ابوالحسن علي بن سلیمان رحمه الله دی، کذا صرّح المصنف رحمه الله فی شرح المفصّل.

نو چي کله هم د امام اخفش نوم ذکر سي، نو هرو مرو به ځیني په دې دریو کي یو مرادېږي، خو دلته ځیني مراد د امام سیبویه شاګرد ابو الحسن سعید بن سعده رحمه الله دی.

دوهمه خبره: د مثل احمرُ او پکي د اختلاف وضاحت:

مخکي چي کومه قاعده بیان سوه، چي (و ما فیه علمیةٌ مؤثرة اذا نکّر صُرِفَ) دا قاعده د جمهورو نحویینو په نزد متفق علیها ده، خو دلته د علامه ابن حاجب رحمه الله (وخالفَ سیبویه) عبارت راوړل دبته اشاره ده، چي په مذکوره یوه

صورت کې امام سیبویه رحمه الله له جمهورو سره مخالفت کړی دی، یو طرف امام سیبویه دی او دوهم طرف امام اخفش رحمه الله د جمهورو ترجماني کړې ده.
امام سیبویه رحمه الله وایې: هر هغه اسم کوم چې د صفت لپاره وضع سوی وي او په وروسته کې علم جوړ سوی وي، نو که چېرې له ده څخه علمیت ختم کړل سي، نکره جوړ کړل سي، نو هم د وصف معدوم یعني (حذف شوې) وصف اعتبار کېږي، ځکه (المعدوم لایزول) او هغه په قانوني ډول غیرمنصرف پاتېږي، ځکه چې دوصفیت چې کوم مانع و یعني علمیت هغه اوس پاتې نسو، نو وصفیت بېرته راګرزي، لکه احمرُ چې علم جوړ کړل سي، نو وصفیت ختمېږي، بیا چې کله دا نکره جوړ کړل سي، نو د امام سیبویه رحمه الله په نزد پکې د وصفیت عائده او وزن فعل په اعتبار کولو سره په قانوني ډول غیرمنصرف ویل کېږي.
امام اخفش رحمه الله (د جمهورو د ترجمان په ډول) وایې: چې داسې نه ده، اوس دا منصرف کېږي، ځکه تر علمیت تر له مینځه تلو وروسته په ده کې صرف وزن فعل پاتې کېږي، پاتې سو وصف معدوم، نو د هغه لپاره قاعده داده، چې (الزائل لایعود).

درېیمه خبره: په ولایلزمه باب حاتم د اعتراض دفع:

اعتراض دادی، چې امام سیبویه صاحب! تا په (مثل احمرُ) کې بعدالتنکیر د وصف تر زائلېدو وروسته هم د وصف اصلي اعتبار کړی دی، نو له علمیت سره هم تاسو د وصفیت اعتبار وکړ، لکه په (حاتمْ) کې یو علمیت ومنئ او بل وصف؟
په ولایلزمه باب حاتم: (یعني هر هغه اسم د کوم چې واضع د وصف لپاره وضع کړې وي، بیا په وروسته کې علم جوړ سوی وي) سره مصنف رحمه الله جواب کړی، چې بلکل به مورږ دلته د دې اعتبار کړی وای، لیکن له دې څخه د دوو متضادو شیانو په یوه اسم کې جمع کېدل لازمېږي، یعني د علمیت او وصف او دا دواړه ځکه متضاد دي، چې علمیت پر معین ذات دلالت کوي او صفت پر مبهم ذات دلالت کوي.

یادونه: د بنده په نزد مذکوره اعتراض ګواکي د امام سیبویه لپاره د تربخ غوړپ مترادف دی، ځکه امام سیبویه د وصفیت د اعادې اعتبار هغه مهال کوي، کله چې د هغه د زائل کېدو شی، یعني علمیت پخپله زائل سي، او دلته خو هغه تر اوسه باقي دی او موږ وویل، چې داسي نه ده امام سیبویه صاحب! تاسو له علمیت سره، سره هم د وصفیت اعتبار کړی (والله اعلم بالصواب).

څلورمه خبره: د غیرمنصرف د منصرف جوړېد طریقه:

و جمیع الباب باللام او بالاضافة ینجرُّ بالکسرة:

په دې عبارت کي علامه ابن حاجب رحمة الله علیه وایې: مخکي چې د غیرمنصرف کوم پوره تفصیل تېر سو، چې پر ده کله الف لام داخل سي، یا هغه د کوم اسم وطرفته مضاف سي، نو د هغه جر په کسره لفظي سره کېږي، دلته د کتاب مصنف رحمة الله علیه وضاحت نه دی، چې په داسي کولو سره هغه اسم منصرف کېږي، یا غیرمنصرف پاتېږي، بلکي صرف یې د هغه صورت پر اعراب یې اکتفاء کړې، خبره یې ختم کړې، ځکه چې ددې په انصراف او عدم انصراف کي د نحوي د علماؤ اختلاف دی او په اصل کي د دې اختلاف مدار د غیرمنصرف په تعریف کي پر اختلاف دی، هغه دا چې ځیني نحوي علماؤ داسي تعریف کړی، چې غیرمنصرف هغه اسم معرب دی، په کوم کي چې د منع صرف له اسبابو څخه دوه سببونه، یا یو داسي سبب چې د دوو پر ځای ولاړ وي راغلي وي او ځینو یې داسي تعریف کړی، چې غیرمنصرف هغه اسم معرب دی، پر کوم چې کسره او تنوین نه راځي.

نو د لومړي مذهب علماء په کومو کي چې امام فراء او د ده متبعین شتون لري، وایې: چې په دې دواړو صورتونو کي اسم په قانوني ډول غیرمنصرف پاتېږي، ځکه چې (دخول الف لام او عندالاضافة) هغه دواړه سببونه تر اوسه باقي پاتې دي. لېکن داده، په کوم غیرمنصرف کي چې یو سبب علمیت وي، هغه که د شرط په ډول وي، یا د سبب محض په ډول وي. کله چې الف لام پر داخل سي، یا یې اضافت وسي، نو په دې دواړو صورتونو کي د علمیت د ختمېدو له وجې هغه اسم

له يوه سبب سره پاتېږي، او د له يوه سبب سره د پاتېدو له وجې هغه منصرف کېږي.

فائده: پر علم د الف د داخلېدو په وجه علميت ځکه ختمېږي، چې په علميت کي د اعلی درجې تعريف وي په نسبت د معرف باللام کېدو، له دې سره، سره چې کله علم معرف باللام جوړ سي، نو ګواکي چې د (طلب الادنیٰ بحصول الاعلیٰ) خرابي لازمېږي، ځکه نو علميت ختمېږي.

او د اضافت په صورت کي يې علميت ځکه ختمېږي، چې د ده اضافت که چېري د معرفه وطرفته سوی وي، نو تحصېل د حاصل لازمېږي او که چېري د نکره وطرفته سوی وي، نو هماغه د (طلب الادنیٰ بحصول الاعلیٰ) خرابي لازمېږي.او دوهم مذهب والا په نزد دا منصرف جوړېږي، ځکه چي يو خو پر دغه صورت د غيرمنصرف تعرېف صادقېږي، دوهم دا چي د اسم غيرمنصرف کېدل له فعل سره د مشابهت په وجه وي، ليکن کله چي الف لام پر داخل سي، نو د ده اضافت کېږي، له فعل سره يې مشابهت کمزوری کېږي، ځکه چي دا دواړه د اسم له خواصو څخه دي، نو د مشابهت د کمزوري کېدو په وجه د ده غيرمنصرف کېدل هم ختمېږي والله اعلم.

اَلْمَرْفُوْعَاتُ

نویشتم (۲۹) درس

دمرفوعات تعرېف

المرفوعات: هو ما اشتمل علیٰ علم الفاعلية.

ترجمه: مرفوع هغه اسم دی، چي د فاعليت پر علامه مشتمل وي.

تشرېح: د نن په سبق کی څلور خبرې دي:

①: د مرفوعات د مخکي کېدو وجه، ②: د مرفوعات د لفظ اعرابي صورتونه، ③: د مرفوعات مفرد، ④: د مرفوعات تعرېف، نو ګواکي چي په دوی کي د لومړيو دريو تراو له عنوان يعني المرفوعات سره دی او د يوه تراو له عبارت سره دی.

د مرفوعات د مخكي کېدو وجه

لومړۍ خبره: د مرفوعات د مخكي كېدو وجه:

د كتاب مصنف رحمه الله چي كله مقدمه په تفصيل سره بيان كړه، نو اوس په دريو مقصدونو كي د لومړي مقصد (مرفوعاتو بيان كوي) او دا يې پر منصوبات او مجرورات ځكه مخكي كړي، چي په دې كي اكثره (يعني فاعل، نائب فاعل، مبتداء، د كان اسم او د ماولا مشبهتين بليس اسم) مسنداليه واقع كېږي او مسنداليه په كلام كي عمده (اصل) وي، د دې په مقابله كي منصوبات او مجرورات فضله، يعني زائد وي، او عمده شی پر زائد شی مخكي كېږي، ځكه نو دلته هم عمده پر فضله مخكي سوى دى.

د مرفوعات د لفظ اعرابي صورتونه

دوهمه خبره: د مرفوعات د لفظ اعرابي صورتونه:

مرفوعاتِ مرفوعٌ، منصوب او مجرور په دريو سره طريقو ويل جائز دي، د مرفوع ويلو په صورت كي يا خو د مبتداء محذوف لپاره خبر كېږي، نو د عبارت تقدير داسي كېږي: (هذه المرفوعات)، يا خو پخپله د محذوف خبر لپاره مبتداء كېږي، بيا عبارت داسي كېږي (المرفوعات هذه)، يا د خبر مذكور لپاره مبتداء جوړېږي، يعني (المرفوعات) مبتداء كېږي او را روان عبارت جمله اسميه د ده لپاره خبر جوړېږي.

او د منصوب ويلو په صورت كي دا د محذوف فعل لپاره مفعول به جوړېږي، نو د عبارت تقدير داسي كېږي(اقرؤوا المرفوعات يا اشرعوا المرفوعات).

او د مجرور كېدو په صورت كي يا خو مجرور بحرف الجر كېږي، مثلاً محذوف عبارت داسي راوزي (هذا الباب فى المرفوعات)يا به مجرور بالمضاف كېږي، مثلاً (هذا بحث المرفوعات).

دريمه خبره: د مرفوعات مفرد:

مرفوعات د جمع صيغه ده، مفرد يې (مرفوعٌ) ده، پر دې سوال سوى دى، چي (مرفوعٌ) خو د مفرد مذكر صيغه ده. نو جمع خو يې (مرفوعون) د جمع مذكر سالمي په صورت راتلل پكار وه؟

جواب: چي د (مرفوعٌ) جمع پرځای د جمع مذکر سالمی د جمع مؤنث سالم په شکل ځکه راوړل سوي، چي دنحوي د علماؤ په نزد دا قاعده ده، چي د لایعقل جمع په الف او تاء سره راځي، نو دا هم په الف او تاء سره راځي، لکه چي په قرآنکریم کي هم راغلي دي (فی الایام الخالیات).

پاتي سو دده د (مرفوعةٌ) جمع ویل نو هغه ځکه صحیح نه ده، چي (مرفوعات) د اسم صفت دی او د اسم مذکر کېدل ظاهر دي، په دې صورت کي که چیري د (مرفوعةٌ) ومنل سي، د موصوف او صفت تر مینځ مطابقت نسته، نو معلومه سوه، چي دا د (مرفوعة) جمع نه، بلکی د (مرفوع) جمع دی.

د مرفوعات تعریف

ځلورمه خبره: د مرفوعات تعریف:

هو ما اشتملَ علیٰ علم الفاعلیة یعنی مرفوع هغه اسم دی، کوم چی د فاعلیت پر علامه مشتمل وی، په پورتني عبارت کي د (هو) ضمیر مرجع (مرفوعات) نسي کېدل، ځکه چی د (هو) ضمیر مفرد مذکر دي او مرفوعات د جمع صیغه ده، نو له مرفوعات څخه (مرفوع) مفرد مذکر صیغه را باسو د (هو) ضمیر مرجع یې جوړوو.

او له (علم الفاعلیة) څخه په اعراب بالحرکة کي مراد ضمه ده، لکه (جَاءَنِیْ زَیْدٌ) او په اعراب بالحروف کي ځیني مراد الف او واو دي، الف په تثنیه کی، لکه: (جَاءَنِیْ زَیْدَانِ) او واو په اسماء سته مکبره او جمع مذکر سالمه کی، لکه (جَاءَنِیْ اَخُوْکَ او جَاءَنِیْ مسلمونَ).

دېرشم (۳۰) درس

د مرفوعات د لومړی قسم (فاعل) بیان

فمنه الفاعل، وهو ما اسندَالیه الفعل او شبهه و قُدِّمَ علیه علیٰ جهة قیامه به مثل قَامَ زَیْدٌ و زیدٌ قائمٌ ابوه، والاصل ان یلی الفعل، فلذالک جازَ ضربَ غلامَه زَیْدٌ و امتنع ضرب غلامُهٗ زَیْدًا.

ترجمه: له هغې مرفوعاتو څخه يو فاعل دی او هغه داسې مرفوع اسم دی، د کوم طرفته چې د فعل يا شبه فعل نسبت شوی وي، په داسې حال کې چې هغه پر دغه اسم مخکې شوی، په داسې ډول چې فعل، يا شبه فعل په ده پورې قائم وي، لکه (قَامَ زَيْدٌ او زَيْدٌ قَائِمٌ اَبُوْهُ) او د فاعل اصل او د زړه غوښتنه داده، چې هغه له فعل سره بيله فصل (پيوست) ذکر شوی وي، ځکه نو د (ضرب غلامُهُ زيدٌ) ترکيب جائز دی او د (ضَرَبَ غُلَامُهُ زَيْدًا) ترکيب ناجائز دی.

تشريح: د نن په سبق کې څلور خبرې دي:

①: په مرفوعاتو کې د فاعل د مخکې کېدو وجه، ②: د فاعل تعريف، ③: په تعريف کې دننه د قيدونو فائدې، ④: د فاعل په احکامو کې لومړی حکم، يعنی د فاعل د واقع کېدو ځای.

تمهيد: مرفوعات ټوټل اته دی، لکه څرنګه چې د پښتو يوه وتلي شاعر بزرګ سنداکي بابا رحمه الله په خپلو دوو شعرونو کې جمع کړي دي، چې له يو څه ادلون، بدلون وروسته يې دلته وړاندي کول مناسب دي:

اته دي مرفوعات واوره بيان که لزي حرص*
خبر او مبتداء خبر د لائ نفي جنس*
فاعل دی او نائب دده خبر شه د دفن*
اسمين دليس کانَ، ما ولا خبر د اِنَّ

لومړۍ خبره: په مرفوعاتو کې د فاعل د مخکې کېدو وجه:

فاعل يې تر نورو مرفوعاتو ځکه مخکې کړی، چې د نحوي د جمهورو علماؤ په نزد دا عمده وي، ځکه چې دا دجمله فعليه جزء وي او د جمله مقصد مخاطب ته فائده رسېدل وی او دا خاصيت په جمله فعليه کې په پوره درجه پيدا کېږي، ځکه چې په فعليه کې د اسميه په نسبت څه زيادت، يعني نسبت الی الزمان وي، ځکه يې نو دا مخکې کړ.

دفاعل تعریف

دوهمه خبره: د فاعل تعریف:

الفاعل: هو ما اسندالیه الفعل او شبهه و قدم علیه علیٰ جهة قیامه به.

په دې عبارت کې د کافیه ملاصاحب رحمه الله دفاعل تعریف بیان کړی، چې فاعل هر هغه اسم دی، د کوم طرفته چې دفعل، یا شبه فعل نسبت سوی وي، په داسې ډول، چې دا دواړه، یعني فعل او شبه فعل له دغه اسم څخه صادر سوي وي (نه چې پرده واقع وي) او دواړه ترده مخکې هم وي، لکه قَامَ زَیْدٌ او زَیْدٌقَائِمٌ اَبُوهُ.

دریمه خبره: په تعریف کې دننه د قیدونو فائدې:

د کوم شی چې هم تعریف بیانیږي، نو د هغه د جامع او مانع جوړیدو لپاره یو جنس او تر هغه وروسته څو فصلونه قائم وي، دلته د فاعل په تعریف کولو سره هم ابن حاجب رحمه الله یو جنس او درې فصلونه راوړي دي، څرنګه چې په (الفاعل: هو ما اسندالیه الفعل او شبهه و قدم علیه علیٰ قیامه به) کې د (هو) مرجع یعنی (الفاعل) معرف دی او له (ما اشتمل) څخه تر (علیٰ جهة قیامه به) پورې یې تعریف دی، بیا په تعریف کې د (ما) کلمه جنس ده پکې هر قسم اسماء داخل دي، تر دې وروسته (اسندالیه الفعل او شبهه) لومړی فصل دی، هغه اسماء په ووتل، د کومو طرفته چې د فعل پرځای د اسماؤ نسبت سوی وي، لکه (زَیْدٌ ابو کَ) وغیره.

(و قُدِّمَ علیه) دوهم فصل دی، هر هغه اسم په ووت د کوم طرفته چې د فعل نسبت خو سوی وي، لیکن فعل تر ده وروسته وي، لکه: (زَیْدٌ ضربَ و عمرٌو قرأ).

علیٰ جهة قیامه به دا دریم فصل دی، په دې سره مجهول فعل ووت، ځکه په هغه کی که څه هم د اسم وطرفته د فعل نسبت سوی وی او تر ده مخکی هم وي، لیکن هغه فعل له ده څخه صادر سوی نه وی، بلکي پر واقع وي، لکه: ضُرِبَ زَیْدٌ.

ځلورمه خبره: د فاعل په احکامو کی لومړی حکم یعني د ده د واقع کېدو محل:

په والأصل ان یلی الفعل: سره د کافیه ملاصاحب د فاعل لومړی حکم بیانوي، چی په اصل کي فاعل له خپل فعل سره پیوست او متصل وی، لکه: قَامَ زَیْدٌ او ضَرَبَ غُلَامَهُ زَیْدٌ، دلته پر دوهم مثال سوال کېدای سي، چی په دې کي فاعل له خپل فعل سره متصل نه دی؟، دوهم دا چی په دې کي اضمار قبل الذکر هم لازمېږي؟

د دې سوال جواب دادی: چی نه خو په دې کي فاعل له خپل فعل څخه جلا دی او نه اضمار قبل الذکر لازم سوی دی، ځکه چي (زیدٌ) کوم چی د (ضرب) فاعل دی، د هغه مرتبه تر مفعول مخکی ده، نو ګواکی چی په اصل کي عبارت داسي دي: ضربَ زَیْدٌ غُلَامَهُ نو له فعل سره متصل هم سو او اضمار قبل الذکر هم لازم نسو، ځکه چي کوم اضمار قبل الذکر ممنوع دی، هغه دا چي لفظًا او رتبةً دواړه لازم سوی وي او دلته خو که څه هم لفظًا سته، لیکن رتبةً نه دی راغلی.

وامتنع ضربَ غلامُهُ زَیْدًا دلته که څه هم فعل له خپل فاعل سره متصل دی. لیکن پکي اضمار قبل الذکر لفظًا او رتبةً دواړه لازم سوی دی، کوم چی د جمهورو علماؤ په نزد ممنوع دی، لیکن امام اخفش رحمه الله او امام ابن جنی رحمه الله کوم چی د الخصائص مصنف دی، د دوی په نزد دا جائز دی، ځکه د دوی دواړو حضراتو په نزد اضمار قبل الذکر لفظًا او رتبةً دواړه جائز دی، دلیل یې یو شعر دی:

جزیٰ ربُّه عنّی عَدِیَّ بنَ حـــاتِم
جزاء الکلاب العادیات و قدفعلْ

وګورئ! دلته د (ربّه) په کلمه کي د ضمیر مرجع عدی بن حاتم دی کوم چي د لفظ او رتبې دواړو په لحاظ وروسته دی.

جمهورو رحمهم الله د دې جواب کړی، چې دلته د شعري ضرورت له وجې اضمار قبل الذکر جائز بلل سوی دی، که نه د عدم جواز قاعده يې پر خپل ځای پاتې ده.

يو دېرشم (٣١) درس

د فاعل د دووهم او درېيم حکم بيان

و اذا انتفى الاعراب فيهما لفظًا والقرينة او كان مضمرًا متصلًا او وقع مفعوله بعد الّا او معناها، وجب تقديمه و اذا اتصلَ به ضمير مفعولٍ او وقعَ بعدالّا او معناها او اتصل به مفعوله و هو غيرمتصل، وجب تأخيره.

ترجمه: او کله چې په (فاعل او مفعول) دواړو کې اعراب هم منتفي (نېستي) وي او قرينه يې هم نه وي، يا (فاعل) د ضمير مرفوع متصل په صورت کې وي، يا يې مفعول د (الّا) يا د (الا) په معنی تر لفظ وروسته واقع وي، نو د ده د (فاعل) مخکې کول واجب دي او کله چې له (فعل) سره د مفعول ضمير متصل وي، يا مفعول تر (الّا) يا د (الا) په معنی تر لفظ وروسته واقع وي، نو د ده د (فاعل) وروسته کول واجب دي.

تشريح: په مذکوره عبارت کې علامه ابن حاجب رحمه الله دوې خبرې بيان کړې دي: ①: د فاعل دوهم حکم، يعني هغه څلور ځايونه، چېرې چې فاعل پر مفعول مقدم کول واجب دي، ②: د فاعل درېيم حکم، يعنی هغه څلور ځايونه، چيرې چې د فاعل تر مفعول وروسته کول واجب دي.

لومړۍ خبره: د فاعل دوهم حکم:

د کافيه ملاصاحب رحمه الله وايي: په څلورو ځايونو کې د فاعل پر مفعول مخکې کول واجب دي: ①: و اذا انتفى الاعراب فيهما لفظًا والقرينة:

يعني فاعل او مفعول دواړه داسې اسم وي، پر کوم چې اعراب لفظي هم نه وي او هلته د فاعل او مفعول د پېژندنې لپاره کومه قرينه هم نه وی، نو په داسې ځای کې د فاعل پر مفعول مخکې کول واجب دي، که مخکې نسي، نو بيا د دوی

ترمینځ تمیز او بېلوالی نسي کېدای، یا ترجیح بلا مرجح لازمېږي، لکه (ضربَ موسٰی عیسٰی او اعطی هؤلاء هؤلاء).

چېرې چي کومه قرینه موجوده وي، د هغه مثال لکه (ضربتْ موسٰی حبلٰی او اکل موسٰی الکمثرٰی)، په لومړي مثال کي د (حبلی) پر فاعلیت (ضربت) صیغه دواحده مؤنثه غائبه دلالت کوي، ځکه که چېري (موسی) فاعل سي، نو فعل (ضربَ) کېږي، نو ګواکی چي دا لفظي دلالت سو او په دوهم مثال کي عقلی دلالت او قرینه دادي، چي هلته د (موسی) فاعل جوړېدل متعین دي، ځکه په (الکمثری) کي د فاعلیت صلاحیت نسته.

③: او کان مضمرًا متصلا یعني کله چي د فعل فاعل ضمیر مرفوع متصل وي، نو هم د فاعل مخکي کېدل واجب دي، که داسي نسي، نو د ضمیرمتصل منفصل جوړېدل لازمېږي، لکه: ضربتُ زیدًا.

④: او وقعَ مفعوله بعدَاِلّا: کله چي مفعول تر اِلّا وروسته واقع سي، نو هم د فاعل مخکي کېدل واجب دي، لکه: مَاضَرَبَ زَیْدًا اِلَّا عَمْرٌو، ځکه چي ضابطه ده، چي (اِلّا) او د دې په معنا د حرف مابعد منحصر فیه وي، یعني د متکلم مقصد په داسي ځای کي داوي، چي د فاعل فاعلیت منحصر دی په دغه مفعول کي او د مفعولیت حصر په دغه فاعل کي منحصر نه وي، د دې پر ځای که چېرې فاعل وروسته سي، نو د ده پر عکس لازمېږي، کوم چي د متکلم د مقصد خلاف وي.

⑤: او معناها: کله چي مفعول ترداسي حرف وروسته راسي، چي د (اِلّا) په معنا وي، نو هم د فاعل مخکی کول واجب دی، لکه (اِنَّمَا ضربَ زَیْدًا عمروًا) یعنی له ده پرته نور هیڅ خبره نسته، چي زید صرف عمرو وهلی دی، دلته که چېرې د فاعل مخکی کېدل واجب نسي، نو مخکنۍ خرابي لازمېږي.

دوهمه خبره: د فاعل دریم حکم:

د کافیه ملاصاحب رَحِمَهُ اللهُ د فاعل دریم حکم بیانوي، چي په څلورو ځایونو کي د فاعل وروسته کول واجب دي:

①: و اذا اتصل به ضمیر مفعول، یعني کله چی له فاعل سره د مفعول وطرفته راجع کېدونکی ضمېر متصل وي، نو د فاعل تر مفعول وروسته کول واجب دی. لکه (ضربَ زَیدًا غُلَامُهُ) دلته که چېري فاعل وروسته نکړل سي، نو اضمار قبل الذکر لفظًا او رتبةً دواړه لازمېږي، کوم چي مصنف رحمه الله په (وامتنع ضربَ غلامُهُ زَیدًا) ویلو سره منع کړ.

②، ③: او وقع بعد الّا او معناها : دوهم او درېیم ځای، چېري چی د فاعل وروسته کول واجب وي، دادی، چی فاعل تر (الّا)، یا تر هغه چا وروسته راغلی وي، چی د الا په معنا وي، لکه (ماضربَ زَیدًا الّا عمروٌ او انما ضرب زیدًا عمروٌ) دلته د فاعل وروسته کول ځکه واجب دی، چي تر (الا) وروسته د فاعل په ذکر کولو سره دمتکلم مقصد د مفعولیت حصر کېدل وي، نو که وروسته نسي، نو د مطلوب انقلاب یعني د مفعولیت پر ځای د فاعلیت حصر لازمېږي.

④: او اتصل به مفعوله و هو غیرمتصل: یا دا چي له فعل سره د مفعول ضمېر لګېدلی وی، په دې شرط چي پخپله د فاعل ضمېر له ده سره متصل نه وي، لکه (ضَرَبَکَ زَیدٌ)، دلته د فاعل وروسته کول ځکه واجب دي، چي په دې صورت کي د فاعل مخکي راوړل ممکن هم نه دي، لېکن بیا هم که چېري مخکي سي، نو د ضمېر منصوب متصل منفصل جوړېدل لازمېږي.

دوه دېرشم (۳۲) درس

دفاعل څلورم حکم یعني د ده دفعل حذفول

و قدْ یُحذف الفعل لقیام قرینة جوازًا فی مثل زَیْدٌ لِمَن قَالَ مَنْ قَامَ؟

و لِیُبکَ یزیدُ ضارعٌ لخصومه و مختبطٌ مما تطیح الطّوائح

ووجوبًا فی مثل (و ان احدٌ من المشرکین استجارک) و قد یُحذفان معًا فی مثل: نعم لمن قال: اقَامَ زَیْدٌ؟

ترجمه: او کله کله د کومې قرینې د شتون له کبله فعل په جوازي ډول حذف کېږي، لکه د (زیدٌ) په څېر مثالونو کې د هغه چا په جواب کې ویل، چې پوښتنه وکړي (من قام؟) او (لیبک یزید ضارع لخصومه) په څېر ترکیب کې او کله کله په وجوبي ډول حذف کېږي، لکه د (وان احدٌ من المشرکین استجارک) ترکیب کې او کله کله فعل او فاعل دواړه په یوه ځل حذف کېږي، لکه د (نعم) په څېر مثالونو کې د هغه چا په جواب کی، چې پوښتنه وکړي (اقام زیدًا؟).

تشریح: په مذکوره عبارت کې علامه ابن حاجب رحمه الله د فاعل څلورم حکم یعنی د فاعل حذفول بیانوي او وایې: څرنګه چې داسې ځایونه ټوټل درې دي، چېرې چې د فاعل حذف کېږي، له هغو څخه دوه ځایونه حذف جائز دی او یو ځای ځای واجب دي.

د دې تر تفصیل مخکې د تمهید په ډول دا خبره په ذهن کې ونیسئ، چې د قرینې معنا ده (الأمرالدال علی تعیین الشئ) یعنې د یو شی پر تعیین د دلالت کوونکي شی موجودېدل، بیا دا پر دوه قسمه دی:

①: **قرینه مقالیه**: یعني چې د محذوف پر حذف کېدو د دلالت کوونکي شی تعلق له قول سره وی، کوم چې د سائل سوال هم کېدای سي.

②: **قرینه حالیه**: یعنی چې د محذوف پر حذف کېدو د متکلم، یا مخاطب حال دلالت کوی، اوس تفصیل ته غوږ سئ:

①: و قد یُحذفُ الفعل لقیام قرینة: یعنی چېري چې د فعل پر موجودګی کومه قرینه او دلیل موجود وی، نو هلته د فعل حذفول جائز دي او هغه قرینه او دلیل یا خو سوال محقق وی، یا سوال مقدر، د محقق سوال مثال دادی، چې که چېرې څوک ووایې: (من قامَ؟)، نو په جواب کې صرف (زیدٌ) ویل کېږي او د فعل پر حذف کېدو قرینه دسائل سوال وي، ځکه سوال پوره جمله ده، نو جوابیه کلام هم پوره جمله کېدل پکار دي، حال دا چې دلته جواب د مفرد په شکل دی، نو له دې معلومه سوه، چې دلته څه نا څه هرومرو حذف سوي دي، ځکه ویل سوي دي: المذکور فی السؤال کالموعود فی الجواب.

او چېرې چې قرینه سوال مقدر وي، د هغه مثال يو شعر دی، کوم چې ضرار بن نهشل د خپل وروړ يزيد بن نهشل په مرثيه (غمرازی) کې ويلی دی:

و لِيُبْکَ يزيدُ ضارِعٌ لخصومه و مختبطٌ مما تطيح الطوائح

توجمه: پکار دي، چې پر يزيد ژړا وسي، ځکه چې دی د دښمن له جګړې څخه عاجزه کوونکی دی او هغه سړی، کوم چې بېله وسيلې سوال کوونکی وي، د زماني د هلاکوونکو حادثاتو په وجه.

د استشهاد محل: دلته د استشهاد محل (ضارِعٌ) دی کوم چې د (يبکی) فعل لپاره فاعل دی او د (يبکی) فعل پر حذف کېدو قرينه سوال مقدر ده، هغه داراز چې کله شاعر وويل، چې لِيبکَ يزيد، يعني پکار دي، چې پر يزيد ژړا وسي، نو سوال پيداسو، چې (من يبکی عليه؟) يعني څوک پر ده ژاړي؟، نو شاعر جواب ورکړ، چې (ضارِعٌ لخصومه)، نو ګواکې چې دلته د فعل پر حذف کېدو قرينه سوال مقدر دی.

توکيب: (لِيبکَ) فعل امر غائب مجهول، (يزيد) نائب فاعل، فعل سره له خپل فاعل جمله فعليه انشائيه سو، (ضارِعٌ) صيغه داسم فاعل ده، (لخصومه) جار سره له مجروره متعلق سوتر (ضارِعٌ) صيغه داسم فاعل پوري، (واو) حرف عطف، (مختبطٌ) صيغه د صفت، (مما) په دې کې (من) حرف جار لپاره د تعليل، (ما) مصدريه، (تطيح) فعل مضارع، (الطوائح) يې فاعل، فعل سره له خپل فاعل (ما) د موصول لپاره صله، موصول سره له خپلې صله مجرور، جار سره له خپل مجروره متعلق سو تر (مختبط) صيغه داسم فاعل پوري، (مختبط) صيغه داسم فاعل سره له خپل متعلق معطوف، (ضارِعٌ) معطوف عليه سره له خپل معطوف د فعل مقدر (يبکی) لپاره فاعل سو، فعل سره له خپل فاعله جمله فعليه خبريه سوه.

②: و وجوبًا فی مثل: (وان احدٌ من المشرکين استجارک)، وايې چې هر هغه ځای چېرې چې کوم فعل په جوازي ډول حذف کېږي، بيا د ده په حذف کېدو سره په کلام کې ابهام پيداسي، بيا د دغه ابهام د ليرې کېدو لپاره يو فعل د تفسير په ډول راوړي، نو اوس د دغه فعل مفسّر راوړلو له وجې د لومړي په

جوازي ډول حذف سوي فعل حذفول وجوبي کېږي، لکه (وان احدٌ من المشرکین استجارک)، دا په اصل کي (وان ستجارک احد من المشرکین فاجره) وو، دلته د فعل پر حذف منلو دوه شیان دلالت کوي، لومړی لفظي او دوهم معنوي.

معنوي: دا دی، چي که چېري موږ دلته فعل محذوف ونه منو نو د دې ترجمه غلطېږي، هغه په دې ډول چي (که چېري له مشرکینو څخه کوم یو وي، نو ته هغه ته امن ورکړه).

لفظي: دا دی، چي دلته (ان) حرف شرط پر اسم داخل سوی دی، حال دا چي دا د فعل خاصه ده، نو لازمېږي، چي دا په اصل کی (وان استجارک احد من المشرکین فاجره) و، لومړی ځیني (استجارک) فعل په جوازي ډول حذف سو، نو په کلام کی ابهام پیدا سو، د دغه ابهام د لیري کېدو لپاره په وروسته کي (استجارک) فعل د تفسیر په ډول راوړل سو، نو له دې وجې د لومړی فعل حذف وجوبي سو، که داسي نسي، نو د مفسَّر او مفسِّر اجتماع لازمېږي، چي د عبارت تقدیر داسي کېږي (وان استجارک احدٌ من المشرکین استجارک فاجره) او دا راز د دواړو جمع کېدل ناجائز دي.

سوال: د دې دواړو جمع کېدل په مطلق ډول منع نه دي، بلکي هلته منع دي، چېري چي ابهام د فعل د حذف کېدو له وجې پیدا سوی وي او ستاسو په مثال کي که څه هم ابهام ضرور سته، لیکن دا د نکره کېدو له وجې دی، نه چي د فعل د حذف کېدو له وجې؟

په عبارت کي (جوازًا او وجوبًا) دواړه منصوب دي، ځکه چي د محذوف مفعول مطلق لپاره صفت جوړېږي، مثلاً د عبارت تقدیر داسي کېږي (وقد یحذف الفعل لقیام قرینة حذفًا جوازًا) او (قد یحذف الفعل لقیام قرینة حذفًا وجوبًا).

④: وقد یُحذفان معًا یعنی هر هغه سوال، دکوم چي جواب د ایجاب، یا نفي په ډول راغلی وي، نو په جواب کي د فعل او فاعل دواړو په یوه وار حذفول جائز دي، لکه چي یو څوک سوال وکړي (أقامَ زیدٌ؟)، نو په جواب کي یې صرف (نعم) ویل کېږي، یا صرف (لا) ویل کېږي، څرنګه چي دا حذف جوازي دی، نو (نعم قام زید) ویل هم جائز دي.

دري دېرشم (۳۳) درس

د فعلينو د تنازع بيان

واذا تنازع الفعلان ظاهرًا بعدهما، فقد يكونُ في الفاعلية، مثل: ضربني و اكرمني زيدٌ، و في المفعولية مثل ضربتُ واكرمتُ زيدًا او في الفاعلية والمفعولية مختلفين. فيختار البصريون اعمال الثاني والكوفيون الاول.

ترجمه: او کله چي دوه فعلونه تر ځان په وروسته راغلی اسم کي په ظاهري دول تنازع وکړي، دا تنازع کله د خپل ځان لپاره په فاعل جوړېدو کي وی، لکه (ضربني و اکرمني زيدٌ) او کله د خپل ځان لپاره په مفعول جوړېدو کی وي، لکه (ضربتُ واكرمتُ زيدًا) او کله په فاعل اومفعول جوړېدو کي وي، په هغه وخت کي چي دواړه فعلونه په اقتضاء (غوښتنه) کی مختلف وي، نو بصريينو غوره دا ګڼلې چې دوهم فعل ته عمل ورکول سي او کوفيينو لومړی فعل ته عمل ورکول غوره ګڼلي.

تشريح: د نن په سبق کي علامه ابن حاجب رحمه الله د نحوي د مشهور باب (تنازع الفعلين) بيان کوي، نو د دې په ضمن کي مونږ څلور خبرې وړاندې کوو: ①: د تنازع فعلين تعريف، ②: د مصنف رحمه الله د مذکوره عبارت توضيح او د قيدونو فائدې، ③: د تنازع فعلين صورتونه، ④: د بصريينو او کوفيينو اختلاف.

د تنازع فعلين تعريف

لومړی خبره: د تنازع فعلين تعريف:

د فعلينو تنازع دېته وايې، چي په کلام کي دوه، يا تر دوو زيات فعلونه وي او تر دوی وروسته په اخير کي يو اسم ظاهر راغلی وي، په دغه اسم ظاهر کي د مخکنيو فعلونو لپاره على سبيل البدلية د معمول جوړېدو صلاحيت (وړتيا) هم وي او له دغو فعلونو څخه هر يو دا تقاضا هم کوی، چي دا زما معمول جوړ سي، نو دا دول (د هر فعل د دغه اسم په هکله تقاضا کولو) ته د نحويينو په اصطلاح کي تنازع فعلين ويل کېږي.

دوهمه خبره: د عبارت توضیح او د قیدونو فائدې:

و اذا تنازع الفعلان ظاهرًا بعدهما:

①: دلته د مصنف رحمه الله په (و اذا تنازع) ویلو سره د تنازع فعلین اصطلاحي معنا مراد ده، یعنی په وروسته راتلونکي اسم کي د هر فعل د ځان لپاره د معمول جوړېدو تقاضا کول، که چېري لغوي معنی (یو له بل سره جګړه کول) مراد سي، نو هغه ځکه غلطه ده، چي هغه په روح لرونکو شیانو پوري خاص ده.

②: الفعلان: یوازي فعلان یې ذکرکړل، ځکه چی په عواملو کي تر ټولو قوي عامل فعل وي، نو د قوي په ذکر کولو سره د باقي، یعنی د شبه فعل ذکر کول تبعًا راغی، ځکه چی په هغه کي هم تنازع راتلای سي، مثلا (زیدٌ ضاربٌ و مکرِمٌ بکرًا و بکرٌ شریف وکریمٌ ابوه).

دا رازپه (الفعلان) کي دا خبره هم په یاد لرئ، چي مصنف رحمه الله (فعلان) وویل دا یې و اقل (کمې) درجې ته اشاره کړې، که نه تر دوو په زیاتو افعالو کي هم تنازع راځي، لکه د رسول الله ﷺ په حدیث مبارک کي چي راغلي دي (تُسَبِّحون و تُحمِّدون و تکبِّرون دُبُرَ کلّ صلاةٍ ثلاثًا و ثلاثین) په دې کي هر فعل غواړي چي (دُبُرَ) خپل مفعول جوړ کړي او دا راز (کما صلیت وسلَّمت و بارکت ورحمتَ وترحّمتَ علیٰ ابراهیم) په دې پنځو افعالو کی هم هر یو د (علیٰ ابراهیم) د ځان لپاره د مفعول جوړېدو تقاضا کوي، نو له دې څخه معلومه سوه، چی تنازع صرف په دوو فعلونو کی نه، بلکی په زیاتو کي هم راتلای سي.

③: ظاهرًا: په ظاهرًا ویلو دېته اشاره ده، چي د فعلینو تنازع په اسم ظاهر کي وي، په ضمیر کي نه وي، ځکه ضمیر چی له کوم فعل سره متصل وي بالاتفاق د هغه معمول وي.

④: بعدهما: په بعدهما ویلو دېته اشاره ده، چي اسم ظاهر که چېري د افعالو په شروع کي وي، یا په مینځ کي وي، نو هلته هم تنازع نسته، ځکه چی په شروع کي وي، نو د هغه مبتداء کېدل ظاهر دي، او که په مینځ کي وي، نو بالاتفاق د ماقبل فعل لپاره فاعل جوړېږي، یا مفعول.

دریمه خبره: د فعلینو د تنازع صورتونه:
له (فقد یکون فی الفاعلیة) واخله تر (او فی الفاعلیة والمفعولیة مختلفین)
پورې په عبارت کې مصنف رحمه الله د تنازع څلور صورتونه بیان کړي دي:
①: دواړه فعلونه به د وروسته اسم د خپل ځان لپاره د فاعل جوړېدو تقاضا کوي، لکه (ضربنی و اکرمنی زیدٌ).
②: دواړه فعلونه به د وروسته اسم د خپل ځان لپاره د مفعول جوړېدو تقاضا کوي، لکه (ضربتُ و اکرمتُ زیدًا).
③: لومړی فعل به د فاعلیت او دوهم فعل به د مفعولیت تقاضا کوي، لکه (ضربنی و اکرمتُ زیدًا).
④: د دریم صورت پر عکس یعنی لومړی فعل به د مفعولیت او دوهم فعل به د فاعلیت تقاضا کوي، لکه: (ضربتُ و اکرمنی زیدٌ).

په تنازع فعلین کې د بصریینو او کوفیینو اختلاف

څلورمه خبره: د بصریینو او کوفیینو اختلاف:
هسې خو د کوفیینو او بصریینو پر دې اتفاق دی، چې له دواړو فعلونو څخه هریوه فعل ته عمل ورکول جائز دي، خو اختلاف صرف په افضلیت او غیر افضلیت کې دی، چې د کوفیینو حضراتو په نزد فعل اول ته او د بصریینو په نزد دوهم فعل ته عمل ورکول افضل دي.
د کوفیینو دلائل: (الاول فالاول او الفضل للمتقدّم او الاول اسبق الطالبین فهو اولیٰ باعطاء المطلوب).
یو بل دلیل هم سته، چې که فعل ثاني ته عمل ورکول سي او په اول کې ضمیر فاعل جوړ سي، نو اضمار قبل الذکر لازمېږي، کوم چې ناجائز دی، پر دې سربېره دوی د امرأالقیس شعر هم د استدلال په ډل وړاندې کوي، کوم چې راتلونکی دی.
او د بصریینو عقلي دلیل دادی، چې که چېرې لومړي فعل ته عمل ورکول سي، نو د عمل او معمول تر مینځ په اجنبي (پردي) سره فاصله لازمېږي، کومه چې ناخوښه ده.

دوهم دليل دا چي پر لومړي فعل (قبل تمامه بالفاعل) يعني په خپل فاعل تر تمام کېدو مخکې، مخکي د دوهمې جملې عطف لازمېږي، حال دا چي دا د فصيحانو په نزد ناخوښه دی، لکه ضربني و اکرمني زيدٌ.

درېيم دا چي د قرآنکريم او نورو عربي کتابونو له رسم الخط څخه هم فعل ثاني ته عمل ورکول معلومېږي، لکه چي د الله ﷻ مبارکه وينا ده (هَاؤُمُ اقْرَءُوا كِتَابِيَهْ) دلته که چېري اول فعل ته عمل ورکول سي، نو (اقراوه) کېدی، ځکه (کتابيه) خو د لومړي فعل لپاره مفعول جوړېږي.

بل ځای هم د الله ﷻ وينا راغلې ده: (آتُونِي أُفْرِغْ عَلَيْهِ قِطْرًا) دلته هم فعل ثاني ته عمل ورکول سوی دی، ځکه که چېري لومړي فعل ته عمل ورکول سي، نو معنی غلطېږي.

څلورم دا چي د فصيحانو عربو په نزد هم فعل ثاني ته عمل ورکول مروج دي او د کافيه د ملاصاحب رحمه الله له طرز څخه هم معلومېږي، ځکه که چېري تاسو په غور وګورئ، نو په ټولو مثالونو کي هغه هم د فعل ثاني له اقتضاء سره سم پر ظاهر اعراب لګولی دی.

څلوردېرشم (۳۴) درس

وفعل ثاني ته د عمل ورکولو په صورت کي د تنازع قطع

فان اعملت الثانى اضمرت الفاعل فى الأول على وفق الظاهر دون الحذف، خلافًا للكسائي و جاز خلافًا للفراء و حذفت المفعول ان استغنى عنه و الّا اظهرتَ.

ترجمه: نو که چېري ته دوهم فعل ته (په اسم ظاهر کي) د عمل موقع ورکوي، نو لومړی به په فعل کي له اسم ظاهر سره موافق د فاعل ضمير منې، نه دا چي ته دا حذف کړي، خلاف ثابت دی امام کسايي رحمه الله ته او فعل ثاني ته عمل ورکول روا دي، خلاف ثابت دی امام فراء رحمه الله ته او که چېري د مفعول ذکر کول ضروري نه وي، نو حذف يې کړه، که ضروري وي، نو ذکر يې کړه.

تشريح: په مذکوره عبارت کی درې خبرې دی:

①: د بصریینو په نزد د فعل اول د فاعل د تقاضا کولو په وخت کې د تنازع قطع
②: د امام کسائي او امام فراء له جمهورو سره اختلاف.
③: د فعل اول د مفعول د تقاضا کولو په وخت کې قطع تنازع.
لومړی خبره: د بصریینو په نزد د فعل اول د فاعل د تقاضا کولو په وخت کې: تنازع قطع.
مصنف رحمه الله د کوفیینو او بصریینو اختلاف بیانوي، نو د قطع تنازع تفصیل په ضمن کې یې د امام کسائي او امام فراء له جمهورو سره اختلاف بیانوي ځکه چې د علامه ابن حاجب رحمه الله په نزد د بصریینو قول راجح دی. ځکه یې نو اختلاف بیانول هم د بصریینو مخکې کړی او اوس یې د قطع تنازع تفصیل بیانول هم د بصریینو مخکې کړی.
فان اعملت الثاني: وایې، چې د بصریینو له مذهب سره سم که چیرې فعل ثاني ته عمل ورکول سي، نو بیا خو به یې له مفعول سره یوځای کوي: لیکن مسئله د لومړي فعل ده، هغه ته به ګوري، چې هغه د فاعل تقاضا کوي یې د مفعول، که یې چیرې د فاعل تقاضا کوله، نو له موږ سره د مسئلې د حل دري طریقې سته:
①: د فاعل له سره حذفول، ②: د فاعل ذکر کول، ③: د ده ضمیر راوړل.
حذف خو یې نسي کېدای، ځکه چې فاعل عمده (اصل) وي او دعمده حذف بیله قائمقامه ناجائز دی، له همدې وجې مصنف رحمه الله (دون الحذف) ویلي دی، یعنی حذف یې نسي کېدای.
او ذکر کېدای هم نسي، ځکه چې په ذکر کولو کې یې تکرار لازمېږي، لکه (ضربنی زید و اکرمنی زیدٌ)، کوم چې د فصحاؤ په نزد یو بد عمل دی، ځکه چې په تکرار کې سامع ته شبهه پیداکېږي، چې د (ضربنی) فاعل کوم بل زید دی او د (اکرمنی) دا کوم بل یو، حال دا چې دا د واقع خلاف دی، ځکه چې اسم ظاهرخو یو وي، که نه وي نو تنازع نسته.

نو كله چي حذفول او ذكر كول دواړه نامناسب وه، نو اضمار يې متعين سو، له همدې وجې مصنف رحمه الله ويلي دي، چې (اضمرتَ الفاعل فى الأول) يعنى په لومړي فعل كي د فاعل ضمير راوړه.
(على وفق الظاهر) يې وويل، چي هغه ضمير هم له وروسته راتلونكي اسم ظاهر سره موافق وي، ځكه چي د ده مرجع هماغه اسم ظاهر وي او د راجع و مرجع تر مينځ مطابقت ضروري دى، ځكه نو ضمير له اسم ظاهر سره مطابق راوړل كېږي، لكه (ضربنى و اكرمنى زيدٌ) په دې كي (زيدٌ) د (اكرمنى) فاعل دى او په (ضربنى) كي (هو) مستتر ضمير فاعل جوړيږي، د كوم چې تفسير د (زيدٌ) په ذريعه سوى دى، پاتې سوه د اضمار قبل الذكر مسئله، نو هغه بېشكه نا جائز ده، ليكن په عمده كي په شرط د تفسير جائز ده، لكه په (قُلْ هُوَاللهُ اَحَدٌ) كي چي دي.
دوهمه خبره: د امام كسائي او امام فراء له جمهورو سره اختلاف:
خلافًا للكسائي: بصريين حضرات په ډېر محنت سره د دواړو فعلونو په تنازع ختمولو فعل ثاني ته په عمل وركولو او د فعل اول په ضمير راوړلو راضي سوې، ليكن امام كسائي راغى فعل اول ته ضمير وركول يې باطل وګڼل او ويې ويل: چې په دې سره اضمار قبل الذكر لازميږي، كوم چې د امام كسائي په نزد په هر صورت كي ناجائز دى او په ذكر كولو يې تكرار لازميږي، لهذا يو صورت پاتې سو، يعني حذفول يې، نو امام كسائي حذف كړ، ځكه چې هغه عمده دى او د عمده محذوف كول هم ګواكي د مذكور او ملفوظ په حكم كي وي.
د امام كسائي او بصريينو رحمهم الله په نزد د اختلاف ثمره په هغه صورت كي ظاهريږي، كله چي وروسته راتلونكى اسم ظاهر د تثنيه، يا جمع صيغه وى، مثلا د تثنيه په صورت كي بصريينو ويلي دي (ضربانى واكرمت الزيدَين) او امام كسائي رحمه الله ويلي دي: (ضربنى او اكرمت الزيدَين)، دا راز په جمع كي بصريينو ويلي دي: (ضربونى واكرمت الزيدينَ) او امام كسائي رحمه الله ويلى دي (ضربنى واكرمت الزيدِينَ) يعنى د فعل اول فاعل يې حذف كړى دى.

و جازَ، دا د جمله معترضه په ډول، یا د تمهید په ډول ویل سوی، ځکه چي د امام فراء را روان قول د دې مخالف دی، نو په (جاز) کي ښیي، چي د جمهورو مسلک دادی، که څه هم فعل اول د فاعل تقاضا کوله بیا هم فعل ثاني ته عمل ورکول جائز دي.

خلافًا للفراء: لیکن امام فراء رحمه الله ویلی دي، چي جناب! ستاسو په دې صورت کي فعل ثاني ته عمل ورکول له سره باطل دي، ځکه اصل او قاعده دادي، چي کله فعل اول د یو عمده شي (یعني فاعل) تقاضا کوله، نو په داسي صورت کي فعل ثاني ته عمل نسي ورکول کېدای، ځکه چي فعل ثانی ته عمل ورکول او په فعل اول کي د ضمېر منلو په صورت کي اضمار قبل الذکر لازمېږي، او د حذف په صورت کي د عمده حذف لازمېږي، او د اظهار په صورت کي تکرار لازمېږي، نو کله چي درې سره ناجائز سو، نو نتیجه دا راوزي، چي په داسي صورت کي فعل ثاني ته عمل ورکول ناجائز دی.

درېیمه خبره: د فعل اول د مفعول د تقاضا کولو په وخت کی قطع تنازع:

و حذفت المفعول ان استغنیٰ عنه یې ویل، چي که چېري فعل اول د اسم ظاهر د مفعول جوړېدو تقاضا کوونکی و، نو کتل کېږي به چي فعل اول له افعال قلوب څخه دی، که نه، که چېری له افعال قلوب څخه نه و، نو ګواکي چی هغه له مفعول څخه مستغني (بې پروا) دی، له همدې وجې مصنف رحمه الله (ان استغنیٰ عنه) ویلي دي، نو د دې مفعول حذف کېږي، ځکه چی د ضمېر راوړلو په صورت کي اضمار قبل الذکر لازمېږي او د اظهار په صورت کي د تکرار قباحت لازمېږي، پاتې سو حذفول یې، نو هغه جائز دی، ځکه چی فضله دی (والفضلة لابأس بحذفها)، لکه (ضربتُ و اکرمتُ زیدًا).

و الّا اظهرت: یعنی که چېري فعل اول، کوم چی د مفعول تقاضا کوونکی دی، هغه له مفعول څخه مستغني نه وي، یعني له افعال قلوب څخه و، لکه (حسبنی وحسبتُ زیدًا منطلقًا)، نو دلته هم په عقلي توګه درې صورتونه دي: اضمار، اظهار او حذف، د اضمار په صورت کي د فضله اضمار قبل الذکر لازمېږي، کوم

چې ناجائز دی او حذف هم صحیح نه دی، ځکه چې د افعال قلوب هیڅ مفعول حذف کېدای نسي، نو ظاهرول یې متعین سو، له همدې وجې مصنف رحمه الله (و انا اظهرت) وویل، لکه ذکر سوی مثال، دا راز ویل کېږي (حسبنی منطلقًا و حسبتُ زیدًا منطلقًا).

وګورئ! دلته (حسبنی) فاعل او یوه مفعول ته ضرورت درلود، نو ځکه هغه (زیدٌ) د خپل ځان لپاره د فاعل او د (منطلقًا) د خپل ځان مفعول جوړېدو تقاضا وکړه او (حسبتُ) دوو مفعولونو ته ضرورت درلود، ځکه نو هغه د (زیدٌ) او (منطلقًا) دواړو د خپل ځان لپاره د مفعول جوړېدو تقاضا وکړه، نو ځکه یې عمل فعل ثاني ته ورکړ به اول کي یې د فاعل ضمیر ومانه، د کوم چې تفصیل تېر سو، تر هغه وروسته یې د دوهم مفعول لپاره وروستنی اسم ظاهر یعني د (منطلقًا) په ډول دوهم (منطلقًا) ظاهر کړ. او مفعول یې جوړ کړ، نو (حسبنی منطلقًا و حسبتُ زیدًا منطلقًا) جوړ سو.

پنځه دېرشم (۳۵) درس

فعل اول ته د عمل ورکولو په صورت کي د تنازع قطع کېدل

و ان اعملت الاول اضمرتَ الفاعل فی الثانی والمفعول علی المختار الّا ان یمنعَ مانعٌ فتظهر و قول امرئ القیس: (کفانی و لم اطلب قلیلٌ من المال) لیس منه، لفساد المعنی.

ترجمه: که چېري تاسو لومړی فعل ته عمل ورکړئ، نو په فعل ثاني کي به د فاعل ضمیر منئ او د مفعول هم پر مختار قول، مګر دا چي که کوم مانع وي، نو ظاهریې کړه او د امرئ القیس قول (کفانی ولم اطلب قلیلٌ من المال) د تنازع فعلین له بحث څخه نه دي، ځکه چي معنا یې خرابېږي.

تشریح: د نن په سبق کي درې خبرې دي:

①: د کوفیینو په نزد د فعل اول د فاعل د تقاضا کولو په مهال د تنازع قطع.
②: د فعل ثاني د مفعول غوښتلو په وخت کي د تنازع قطع.
③: د شعر تشریح او پکي عدم تنازع.

لومړۍ خبره: د کوفیینو په نزد دفعل اول د فاعل تقاضا کولو په مهال د تنازع قطع:

د بصریینو په نزد فعل ثاني ته عمل ورکول قطع تنازع او په ضمن کي یې د امام کسائي او امام فراء له جمهورو سره اختلاف مصنف رحمه الله په جامع او مانع انداز (د دریاب په کوزه کي د تېرېدو) په مثل مخکي په څو کلماتو کي بیان کړ، اوس له دې ځایه د کوفیینو په نزد د تنازع د رفع تفصیل بیانوي، نو وایې، چي: وان اعملت الأول: که چېري د کوفیینو له مذهب سره سم فعل اول ته عمل ورکول سي، نو بیا موږ فعل ثاني ته ګورو چي د فاعل تقاضا کوي، که د مفعول، که یې چېري دفاعل تقاضا کوله، یعنی وروسته راتلونکی اسم ظاهر یې د ځان لپاره فاعل جوړول غوښتل، نو د قطع تنازع صورت یې دادی، چي د فعل ثاني فاعل یا خو حذف کېږي، کوم چي قبیح دی، ځکه د عمده حذف لازمېږي، یا به یې ذکر کېږي، نو تکرار لازمېږي، نو اضمار یې متعین سو، له کوم نه چي مصنف رحمه الله په (و اضمرت الفاعل فی الثاني) تعبیر کړی دی، لکه (ضربنی و اکرمنی زیدٌ و ضربنی و اکرمانی الزیدان و ضربت و اکرمنی زیدًا و ضربتَ و اکرمانی الزیدین).

پاتې سو د اضمار قبل الذکر اشکال؟ نو د هغه جواب دادی، اضمار قبل الذکر چي کله لفظًا او رتبةً دواړه لازمېږي، نو هغه مهال ناجائز وی، دلته که څه هم لفظًا خو سته، لیکن رتبةً نسته، ځکه چي هغه دفاعل ضمیر دی او د فاعل رتبه تر مفعول مخکی وي.

دوهمه خبره: د فعل ثاني د مفعول غوښتلو په مهال د تنازع قطع:

والمفعول علی المختار: د کتاب مصنف رحمه الله وایې، چي د کوفیینو له مذهب سره سم که چېری تاسو فعل اول ته عمل ورکړئ، او فعل ثاني د مفعول تقاضا کوي، نو وګوره! چي آیا هغه له افعال قلوب څخه دی، یا له عامه افعالو څخه

دی، که چېري له عامه افعالو څخه وي، نو له موږ سره د قطع تنازع دوه صورتونه سته: اضمار او حذف او هغه دواړه جائز دي، حذفول ځکه جائز دي، چې د فضله حذفول جائز دي، لکه (ضربنی و اکرمتُ زیدٌ).

او اضمار هم جائز، بلکې بهتر او غوره دی، ځکه چې د ضمير راوړلو په صورت کې پر مخاطب د متکلم مراد ظاهرېږي، لکه (اضربُ و اکرمته زیدًا) له دې څخه مخاطب ته معلومېږي، چې وهل سوی هم زید دی او عزت هم زید ته ورکول سوی دی، لیکن که چېری موږ دا حذف کړو، لکه (ضربتُ و اکرمتُ زیدٌ و ضربنی و اکرمتُ زیدٌ)، نو په دې سره مخاطب ته مذکوره فائده نه حاصلېږي، نو له دې څخه معلومه سوه، چې د حذف پر ځای د ضمير راوړل د نحوي د علماؤ په نزد غوره او بهتر دي، لکه (ضربتُ و اکرمته زیدًا و ضربنی و اکرمته زیدٌ).

اِلّا ان یمنع مانعٌ: که چېری د دغه مفعول له حذف کولو څخه کوم مانع موجود وی، یعنی فعل ثانی له افعال قلوب څخه وي، نو هلته یې حذفول جائز خو نه دي، ځکه چې افعال قلوب دوه مفعولونه غواړي او په دوی کې یو هم حذف کېدای نسي.

او ضمیر راوړل هم صحیح نه دي، ځکه چې دا به له دوو حالونو خالي نه وي، یا خو به د مفرد ضمیر راوړي، یا به د تثنیه، د مفرد د ضمیر راوړلو په صورت کې د راجع او مرجع (یعنی د ایاه او منطلقًا) تر مینځ مطابقت نه راځي، لیکن د دوهم فعل د دواړو مفعولونو (یعنی د حسبتهما هما او ایاه) په مینځ کی مطابقت نه پاتېږي، لکه (حسبنی و حسبتهما ایاه الزیدان منطلقًا) او که چېري د تثنیه ضمیر راوړل سي، نو د فعل ثاني د دواړو مفعولونو تر مینځ که څه هم مطابقت خو راځي، لیکن د راجع او مرجع (ایاهما او منطلقًا) تر مینځ مطابقت نسته، لکه (حسبنی و حسبتهما ایاهما الزیدان منطلقًا).

نو کله چې د فعل ثاني دوهم مفعول حذفول هم جائز نسو او د هغه ضمیر هم جائز نسو، نو پر ته له دې کومه بله چاره پاتې نسوه چې هغه ذکر کړل سي، نو مصنف

رحمه الله په (الا ان يمنع مانع فتظهر) سره تعبير وكړ، نو اوس د عبارت تقدير داسي كيږي (حسبني و حسبتهما منطلقين الزيدان منطلقا).

درېيمه خبره: د شعر تشريح او پكى عدم تنازع:

دا د امرؤالقيس شعر دى، چې پوره عبارت يې په لاندي ډول دي:

ولو انما اسعىٰ لادنى معيشة* كفانى ولم اطلب قليلٌ من المال

دا شعر كوفيين حضرات د خپلې مدعىٰ لپاره ددليل په ډول وړاندي كوي، چې دلته په اسم ظاهر (قليلٌ) كي د (كفانى او لم اطلب) دوو فعلينو تنازع ده او عمل فعل اول، يعني (كفانى) ته وركول سوى دى، ځكه چي (قليلٌ) مرفوع دى.

خو د كافيه ملاصاحب د بصريينو ترجماني كړې، ويلي يې دي (ليس منه لفساد المعنى) يعنى مذكوره شعر له تنازع سره له سره تړاو نلري، ځكه كه چېري مونږ دا له تنازع څخه ومنو، نو معنا يې غلطيږي، هغه په دې ډول چې د(لو) په هكله دا قاعده او اصول دى، چې دا جمله مثبته (هغه كه شرط وي، يا جزاء) منفيه او جمله منفيه مثبته جوړوي، نو په ياد سوي شعر كي (انما اسعى) جمله مثبته جمله منفيه جوړيږي، او (لم اطلب) جمله منفيه جمله مثبته جوړيږي، ځكه چي دا پر (انما اسعى) عطف ده، نو په دې صورت كي ترجمه په لاندي ډول كيږي:

كه چېري زه كوشش وكړم د ادنىٰ معيشت لپاره، نو زما لپاره لږ غوندي مال كافى دى، ليكن زه طلب كوم د لږ غوندي مال.

نو د كافيه ملاصاحب رحمه الله وويل: چي دا د تنازع له باب څخه نه دى، بلكې (قليلٌ) په متعينه ډول د (كفانى) فاعل دى او د (لم اطلب) مفعول محذوف دى، هغه (المجدالمؤثل) دى، پر كوم چي راتلونكى شعر دلالت كوي:

و لكنّما اسعىٰ لمـــجد مؤثل

وقد يدرك المجد المؤثل امثالى

نو په دې صورت كي صحيحه او سمه ترجمه داده: زه د ادنىٰ معيشت (گذارې) لپاره كوشش نه كوم، ځكه چې لږ مال زما لپاره كافي نه دى، ليكن زه كوشش كوم د تلپاتي بزرگۍ او يقيني خبره ده، چې كله كله زما په څېر خلگ هم تلپاتې بزرگۍ ته رسيږي والله اعلم وعلمه اتم واكمل.

شپږدېرشم (۳۶) درس

د مفعول مالم یسمّ فاعله بیان

مفعول ما لم یسم فاعله: کل مفعول حُذف فاعله و اقیم هو مقامه و شرطه ان تغیّر صیغة الفعل الیٰ فُعِلَ او یُفعَلُ و لا یقع المفعول الثانی من باب علمتُ والثالث من باب اعلمت والمفعول له و المفعول معه کذلک.

ترجمه: له مرفوعاتو څخه دوهم مفعول مالم یسمّ فاعله دی (او) دا هر هغه مفعول دی، چې فاعل یې حذف کړل سوی وي او دی د هغه قائمقام جوړ سوی وي، او د قائمقام جوړېدو لپاره شرط دادی، چي وزن یې د (فُعِلَ یا یُفعَلُ) وطرفته منتقل سوی وی او د باب (علمت) دوهم مفعول او د باب (اعلمت) درییم مفعول او مفعول له او دا راز مفعول معه نائب فاعل نسي کېدای.

تشریح: د نن په سبقه کي څلور خبري دی:

①: د مفعول ما لم یسم فاعله تعریف، ②: پر (هو) ضمیر اعتراض او د هغه جواب، ③: د مفعول د نائب فاعل جوړېدو لپاره شرط، ④: هغه اسماء کوم چې نائب فاعل نسی کېدای.

د مفعول مالم یسمّ فاعله تعریف

لومړی خبره: د مفعول مالم یسمّ فاعله تعریف:

د مفعول مالم یسمّ فاعله لغوی معنیٰ د ده له نامه څخه ظاهره ده، یعنی د داسي فعل مفعول، چې دفاعل نوم یې نه وي اخستل سوی، یعنی فاعل یې نه وی نومول سوی.

اصطلاحي معنا یې پخپله مصنف رحمه الله بیان کړي ده (مفعول مالم یسمّ فاعله: کل مفعولٍ، حُذف فاعله و اقیم هو مقامه)، چې مفعول مالم یسمّ فاعله هر هغه مفعول دی، چې فاعل یې حذف کړل سوی وي او پخپله د هغه پر ځای درېدلی ئي. لکه (کُتِبَ خالدٌ الدرسَ) د دې فاعل (سعیدٌ) چې کله حذف کړل سو، نو (الدرس) یې پر ځای ودرېدی، د اصل اعراب یې ده ته ورکړ او د مخکني فعل فاعل اوس نه معلومېږي، پاتې سو د ده لپاره د ده مجهول (کُتِبَ)، نو د عبارت

تقدیر داسي سو (کُتِبَ الدَّرسُ) اوس وګوره (الدرس) داسي مفعول دی، د کوم چې فاعل مذکور نه دی، ځکه نو موږ د (مفعول مالم یسمّ فاعله) نوم ورباندی اېښی، یعنی هغه مفعول د کوم چې فاعل ذکر سوی نه وي.

لیکن بیا موږ فکر وکړ، چي په ټوله نړۍ کی داسي کوم فعل او مفعول پیدا شتون نلری، چی فاعل یې نه وي، که نه نو دا د (دهریانو) عقیده کېږي، د دوی عقیده ده، چی دا اسمان او مځکه او ټول شیان پخپله جوړ سوي دي او د کائناتو پوره نظام پخپله چلېږي، زه وایم، چی زما محترمو طالبانو! که چېري تاسو ته داسي سړی وراندي سي، او ستاسو په وړاندي همدا دعوه وکړي، نو تاسو سمدستي یوه ښه توفنچه د ده پر منحوسه ځېره ولګوئ، هغه حیران سي، له تاسو نه پوښتنه وکړي، چي دا ولې؟، نو تاسو په جواب کی ورته وایاست: جناب! دا خو تا پخپله پر خپل ځان لګولې، که چېري هغه ووایې، چي توفنچه پخپله نسي لګېدای، نو تاسو جواب ورکوئ، چي کله یوه توفنچه پخپله پر شی نسي لګېدای، نو دومره لوی کائنات پخپله څرنګه جوړېدای او چلېدای سي؟

نو (کُتِبَ الدرسَ) د دهریانو له عقیدې څخه د ژغورنې لپاره موږ (الدَّرسَ) د ده د فاعل پر ځای ولګول او نائب فاعل جوړ سو، له همدې وجې ورته نائب فاعل ویل کېږي، او کوم حکم چی د اصل وی، هماغه د دغه نائب فاعل هم وي، نو د فاعل حکم دادی، چی هغه به مرفوع وي، نو دا هم مرفوع کېږي او داسي ویل کېږي (کُتِبَ الدَّرسُ).

دوهمه خبره: پر (هو) ضمیر اعتراض او د هغه جواب:

فاضل مصنف رحمه الله د مفعول مالم یسمّ فاعله تعریف بیان کړی او ویلي یې: (و اقیم هو مقامه) پر دې سوال کېږی، چي جناب! په (اُقِیمَ) فعل مجهول کي (هو) ضمیر مرفوع متصل دی او د ضمیر متصل تاکید په ضمیر منفصل سره هغه مهال کېږي، کله چي پر ده کوم بل شی عطف کول مقصود وي، لکه چی په قرآنکریم کي دي (اسکن انتَ و زوجک الجنة) لیکن دلته سره له دې چی د (اُقِیمَ) پر ضمیر مستتر عطف نه دی سوی او بیا هم د ده تاکید په ضمیر منفصل سوی دی؟

د دې جواب دادی: که چېرې په ضمیر سره دا ډول تاکید مورډ نه وای کړی، نو دا شبهه کېده، چې د (اقیم) فعل مجهول نائب فاعل (مقامه) دی، ځکه چې دا ور نژدې دی او قاعده ده چې د قریب پرېښودل او بعید ته ضمیر نسي راجع کېدای، لیکن له دې سره، سره دلته قریب پرېښودل سوی، د بعېد وطرفته ضمیر راجع سوی دی، نو د (هو) ضمیر په راوړلو یې دېته اشاره کړې، لکه څرنګه چې دلته (هو) خلاف القیاس راوړل سوی د ی، دا راز د (اقیمَ) نائب فاعل هم خلاف القیاس (مفعول) دی، سره له دې چې هغه بعېد هم دی.

د مفعول د نائب فاعل جوړېدو لپاره شرط

درېیمه خبره: د مفعول د نائب فاعل جوړېدو لپاره شرط:

و شرطه ان تغیرصیغة الفعل الی فُعِلَ او یُفعَلُ:

مصنف رحمه الله د بېلګې په ډول د ثلاثي مجردو د بابونو د افعالو لپاره د ماضي مجهول او مضارع مجهول اوزان را ښیي، مثلا تاسو چې کله هم یو اسم نائب فاعل جوړوئ، نو شرط یې دادی، چې تر ده مخکې فعل که چېرې ماضي وي، نو د هغه د (فُعِلَ) پر وزن کېدل او که مضارع وي، نو د هغه د (یُفعَلُ) پر وزن کېدل ضروري دي، ګواکې چې مصنف رحمه الله صرف (فُعِلَ او یُفعَلُ) د نمونې په ډول ذکر کړې، مراد ځیني وصف عام دی، یعني له (فُعِلَ) څخه د ماضي مجهول هر باب او له (یُفعَلُ) څخه د مضارع مجهول هر باب مراد دی، لکه چې مورډ مخکې په (لکلّ فرعون موسی) کې ویلې وه، چې له فرعون څخه هر سرکښنه او له موسیٰ څخه هر د حق اواز لوړوونکی مراد دی.

هغه اسماء کوم چې نائب فاعل نسي جوړېدای

څلورمه خبره: هغه اسماء کوم چې نائب فاعل نسي جوړېدای:

په (ولا یقع المفعول الثانی ا لخ) سره وایې، چې څلور قسمه داسې مفعول دی، چې نائب فاعل نسي جوړېدای، کوم چې په (نحومیر) کې د فعل متعدی په فصل کې مورډ راوړي دي.

①: باب علمتُ یعنی د (علمتُ، ظننتُ، حسبتُ، زعمتُ، خِلتُ، رأیتُ، وجدتُ) دوهم مفعول نائب فاعل نسي کېدای، مثلاً په (علمتُ زیدًا فاضلًا) کې (عُلِمَ فاضلٌ زیدًا) نسي ویل کېدای، ځکه چې (زیدٌ فاضلٌ) د (علمتُ) تر داخلېدو مخکې پخپلو کې سره مبتداء او خبر وه، به دې صورت کی (زیدٌ) مسندالیه او (فاضلٌ) مسند و، لیکن (فاضلٌ) که چېرې نائب فاعل سي، نو دا مسندالیه جوړېږي، نو د یوه اسم مسند او مسندالیه جوړېدل لازمېږي، کوم چې صحیح نه دی.

②: (والثالث من باب اعلمت) یې وویل، چې باب اعلمتُ یعني د(اعلم، ارٰی، انبأ، اخبر، خبَّر، نبّأ، حدَّث) مفعول ثالث هم نائب فاعل نسي جوړېدای، وجه هماغه ده، کومه چې په باب علمتُ کی تېره سوه، لهذا په (اعلمُ الله زیدًا عمرًا فاضلًا) کي (اُعلِمَ فاضلٌ زیدًا عمرًا) نسي جوړېدای.

③: (والمفعول له) د مفعول له استعمال پر دوه صورته کېږي: ①: په لام سره، ②: بېله لامه.

که په لام سره وي، نو هغه فعل مجهول جوړېږي، لکه (ضُرِبَ للتادیبِ) لیکن که چېرې بېله لامه و، نو د هغه په هکله ویل سوې، چې هغه نائب فاعل نسي جوړېدای، ځکه چې دا د مخکې فعل لپاره علت جوړېږي او پر دغه علت جوړېدو یې منصوب ویل دلالت کوي، لیکن د نائب فاعل جوړېدو په صورت کي مرفوع کېږي او د مرفوع کېدو په صورت کي د ده پر مفعول له کېدو هېڅ دلالت نه پاتېږي او کله چې دلالت پاتې نسي، نو ګواکې چې هغه مفعول له پاتې نسو، نو (زیدٌ ضُرِبَ تادیبًا) (زیدٌ ضُرِبَ تادیبٌ) نسي ویل کېدای، لنډه دا چې مفعول له ځکه نائب فاعل نسي جوړېدای، چې بیا هغه مفعول له نسي پاتې کېدای.

④: (مفعول معه) مفعول معه هم نائب فاعل نسي کېدای، ځکه چې، د نائب فاعل جوړېدو په وخت کي به یا موږ واو ورسره ذکر کوو، یا نه، که یې چېرې ورسره ذکر کړو، نو نائب فاعل له خپل فعل سره اتصال غواړي او په دې صورت کي اتصال نه پاتېږي، او که یې چېرې ورسره ذکر نکړو، نو هغه مفعول معه نه

پاتېږي، نو له دغې خرابۍ څخه د ژغورنې لپاره دا قاعده درته ښیوو، چې مفعول معه له سره نائب فاعل کېدای نسي.

دلته سوال کېږي، چې مصنف رحمه الله په (کذلک) ویلو خپل عبارت ولې اوږد کړ، حال دا چې بل طرفته موږ وینو، چې د کافیه ملاصاحب رحمه الله د اختصار په درشل کې دی؟

د دې جواب دادی، چې که یې چېرې داسې نه وای کړي، نو شبهه کېده، د دغو څلورو د نائب فاعل نه جوړېدو علت یو دی، لیکن په (کذلک) ویلو سره یې اشاره وکړه، چې د لومړیو دوو یعنی د باب علمت د مفعول ثاني او د باب اعلمت د درېیم مفعول نائب فاعل نه کېدل قوي هم دي او علت یې هم مشترک دی (کما ذکرناه) او د وروستنیو دوو یعنی د مفعول له او مفعول معه نه جوړېدل د لومړنیو په نسبت څه کمزوری هم دی او د نه جوړېدو علتونه یې هم څه بل راز دي.

اووه دېرشم (۳۷) درس
د نائب فاعل د تعیین بیان

و اذا وُجدالمفعول به تعین له، تقول: ضُرِبَ زیدٌ یومَ ا لجمعة امام الأمیر ضربًا شدیدًا فی داره ، فتعین زیدٌ، فان لم یکن فالجمیع سواءٌ والاول من باب اعطیتُ اولیٰ من الثانی.

ترجمه: او کله چې په (کوم عبارت کی) مفعول به وي، نو د نائب فاعل جوړېدو لپاره هماغه متعین کېږي، مثلا (ضُرِبَ زیدٌ یومَ ا لجمعة امام الأمیر ضربًا شدیدًا فی داره) دلته (زید) د نائب فاعل کېدو لپاره متعین کېږي او که چیری مفعول به په عبارت کې نه وی، بیا ټول مفاعیل (د نائب فاعل جوړېدو لپاره) برابر دي،

لیکن د باب اعطیت لومړی مفعول د نائب فاعل جوړېدو لپاره ډېر غوره دی په نسبت و دوهم مفعول ته.

تشریح: د نن په سبق کې درې خبرې دي:

①: له مفاعیلو څخه د نائب فاعل جوړېدو ډېر حق لرونکی، ②: هغه صورت په کوم کی چي ټول مفاعیل په نائب فاعل جوړېدو کي سره برابر وي، ③: د باب اعطیت په مفعولونو کي ډېر حق لرونکی.

لومړی خبره: له مفاعیلو څخه د نائب فاعل جوړېدو ډېر حق لرونکی:

و اذا وجد المفعول تعین له:

په کومه جمله کي که چېري پنځه سره مفعولونه راغلي وي، یا پکي څیني راغلي وي او پکي یو مفعول به هم وي، نو په داسي صورت کي که چېري عامل فعل د کوم یوه د خپل ځان لپاره د نائب فاعل تقاضا کوله، نو کوم یو به یې نائب فاعل جوړېږي؟، نو په داسي ځای کي د نائب فاعل کېدو لپاره مفعول به زیات حق لرونکی دی.

وجه یې داده، چي فعل له عامل سره د نورو مفاعیلو په نسبت له مفعول به سره زیات تعلق لري، ځکه چی فعل لکه څرنګه چی په خپل وجود کي فاعل ته محتاج وي، دا راز خپل مفعول به ته هم محتاج وي، مثلا (ضُربَ زیدٌ یومَ الجمعة امام الأمیر ضربًا شدیدًا فی داره) په اصل کي (ضَرِبَ سعیدٌ زیدًا یوم الجمعة امام الامیر ضربًا شدیدًا فی داره) و (سعیدٌ) کوم چی فاعل جوړ سوی و، هغه چي کله حذف کړل سو، نو (ضُرِبَ) نائب فاعل ته ضرورت درلود او د دې ضرورت د پوره کولو لپاره له موږ سره پنځه شیان موجودَ وه، په هغو کي یو مفعول به هم و، نو نور مو پر خپل حال پرېښودل، مفعول به موږ نائب فاعل جوړ کړ.

په مذکوره جمله کي (یوم الجمعة) مضاف سره له مضاف الیه د ظرف زمان مثال دی او (امام الامیر) مضاف سره له مضاف الیه د ظرف مکان مثال دی او (ضربًا شدیدًا) موصوف سره له صفته د مفعول مطلق مثال دی او (فی داره) په واسطه د حرف جر مفعول به دی.

فائده: ①: په مذکوره صورت کي د بصريينو په نزد د مفعول به نائب فاعل جوړېدل واجب دي او د کوفيينو په نزد واجب خو نه دی، بلکي صرف اولیٰ او غوره دي.

فائده: ②: ضربًا په شديدًا صفت سره مقيد کول دې خبرې ته اشاره ده، چي مصدر نائب فاعل هغه مهال جوړېږي کله چي له ده سره په دې کي خصوصيت پيداکوونکی کوم صفت هم وي.

دوهمه خبره: هغه صورت په کوم کی چي ټول مفاعيل په نائب فاعل جوړېدو کی برابروي:

(فان لم يكن فالجميع سَواءٌ) که چېری په کلام کي نور مفاعيل خو وي، ليکن مفعول به نه وی، نو بيا په دوی کي هريو د نائب فاعل جوړېدوپه حق لرلو کي سره برابر دي، لکه (ذُهِبَ بزيد يو م ا لجمعة امام الامير ذهابًا شديدًا فی داره) په دوی کي هريو نائب فاعل جوړېدای سي.

درېيمه خبره: د باب اعطيتُ په مفعولونو کي ډېرحق لرونکی:

والاول من اعطيت اولی من الثانی:

باب اعطيتُ کوم چي دوه مفعولونه غواړي، لکه (اعطيتُ زيدًا درهمًا) په دوی کی اختيار دی، کوم يو چي هم نائب فاعل جوړول غواړي جوړېدای سي، ليکن لومړی مفعول جوړېدل بهتره دي، ځکه چي د ده په اول مفعول (زيدًا) کي څه ناڅه د فاعليت معنیٰ هم سته، هغه په داسي ډول، چي تا هغه ته درهم ورکړی وه، او هغه له تا څخه اخستي وه، نو په دغه اخستلو کي د فاعليت معنیٰ سته، اوپه دوهم مفعول (درهمًا) کي صرف ورکول او اخستل دي، نو په دې کي له دواړو طرفونو څخه صرف د مفعوليت معنی سته، د فاعليت معنی بلکل نسته، ځکه نو (اُعطیَ زيدٌ درهمًا) ويل غوره او بهتره دي او (اُعطي درهمٌ زيدًا) ويل صرف جائزدي.

لیکن چیري چي التباس لازمېږي مثلا په دواړو مفعولونو کي د فاعلیت معنی پیدا کیږي، نو هلته د مفعول اول نائب فاعل جوړېدل صرف اولیٰ نه بلکي واجب دي، لکه د (اعطی بکرٌ زیدًا کتابًا) پر ځای (اُعطیَ زیدٌ کتابًا).

په اخیر کي د مخکني درس د اخیري خبرې پوره خلاصه دا سوه، چي هغه فعل چي متعدي یوه مفعول ته وي، په هغه کي دغه یو مفعول نائب فاعل جوړېږي او هغه فعل چي متعدي د وو مفعولونو ته وي، هغه چي کله له باب اعطیتُ څخه وی، نو دواړه نائب فاعل جوړېدای سي، لیکن د لومړي جوړېدل غوره دي، لکه له (اعطیتُ زیدًا درهمًا څخه اعطیَ زیدٌ درهمًا او اعطیَ درهمٌ زیدًا) دواړه جائز دي او په هغه فعل کي چي متعدي دوو مفعولونو ته وي، د علمت له باب څخه وی، په هغه کی لومړی مفعول نائب فاعل جوړېږي، په خلاف د دوهم مفعول، چي هغه نائب فاعل نسي جوړېدای، دا راز هغه فعل چي متعدی دریو مفعولونو ته وي، په هغه کی لومړی دوه نائب فاعل جوړېدای سي، خو اخیري مفعول نائب نسي کېدای، وجه یې داده، چي متعدي و دوو مفعولونو ته د باب علمت دواړه مفعولونه په خپل مینځ کي مبتداء او خبر وي، که چېري ثاني نائب فاعل سي، نو هغه مسند الیه جوړېږي، حال داچي لومړی همدا اسم د خبر کېدو له وجې مسند و، نو د یوې کلمې مسند او مسند الیه کېدل لازم سو او دا جائز نه دي، همدا حال د متعدي و درو مفعولونو ته د باب اعلمت د اخیري دوو مفعولونو دی او د متعدي و دوو مفعولونو ته د باب علمتُ مثال (علمتُ زیدًا فاضلا عُلم زیدٌ فاضلا) ویل کېدای سي، لیکن (عُلم فاضلٌ زیدًا) ویل صحیح نه دي، دا راز (اعلم الله زیدًا عمروًا فاضلا) اعلم زیدٌ عمروًا فاضلا ا و اعلم عمروٌ زیدًا فاضلًا) ویل کېدای سي، لیکن (اعلمَ فاضلٌ زیدًا عمروًا) نسي کېدای (خیرالنحوص: ۱۴۲).

اته دېرشم (۳۸) درس

د دریم مرفوع (مبتداء) بیان

و منها المبتداء والخبر، فالمبتدأ هو الاسم المجرّد عن العوامل اللفظية مسندًا اليه او الصفة الواقعة بعد حرف النفي او الف الاستفهام رافعةً لظاهر، مثل زيدٌ قائمٌ و ما قائم الزيدان و اقائم الزيدان فان طابقت مفردًا جازالامران.

ترجمه: او له مرفوعاتو څخه مبتدأ او خبر هم دي، بيا مبتداء هغه اسم دی، چې له لفظي عواملو څخه خالي وي، په داسي حال کي چې هغه مسندآليه هم وي، يا مبتداء هغه صفت ده، کوم چی تر حرف نفي، يا حرف استفهام وروسته واقع وي او اسم ظاهر ته رفع ورکوونکي وي، لکه (زيدٌقائِمٌ او ما قائم الزيدان او اقائم الزيدان)، بيا که چېري صيغه د صفت له اسم ظاهر سره په مفرد کېدو کي برابره وی، نو پکي دواړي طريقې روا دي.

تشريح: د نن په سبق کي پنځه خبري دي:

①: د مبتداء او خبر د يو ځای ذکر کولو وجه، ②: د مبتداء لغوي او اصطلاحي تعريف او د قيدونو فائدې، ③: پر المجرّد او العوامل سوال او د هغه جواب، ④: د مبتداء د قسم ثاني تعريف، د قيدونو فائدې او مثالونه، ⑤: د صيغه صفت بېلابېل صورتونه او احکام.

د مبتدأ او خبر دواړو د يو ځای ذکر کولو وجه

لومړی خبره: د مبتدأ او خبر دواړو د يو ځای ذکر کولو وجه:

مصنف رحمه الله چي کله د مرفوعاتو د دوهم قسم تعريف او له هغه سره د تړلو مسئلو څخه فارغ سو، نو اوس دريم او څلورم قسم بيانوي، لکه چي وايي: (و منهاالمبتداء والخبر) يعنی د مرفوعاتو دريم قسم مبتدا او څلورم قسم خبر دی، که چېري د مرفوعاتو پوره بحث ته وکتل سي، نو معلومېږي، چی د کافيه ملاصاحب رحمه الله هريو قسم بېل، بېل بيان کړی دی، لېکن دغه دواړه يې يو ځای ذکر کړل، نو داسي يې ولې وکړل؟

جواب: له دوو وجو يې داسي کړي، يوه دا چي دا دواړه په خپل مينځ کي لازم او ملزوم دي، يعني چيري چي مبتداء وويل سي، نو هلته خبر هرومرو وي او چيري چي خبروي، هلته مبتداء هم هرومرو وي.

دوهمه وجه داچي دا دواړه په عامل معنوي کي سره شریک دي، یعنی د دواړو عامل معنوي وي، ځکه یې نو دا دواړه یو ځای ذکر کړل.

دمبتداء تعریف

دوهمه خبره: د مبتداء تعریف:

مبتدا د ابتدأ، یبتدأ ابتداءً افتعال له باب څخه د اسم مفعول صیغه ده، په معنی د شروع کړل سوي، او مبتداء چي چېري وي، نو خبره هم له هماغه ځایه شروع سوې وي، ځکه ورته مبتداء ویل کېږي، په دې کي د (خصّم) قانون جاري کېږي (مُبَدًّا) هم ویل کېږي.

او د نحویانو په اصطلاح کي چي د مبتداء کوم تعریف دی، هغه د کافیه ملاصاحب رحمه الله په خپل عبارت کي بیان کړی دی (فالمبتدأ هو الاسم المجرّد عن العوامل اللفظية مسندًا اليه)، یعنی مبتداء هغه اسم (حقیقي، یا تاویلي) دی، کوم چي له عوامل لفظیه څخه خالي وي او مسندالیه وي، یعنی د خبر نسبت د ده وطرفته سوی وي، لکه د اسم حقیقي مثال (زيدٌقَائِمٌ) او د اسم تاویلي مثال (وان تصدقوا خیرلکم ان کنتم تعلمون) دلته (ان) مصدریه پر (تصدقوا) فعل مضارع داخل سوی دی، نو هغه یې په تاویل د مصدر یعني (تصدقکم خيرٌلکم) اړولی دی، مبتداء جوړ سوی دی.

فائده: د مبتداء او خبر په عامل کي اختلاف دی، د بصریانو مذهب خو هماغه دی، کوم چي بیان سو او د مصنف رحمه الله په نزد هم دا مذهب غوره دی، له همدې وجې یې بیان کړ، او د ځیني نحویانو یعني علامه زمخشري او د ده د متبعینو مذهب دادی، چي د مبتداء عامل خو معنوي وی، یعنی ابتداء لیکن دخبر عامل لفظي وي، یعنی مبتداء پکښي عامل وي.

دریيم مذهب د شیخ رضي او دده د متبعینو دی، دا حضرات وايي، چي مبتدا او خبر دواړه یو په بل کي عمل کوي، نو د دوی په نزد ګواکی چي د دواړو عامل لفظي دی.

د مبتداء په تعریف کي د قیدونو فائدې:

فالمبتداء هوالاسم المجرّد عن العوامل اللفظية مسندًا اليه:

د مبتداء په مذکوره تعریف کي (فالمبتداء) معرّف دی او له (هوالاسم) څخه تر (مسنداليه) پوري دا پوره عبارت د مبتداء تعریف دی، بیا په تعریف کي (هوالاسم) د جنس په درجه کي دی، کوم چي هر قسم اسماؤ ته شامل دی.

(المجرد عن العوامل اللفظية) دا فصل دی، په ذریعه یې هغه اسماء ووتل، په کوموکي چي عوامل لفظیه وي، لکه د افعال ناقصه او حروف مشبه بالفعل اسم او خبر، بلکي ویلای سو، چي له مبتداء او خبرپرته ټول اسماء ووتل.

(المسنداليه) دا دوهم فصل دی، په ذریعه یې د خبر او مبتداء قسم ثاني ووت، ځکه چي مسند وي، نه چي مسنداليه.

درپیمه خبره: پر المجرد او العوامل سوال او جواب یې:

د کافیه ملاصاحب رحمه الله د مبتداء په تعریف کي (هوالاسم المجرّد) ویلي، (المجرد) د جرّد یجرّد تجریدًا د تفعیل له باب څخه د اسم مفعول صیغه ده، په معنی د خالي کړل سوي، یا خالی سوي، نو له دې څخه په څرګنده توګه معلومیږي، چي پر مبتداء اول عوامل لفظیه داخل وو په وروسته کي له هغه څخه خالی کړل سوه.

جواب: چي داسي نه ده! له سره لا پرې عوامل لفظیه داخل سوی نه وو، خو د داخلېدو امکان و، نو صرف امکان ته د وجود د درجې ورکولو پر بنسټ یې (المجرّد) ویلي دي، لکه یو ځوک چي د ګاه کیندونکو ته ووایې (ضَيِّقوا فَمَ البئر) یعني خوله یې تنګه جوړه کړئ، حال داچي تراوسه پوري کار شروع سوی هم نه دی، لیکن امکان و، نو له شروع څخه لا دغو کېندونکو د څاه خوله تنګه جوړه کړه، نو دغه امکان ته د وجود درجې ورکولو پر بنسټ دوی له مخکي څخه لا په احتیاط څاه کېندل.

دوهم سوال د (العوامل) پر لفظ کېږي، چي دا د جمع صیغه ده، ترکوم لاندي چي لږترلږه درې افراد هرومرو وي، نو د دې مطلب داسو، چي د مبتداء له دریو عواملو لفظیه څخه خالي کېدل ضروري دي، یو یا دوه عامله که چېری تر ده مخکي وي، نو خیر دی؟

جواب: چي (العوامل) واقعي د جمع صيغه ده، ليکن (الف لام) جنسي پرداخل سوی دی او قاعده ده، چي (الف لام) جنسي د جمع جمعيت ختموي. نو (العوامل) که څه هم په لفظي توګه جمع دی، خو په حقيقت کي جمع نه دی (کما مر بحث الاعراب).

څلورمه خبره: د مبتداء د قسم ثاني تعريف، د قيدونو فائدې او مثالونه:

الصفة الواقعة بعد حرف النفی او الف الاستفهام رافعة لظاهر:

په دې عبارت کي د کافيه ملاصاحب رحمه الله د مبتداء د قسم ثاني تعريف کوي، چي هره صيغه د صفت (يعنی اسم فاعل، اسم مفعول، صفت مشبه وغيره) کو، چي تر حرف نفي وروسته، يا تر همزه استفهام وروسته واقع وي، په داسي حال کي چي هغه دغه اسم ظاهر (حقيقي وي که حکمي) رفع هم ورکړي وي، نو دا د مبتداء قسم ثاني جوړېږي، لکه: (ما قائم الزيدان و اقائم الزيدان).

په عبارت کي (رافعة، الواقعة) صيغه داسم فاعل د فاعل له ضمير څخه حال واقع سوې ده، ځکه يې منصوب ويلی دی.

د مبتداء د قسم ثاني په مذکوره تعريف کي لاندي خبرې هم په ذهن کي ونيسئ:

①: له حرف نفې څخه مراد (ما ولا) دواړه دي او له حرف استفهام څخه مراد (همزه، هل، ما او من) دي.

②: د مبتداء د مذکوره قسم ثاني لپاره دا شرط لګول، چي (د صفت صيغه به تر حرف نفي، يا حرف استفهام وروسته واقع وي) دا شرط د مصنف رحمه الله په نزد دی، د امام سيبويه په نزد له دې شرط پرته هم د مبتداء قسم ثاني جوړېدای سي، داسي کول د ده په نزد قبيح او ناخوښه دي، البته د امام اخفش او کوفيانو رحمهم الله په نزد داسي کول صرف دا نه چي جائز دي، بلکي يو ښه عمل دی (وتفصيله يأتی فی شرح الجامی، السنة القادمة ان شاءالله تعالی).

③: (رافعةً لاسم ظاهر) له دې څخه معلومېږي، چي اسم ظاهر کوم چي تر صيغه صفت وروسته واقع وي او صيغه صفت هغه ته رفع ورکړي وي، دا اسم ظاهر که حقيقي وي، لکه (ما قائم الزيدان و اقائم الزيدان)، او که حکمي وي، يعني کوم

مرفوع منفصل ضمير تر ده وروسته راغلی وي، لکه د الله ﷻ مبارکه وينا(اراغبٌ انتَ عن آلهتی يا ابراهيم)، نو په دې دواړو صورتونو کي صيغه د صفت راتلونکي اسم ته رفع ورکوي، لکه چي له مذکوره دواړو مثالونو څخه واضحه کېږي.

④: (رافعةٌ لاسم ظاهر) له دې څخه دوهمه خبره دا معلومېږي، چي (اقائمان الزيدان او اقائمون الرجال) وغيره په دې کي داخل نه دي، ځکه چي د اسم ظاهر پر ځای په دوی کي دننه مستترضمير ته رفع ورکوي، که چېري څوک شبهه وکړي، چي دلته خو (الزيدان اوالرجال) دواړه مرفوع دي او په ظاهره له صيغه صفت پرته کوم بل رفع ورکوونکی عامل هم نه معلومېږي، چي دا دواړه دي له هماغې وجې مرفوع وي؟

د دې جواب دادی، چي دوی ته صيغه صفت رفع نه ده ورکړې، ولي که صيغه صفت دوی ته رفع ورکړي، نو دغه (اقائمان او اقائمون) د تثنيه او جمع صيغې نه کېږي، بلکي مفرد کېږي، ځکه موږ په نحومير کي يوه قاعده بيان کړې، چي د فعل يا شبه فعل فاعل که چېري اسم ظاهر و، نو فعل هميشه د مفرد په صورت راځي، حال دا چي دلته دواړه د تثنيه او جمع په صورتونو راغلي دي.

⑤: د مبتداء د قسم اول او دوهم ترمېنځ په دوو طريقو سره فرق:

①: د مبتداء قسم اول پخپله (د عامل معنوي) معمول کېږي، حال دا چي قسم ثاني پخپله عامل وي.

②: د مبتداء قسم اول مسنداليه وي، او قسم ثانی مسند وي.

پنځمه خبره: د صيغه صفت بېلابېل صورتونه او احکام:

فان طابقت مفردًا جازالامران:

که چېري صيغه دصفت له وروستنی اسم ظاهر سره په مفرد کېدو کي موافقه وي، يعنی صيغه صفت هم مفرد وي او اسم ظاهر هم مفرد وي، لکه (اقائم زيدٌ)، نو په دې کي دوه رنګه ترکيب جائزدی:

①: د صيغه صفت د مبتداء قسم ثاني جوړېدل او اسم ظاهر يې فاعل او د خبر قائم مقام جوړېدل.

②: د صیغه صفت خبر مقدم جوړول او اسم ظاهر یې مبتداء مؤخره جوړېدل.
له دې صورت څخه پرته دوه صورتونه نور هم جوړېدای سي:
①: چي صیغه صفت مفرد وي او اسم ظاهر تثنیه، یا جمع وي، لکه (اقائم الزیدان او اقائم الرجال) وغیره، نو په داسي صورت کي په متعینه ډول صیغه صفت د مبتداء قسم ثاني جوړېږي او اسم ظاهر تثنیه یا جمع یې فاعل جوړېږي، کوم چي د خبر قائم مقام دی.
②: چي صیغه صفت هم تثنیه، یا جمع وي او اسم ظاهر هم تثنیه یا جمع وی، لکه (اقائمان الزیدان او اقائمون الرجال)، نو په داسي صورت کي صیغه صفت خبر مقدم کېږي او اسم ظاهر مبتداء مؤخره جوړېږي.

نه دېرشم (۳۹) درس

د څلورم مرفوع (خبر) بیان

والخبر هو المجرّد المسند به المغایر للصفة المذکورة و اصل المبتداء التقدیم و من ثمّ جاز (فی داره زیدٌ) وامتنع (صاحبها فی الدار) و قد یکون المبتداء نکرةً اذا تخصصت بوجهٍ ما، مثل (ولعبدٌ مؤمنٌ خیرٌ من مشرک) و أرجلٌ فی الدار ام امرأةٌ و ما احدٌ خیرٌمنک و شرٌ اهرّ ذا ناب و فی الدار رجلٌ و سلامٌ علیک.

ترجمه: او خبر هغه اسم دی، چي له عوامل لفظیه څخه خالي وي او په ترکیب کي مسند جوړېږي و د مبتداء د قسم ثاني مخالف وي او د مبتداء لپاره اصل دادی، چي هغه تر خبر مقدمه وي، همدا وجه ده، چي (فی داره زیدٌ) ویل خو جائز دی، لیکن (صاحبها فی الدار) ویل جائز نه دی او مبتداء کله نکره هم وي، په دې شرط چي هغه په یو طرېقه سره خاص کړل سوی وي، لکه (ولعبدٌ مؤمنٌ خیرٌ من مشرک) او أرجلٌ فی الدار ام امرأةٌ او ما احدٌ خیرٌمنک او شرٌ اهرّ ذاناب او فی الدار رجلٌ او سلامٌ علیک.

تشرېح: د نن په سبق کي درې خبرې دي:
①: د خبر تعرېف، ②: په تعرېف کي د قیدونو فائدې او د مغایرت صورتونه،
③: له مبتداء سره تړلې څو اهمې مسئلې.

دخبر تعریف

لومړی خبره: د خبر تعریف:

د خبر تعریف مصنف رحمة الله عليه په ډېرو لنډو الفاظو کړی دی، له کومو سره چې حذف سوی عبارت هم را وګرزول سي، نو تعریف داسي کېږي (الخبر هوالاسم المجرد عن العوامل اللفظية، المسندبه، المغايرللصفة المذكورة بعد حرف النفی او اداة الاستفهام)، یعني خبر هغه اسم دی، چي له عوامل لفظیه څخه خالي وي او مسند به وي او له دغه صیغه صفت سره مخالف او غیروي، کوم چي تر حرف نفي یا حرف استفهام وروسته واقع وي، لکه په (زیدٌقائمٌ) وګوره! چي پکي (قائمٌ) خبر دی چي له عوامل لفظیه څخه هم خالي دی او مسندبه هم دی، یعني د ده په ذریعه سره پر مبتداء حکم لګول کېږي او صیغه صفت یعنی د مبتداء د قسم ثانی مخالف هم دی، ځکه چي (زیدٌ) صیغه د صفت هم نه ده او تر حرف نفي او استفهام وروسته هم نه دی واقع سوی.

دوهمه خبره: د قیدونو فائدي او د مغایرت بېلابېل صورتونه:

الخبر هوالمجردالمسندبه المغاير للصفة المذكورة:

په مذکوره عبارت کي (الخبر) معرّف دی او (هوالمجرّد...الخ) یې تعریف دی، یا په دې تعریف کي (هو) د جنس په درجه کي دی، کوم چي ټولو اسماؤ ته شامل دی.

المجرد: دا لومړی فصل دی، په دې سره د حروف مشبه بالفعل او افعال ناقصه وغیره خبرونه ووتل، ځکه چي هغه له عواملو څخه خالی نه وي، بلکي همدا حروف مشبه بالفعل او افعال ناقصه عمل پکي کړی دی.

المسندبه: دا فصل ثاني دی، د دې په ذریعه مبتداء ووته، ځکه هغه مسنداليه وي.

د کتاب مصنف رحمة الله عليه چي (المغايرللصفة المذكورة) وویل، نو په یاد لرئ، چي مغایرت څو صورتونه لري:

لومړی دا چې په دې اعتبار سره د هغه مخالف وي، چې خبر له سره صیغه د صفت نه وي، لکه (زیدٌضربَ).
دوهم دا چې صیغه صفت خو وی، لیکن تر حرف نفي او حرف استفهام وروسته واقع نه وي، لکه (زیدٌ قائمٌ).
دریم دا چې صیغه صفت هم وی او تر حرف استفهام وروسته هم واقع وي، خو اسم ظاهر ته رفع ورکوونکی نه وي، لکه (اقائمان الزیدان)، که چیري (الزیدان) دده له وجې مرفوع سي، نو (اقائمان) تثنیه نه پاتېږي، بلکي (مفرد) کېږي (کمامرییانه).

له مبتداء سره تړلې څو اهمې مسئلې

دریمه خبره: له مبتداء سره تړلې څو اهمې مسئلې:
د مبتداء او خبر تر تعریف وروسته مصنف رحمه الله له دوی دواړو سره متعلق څو اهمې مسئلې او احکامات له (واصل المبتداء التقدیم) څخه واخله د دغه بحث تر اخیره پوري بیانوي، مصنف رحمه الله له مبتداء او خبر هر یوه سره متعلق پنځه پنځه اهمې مسئلې بیان کړي دي، کوم چې موږ په عنواناتو سره، نمبروار راوړي دي او په مینځ کي یې موږ د څه ناڅه ضروري خبرو ذکر کولو کوشش کړی دی (فالیک بها وعضّ علیها بالنواجذ).
له مبتداء سره تړلې لومړی مسئله:
و اصل المبتداء التقدیم: لومړی مسئله دا چې د مبتداء اصل صورت دادی، چي دا تر خبر مخکی وي.
د دې یوه وجه داده، چې مبتداء د (موصوف او ذات) په درجه کي وی او خبر د (صفت او حال) په درجه کي وي او دا ښکاره خبره ده، چې ذات تر صفت او حال مخکی وي او موصوف هم تر صفت مخکي وي، نو مبتداء هم پر خبر مخکي کېږي، لکه: په (زیدٌ قائم) کي (زیدٌ) مبتداء ده، چې مخکي ده او (قائم) خبر دی، چې وروسته دی.
(و من ثمّ جاز فی داره زیدٌ) په دې عبارت کي د کافیه ملاصاحب رحمه الله د یوه سوال جواب کوي، سوال دادی، چې جنابه! تاخو دا قاعده بیان کړه، چې مبتداء

پر خبر مخکي وي، حال دا چي په (في داره زيدٌ) کي (زيدٌ) مبتداء ده او وروسته ده او ظلم پر ظلم خو لا داچي دلته اضمار قبل الذکر هم لازمیږي او بیا هم تا ویلي، چي (ومن ثمّ جاز في داره زيدٌ) يعني دا جائز دی؟
جواب: چي په دې کي مبتداء که څه هم په لفظي توګه وروسته معلومیږي، خو دا د خپلې رتبې په لحاظ مقدمه ده، لهذا له (واصل المبتداء التقديم) سره څه مخالفت نه راغی، ځکه چي اضمار قبل الذکر هلته نا جائز وي، چېري چي لفظًا او رتبةً دواړه لازم سوی وي، حال دا چي دلته صرف لفظًا لازمیږي او په عمده کي دا جائز دی، ځکه نو موږ ویلي (ومن ثمّ جاز في داره زيدٌ).
په (وامتنع صاحبها في الدار) سره د دوهم سوال جواب ورکوي، سوال دادی، چي تاسو د مبتداء د تقديم قاعده بيان کړه، بیا چي مو کوم مثال راوړ، نو مبتداء مؤخره وه، لیکن بیا هم تاسو (ومن ثم جاز....) ویلي، د جواز حکم مو پر لګولی او دلته چي موږ کله داسي مثال وړاندي کړ، په کوم کي چي مبتداء مقدم او خبر مؤخر دی، نو د دې په اړه تاسو بیله کوم رعایت څخه (وامتنع صاحبها في الدار) وویل، ناجائز مو ورته وویل؟
جواب داچي جنابه! تاسو بلکل سم وایاست، خو تاسو که لږ غوندي غور وکړئ، نو درته معلومه به سي، چي (صاحبها) مضاف او مضاف اليه مبتداء جوړیږي، لیکن په دې کي چي کوم د (ها) ضمیر دی هغه د (الدار) وطرفته راجع دی، کوم چي خبر دی او د خبر درجه وروسته وي، نو په دې کي اضمار قبل الذکر لفظًا او رتبةً دواړه لازم سو، کوم چي ناجائز دی، ځکه نو موږ وویل، چي (وامتنع صاحبها في الدار) و لیکن د خبر د ضمیر پر ځای که تاسو کوم بل ضمیر راوړئ، نو هغه بلکل جائز دی، لکه (صاحبک في الدار).
د مبتداء لپاره دوهمه مسئله:
(وقد يكون المبتداء نكرةً) د مبتداء لپاره دوهمه مسئله بیانوی، چي په مبتداء کی اصل خو دادی، چي معرفه وي، خو کله کله د اصل پرېښودل ، د نکره په صورت راوړل یې هم جائز دی، له همدې وجې مصنف رحمه الله تر (اذا تخصصت

بوجهٍ ما) لاندي شپږ قسمه مثالونه وړاندي کړي، کوم چی په اصل کي شپږ مثالونه نه، بلکي شپږ مقامات دی، په کومو کي چي مبتداء نکره راوړل سوې ده.

①: التخصیص بالصفة:

لومړی مقام د تخصیص بالصفة دی، یعني په کوم اسم نکره کي چي د هغه د صفت په ذریعه څه تخصیص پیداسوی وي، نو د دغه نکره مبتداء جوړېدل جائز د ي، لکه د الله ﷻ مبارکه وینا (و لَعَبْدٌ مؤمنٌ خیرٌ من مشرکٍ) وګوره دلته (عبدٌ) که څه هم نکره دی، خو د (مؤمن) په ذریعه یې صفت بیان سوی، پکي یو قسم تخصیص پیداسوی دی او له معرفه سره یې څه ناڅه مشابهت پیداسوی، ځکه مبتداء راوړل سوی، کوم چي جائز دی.

②: التخصیص بأحدالجنسین:

دوهم مقام : د نکره په یوه له دوو جنسینو تخصیص کول دي، د مثال په ډول تاسو ته خو دا معلومه وی، چي په دې کور کي هرومرو یو څوک سته، لیکن دا درته معلوم نه وي، چی نارینه دی، که ښځینه، نو پوښتنه وکړئ، چي (ارجلٌ فی الدار ام امرأةٌ؟)، نو دلته (رجلٌ) او (امرأة) له نکره کېدو سره سره مبتداء جوړ سوي دي، ځکه چی د دوی په ذریعه د یوه جنس تخصیص سوی دی.

③: التخصیص بسبب الوقوع فی حیزالنفی:

(وما احدٌ خیرٌ منک) دلته (احدٌ) اسم نکره دی او له دې سره سره یې مبتداء واقع کېدل صحیح بلل سوي دي، ځکه چي په دې کي هم یو نوع خصوصیت پیداسوی دی، هغه په دې ډول، چی (احدٌ) اسم نکره دی او تر نفي لاندي واقع سوی دی او قاعده ده، چي ترنکره لاندي د عموم فائده ورکوي، نو په مذکوره مثال کي له ټولو افرادو څخه خیریت (غوره والی) نفي سوی چي ای مخاطبه! تر تا غوره هېڅوک هم نسته، نو بهتر کېدل د یوه فرد لپاره ثابت سو، په دې ډول پکي تخصیص پیداسو.

ترکیب: (ما) حرف نفی، (احدٌ) مبتداء، (خیرٌ) صیغه داسم تفضیل ده، په دې کې (هو) ضمیر مرفوع متصل یې فاعل، (من) حرف جار، (ک) ضمیر مجرور، جار سره له خپل مجرور متعلق سو تر (خیرٌ) صیغه اسم تفصیل پورې، (خیرٌ) اسم تفضیل سره له خپل متعلق او ضمیر فاعل د مبتداء لپاره خبر سو، مبتداء سره له خپل خبر جمله اسمیه خبریه سوه.

دلته سوال کېدای سي، چې دا مثال له ممثل له سره مطابق نه دی، ځکه خبره د مبتداء ده او مثال تاسو د مامشابه بلیس د اسم ورکړی؟

جواب: داچې دا مثال د بنوتمیم له مسلک سره مطابق دی، کوم چې (ما) عامل نه ګڼي، له همدې وجې (احدٌ) دلته مبتداء کېږي، نه چې د مامشابه بلیس اسم سي.

④: التخصیص بصفة محذوفة یا التخصیص بتقدیم ماحقه التأخیر:

(و شرٌّ اهرَّ ذاناب) په دې مثال کې (شرّ) له نکره کېدو سره، سره مبتداء واقع سوی دی، ځکه چې تخصیص یې سوی دی، او د دې دوې طریقې کېدای سي:

①: لومړۍ طریقه دا چې پکې صفت محذوفه ومنل سي، داسې وویل سي (شرٌّ عظیمٌ اهرَّ ذاناب)، نو په کومه طریقه چې په صفت مذکوره سره د تخصیص معنا پیدا کېږي، لکه په (و لعبدٌ مؤمنٌ خیر من مشرک) کې چې تېر سول، دا راز په صفت محذوفه سره هم د تخصیص معنا پیدا کېږي.

②: دوهمه طریقه داده، چې (شرّ) د (اهرّ) ضمیر فاعل څخه بدل واقع سي، او بدل د فاعل په حکم کې وي او قاعده ده، چې فاعل تر فعل وروسته وي، نو فاعل حکمي هم کوم چې بدل دی تر خپل مبدل منه وروسته وي، لیکن دلته مورِ ولیدل، نو فاعل حکمي یعني (شرّ) د (اهرّ) پر ضمیر فاعل مخکې سوی دی او قاعده ده، چې (التقدیم ماحقه التأخیر یفیدالحصر والاختصاص)، نو کله چې د تقدیم په وجه په (شرّ) کې تخصیص راغی، نو له نکره کېدو سره، سره یې مبتداء جوړېدل جائز دي.

⑤: التخصیص بتقدیم الخبر:

په (وفی الدار رجل) سره هم د (التقدیم ماحقه التأخیر یفید الحصر والاختصاص) قاعده بیانوی، ددې او مخکي صورت تر مینځ فرق صرف دادی، چي په مخکني صورت کي د فاعل حکمي په مقدم کیدو تخصیص پیداسوی و، او دلته د خبر په مقدم کولو تخصیص پیداسوی دی، نو کله چي پکي تخصیص راغی، نو (رجل) له نکره کېدو سره سره، مبتداء جوړېدای سي.

⑥: التخصیص بالنسبة الی المتکلم:

(وسلامٌ علیکَ) یعني چیری چي کوم اسم نکره وي، لیکن د متکلم وطرفته د نسبت له وجې پکي تخصیص پیداسوی وي، نو د هغه هم مبتداء جوړېدل جائز دي، لکه په (سلامٌ علیکَ) کي چي دي.

(سلامٌ علیکَ) په اصل کي (سلمتُ سلامًا علیک) و، (سلامًا) مفعول مطلق د فعل، (سلمت) حذف سوی دی، ځکه د (سلامًا) مفعول مطلق منصوب کېدل دلالت وریاندي کاوه، نو (سلامًا علیک) سو، ځرنګه چي دا جمله فعلیه وه، کومه چي پر تجدد او حدوث دلالت کوي، لیکن چاته په سلام کولو سره د سلام کوونکي مقصد داوي، چي مخاطب ته زما له لوري د تل لپاره سلامتي ورسېږي او دا مقصد په جمله اسمیه سره هم حاصلېدی، نو د (سلامًا) نصب یې په رفع بدل کړ، جمله اسمیه یعني (سلامٌ علیک) جوړه سوه والله اعلم بالصواب.

څلوېښتم (۴۰) درس

د خبر او له ظرف سره د متعلق بیان

والخبر قد یکون جملةً، مثل: زیدٌ ابوه قائمٌ و زیدٌ قام ابوه، فلا بُدَّ من عائدٍ و قد یُحذف وما وقعَ ظرفًا، فالاکثر علی انه مقدّر بجملة.

ترجمه: او خبر کله کله (له خپل اصل څخه اوړي) د جملې په صورت راځي، لکه (زیدٌ ابوه قائم) او (زیدٌ قامَ ابوه) خو په داسي صورت کي په خبر کی دننه د مبتداء طرفته د کوم عائد کېدل ضروري دي او کله کِله دغه عائد (د یو قرینې له

وجې حذف کېږي هم) او هغه خبر، کوم چې د ظرف په حالت کي واقع وي، نو د نحوي د اکثرو علماؤ په نزد د ده لپاره متعلق جمله (فعلیه) راوړل کېږي.

تشریح: د نن په سبق کي له خبر سره تړلي یوه مسئله او د هغې په ضمن کي درې خبرې کېږي:

①: له خبر سره تړلي لومړی مسئله، ②: د فلا بدّ من عائد. وضاحت، ③: د وقد یُحذف وضاحت، ④: د جار و مجرور په متعلق کي اختلاف.

لومړی خبره: د خبر په اړه لومړی مسئله:

والخبر قد یکون جملةً:

په دې عبارت کي مصنف رحمه الله د خبر متعلق یوه مسئله بیانوي، خو تر دې مخکي که چېري یوه ضابطه یاده کړئ، نو کېدای سي ډېره ګټوره سي، هغه دا چي (قَدْ) چې کله پر مضارع داخل سي، نو هلته د دوو خبرو طرفته اشاره کول مقصود وي.:

①: یوه دا چي کومه مسئله او حکم د (قد) تر لفظ وروسته بیان سي، هغه خلاف الاصل او فرع دی، او اصل حکم و مسئله بل شی وي.

②: دوهم داچي دا حکم قلیل الاستعمال وي، او د کثیر الاستعمال کوم بل صورت وي، اوس د مسئلې پوره وضاحت ته غوږ سئ، چي خبر په اصل کي دادی، چي هغه د مفرد په صورت راغلی وي، لیکن په ده کي خلاف الاصل او قلیل الاستعمال صورت هم جائز دی، هغه دا چي د جمله په صورت راسي، هغه که دجمله اسمیه په صورت کي وی، لکه (زیدٌ ابوه قائمٌ) او که د جمله فعلیه په صورت وي، لکه (زیدٌ قامَ ابوهُ)، لیکن د جمله انشائیه په صورت نسي راتلای، ځکه په خبر کي اصل اخبار یعني خبر ورکول وي، او په جمله انشائیه کي اصل انشاء وي او د انشاء او خبر تر مینځ منافات دی (فلایجتمعان ابدًا).

خوږکی: د کافیه د ملاصاحب رحمه الله د کمال علم او پر طالبانو د کمال شفقت یوه بېلګه دلته وګورئ چي د کوم عبارت په ذریعه یې کومه قاعده بیان کړې ده، په هغه عبارت کي یې د زیرک طالبانو لپاره د دې قاعدې مثال هم راوړی،

یعني همدا عبارت مثال هم دی او ممثل له هم، وګوره! (الخبر) مبتداء ده او
(قديكون جملة) پوره جمله فعليه یې خبر دی او څرنګه چې د کمزوري ذهن
لرونکو طالبانو توجه دې طرفته نسوه کېدای، نو د هغوی لپاره یې دوه مثالونه
راوړي دي: (زيدٌ قائمٌ ابوهُ او زيدٌ قامَ ابوهُ).

دوهمه خبره: د فلابدّ من عائدٍ وضاحت:

کله چې دا خبره جوته سوه، چې خبر د جمله پرصورت راتلای سي، نو په (فلابدّ
من عائدٍ) سره د داسي خبر لپاره یو شرط بیانوي، چې په داسي صورت کي په
دغه جمله کي د یو داسي ضمیر کېدل ضروري دي، چې د مبتداء وطرفته راجع
وي او دا شرط یې ځکه ورسره لګولی، چې جمله من حيث الجملة یو مستقل کلام
وي، د دې له خپل ماقبل او مابعد سره هیڅ ربط او تړاو نه وي، لیکن دلته پوره
جمله خبر جوړه سوې ده او د مبتدا و خبر ترمینځ ربط و تړاو یو لازمي شی دی،
نو د دغه تعلق د پر ځای ساتلو لپاره موږ دا شرط ولګاوه، چې په دې کي یو
داسي عائد وي، چې د مبتداء وطرفته راجع وي، لکه په (زيدٌ ابوه قائمٌ) کي د
(ابوه) ضمیر د (زيدٌ) مبتداء وطرفته راجع دی (وهكذا فى زيدٌ قامَ ابوه).

①: یا خو به دا عائد د ضمیر په شکل وي، لکه په پورته دواړو مثالونو کي چې
تاسو ولیدل.

②: یا به د (الف لام) په شکل وی، لکه په (نعم الرّجل زيدٌ) کي (نعم الرجل)
پوره جمله فعليه خبر مقدم دی او (زيدٌ) مبتداء مؤخره ده، دلته په (الرجل) کي
همدا (الف لام) عائد دی د (زيدٌ) وطرفته.

③: کله د اسم ظاهر د ضمیر پر ځای په ښودلو له مبتداء سره ربط کېږي، لکه په
(الحاقة مالحاقة) کی (الحاقة) مبتداء ده او (مالحاقة) په اصل کي (الحاقة
ماهی) و، دا پوره جمله دده لپاره خبر دی، پر ځای یې (الحاقة) اسم ظاهر ښودل
سوی او د مبتداء وطرفته عائد بلل سوی دی.

④: کله کله دا عائد د مبتداء د تفسیر په شکل وي، لکه په (قل هو الله احد) کي
(هو) مبتداء مفسّر دی او (الله احد) پوره جمله خبر د ماقبل لپاره تفسیر دی، نو

کواکي چې دا پوره جمله تفسیریه عائد ده، د مبتداء وطرفته راجع ده، ځکه مفسَر او تفسیر لازم او ملزوم وي (فوُجِدالربط والعلاقة بینهما).

په (وقد یُحذف) سره مصنف رحمه الله را ښیي، چې خبر کله جمله وي، نو اصل خو دادي، چې پکې کوم عائد وي، چې د مبتداء وطرفته راجع وي، لیکن چیرې چې کومه قرینه وي، نو د دغه عائد حذفول هم جائز دي، لکه (السمن منوان بدرهم) په اصل کې (السمن منوان منه بدرهم) و او (البرّ الکرّ بستین درهمًا) په اصل کې (البرّ الکرّ منه بستین درهمًا) و، دلته دواړه ځایونه (منه) عائد ځکه حذف کړل سوی چې پلورونکي کله د غوړیو او غنمو د پلورلو اواز کوي، نو ورسره د قیمت نعره هم کوي، نو ښکاره خبره ده، چې قیمت د دغو غنمو او غوړیو ښودل دي، نو کله چې قرینه حالیه او مقالیه پر عائد دلالت کاوه، نو عائد (منه) یې له همدې وجې حذف کړ.

د جارومجرور متعلق او په هکله یې اختلاف

څلورمه خبره: د جار ومجرور متعلق او په هکله یې اختلاف:

(و ما وقع ظرفًا، فالاکثر علٰی انه مقدّر بجملة) په دې عبارت کې دا مسئله بیانوي، چې که چیرې خبر د جار ومجرور په شکل وي، یا د جمله ظرفیه په شکل وي، (هغه که د ظرف مکان په شکل وي، یا د زمان)، نو په دې دریو صورتونو کې د خبر متعلّق کېدل ضروري دي او هغه متعلّق به یا جمله (فعلیه) وي، یا به مفرد (یعني د مشتق) په صورت وي.

د بصریینو مذهب:

د بصریینو او د نحوي د اکثرو علماؤ مذهب دادی، چې متعلق هماغه محذوف فعل را ایستل کېږي، بیا هغه فعل سره له خپل فاعل پوره جمله جوړېږي.

د دوی دلیل دادی، چې د ظرف کوم متعلق وي، په حقیقت کې هماغه په دغه جار ومجرور او ظرف کې عامل وي او په عواملو کې فعل یو قوي قسم عامل دی، نو ځکه هماغه محذوف فعل را ایستل کېږي، لکه په (زیدٌ خلفکَ) کې (زیدٌ) مبتداء ده او (خلفکَ) ظرف مکان متعلق کېږي تر (استقرّ، یا ثبتَ) فعل پورې،

(استقرَّ، یا ثبتَ) فعل سره له خپل فاعل جمله فعلیه خبریه خبر جوړېږي د (زیدٌ) مبتداء لپاره، (زیدٌ) مبتداء سره له خپل خبر جمله اسمیه خبریه کېږي (و هکذا زیدٌ فی الدّار).

اوس د دې دواړو لپاره د عبارت تقدیر داسي کېږي: (زیدٌ استقرّ خلفکَ و زیدٌ استقرّ فی الدّار).

د کوفیینو مذهب:

د کوفیینو او ځیني نورو نحوي علماؤ مذهب دادی، چي د خبر لپاره متعلّق مفرد، یعني له اسماء مشتقه وو څخه را ایستل کېږي.

د دوی دلیل دادی، چي ظرف او جارو ومجرو کوم چی متعلّق جوړېږي، دا په اصل کي د خبر پر ځای واقع دي او د خبر لپاره اصل دادی، چي هغه به مفرد وي او مفرد په هغه صورت کي کېدای سي، چي د ده لپاره متعلّق شبه فعل یعني له اسماء مشتقه وو څخه کوم یو را وایستل سي، لکه چي د مخکي دواړو مثالونو تقدیر داسي کېږي: (زیدٌ مستقرٌّ خلفکَ و زیدٌ مستقِرٌّ فی الدّارِ).

ظرف لغو او ظرف مستقر

ظرف لغو او ظرف مستقر:

د ظرف متعلّق هغه که فعل وی، یا اسم (علیٰ اختلاف القولین) که چېري مذکور و، نو ورته ظرف لغو ویل کېږي، ځکه چي کله د ظرف تعلق له مخکني عامل مذکور سره وي، نو اوس عمل هماغه مذکور عامل کوي او ظرف له عمل کولو څخه لغوه او بېکاره کېږي.

او که چېري مذکور نه وي، نو ورته ظرف مستقر ویل کېږي، ځکه چی د ده متعلق هغه که اسم وی، یا فعل هغه چی کله حذف سي، نو د عامل ضمېر د ظرف و طرفته

منتقل کېږي او په ده کې استقرار پاتېږي، نو د دغه استقرار پاتې کېدو په وجه ورته ظرف مستقر ویل کېږي.

یو څلوېښتم (۴۱) درس

دمبتداء د تقدیم (مخکې کېدو) بیان

و اذا كان المبتدأ مشتملًا علىٰ ماله صدرالكلام، مثل: من ابوک؟ او كانا معرفتين، او متساويين، نحو: افضل منک افضل منى، او كان الخبر فعلًا له، مثل: زيدٌ قَامَ، وجبَ تقديمه.

ترجمه: کله چې مبتدا پرېو داسې معنا مشتمله وي، د کومې لپاره چې د کلام صدارت واجب وي، لکه: (من ابوک)، یا مبتداء او خبر دواړه معرفه وي، یا دواړه په تخصیص کې سره برابر وي، لکه (افضل منک افضل منى)، یا خبر د (مبتداء) فعل وي، لکه (زیدٌ قَامَ)، نو په داسې وخت کې د مبتداء پر خبر مخکې کول واجب دي.

تشریح: د نن په سبق کې له مبتداء سره د تړلې درېیمې مسئله او د هغه څلور مقامات بیانېږي:

له مبتداءسره تړلې درېیمه مسئله:

له مبتداء سره متعلق لومړی مسئله تېره سوه، چې (اصل المبتدأ التقديم)، هغه جوازي مسئله وه، یعنې د مبتداء پر خبل اصل پرېښودل هم جائز و، او د اصل پرېښودل ، د خبر مخکې کول هم جائز وه، اوس تر جواز ووسته داسې څلور اصول او مقامات بیانېږي، چېرې چې د مبتداء مخکې کول واجب دي.

دمبتداء د تقدیم لومړی مقام

(اذا كان المبتداء مشتملًا علىٰ ماله صدرالكلام) یعنی مبتداء داسې کلمه وي، چې د کلام صدارت (په پیل کې راتلل) غواړي، (من ابوک) دلته د مبتداء مخکې کېدل ځکه واجب دي، چې که چېرې مخکې نسي، نو (مَنْ) کوم چې د کلام صدارت غواړي، هغه صدارت یې ختم کېږي.

دا د امام سیبویه او دده د متبعینو مذهب دی، د ځیني نورو نحوي علماؤ په نزد (مَنْ) استفهامیه خبر مقدم دی او (ابوک) مبتداء مؤخره ده، ځکه چې (مَنْ) حرف استفهام دی او د ده په هکله لږ مخکي مصنف رحمه الله ویلي، چي (و اذا تضمن الخبر المفرد ما له صدرالکلام)، تر دې لاندې ناکت صاحب لیکي: چي (کالاستفهام) او بیا مخکي مصنف رحمه الله ویلي دي (وجب تقدیمه)، نو دلته هم (مَنْ) خبر مقدم دی، کوم چې په وجوبي توګه مقدم سوی دی.

فائده ①: شپږ شیان داسي دي، چي د کلام صدارت غواړي: شرط، قسم، تعجب، استفهام، نفي او لام ابتدائیه، کوم چې یوه شاعر په خپل شعر کي یو ځای کړي دي:

شش چیز بود مقتضی صدرکلام * درطبع فصیحان شده این نظم تمام
شرط، وقسم، وتعجب، واستفهام * نفی آمد ابتداء گشت تمام

او د ځیني حضراتو په نزد تمنیٰ او ترجیٰ هم له دوی سره شامل دي، نو د دوی په نزد ټوټل اته شیان کېږي.

فائده ②: د استفهام مثال خو مصنف رحمه الله لیکلی دی، د نورو مثالونو هم اتمامًا للفائدة ملاحظه وکړئ، مثلاً د شرط مثال (من یکرمنی فانا اکرمه)، د قسم مثال (لعمرک انهم لفی سکرتهم یعمهون)، د تعجب مثال (ما احسن زیدًا)، د نفي مثال (لازید فی الدار ولا عمروٌ)، او د لام ابتداء مثال (لزیدٌ منطلقٌ).

دوهم ځای:

او کانا معرفتین: د مبتداء دمخکي کېدو دوهم ځای دادی، چې مبتداء او خبر دواړه معرفه وي، د مبتدأ پر تعیېن کومه قرینه هم نه وی، لکه (الله خالقنا و رازقنا) او (القرآن کتابنا) وغیره.

په داسي ځای کي که چېري مبتداء مخکی نسي، نو د مبتداء او خبر تر مینځ التباس راځي او دا نه معلومېږي، چې کوم اسم مبتداء او کوم خبر دی، نو دا اصول وبنودل سول، چي په دوی کي کوم یو مخکي وي، هغه مبتداء جوړېږي.

خو چېري چي کومه قرينه موجوده وي، لکه چي يو څوک ووايي: (ابو يوسف ابوحنيفة)، نو په داسي ځای کي د خبر مخکي کېدل هم جائز دي، ځکه قرينه موجوده ده، چی دلته تشبيه ورکول سوې ده او تشبيه همېشه د ادنیٰ له اعلیٰ سره کېږي، نه چی د دې پر عکس وي، نو د (ابويوسف ابوحنيفه) معنی دا کېږي: چي امام ابويوسف رحمه الله په علم او عمل کي د امام ابوحنيفه رحمه الله په څېر دی، لېکن د دې پر عکس نسي کېدای.

درېيم مقام:

او متساويين: درېيم ځای دادی، چی چېري مبتداء او خبر دواړه نکره مخصوصه وي او د تخصيص په مقدار کي هم دواړه بلکل سره برابر وي، نو هلته هم د التباس له وېري لومړی مبتداء جوړېږي، لکه (افضل منک افضل منی) وګورئ دلته دواړه ځايونه (افضل) صيغه د اسم تفضيل نکره ده او بيا د دواړو تخصيص د (مِن) په ذرېعه د ضمائر طرفته برابر سوی دی، نو دلته هم لومړی مبتداء جوړېږي.

څلورم مقام:

او کان الخبر فعلًا له: څلورم ځای دادی، چي خبر جمله فعليه وي، لکه (زَيدٌ قَامَ) او (عمرٌو کتبَ)، دلته که چېري مبتداء مخکي نسي، نو التباس لازمېږي، چي (زيد او عمرٌو) مبتداء دي، که د (قَامَ او کتبَ) لپاره فاعل دي.

دوه څلوېښتم (۴۲) درس
د خبر د تقديم او تعدد بيان

و اذا تضمن الخبر المفرد ماله صدرالکلام مثل اين زيدٌ؟ او کان مصحّحًا له، مثل: فی الدار رجلٌ او لمتعلّقه ضميرٌ فی المبتداء مثل: علی التمرة مثلها زبدًا، او کان

خبرًا عن (أنّ)، مثل: عندی أنّکَ قائمٌ، وحبّ تقدیمه و قد یتعدّد الخبر، مثل : زیدٌ عالمٌ عاقلٌ.

ترجمه: او کله چي مفرد خبر داسي کلمې ته متضمن وي، کومې ته چي د کلام صدارت حاصل وي، لکه (این زیدٌ؟)، یا هغه د خبر تصحیح کوونکي وي، لکه (فی الدار رجلٌ)، یا د ده دمتعلق لپاره په مبتداء کي کوم ضمیر راغلی وي، لکه (علی التمرة مثلها زبدًا)، یا هغه د (أنّ) له اسم او خبر څخه جوړ سوی وي، لکه (عندی أنّکَ قائمٌ) نو په دې څلورو ځایونو کي د خبر پر مبتداء مخکي کول واجب دي او کله کله د یوې مبتداء څو خبرونه هم راځي، لکه (زیدٌ عالمٌ عاقلٌ).

تشریح: د نن په سبق کي صرف دوې خبرې دي:

①: د خبر په اړه درېیمه مسئله یعنی د خبر تقدیم، ②: د خبر په اړه څلورمه مسئله یعنی د خبر تعدد (شمېر).

لومړی خبره: د خبر په اړه دوهمه مسئله (د خبر مخکي کېدل):

د خبر متعلق خو اصل خبره داده، چي هغه تر مبتداء وروسته راغلی وي، لېکن کله، کله د یو عارض له وجې مخکي کېږي، د کوم په وجه چي خبر مخکي راوړل کېږي، داسي ځایونه ټوټل څلور دي:

دخبر دمخکي کېدولومړی مقام

د خبر د مخکي کېدو لومړی مقام:

و اذا تضمن الخبر المفرد ماله صدرالکلام یعني خبر د داسي مفرد په صورت وي، چي د کلام صدارت غواړي، لکه حروف استفهام، مثلا (این زیدٌ؟)، نو په داسي حال کي د خبر مقدم کول واجب دي، که یې مخکی نکړي، نو د حروف استفهام (کوم چي د کلام صدارت غواړي) د هغوی صدارت له مینځه ځي.

دلته مصنف رحمه الله (الخبر) په (المفرد) مقید کړی دی، دا ځکه چي که چېري خبر د جمله استفهامیه په شکل وي، نو هلته خبر نه مخکي کېږي، بلکی صرف حرف استفهام پر خپل مدخول مخکي کېږي، لکه (زیدٌ منْ ابوه؟).

دوهم مقام:

او كان مصححًا له: د خبر د تقديم دوهم ځاى دادى، چې چېرې د خبر مقدم كېدل پخپله د مبتداء لپاره تصحيح كوونكى وي او له كبله يې د مبتداء صحيح كېدل معلومېږي، مطلب دا چې پر كوم ځاى د (تقديم ماحقه التأخير) په وجه نكره مبتداء سوى وي، هلته كه چېرې خبر مقدم نكړل سي، نو (تقديم ماحقه التأخير) ختمېږي او د تقديم ماحقه التأخير د ختم كېدو په وجه په نكره كي پيدا سوى تخصيص ختمېږي او د هغه په وجه دده مبتداء كېدل هم ختمېږي، نو دا خبره لازمي وګڼل سوه، چې په داسي ځاى كي خبر مقدم كول واجب دي، لكه (فى الدار رجلٌ).

خلاصه دا چې چيرې د (تقديم ماحقه التأخير) په وجه خبر مقدم سوى وي، د هغه پر خپل حال پرېښودل واجب دي، كه نه نو مذكوره خرابي لازمېږي.

درېيم مقام:

او لمتعلقه ضميرٌ فى المبتداء: درېيم ځاى چېرې چې د خبر مقدم كول واجب دي، هغه دا چې به مبتداء كى د خبر د متعلق لپاره كوم ضمير راغلى وي، لكه (على التمرة مثلها زبدًا)، لومړى د دې تركيب ته غوږ سئ:

(على ا لتمرة مثلها زبدًا) (على التمرة) جار مجرور متعلق دي تر (كائنٌ، يا حاصلٌ) پوري، (حاصلٌ) صيغه د اسم فاعل سره له خپل فاعل او متعلق شبه جمله، خبر مقدم جوړېږي، (مثلُ) مضاف (ها) ضمير كوم چې (التمرة) ته راجع دى دا مضاف اليه، مضاف سره له مضاف اليه مميّز (زبدٌ) تمييز، مميز سره له تمييزه مبتداء مؤخره، خبر مقدم سره له مبتداء مؤخرې جمله اسميه خبريه سوه.

وګورئ! (مثلها زبدًا) دلته مبتداء مؤخره ده، په دې كي د (ها) ضمير مرجع (تمرة) ده، كوم چي له (على) حرف جر سره متعلق تر (حاصلٌ) پوري خبر جوړېږي.

دلته كه چېرې خبر مقدم نه كړل سي، او داسي وويل سي (مثلها زبدًا على التمرة)، نو په (مثلها) كي اضمار قبل الذكر لفظًا او رتبةً دواړه لازمېږي، كوم چې ناجائز دى، ځكه نو دلته هم لازمي وبلل سوه، چې د خبر مقدم كول واجب دي.

څلورم مقام:

او کان خبرًا عن أنّ: څلورم ځای دادی چي خبر د داسي مبتداء وي، کومه چي د (أنّ) له اسم او خبر څخه جوړه سوې وي، لکه (عندی أنکَ قائمٌ) دلته (عندی) مضاف سره له مضاف الیه خبر مقدم دی، (أنّ) حرف دی له حروف مشبه بالفعل څخه، (ک) ضمیر یې اسم او (قائم) یې خبر، (أنّ) حرف له حروف مشبه بالفعل سره له خپل اسم او خبر په تاویل د مفرد مبتداء مؤخره، خبر مقدم سره له مبتداء مؤخر جمله اسمیه خبریه جوړېږي.

وګورئ! دلته (عندی) د داسي مبتداء خبر دی، کوم چي د (أنّ) له اسم او خبر څخه جوړه سوې ده، په داسي ځای کي د خبر مقدم کول ځکه ضروري دي، چي که مقدم نه کړل سي، نو د عبارت تقدیر داسي کېږي (أنکَ قائمٌ عندی) په دې کی یوه خرابي خو دا لازمېږي، چي (أنّ) په (إنّ) بدلېدل لازمېږي، ځکه د کلام په ابتداء کي (انّ) راځي، نه چی (أنّ)، دوهمه خرابي دا لازمېږي، چي د خفیف کلام ثقیل کېدل لازمېږي، ځکه چی د (أنّ) په نسبت (إنّ) ثقیل وي.

درېیمه معنوي خرابی دا لازمېږي، چي د (أنّ) په صورت کي د ده په معنا کی تعمیم وي، ځکه چي د (عندی أنک قائم) معنی داسي ده: ماته ستا ولاړېدل معلوم دي (هغه چي چېري هم ولاړ وي) او د (إنک قائمٌ عندی) معنا داسي کېږي: په یقیني ډول ته له ما سره ولاړ یې، وګوره د عموم معنی په خصوصیت واوښته.

دوهمه خبره: د خبر متعلق درېیمه مسئله (د خبر تعدد):

(وقد یتعدّدالخبر) په دې عبارت کي د مبتدا او خبر دواړو متعلق یوه مشترکه مسئله بیانېږي، هغه دا چي د یوې مبتداء لپاره څو خبرونه راوړل کېدای سي، لکه د الله ﷻ مبارکه وینا (الرحمـــن، علم القرآن، خلق الانسان، علمه البیان) وګوره! دلته مبتداء یوه ده او خبرونه درې راوړل سوي دي او مصنف رحمه الله د دې لپاره مثال بیان کړی دی (زیدٌ عالمٌ عاقلٌ).

د یوې مبتداء لپاره د څو خبرونو د جائز کېدو وجه داده، چي مبتداء د ذات په درجه کي وي او خبر د صفت په درجه کي وي او دا ښکاره خبره ده، چي د یوه ذات څو صفات کېدای سي.

دري څلوېښتم (۴۳) درس

پر خبر د فاء د داخلېدو جواز او عدم جواز

و قد يتضمن المبتداء معنى الشّرط فيصح دخول الفاء في الخبر، و ذالک الاسم الموصول بفعلٍ او ظرفٍ او النكرة الموصوفة بهما، مثل الذى يأتينى او فى الدار فله درهمٌ و كل رجل يأتينى او فى الدار فله درهمٌ و (لیت ولعلّ) مانعان بالاتفاق، والحق بعضهم (انّ) بهما.

ترجمه: او ډېرى وختونه مبتداء د شرط معنى ته متضمن وي، نو جائز کېږي دې پر خبر د (فا) داخلېدل او هغه دا چي مبتداء داسي موصول وی، چي په صله کی يې کوم فعل وي، يا اسم ظرف وي، يا هغه مبتداء د اسي اسم نکره وي، کوم چي په هغو دواړو (فعل او ظرف) سره موصوف وي، لکه (الذى يأتينى او فى الدار فله درهمٌ و كل رجل يأتينى او فى الدار فله درهمٌ) او پر خبر د (فاء) له داخلېدو څخه منع کوونکی دی (لیت او لعلّ) په اتفاق د علماء نحوي او ځيني علماء نحو (امام سيبويه) له هغو دواړو سره (انّ) هم يو ځای کړی دی.

تشريح: د نن په سبق کي هم صرف دوې خبرې دي:

①: پر خبر د فاء د داخلېدو څلور ځايونه، ②: پر خبر د فاء د داخلېدو د عدم جواز دوه ځايونه، له دوو خبرو څخه د خبر متعلق په پنځو مسئلو سره تعبير سوی دی.

د خبر متعلق څلورمه مسئله:

ويل سوي دي: چي کله مبتداء د شرط معنیٰ ته متضمن وي، يعني مبتداء د شرط او سبب په درجه کي وي او خبر د مشروط او مسبب په درجه کي وی، نو څرنګه چي پر جزاء (فاء) داخلېږی، نو دا راز پر خبر هم له جزاء سره د مشابهت په وجه د (فاء) داخلېدل جائز سو.

د کافيه ملاصاحب رَحِمَهُ اللّٰه د ابتداء لپاره دوه صورتونه جوړ کړيدي، بيا يې په دوی کي د هريوه لپاره دوه دوه صورتونه جوړ کړي دي، نو هغه صورتونه چيري چي پر خبر (فاء) راوړل جائزدي ټوټل څلور صورتونه دي.

ابتداءً دوه صورتونه دادي، چي هغه مبتداء يا خو د اسم موصول په شكل وي، يا د اسم نكره موصوفه په شكل وي.
د اسم موصول په شكل چي وي، نو د هغه هم دوه صورتونه جوړيږي، لومړی صورت دادی، چي (وذالک الاسم الموصول بفعلٍ) يعني مبتداء اسم موصول وي او تر دې وروسته صله د جمله فعليه په شكل وي، لكه (الذی يأتينی فله درهمٌ).
دوهم صورت دادی، چي مبتداء داسم موصول په شكل وي او د ده صله ظرف وي، لكه: (الذی فی الدار فله درهمٌ).
او چي د اسم نكره موصوفه په شكل وي، نو د ده هم دوه صورتونه جوړيږي، د دې لپاره مصنف رَحَمُهُ اللّٰهُ په (اوالنكرة الموصوفة بهما) عبارت راوړلو اشاره كړې ده.
لومړی صورت دا جوړيږي، چي مبتداء اسم نكره موصوفه او صفت د جمله فعليه په صورت وي، لكه (كل رجل يأتينی فله درهمٌ).
او دوهم صورت دای، چی مبتداء داسم نكره موصوفه په شكل وي او صفت د اسم ظرف په شكل وي، لكه (كل رجل فی الدار فله درهمٌ).
نو دا هغه څلور صورتونه دي، چيری چي د مبتداء پر خبر (فاء) راوړل جائز دي.
دوهمه خبره د فاء د داخليدو موانع:
(و ليت و لعلّ مانعان بالاتفاق) مصنف رَحَمُهُ اللّٰهُ د فاء د داخليدو موانع بيانوي، وايې: كه چيري داسي مبتداء وي، چي پر خبر يې (فاء) راغلي وي، كله چي له (ليت او لعلّ) څخه كوم يو پر داخل سي، نو بيا پر دغه خبر د فاء داخليدل منع دي، وجه يې داده، چي مبتداء او خبر جمله خبريه جوړيږي او شرط و جزاء هم جمله خبريه جوړيږي، نو د دوی دواړو تر مينځ دا مشابهت پيداكيږي، نو كله چي پر شرط (فاء) داخله وي، نو پر خبر هم داخليږي، ليكن كله چي پر دغه خبر له (ليت او لعلّ) څخه يو داخل سي، نو دا جمله انشائيه جوړيږي، د كومې چي له شرط سره هيڅ مشابهت نه پاتيږي، ځكه شرط او جزاء د شرط جمله خبريه جوړيږي او

د (لیت و لعلّ) مدخول جمله انشائیه وي، نو (فاء) پر داخلېدل هم منع دي، لکه (لعلّ الذی فی الدار له درهمٌ) او (لیت الذی فی الدار فله درهم).
فائده: افعال ناقصه او افعال قلوب هم پر خبر د (فاء) له دخول څخه بالاتفاق مانع دي، لیکن مصنف رحمه الله صرف (لیت او لعلّ) ذکر کړي دي، وجه یې داده، چي افعال قلوب او افعال ناقصه خو ټوټل بالاتفاق مانع دي او مانع کېدل یې مشهور دي او کوم شی چي مشهور وي، د هغه ذکر کولو ته اړتیا نه پاتېږي، ځکه یې نو دلته هم ذکر نکړل.
پاتې سو (لیت او لعلّ) کوم چي له حروف مشبه بالفعل څخه دي، نو حروف مشبه بالفعل ټول مانع نه دي، بلکي له دوی څخه په (لیت او لعل) کي خو د علماء نحو اتفاق دی، د کوم طرفته چي د کتاب مصنف رحمه الله په (ولیت ولعلّ مانعان بالاتفاق) سره اشاره کړې ده.
او د (اِنّ) په هکله اختلاف دی، د ځینو په نزد دا هم د (لیت او لعلّ) په څېر مانع ده، د کوم طرفته چي مصنف رحمه الله په (والحق بعضهم انّ بهما) سره اشاره کړې ده، ځیني علماء نحو مثلا (امام سیبویه او دده متبعین (اِنّ) هم له (لیت او لعلّ) سره شامله کړې او مانع یې ګڼلې ده، لیکن سمه خبره داده، چي دا مانع نه ده، ځکه په قرآنکریم کي (چي افصح الکتب) دی د دې پر خبر (فاء) داخله سوې ده، لکه د الله جل جلاله په مبارکه وینا (انّ الذین فتنوا المؤمنین والمؤمنات ثم لم یتوبوا فلهم عذاب جهنم) کي پر (فلهم) فاء داخله ده او دوهم ځای د الله جل جلاله په وینا (اِنّ الذین کفروا وماتوا وهم کفار فلن یقبل من أحدهم ملء الارض ذهبًا) کي پر (فلن یقبل) فاء داخله ده.
دا راز د (أنّ او لکنّ) پر خبرونو هم (فاء) داخلېږي، لکه چي د الله جل جلاله وینا ده (واعلموا انما غنمتم من شئ فان لله خُمُسه) او یو شاعر وایي:

فوالله ما فارقتکم قالیًا لکم * ولکنّ ما یُقضیٰ فسوف یکون

په دې کي وګورئ! پر (فسوف یکون) فاء داخله سوې ده، نو دا خبره متعین سوه، د دخول الفاء علی الخبر لپاره مانع صرف (لیت او لعلّ) دي، ځکه یې نو دوی ذکر کړل او افعال ناقصه او افعال قلوب یې پرېښودل.

څلور څلوېښتم (۴۴) درس
د مبتداء او خبر د حذف بیان

و قد یحذف المبتداء لقیام قرینة جوازًا، کقول المستهلّ: الهلال واللّٰه، والخبر جوازًا، مثل: خرجتُ فاذالسبع، و وجوبًا فیما التزم فی موضعه غیره، مثل: لولا زیدٌ لکان کذا، ومثل: ضربی زیدًا قائمًا وکل رجلٍ وضیعته، ولعمرک لأفعلنَّ کذا.

ترجمه: او کله کله مبتداء د کومې قرینه له وجې حذف کېږي، لکه د سپوږمۍ د لیدونکي ویل: الهلال واللّٰه او دا راز کله کله خبر هم په جوازي ډول حذف کېږي، لکه (خرجتُ فاذا السبع) او په داسي ځای کی، چیري چي له ده پرته کوم بل شی راغلی وي، نو هلته خبر په وجوبي توګه حذف کېږي، لکه (لولا زیدٌ لکان کذا و مثل: ضربی زیدًا قائمًا و کل رجلٍ وضیعته، ولعمرلافعلنّ کذا).

تشریح: تر دې ځایه پوري خو د مبتداء او خبر هغه حکمونه او مسائل ذکر سوه، کومو چي له ذکر کېدو سره تړاو درلود، اوس مصنف رحمه الله هغه حکمونه او مسئلې بیانوي، په کومو کی چي مبتداء او خبر ذکر سوي نه وي، بلکي حذف سوي وي، نو په پورتني عبارت کي مصنف رحمه الله درې مسئلې بیان کړې دي:
①: د مبتداء متعلق پنځمه مسئله: د مبتداء حذف جوازًا، ②: له خبر سره تړلې څلورمه مسئله: د خبر حذف جوازًا، ③: له خبر سره تړلې پنځمه مسئله: د خبر حذف جوبًا.

لومړی خبره: د مبتداء متعلق پنځمه مسئله: د مبتداء په جوازي ډول حذفول:
څرنګه چي مخکي هم دا خبره تېره سوه، چي (قد) چي کله پر مضارع داخل سي، نو دا خبره څیني معلومېږي، چي اوس چي کومه مسئله بیانېږي، دا اصل نه ده، بلکی خلاف الاصل ده، فقط یې بیان د جواز لپاره ذکر کېږي.
نو د کافیه د ملاصاحب رحمه الله د عبارت (و قد یحذف المبتداء لقیام قرینة جوازًا) مطلب هم همدا دی، چي کله کله د خلاف الاصل په طریقه مبتداء حذف کېږي، په دې شرط چي پر حذف کېدو یې کومه قرینه وي، مثلًا د میاشتې د لیدلو لپاره خلک په ډېر جوش او غور را ټول سوې وي، نو په دوې کي یو ناڅاپه میاشت

ویني، نو په داسي ځای کي لیدونکی په ډېر زور او شور صرف دا ووایي: (الهلال والله) دا په اصل کي (هذا الهلال والله) و، یعنی وګورئ! هغه میاشت په نظر راغله.

دلته د مبتداء پر حذف کېدو قرینه حالیه سته، ځکه چي د خلګو د میاشتي طرفته کتل او د هغې طرفته د سرونو پورته کول پخپله د میاشتي وطرفته پر اشاره کولو دلالت کوي، نو ځکه تر دې مخکي د اسم اشاره (یعنی مبتداء) په لفظ کي د ذکر کولو ضرورت پاتې نه سو، ځکه اسم اشاره د مخاطب د مشارالیه وطرفته د توجه کولو لپاره راځي او دلته خلګ له مخکي لا متوجه دي.

دوهمه خبره: له خبر سره تړلې پنځمه مسئله (د خبر په جوازي ډول حذفول):

(والخبر جوازًا) د خبر په اړه پنځمه مسئله بیانېږي، چي کله کله خبر هم په جوازي ډول حذف کېږي، په دې شرطو چي د خبر قائمقام کوم بل شی نه وي، که داسي نه وي، نو په داسي صورت کي یې حذفول واجب دي (کما سیأتی قریبًا)، لکه (خرجتُ فاذا السبع)، دلته (السبع) مبتداء او (واقفٌ) خبر یې حذف سوی دی.

قرینه دلته داده، چي (اذا) مفاجاتیه پر پوره جمله اسمیه داخلېږي، حال دا چي دلته پر جمله نه بلکي صرف پر اسم مفرد داخل سوی دی، نو معلومه سوه، چي دلته د ده خبر محذوف دی، نو ګواکي چي قرینه دلته د (اذا) مفاجاتیه (ناڅاپي) قاعده ده.

د خبر په اړه شلورمه مسئله (په وجوبي ډول خذفول)

درېیمه خبره: د خبر په اړه شلورمه مسئله (په وجوبي ډول حذفول):

(و وجوبًا فیما التزم فی موضعه غیره) د خبر په اړه شلورمه مسئله بیانېږي، چي خبر په شلورو ځایونو کي په وجوبي ډول حذف کېږي:

د وجوبي حذف لومړی مقام:

لولا زیدٌ لکان کذا: یعنی د هغه مبتداء خبر حذفول واجب دی، کومه مبتداء چي تر (لولا) وروسته راغلې وي، لکه (لولا زیدٌ لکان کذا) دلته (موجودٌ) خبر دی، کوم چي حذف سوی دی او (لکان کذا یا لهلک عمر) یعنی جواب (لولا) یې پر ځای دربدلی دی.

قرینه دلته د (لولا) قاعده ده، یعني څرنګه چي موږ په نحومیر کي ویلي وه، چي (لولا) د انتفاء ثاني لپاره راځي په وجه د وجود د اول.

دلته وګورئ! د عمر هلاکت منتفي دی، یعني هغه هلاک نسو د زید د موجود کېدو په برکت سره، نو ګواکي چي (لولا) پخپله او د عمر نه هلاکېدلو د زید پر موجود کېدو دلالت کړی دی او دوهمه خبره دا هم ده، چي دلته د خبر قائم مقام یعني د (لولا) جواب هم موجود دی.

فائده: دا قاعده صرف د هغه خبر لپاره ده، کوم چي له افعال عامه (یعني کون، وجود، ثبوت، حصول، استقرار او تلبث) څخه کوم یو وي، که له هغو پرته له نورو افعالو څخه وي، نو هغه نه حذف کېږي، لکه چي په حدیث شریف کي رسول الله ﷺ عائشه صدیقه رضي الله عنها ته وویل: (لولا قومک حدیثو عهد بالاسلام لأسست الکعبة علیٰ قواعد ابراهیم علیه السلام).

دا راز د امام شافعي رحمه الله اشعار هم دي:

ولو خشیة الرحمـــن عندی * جعلت الناس کلهم عبید

ولولا الشعر بالعلماء یزری * لکنت الیوم اشعر من لبید

وګوره! په حدیث شریف کي تر (لولا قومک) وروسته (حدیثو عهد بالاسلام) او په شعر کي (یزری او بعدی) درې سره ځایونه خبر جوړسوي دي او درې سره ځایونه د (لولا) په جواب کي واقع سوي دي، لیکن له افعال عامه څخه نه دي، ځکه نو هیڅ سوال نه پر کېږي، چي دلته ولې خبر حذف سوی نه دی.

د خبر په وجوبي ډول د حذف کېدو دوهم مقام:

ومثل: ضربی زیدًا قائمًا دلته د خبر د وجوبی حذف دوهم مقام بیانېږي، هغه دا چي چېري مبتداء د مصدر حقیقي، یا تاویلي په صورت وي، او د دغه مصدر اضافت له خپل فاعل، یا مفعول څخه یوه یا دواړو ته سوی وي، او تر ده وروسته په فاعل او مفعول کي له یوه، یا دواړو څخه حال واقع وي، یا دا چي مبتداء د صیغه اسم تفضیل په شکل وي او اضافت یې د مصدر حقیقي، یا تاویلي وطرفته سوی وي، یا د دغه مصدر اضافت د خپل فاعل، یا مفعول وطرفته سوی وي، یا د دواړو وطرفته سوی وي (چي په دې حساب سره په اجمالي توګه (۱۲)

او په تفصيلي توګه (۳۶) صورتونه جوړېږي، د تفصيل لپاره د کافيه تقرير ص: ۱۲۷او ۱۲۸ وګورئ.

نو په دغو ټولو صورتونو کي ظرف د خبر پر ځای درېږي، پخپله خبر حذفول واجب دي، يا د حال د ظرف پر ځای ددرېدو له وجې پخپله ظرف هم حذفول واجب دي، د مثال په توګه (ضربی زيدًا قائمًا) دا په اصل کي (ضربی زيدًا حاصلٌ اذا کان قائمًا) و، ترکيب يې په لاندي ډول دی:

ترکيب: (ضربی) مصدر مضاف د خپل فاعل و طرفته، (ی) ضمير د متکلم مضاف اليه، مضاف سره له خپل مضاف اليه مبتداء (زيدًا) مفعول به، (اذا) ظرفيه، (کان) فعل تام، پکي (هو) ضميرذوالحال، (قائمًا) صيغه داسم فاعل، (هو)ضميريې فاعل، اسم فاعل سره له خپل فاعل شبه جمله حال، ذوالحال سره له خپل حال د (کان) فعل تام لپاره فاعل (کان) فعل سره له خپل فاعل مظروف (اذا) ظرفيه سره له خپل مظروف متعلق سو تر (حاصلٌ) صيغه اسم فاعل پوري، پکي (هو) ضميريې فاعل، اسم فاعل سره له خپل فاعل او متعلق شبه جمله خبر سو د مبتداء لپاره، مبتداء سره له خبره جمله اسميه خبريه سوه.

غور وکړئ! دلته (حاصلٌ) کوم چي خبر دی حذف سوی (ذا کان) ظرف يې پر ځای درېدلی، نو جمله دا سي جوړه سوې (ضربی زيدًا اذا کان قائمًا)، بيا (ذا کان) ظرف هم حذف سوه، حال (قائمًا) يې پر ځای ودرېد، نو (ضربی زيدًا قائمًا) سو، ځکه نو مصنف رحمة الله عليه همدا مثال ليکلی دی.

يو سوال او جواب يې:

سوال: (اذا کانَ) ظرف ولي د (حاصلٌ) قائم مقام جوړ سوی دی، د دوی دواړو ترمينځ مناسبت څه دی؟

جواب: چي (ذا کان) ظرف دی اود ظرف او جار ومجرور متعلق موږ مخکي ويلی دی، چي دا دواړه د خپل ځان لپاره متعلق هرومرو غواړي او هغه متعلق به يافعل وي، يا به شبه فعل وي، نو په دغه جمله کي همدا (حاصلٌ) شبه فعل و، لهذا موږ فکر وکړ، چي ظرف خو د خپل ځان لپاره متعلق ضرور غواړی، هغه که په لفظ کي وي، که نه، همدا ظرف پخپله د هغه پر موجودګی دلالت کوي او د

هغه له طرفه ګواکي چې د ترجمان کار کوي، نو له همدې وجې هماغه متعلق، کوم چې خبر و هغه حذف سو، ظرف کوم چې د ده متعلق دی موږ د ده قائم مقام جوړ کړ، بیا دا ظرف هم حذف کړل سو، حال یې پر ځای قائم مقام جوړ سو، ځکه چې د ظرف او حال په معنا کي څه ناڅه اشتراک او مشابهت سته، مثلاً د (لقيتُ زيدًا راكبًا) معنیٰ موږ داسي کوو (لقيتُ زيدًا فی زمان ركوبه).

دا خو د مصدر حقیقي مثال و، د کوم چې اضافت د فاعل او مفعول دواړو وطرفته سوی و او (قائمًا) حال و د مفعول، د کوم چي بیان الحمدلله په پوره تفصیل زموږ په وړاندي تېر سو.

او مصدر حقیقي کوم چې د فاعل طرفته مضاف وي او تر ده وروسته حال هم له دغه فاعل څخه واقع سوی وي، نو د هغه مثال دادی: (ذهابی راجلًا)، دا راز د مصدر تاویلي مثال (ان ذهبتُ راجلًا) دا مضاف دی د فاعل وطرفته او حال هم له فاعل څخه واقع سوی دی، دا راز د اسم تفضیل مثال (اكثر شربی السويق ملتوتًا) په دې کي اسم تفضیل مضاف دی د مصدر حقیقي وطرفته او هغه مضاف دی د خپل فاعل وطرفته او حال واقع سوی دی له مفعول څخه او په (اكثر ان ذهبتُ راجلًا) کي اسم تفضیل مضاف دی د مصدر تاویلی وطرفته او هغه مضاف دی دخپل فاعل وطرفته او حال واقع سوی دی له فاعل څخه (وقس عليها الامثلة الاخرىٰ).

د خبر په وجوبي ډول د حذف کېدو درېیم مقام:

و كل رجلٍ وضيعته: د دې مثال په ذریعه د خبر د حذف په وجوبي ډول درېیم مقام بیانېږي، هغه دا چي هر هغه مبتداء د کومې په خبر کي چي د مقارنت معنا وي او پر هغه د داسي (واو) په ذریعه عطف سوی وي، کوم چي د (مع) په معنا وي او هغه واو په معنا د مع د دغې مبتداء پر خبر دلالت کوي، نو د داسي خبر حذفول واجب دي، لکه: (كل رجل وضيعته)، دا په اصل کی (كل رجل مقرون مع ضيعته) و، نو (مقرونٌ) کوم چي خبر دی هغه حذف کړل سو (ضيعته) یې قائم مقام سو، پر حذف یې قرینه داده، چي په (ضيعته) کي (واو) په معنی د (مع) دی، نو د عبارت تقدیر داسي کېږي (مع ضيعته) مضاف سره له مضاف الیه

ظرف جوړېږي او ظرف متعلق غواړي، حال دا چي مخکي داسي کومه کلمه نه وه چي موږ ترظرف پوري متعلق کړي وای، نو مجبوره سو چي (مقرونٌ)، یا (مقترنٌ) محذوف را وباسو، د ظرف لپاره یې متعلق جوړ کړو.

دوهمه طریقه دا هم ده، چي محذوف عبارت داسي کېږي: (کل رجل وضیعته مقرونان یا مقترنان)، په دې صورت کي (کل رجلٍ) مضاف سره له مضاف الیه معطوف علیه جوړېږي، (واو) په معنی د (مع) عاطفه جوړېږي، (ضیعته) مضاف سره له مضاف الیه معطوف، معطوف علیه سره له خپل معطوف مبتداء او (مقرونان، یا مقترنان) یې خبر جوړېږي، په دې صورت کي ترجمه داسي کېږي: (هر سړی او ده کسب په خپلو کي سره یو ځای کېږي)، نو (مقترنان) حذف کړل سو، (وضیعته) یې پر ځای ودرېد.

د خبر په وجوبي ډول د حذف کېدو څلورم مقام:

لعمرک لأفعلنّ کذا: د دې مثال په ذریعه د خبر په وجوبي ډول د حذف کېدو څلورم او اخیري مقام را ښیي، نو وایي: هر هغه ځای چیري چي مقسم به مبتداء جوړ سوی وي، نو د دغې مبتداء خبر په وجوبي ډول حذف کېږي د قسم جواب یې پر ځای درېږي، لکه (لعمرک لأفعلنّ کذا) دا په اصل کي (لعمرک قسمي لأفعلنّ کذا) وو، (لافعلنّ کذا) د قسم جواب یې قائم مقام سو، پخپله (قسمي) حذف کړل سو.

دلته قرینه پر حذف د (لعمرک) (لام) ده، کومه چي دلالت کوي پر قسم، خلاصه دا چي د خبر پر محذوف کېدو قائم مقام او قرینه دواړه موجود دي، قائم مقام جواب د قسم دی او قرینه د (لعمرک) (لام) دی.

الحمدلله له (۳۹م) درس څخه تر دې ځایه پوري په پنځو درسونو کي له مبتداء او خبر څخه له هریوه سره متعلق پنځه، پنځه اهمي مسئلې ذکر کړل سوي، دا په ښه توګه په ذهن کي ونیسئ.

پنځه څلوېښتم (۴۵) درس

دإنّ اودانّ داخواتو بیان

خبر اِنَّ و أخواتها: هوالمسند بعد دخول هذه الحروف، مثل: انَّ زیدًا قائمٌ و امره کأمر خبرالمبتداء الا فی تقدیمه، الّا اذا کان ظرفًا.

ترجمه: له مرفوعاتو څخه د (انَّ) او د ده د اخواتو خبرهم دي، هغه د دغوحروفو تر داخلېدو وروسته مسند وي، لکه: (اِنَّ زیدًا قائمٌ) او د دې معامله او مسائل د مبتداء د خبر د مسائلو په څېر د ه، مګر دا چې دوی د ان پر اسم مقدم کېدای نسي، پرته له هغه چې هغه خبر د ظرف په صورت وي.

تشریح: د نن په سبق کې درې خبرې دي:

①: د حروف مشبه بالفعل تعرېف، ②: په تعرېف کې د قیدونو فائدې، ③: د حروف مشبه بالفعل له خبر سره تړلو څو مهمو مسئلو ته اشاره.

حروف مشبه بالفعل او د تسمیه وجه یې

لومړۍ خبره: حروف مشبه بالفعل او د تسمیه وجه یې:

په (خبر انَّ و اخواتها) سره د مرفوعاتو پنځم قسم یعني د حروف مشبه بالفعل خبر بیانوي او حروف مشبه بالفعل ټوټل شپږ دي، کوم چې شاعر په خپل یوه شعر کې جمع کړي دي:

اِنَّ بـــا آنَّ لـــکنَّ لیـــت لعـــلَّ
ناصب اسمند و رافع درخبرضد ماولا

دغو حروف مشبه بالفعل ته ځکه مشبه بالفعل وایې، چې دوی له فعل سره په څو وجو مشابهت لري: ①: وضعًا، ②: وزنًا، ③: معنًا، ④: عملًا.

د وضع په اعتبار مشابهت یې په دې ډول دی، چې څرنګه په افعالو کې ځیني ثلاثي وي او ځیني رباعي وي، دا راز په دې حروفو کې هم ځیني ثلاثي او ځیني رباعي وي، مثلا: اِنَّ، أنَّ، لیتَ) ثلاثي دي او (کأنَّ، لکنَّ، لعَلَّ) رباعي دي.

د وزن په اعتبار مشابهت یې په دې ډول دی: چې په دوی کې هر حرف په اصولي ډول د یو نه یوه فعل پر وزن راغلی دی، لکه (انَّ) پر وزن د (ضارِبْنَ)، (لعلَّ)

خبر اِنَّ و اخواتها: هوالمسند بعد دخول هذه الحروف، مثل: انّ زيدًا قائمٌ و امره كامر خبرالمبتداء الا فى تقديمه، الّا اذا كان ظرفًا.

ترجمه: له مرفوعاتو څخه د (انّ) او د ده د اخواتو خبر هم دي، هغه د دغو حروفو تر داخلېدو وروسته مسند وي، لکه: (اِنّ زيدًا قائمٌ) او د دې معامله او مسائل د مبتداء د خبر د مسائلو په څېر ده، مګر دا چي دوی د ان پر اسم مقدم کېدای نسي، پرته له هغه چي هغه خبر د ظرف په صورت وي.

تشريح: د نن په سبق کي درې خبرې دي:

①: د حروف مشبه بالفعل تعريف، ②: په تعريف کي د قيدونو فائدې، ③: د حروف مشبه بالفعل له خبر سره تړلو څو مهمو مسئلو ته اشاره.

حروف مشبه بالفعل او د تسميه وجه يې

لومړی خبره: حروف مشبه بالفعل او د تسميه وجه يې:

په (خبر انّ و اخواتها) سره د مرفوعاتو پنځم قسم يعني د حروف مشبه بالفعل خبر بيانوي او حروف مشبه بالفعل ټوټل شپږ دي، کوم چي شاعر په خپل يوه شعر کي جمع کړي دي:

اِنّ بـــا أنّ لـــکنّ ليـــت لعـــلّ

ناصب اسمند و رافع درخبرضد ماولا

دغو حروف مشبه بالفعل ته ځکه مشبه بالفعل وايي، چي دوی له فعل سره په څو وجو مشابهت لري: ①: وضعًا، ②: وزنًا، ③: معنًا، ④: عملًا.

د وضع په اعتبار مشابهت يې په دې ډول دی، چي څرنګه په افعالو کي ځيني ثلاثي وي او ځيني رباعي وي، دا رازپه دې حروفو کي هم ځيني ثلاثي او ځيني رباعي وي، مثلا: اِنّ، أنّ، ليتَ) ثلاثي دي او (کأنّ، لکنَّ، لعَلّ) رباعي دي.

د وزن په اعتبار مشابهت يې په دې ډول دی: چي په دوی کي هر حرف په اصولي ډول د يو نه يوه فعل پر وزن راغلی دی، لکه (اِنّ) پر وزن د (ضارِبْنَ)، (لعل)

پر وزن د (دحرج)، ځکه چی دا په اصل کی (لعَلَل) او (لیت) پر وزن د (عَلَم) دا په اصل کي (عَلِمَ) و، د (شهد) په قانون (عَلَمَ) ځیني جوړ سو.

او د معنا په اعتبار یې مشابهت په دې ډول دی: چي (اِنَّ او أَنَّ) دواړه د (حَقَقتُ) په معنا دي، کوم چی فعل دی او (کَأَنَّ) د (شَبَّهتُ) په معنا دی او (لیتَ) د (تَمَنَّیتُ) په معنا دی او (لعلّ) د (ترجَّیتُ) په معنا راځي، دا ټول افعال دي او څرنګه چی د دې ټولو افعالو اخیري مبنی پر فتحه دي، د اراز دا حروف هم ټول مبنی پر فتحه دي.

او د عمل په اعتبار مشابهت یې په دې ډول دی: لکه څرنګه چي فعل په دوو اسمونو کي عمل کوي، یعني فاعل ته رفع او مفعول ته نصب ورکوي، دا راز دا حروف هم په دوو اسمونو یعنی په مبتداء او خبر کي عمل کوي، مبتداء خپل اسم جوړوي، او نصب ورکوي او خبر خپل خبر جوړوي او رفع ورکوي.

دا د بصریینو او اکثره علماء نحو مذهب دی، خو کوفیین وایې، چی حروف مشبه بالفعل صرف په مبتداء کي عمل کوي، ځکه چي خبر خو له مخکي لا مرفوع وي، هغه د دوی عمل ته اړتیا نلري.

دلته دا شبه کېدای سي، چی جنابه! تا خو یوه طرفته دا حروف له فعل سره مشابه کړل او بل طرفته دي د دوی عمل د فعل په مقابل کي بلکل پر عکس کړل، ځکه چی فعل لومړي اسم ته رفع او دوهم ته نصب ورکوي او دا حروف لومړي اسم ته نصب او دوهم ته رفع ورکوي، نو مشابهت یې نه راغی.

د دې جواب دادی، چي که چېري بعینه دغو حروفو ته د فعل عمل ورکول سي، نو د اصل او فرع تر مینځ فرق کول مشکل کېږي، نو د دوی دواړو تر مینځ د فرق کولو لپاره موږ داسي وکړل.

د حروف مشبه بالفعل تعریف

دوهمه خبره: د حروف مشبه بالفعل تعریف:

وهو المسند بعد دخول هذه الحروف: په دې عبارت کي مصنف رحمه الله د حروف مشبه بالفعل د خبر تعریف بیانوي، چی (اِنَّ) او داخواتو خبر یې هغه اسم دی،

کوم چي د دغو حروفو تر داخلېدو وروسته مسند وي. لکه په (إِنَّ زَيْدًا قَائِمٌ) کي (قَائِمٌ) د (إِنَّ) خبر دی. کوم چي مسند دی، يعنی د قائم اسناد کېږي د (زَيْدٌ) وغېرته.

په تعريف کی د قيدونو فائدې:

خبر انّ واخواتها: هو المسند بعد دخول هذه الحروف: په دې عبارت کي د (هو) ضمير مرجع خبر دی، کوم چي معرف دی او له (المسند) څخه تر اخيره پورې يې تعريف دی. يا په تعريف کي (المسند) جنس دی. کوم چي د مبتداء خبر، حروف مشبه بالفعل، افعال ناقصه. لائ نفي جنس وغيره خبرونو ته شامل دی. ځکه هغه هم ټول مسند دي او (بعد دخول هذه الحروف) يې فصل دی. چي په ذريعه يې د حروف مشبه بالفعل نه خبر پرته نور ټول خبرونه وزي، ځکه هغه که څه هم مسند دي. ليکن د دغو حروفو تر داخلېدو وروسته نه بلکي دمبتداء او افعال ناقصه او لاء نفي جنس وغيره تر داخلېدو وروسته وي.

يو سوال او جواب يې:

دلته سوال کېږي، چي جنابه! تا وويل، چي د انّ خبر د دغو حروفو تر داخلېدو وروسته مسند وي، حال دا چي موږ خو وينو چي د دغو حروفو تر داخلېدو مخکي دغه دواړه معمولونه په خپل مينځ کي مبتداء او خبر وي، نو خبر خو هغه وخت هم مسند وي؟

د دې جواب دادی، چي بېشکه! مخکي هم مسند وي، ليکن کله چي دغه حروف پر داخل سي، نو کواکي چي هغه ترکيب يې اوس خراب کړ او هغه اسناد يې له سره ختم کړ، اوس له نوي سره يېا دا يوه جمله سوه، په کومه کي چي دغه خبر مسند جوړېږي.

دريمه خبره: د خبر انّ او اخواتو له خبر سره متعلق څو اهم مسائل:

(وامره کامر خبر المبتداء) د حروف مشبه بالفعل خبر په اصل کي د مبتداء خبر وي، ځرنګه چي هلته کوم مسائل او احکام نحويه ورسره تړلي وه (يعني چي خبر مفرد او جمله، يو او متعدد، معرفه او نکره راتلای سي، او د جمله په صورت کي

عائد ضروري وي)، دا ټول مسائل او احکامات د حروف مشبه بالفعل له خبر سره هم متعلق دي، پرته له هغه چي مخکی د خبر متعلق موږ څلور صورتونه ویلي وه، په کومو کی چې خبر مقدم کول واجب و، لیکن دلته د حروف مشبه بالفعل خبر د دوی پر اسم په وجوبی ډول مخکی کول خو پرېږده، بیخی جائز نه دی، ځکه چې حروف مشبه بالفعل د فعل فرع دي او فرع په عمل کي ضعیف وي، نو د دغو حروفو اسم او خبر که چېري پر خپل ترتیب وي، نو عمل کولای سي، خو که چېري بې ترتیبه سي، نو دا عمل نسي کولای.

دلته له خبر سره د ټولو مسئلو ځینی بېلګې وګورئ:

①: مثلا د خبر په اړه موږ ویلي وه، چی (والخبر قد یکون جملةً مثل: زیدٌ ابوه قائمٌ و زیدٌ قامَ ابوه)، نو دلته هم د حروف مشبه بالفعل خبر جمله راتلای سي، لکه د الله جل جلاله په مبارک قول کي (اِنّا انزلناه فی لیلة القدر)، دلته د حروف مشبه بالفعل خبر جمله فعلیه راغلی دی.

②: د اراز په (و قد یُحذف) کي د حذف په هکله موږ ویلي وه، نو دلته هم داسي کېږي، لکه (ان السمن منوان بدرهم ای منه بدرهم).

③: د اراز (و ما وقع ظرفًا فالاکثر علیٰ انه مقدّرٌ بالجملة) دلته هم داسي کېږي، لکه (ان فی الدار زیدٌ، ای انه استقرّ فی الدار).

④: هلته ذا هم موږ ویلي وه، چی (وقد یتعدّد الخبر) دلته هم تعدد د خبر جائز دی، لکه: (انّ زیدًا عاقلٌ صادقٌ عالمٌ).

⑤: دا راز مو دا هم ویلي وه، چي (وقد یتضمن المبتداء معنی الشرط فیصح دخول الفاء فی الخبر) دلته هم د (لیت ولعلّ) له خبرونو پرته د نورو لپاره همدا حکم دی، لکه د الله جل جلاله قول (ان الذین فتنوا المؤمنین والمؤمنات ثم لم یتوبوا فلهم عذاب جهنم).

(الّا اذا کان ظرفًا) دا استثناء مفرغ ده له هغه منفی کلام څخه کوم چی له مخکي کلام څخه فهمول سوی و، چی پوره عبارت یې دادي: (ولا یتقدم علیٰ اسمه الا اذا کان ظرفًا) یعنی په عامه توګه د حروف مشبه بالفعل خبر د دوی پر اسم نسي مقدم کېدای، خو که چېري خبر د ظرف په شکل وي او د (انّ) اسم

معرفه وي، نو په داسي ځای کي د ده پر اسم مقدم کول جائز دي، لکه د الله ﷻ قول (انّ اِلَينَا ايابهم) د دې (انّ ايابهم الينا) ويل هم جائز دي، ليكن د (انّ) اسم که چېري نَکره و، نو تقديم د خبر واجب کېږي، لکه: (اِنّ لدينا انکالًا وجحيمًا) او (ان من الشعر لحكمة).

په ظرف کي د خبر د تقديم د جواز او وجوب وجه دا ښودل سوې، چي (يتوسع فی الظرف مالا يتوسع فی غيره) يعنی په ظرف کي هغه فراخي سته، چي په بل شی کي نسته، ځکه چي هيڅ فعل هم داسي نسته، چي د هغه لپاره ظرف واسطه نه وي، مثلًا کوم کار چي ته کوي، نو هرومرو به هغه په يو زمانه کي وي او دا راز به په يوه نه يوه ځای کي وي، نو کله چي په ظرف کي دومره فراخي وه، نو پکي خبر هم مقدم کېدای سي.

خلاصه دا چي د مبتداء خبر او د حروف مشبه بالفعل خبر چي کله د ظرف په شکل وي، نو د دوی دواړو احکامات او مسائل بلکل يو رنګه دي، ليکن که چېري د ظرف په شکل نه وو، نو بيا هم د دواړو مسائل يو رنګه دی، ليکن د حروف مشبه بالفعل خبر د دوی پر اسم مخکي کېدای نسي.

شپږ څلوېښتم (۴۶) درس

د لائ نفي جنس د خبر بيان

خبر لا التی لنفی الجنس: هو المسند بعد دخولها، مثل: لا غلامَ رجلٍ ظريفٌ فيها، ويُحذف كثيرًا و بنوتميم لا يُثبتونه.

ترجمه: له مرفوعاتو څخه د هغې (لا) خبر هم دی، کومه چي د جنس صفت د نفي لپاره راغلې وي او هغه د دغې (لا) تر داخلېدو وروسته مسند وي، لکه

(لاغلام رجلٍ ظریفٍ فیها) او اکثره وختونه دا حذف کېږي او بنوتمیم یې له سره منې نه.

تشریح: د نن په سبق کې تر تمهید وروسته درې خبرې کېږي:
①: د لائ نفي جنس د خبر تعریف او د قیدونو فائدې، ②: د لائ نفي جنس د خبر حذفول، ③: پکې د بنوتمیم مذهب او د هغه وضاحت.

تمهید:

خبرلاالتی لفنی الجنس: دلته مصنف رحمه الله د څلورم مرفوع بیان کوي، د مصنف رحمه الله عبارت (لاالتی لفنی الجنس) محذوف المضاف دي، (یعني مضاف پکې حذف سوی دی)، ځکه چې دا په اصل کې (لا التی لنفی صفة الجنس) وو، ځکه چې په (لارجل قائمٌ) کې د جنس رجل نفي نه کېږي، بلکې له ده څخه د صفت (قیام) نفي کېږي.
دا د جامي د ملاصاحب رحمه الله قول دی، لیکن سمه او صحیح خبره داده، چې دا د جنس د نفي لپاره هم راځي، لکه (لارجل فی الدار، ای لا رجل موجودٌ فی الدار) او کله د جنس د صفت د نفي لپاره راځي، لکه (لارجل قائمٌ)، لیکن عام سوی لومړی قول دی، یعنی د ده نفي د جنس لپاره راتلل زیات مستعمل دی، په نسبت د دوهم (تسهیل شرح الجامی للشیخ محمد انورالبدخشانی حفظه الله وګورئ).

دلانفی جنس دخبر تعریف

لومړی خبره: د لانفی جنس د خبر تعریف او د قیدونو فائدې:
(هوالمسندبعد دخولها) په دې عبارت کې د کافیه ملاصاحب رحمه الله د لائ نفی جنس د خبر تعریف بیانوي، چې د لائ نفی جنس خبر هغه اسم دی، کوم چې د لا تر داخلېدو وروسته مسند وي، لکه: (لا غلام رجلٍ ظریفٌ فیها) دلته د لائ نفي جنس تر داخلېدو وروسته (ظریفٌ) مسند سوی دی.
پر دې ځای یو سوال کېږی کوم چې د حروف مشبه بالفعل په بحث کې تېر سو او جواب یې هماغه دی، کوم چې هلته تېر سو.
په مذکوره تعریف کې د قیدونو فائدې:

خبرلاالتی لنفی الجنس: هو المسند بعد دخولها: دلته د (هو) د ضمير مرجع (خبرلا التی لنفی الجنس) ده، کوم چي معرف دی او (المسندبعددخولها) يې تعريف دی، پکي (المسند) جنس دی، کوم چي ټولو خبرونو ته شامل و، (بعد دخولها) يې فصل دی، په ذريعه يې هغه ټول مسندونه وزي، کوم چی که څه هم مسند خو وي، ليکن د لائ نفي جنس د داخليدو په وجه نه، بلکي يا خو د مبتدا په وجه مسند وي، يا د حروف مشبه بالفعل په وجه، يا د افعال ناقصه وغيره په وجه سره وي.

ترکيب: لا غلام رجل ظريفٌ فيها (لا) د نفي جنس لپاره او (غلام رجل) مضاف و مضاف اليه يې اسم، (ظريفٌ) صفت مشبه، (هو) ضمير يې فاعل، صفت مشبه سره له خپل ضمير فاعل شبه جمله خبر اول سو، (فيها) جار ومجرور متعلق کيږي تر (حاصلٌ) صيغه اسم فاعل پوري، (حاصلٌ) صيغه اسم سره له خپل ضمير فاعل او متعلق شبه جمله د لائ نفي جنس لپاره خبر ثاني، لائ نفي جنس سره له خپل اسم او دواړو خبرونو جمله اسميه خبريه کيږي.

فائده: په عامو کتابونو کي د دې لپاره (لارجل فی الدار) مثال ليکل سوی دی، په کوم کی چي په ډيره اسانۍ سره (رجل) د (لا) اسم او (فی الدار) د (لا) خبر جوړيږي، ليکن د مصنف رحمه الله په مثال کي يو اسم او دوه خبرونه جوړيږي، دا طريقه مصنف رحمه الله ځکه غوره کړې، چی دنحوي عامو علماؤ چي کوم مثال راوړی، په هغه کي له موصوف صفت سره التباس لازميدی، يعني بيخي ممکن وه، چي يو څوک ووايې چي (رجل فی الدار) موصوف او صفت د لائ نفي جنس اسم دی او خبر محذوف دی، حال دا چي د کافيه د ملاصاحب په مثال کي دا شبه نه کيږي.

بيا دا چي دوه خبرونه يې ولي بيان کړل؟، نو د دې جواب دادی، چي له دوو وجو يې داسي کړي:

لومړی وجه: دا چي په دې سره دا ښودل مقصود دي، چي د لائ نفي جنس خبر ظرف او غير ظرف دواړه راتلای سي.

دوهمه وجه: دا چې که یې چېري خبرثاني یعني (فیها) نه وای راوړی، نو معنا خرابېده، هغه په دې ډول، چې (نسي کېدای د هیڅ سړي هیڅ مړیی خوشطبع)، ښکاره خبره ده، چې دا خبره له نفس الامر او ظاهر څخه خلاف ده او د خبرثاني تر راوړلو وروسته معنا داسې کېږي (نسته د هیڅ سړي هیڅ خوش طبع مړیيي په دې کور کې).

دلته سوال کېدای سي، چې په عبارت کې د (فیها) ضمیر مرجع خو هیڅ نسته، نو ولې راوړل سوی دی؟

د دې جواب دادی، چې دا جمله په اصل کې د سائل د سوال جواب ده، هغه داسې چې سائل پوښتنه وکړي (هل غلام رجل ظریفٌ فی الدار؟)، نو په جواب کې ویل کېږي، چې (لاغلام رجل ظریفٌ فیها)، نو د سائل په سوال کې د (الدار) ذکر و، هغه د ضمیر مرجع ده.

دلائ نفي جنس د خبر حذفول

دوهمه خبره: د لائ نفي جنس د خبر حذفول:

ويُحذف كثيرًا: د لائ نفي جنس خبر اکثره وخت حذف کېږي، او په عامه توګه دا هماغه خبر وی، کوم چې له افعال عامه څخه وي، یعنی (کون، حصول، وجود، وغیره)، لکه: (لا اله الاالله) دا په اصل کې (لا اله موجودٌ الاالله) و، دا راز (لا سیف الا ذوالفقار)، دا هم په اصل کې (لا سیف موجودٌ الا ذوالفقار)، (ذوالفقار د علي ﷺ د توري نوم و).

دریمه خبره: د بنو تمیم مذهب او د هغه وضاحت:

وبنوتميم لا يُثبتونه: شارحینو د دې دوه مطلبونه بیان کړي دي:

①: یو دا چې بنوتیم د لائ نفي جنس د خبر قائل خو دي، لیکن په لفظ کې یې نه ظاهروي، بلکي د دوی په نزد یې حذفول واجب دي.

②: دوهم مطلب یې دا بیان کړی، چې بنوتمیم له سره ددې خبر نه مني، نه لفظًا او نه تقدیرًا، نو د دوی په نزد د (لا اهل و لامالَ) په څېر جملو لپاره د خبر را ایستلو ضرورت نسته، بلکي د دې معنا دا کېږي، چې (انفی المالَ والأهلَ).

او په كومو جملو كي چي خبر مذكور وي، نو دغو خلګو هغه د صفت په معنا اخستى، لكه (لارجل قائمٌ)، دلته (قائمٌ) د (رجلٌ) صفت كيږي، نه چي د (لا) لپاره خبر.

اووه څلويښتم (۴۷) درس

د ماولا مشابه بليس د اسم بيان

اسم ما ولا المشبهتان بليس: هو المسنداليه بعد دخولهما، مثل: ما زيدٌ قائمًا، ولا رجلٌ افضلَ منكَ، وهو في لا شاذٌ.

ترجمه: له مرفوعاتو څخه د (ماولا) له ليس سره مشابه (ورته) اسم هم دى او هغه د دي دواړو تر داخليدو وروسته مسنداليه كيږي، لكه (ما زيدٌ قائمًا ولارجلَ افضل منكَ) او له (ليس) سره په عملى مشابهت كي ضرق (لا) شاذ ده.

تشريح: په مذكوره عبارت كي موږ څلور خبري ذكر كوو:

①: د ماولا مشابه بليس تعريف او د قيدونو فائدي:

②: د ما ولا مشابه بليس عمل او د تسميه وجه يې، ③: د ما او لا ترمينځ فرق او ④: د (وهو في لا شاذٌ) وضاحت.

د ماولا مشابه بليس د اسم تعريف

لومړى خبره: د ما ولا مشابه بليس د اسم تعريف:

و هوالمسنداليه بعد دخولهما: مصنف رحمه الله په دي عبارت كي د (ما ولا) مشابه بليس د اسم تعريف بيان كړى دى، هغه دا چي د ما و لا مشابه بليس اسم هغه دى، كوم چي د دوى تر داخليدو وروسته مسنداليه وي، لكه (مازيدٌ قائمًا) په دي كي (ما) مشابه بليس، (زيدٌ) يې اسم او (قائمًا) يې خبر، (ما) مشابه بليس سره له اسم او خبر جمله اسميه خبريه جوړيږي.

دا راز په (لارجلٌ افضل منكَ) كى (لا) مشابه بليس، (رجلٌ) يې اسم، (افضلُ) صيغه د اسم تفضيل، (هو) ضمير يې فاعل، (منكَ) جار مجرور متعلق كيږي تر (افضل) صيغه اسم تفضيل پوري، (افضلُ) صيغه اسم تفضيل سره له خپل

ضمیر فاعل او متعلق شبه جمله د (لا) مشابه بلیس لپاره خبر، (لا) سره له خپل اسم او خبر جمله اسمیه خبریه سوه.

پر دغه تعریف هماغه مخکنی سوال کېږي، جواب یې هم هماغه کېږي، چي له مخکي نه که څه هم مسندالیه و، لیکن کله چي له (ماولا) څخه یو پر داخل سو، نو ګواکی چي لومړنی ترکیب یې له مینځه ولاړ، اوس له نوي سره دا نوې جمله جوړه سوه، نو اوس دغه نوې جمله هم مسندالیه جوړېږي.

په مذکوره تعریف کي د قیدونو فائدې:

اسم ما ولا المشبهتین بلیس: هو المسندالیه بعد دخولهما:

دلته د (هو) ضمیر کوم چي د ماولا وطرفته راجع دی، دا معرّف دی او (المسندالیه بعد دخولهما) یې تعریف دي، په تعریف کي (المسندالیه) جنس دی، کوم چي مبتداء او حروف مشبه بالفعل وغیره اسماؤ ته هم شامل و، (بعد دخولهما) یې لومړی فصل دی، په ذریعه یې د ما ولا مشابه بلیس له اسم پرته نور ټول اسماء ووتل، ځکه هغه که څه هم مسندالیه ضرور دي، لیکن د ماولا د داخلېدو په وجه نه، بلکي د خپلو، خپلو عواملو د داخلېدو په وجه سره مسندالیه دي.

دماولا مشابه بلیس عمل اود تسمیه وجه یې

دوهمه خبره: د ماولا مشابه بلیس عمل او د تسمیه وجه یې:

له مرفوعاتو څخه د اووم مرفوع (ما اولا) اسم دی، (ما اولا) دا دواړه پر مبتداء او خبر داخلېږي، مبتداء ته رفع ورکوي، ورته د (ماولا) اسم ویل کېږي او خبر ته نصب ورکوي، دېته د دوی دواړو خبر ویل کېږي.

ماولا المشبهتین: دا له شبه یشبه تشبیهًا د تفعیل له باب څخه د اسم مفعول تثنیه مؤنث صیغه ده، په معنی د هم شکل (ورته) دی، نو (ما اولا) ته هم مشابه بلیس ځکه ویل کېږي، چي دوی هم له (لیس) سره په دریو طریقو سره مشابهت لري ①: معنًا، ②: معمولًا، ③: عملًا:

Scanned by CamScanner

معنًا مشابهت: داسي دی، چي (لیس) هم په کلام کي د نفي په معنا وي او دا دواړه هم د نفي لپاره راځي، لکه چي د (ما زیدٌ قائمًا و لا رجلٌ افضل منکَ) او (لیس زیدٌ قائمًا) یوه معنا ده.

معمولًا مشابهت: په دې ډول دی، چي دا د خپل معمول په اعتبار سره هم له (لیس) سره مشابهت لري، یعني لکه څرنګه چي (لیس) پر مبتداء او خبر داخل سي، هغه خپل معمول جوړوي، دا راز دا دواړه هم مبتداء او خبر خپل معمول جوړېږي، نه چي کوم بل شی.

عملًا مشابهت: په دې ډول دی، چي په عمل کي هم دواړه له لیس سره مشابهت لري، هغه داسي، چي (لیس) هم مبتداء ته رفع او خبر ته نصب ورکوي او دا دواړه په مبتداء کي همدا عمل کوي.

لیکن دا مذهب د اهل حجاز دی، د دوی په مقابل کي بنوتمیم د (ماولا) په عمل کولو له سره قائل نه دي، یعني که چېري له دوی څخه کوم یو پر مبتداء او خبر داخل سي، نو د مبتداء او خبر ترکیب هماغه دی، کوم چي د دوی تر داخلېدو مخکي و، د دوی دلیل یو شعر دی:

و مُهفهفٍ کالغصن قلت له انتسب
فـاجــــاب ما قتل المحبّ حـرام

وګوره! (ما) که چېري عامله وای، نو (ماقتل المحبّ حرامٌ) نه کېدی، بلکي (ماقتل المحبّ حرامًا) کېدی.

خو د اهل حجاز مذهب ځکه راجح دی، چي قرآنکریم د دوی پر لغت برابرېږي، په هغه کي (ما) ته عمل ورکول سوی، لکه چي د الله ﷻ وینا ده (ما هذا بشرًا).

د ما او لا ترمینځ فرق

درېیمه خبره: د ما اولا ترمینځ فرق:

①: ما اولا که څه هم یو شی یعنی د مبتداء او خبر عامل دي، ②: او د دواړو یو عمل دی، ③: او دواړه د نفي معنا ورکوی، په دې درېو شیانو کي له متفق کېدو سره، سره بیا هم د دوی ترمینځ په څو وجو فرق سته:

①: یو دا چې د (لا) اسم د تل لپاره صرف نکره وي او د (ما) اسم معرفه او نکره دواړه کېدای سي، لکه: (ما زیدٌ قائمًا و مارجلٌ افضل منکَ)، دواړه صحیح دي، لیکن (لازیدٌ قائمًا) نسي ویل کېدای.
②: دوهم دا چې (ما) صرف د حال د نفې لپاره راځي، او (لا) د مطلق نفي لپاره راځي، لکه د (ما زیدٌ قائمًا) معنا ده، چې زید همدا اوس ولاړ نه دی او د (لارجلٌ افضل منکَ) معنا ده، چې په هېڅ زمانه کي، هېڅ سړی هم تر تا افضل او غوره نه دی.
③: درېیم دا چې د (لا) پر خبر باء حرف جر نسي داخلېدای، حال دا چې د (ما) پر خبر داخلېدای سي، لکه (ما زیدٌ بقائم) ویل خو جائز دي، لیکن (لارجلٌ بافضل منکَ) ویل نا جائز دي.

د(وهو فی لا شاذ) وضاحت

څلورمه خبره: د (و هو فی لا شاذٌ) وضاحت:

(وهو فی لا شاذٌ)، په دې عبارت کي (فی لا) د (شاذٌ) لپاره ظرف مقدم دی او د مقدم راوړلو په صورت کي په ده کي د حصر معنا پیداکېږي، هغه په دې ډول، چې له (لیس) سره په عملي مشابهت کي صرف (لا) شاذ ده، وجه یې داده، چې (لا) له (لیس) سره کامل مشابهت نه لري، ځکه (لیس) د حال د نفې لپاره راځي او (لا) د مطلق نفې لپاره راځي او بیا هم عمل د لیس په ډول کوي، ځکه چې دا شاذ ده.

یادونه: په اخیر کي یو سوال کېږي، چې د کافیه ملاصاحب رحمه الله تعالی ټول اووه مرفوعات ذکر کړل، حال دا چې مرفوعات ټول اته دي، نو د اوو ذکر کولو وجه څه ده؟

عامه شارحینو رحمهم الله دېته کوم تعرض نه دی کړی، خو د (معارف الکافیه وعوارف الجامی) ملاصاحب حفظه الله یې جواب کړی، چې کله مصنف رحمه الله تعالی د (اسم ما و لا) مشابه (بلیس) ذکر وکړ، نو ګواکي چې له دې څخه دا خبره پخپله معلومه سوه، چې کله د مشبه (یعنی د ما و لا) اسم له مرفوعاتو څخه دی، نو په لازمي توګه د مشبه به (یعنی د افعال ناقصه) اسم هم له مرفوعاتو څخه دی،

څرنګه چې دا خبره په ضمني ډول پخپله معلومه سوې وه، نو د كافيه ملاصاحب رحمه الله پرېښودو، یایې د ده لپاره اوږد عبارت ذكر نكړل.

والله اعلم بالصواب واليه المرجع والمآب

المنصوبات

اته څلوېښتم (۴۸) درس

د مفعول مطلق بيان

هو ما اشتمل علىٰ علم المفعولية، فمنه المفعول المطلق: وهو اسم ما فعله فاعل فعل مذكورٍ بمعناه و قد يكون للتاكيد والنوع والعدد، نحو: جلستُ جلوسًا و جِلسَةً و جَلسةً، فالاول لا يُثنى ولا يُجمع بخلاف اخويه.

ترجمه: منصوب هغه اسم دی، کوم چې د مفعولیت پر علامه مشتمل وی، بیا له دې منصوباتو نه یو مفعول مطلق دی او دا هغه اسم دی، کوم چې د همدغه ذکر سوي فعل فاعل کړی وي او کله دا دتاکید د معنی لپاره هم راځي او د نوع (هیئت) او عدد د بیانولو لپاره هم راځي، لکه (جلستُ جلوسًا وجِلسَةً و جَلسَةً) یعني کښېناستم زه په کښېناستلو سره او کښېناستم زه په یو خاص ناستې سره او کښېناستم زه یو ځل.

تشریح: د نن په سبقه کي څلور خبري دي:

①: د منصوباتو تعریف او د (علم المفعولیت) وضاحت، ②: د مفعول مطلق تعریف او د قیدونو فائدې، ③: د مفعول مطلق د استعمال طریقې.

د منصوباتو تعریف او د علم المفعولیت وضاحت

لومړی خبره: د منصوباتو تعریف او د علم المفعولیت وضاحت:

د منصوبات او هو ما اشتعمل على علم المفعولية په اړه پوره تفصیل هماغه دی، کوم چې د المرفوعات په ضمن کي تېر سو، لنډه دا چې دا د (منصوبٌ) جمع ده، نه د (منصوبةٌ)، وجه یې په تفصیل سره تېره سوې ده، پاتې سوه د ده جمع په الف او تاء سره، نو دا هم تېر سوي دي، چې په اصل کی دا د لایعقل جمع ده او د لایعقل جمع په الف او تاء سره راځي.

فائده: د کافیه ملاصاحب رحمه الله منصوبات تر مرفوعاتو وروسته او تر مجروراتو مخکی راوړل، وجه یې داده، چې مرفوعات او منصوبات د یوه عامل معمول وي، لکه چې موږ وایو: (ضرب زیدٌ عمروًا) دلته زیدٌ او عمر دواړه د ضرب معمول دي، لومړي ته یې رَفع ورکړی، نو ځکه مرفوعات تر ټولو مقدم کړل سوا او دوهم ته یې نصب ورکړی، ځکه یې نو منصوب په دوهم نمبر کي

راوړل او مجرورات يې بلكل په اخير كي ځكه راوړل، چي د دوى عامل حروف جاره وي.
مصنف رحمه الله چي ويلي (هو ما اشتمل على علم المفعولية)، نو دا مشتمل كېدل به يا لفظي وي، لكه (رأيتُ زيدًا)، يا به تقديري وي، لكه (رأيتُ فتًى) او يا به محلًا وى، لكه (رأيتُ هؤلآء).
علم المفعولية: مطلب دا چي يو اسم چي پريو داسي علامه كومه چي د دې پر مفعول حقيقي (يعنى له مفاعيل خمسه څخه) پر كېدو، يا دده پر مفعول حكمي (يعنى له نورو منصوباتو څخه) پر كېدو دلالت كوي، دا راز د اتولې څلور علامې كېږي:
①: فتح: دا په څلورو قسمونو اسماؤ كي د مفعوليت علامه ده: ①: مفرد منصرف صحيح، ②: جاري مجراى صحيح، ③: جمع مكسر منصرف، ④: په غيرمنصرف كي، لكه: (رأيتُ زيدًا، وظبيًا و رجالًا و مساجدَ).
②: كسره: دا په جمع مؤنث سالمه كي د مفعوليت علامه وي، لكه (رأيتُ مسلمات).
③: الف: دا په اسماء سته مكبره كي د مفعوليت علامه ده، لكه (زرتُ اباكَ و اخاكَ...الخ).
④: ياء: دا په تثنيه او د هغې په اخواتو كي او په جمع مذكر سالمه او دهغې په اخواتو كي د مفعوليت علامه وي، لكه: (رأيتُ مسلمَين و مسلمِيْنَ).

د مفعول مطلق تعريف

دوهمه خبره: د مفعول مطلق تعريف:
د مفعول مطلق لغوى معنا داده، چي هغه اسم چي ازاد كړل سوى وي، او اصطلاحي معنا او تعريف يې دادي، چي (هو اسم ما فعله فاعل فعل مذكور)، يعنى مفعول مطلق هغه مصدر دى، چي د داسي فعل په معنا وي، د كوم چي

ذکر تر ده مخکی سوی وي، هغه که حقیقتًا وي، لکه (ضربتُ ضربًا او جلستُ جلوسًا) وغیره او که حکمًا سوی وي، لکه: (فضرب الرقاب)، دا په اصل کي (فاضربوا ضرب الرقاب) و، یعنی د (فاضربوا) ذکر په (ضربٌ) مصدر کي په حکمي ډول راغلی و.

په تعریف کي د قیدونو فائدې:

هو اسم مافعله فاعل فعل مذکور بمعناه: په مذکوره عبارت کي (هو) ضمیر کوم چي د (المفعول المطلق) و طرفته راجع دی، دا معرّف دی او (له اسم ما ځخه تر بمعناه) پوري یې تعریف دی، دلته (اسم ما) جنس دی، کوم چي ټولو مصدرونو ته شامل دی او (فعله فاعل فعل مذکور) فصل دی، ددې په ذریعه مفعول له ووزي، ځکه هغه که څه هم مصدر دی، لیکن د فعل مذکور فاعل د ده لپاره فاعل نه کیږي.

د مفعول مطلق د تسمیه او تقدیم وجه

دریمه خبره: د مفعول مطلق د تسمیه او تقدیم وجه:

مفعول مطلق ته ځکه مفعول مطلق ویل کیږي، چی (مطلقٌ) له اطلَقَ یُطلِقُ اطلاقًا باب افعال ځخه د (مکرمٌ) په څیر د اسم مفعول صیغه دی، مصدري معنا یې ده ازادول او د ده په شروع کي چي کوم (الف لام) دی، دا د (الذی) په معنا دی، ځکه موږ ویلي دي، چي داسم فاعل او اسم مفعول په شروع کي چی کوم (الف لام) وي، هغه د (الذی) په معنا وي، نو د عبارت تقدیر داسي کیږي: (المفعول الذی اُطلقَ) یعني هغه مفعول کوم چي ازاد کړل سوی وي، څرنګه چی مفعول مطلق د نورو مفاعیلو (به، فیه، له او معه) له قیدونو ځخه ازاد وی، ځکه نو ورته مطلق (ازاد کړل سوی) ویل کیږي.

پاتې سوه داخبره، چی دا یې پر نورو مفاعیلو ولي مخکی کړی دی؟ نو د دې جواب دادی، لکه څرنګه چي اوس معلومه سوه، چی دا د مطلق په درجه کي دی او پاتې نور مفاعیل د مقید په درجه کي دي، نو مطلق خو پر مقید مخکي کیږي، کوم چي یو مشهور اصول دی.

د مفعول مطلق د استعمال طريقې

څلورمه خبره: د مفعول مطلق د استعمال طريقې:

و قد يكون للتاكيد: مصنف رحمه الله د مفعول مطلق د استعمال درې لارې را ښيي:

①: کله په کلام کې د تاکيد د معنی پيداکولو لپاره راوړل کېږي، لکه (جلستُ جلوسًا).

②: کله د نوع، يعني د يو شي د هيئت، کيفيت (ډول) بيانولو لپاره راوړل کېږي، او ددې د پېژندلو دوې طريقې دي:

يوه دا چې مصدر يې د (فَعْلَةٌ) پر وزن راغلی وی (كما درسنا عنها فى علم الصيغة)، لکه چې ويل کېږي (لا تمش مِشية المختال) يعني د تکبر کوونکې په تګ مه ځه.

دوهمه دا چې له دغه مفعول مطلق سره پر کوم نوعيت او خاص کيفيت دلالت کوونکی يو صفت لګول سوی وي، لکه (ضربتُ ضربًا شديدًا).

③: او کله دا دفعل مذکور د عدد بيانولو لپاره راوړل سوی وي، او ددې د پېژندلو درې لارې دي:

يوه: دا چې مصدر يې د (فَعْلَةٌ) پر وزن راغلی وي (كما درسناعنها فى علم الصيغة) لکه (ضربتُ ضربةً) يعنى وواهو ما يو ځل.

دوهم: دا چې مصدر يې د تثنيه، يا جمع په شکل راغلی وي، لکه (جلستُ جَلستَين يا جلسات).

دريم: دا چې له دغه مفعول مطلق سره پر کثرت دلالت کوونکی يو صفت لګول سوی وي، لکه: (ضربتُ ضربًا كثيرًا).

نه څلوېښتم (۴۹) درس

له مفعول مطلق سره تړلې ځو ضروري مسئلې

فالأول لا يُثنّى و لايُجمع بخلاف اخويه و قد يكون بغير لفظه نحو: قعدتُ جلوسًا وقد يُحذف الفعل لقيام قرينةٍ جوازًا، كقولک لمن قدم: خيرمقدمٍ و وجوبًا سماعًا،

مثل: سقيًا و رعيًا وخيبةً و جدعًا و حمدًا و شكرًا وعجبًا وقياسًا في مواضع، منها: ما وقع مثبتًا بعد نفيٍ او معنى نفيٍ داخلٍ على اسمٍ لا يكون خبرًا عنه، او وقع مكررًا، نحو: ما انت الا سيرًا و ما انت الا سيرالبريد، وانما انت سيرًا وزيدًا سيرًا سيرًا.

ترجمه: نو لومړی قسم د تثنيه او جمع په صورت نسي راتلای په خلاف د دوه د دوو اخوينو او کله کله دا (مفعول مطلق) د فعل مذكورله مادې څخه مغائرهم راځي، لکه (قعدتُ جلوسًا) او کله د يو قرينې د موجودګی له کبله په جوازي توګه د ده فعل حذف کېږي، لکه يو را رسېدونکي ته ستاسو دا ويل: چي (خيرمقدمٍ) او کله د وجوب سماعي په ډول حذف کېږي، لکه (سقيًا، و رعيًا و خيبةً وجدعًا، وحمدًا و شكرًا و عجبًا) او په څو ځايونو کي په وجوبي قياسي ډول هم حذف کېږي، له دې ډلې نه هغه مفعول مطلق هم دی، کوم چي ترنفي وروسته مثبت واقع سوی وي، يا د داسي معنى ترنفي وروسته واقع وي، کوم چي پر داسي اسم داخل وي، چي مفعول مطلق د هغه خبرنه وي، يا مفعول مطلق مكرر راغلی وي، لکه (ما انت الا سيرًا و ما انت الا سيرالبريد، وانما انت سيرًا وزيدًا سيرًا سيرًا).

تشريح: په مذكوره عبارت کي مصنف رحمه الله د مفعول مطلق د دريو قسمونو لپاره د استعمال په اعتبارسره پنځه مسئلې بيانوي:

لومړۍ مسئله: فالأول لا يُثنّى ولا يُجمع:

د مفعول مطلق لومړی قسم يعني مفعول مطلق د تاكېد لپاره لومړۍ مسئله داده، چي دا کله هم د تثنيه او جمع په شکل نسي راتلای، شارحينو د دې دوې وجې ليکلې دي:

لومړۍ وجه: دا چي فعل اصل دی او مصدريې فرع دی، نو څرنګه چي فعل تثنيه او جمع نسي راتلای، نو مصدر (چي فرع) دی دا خو په طريقه اولی نسي راتلای، که نه د اصل پر فرع زياتوب لازمېږي.

دوهمه وجه: دا ده چي د مفعول مطلق دغه قسم صرف پر ماهيت دلالت كوي، نه چي پر تعداد، حال دا چي په تثنيه او جمع كي تعداد وي، ځكه يې نو دلته وويل، چي دا تثنيه او جمع نسي راتلای.

بخلاف اخويه: په مفعول مطلق تاكيدي كي خو تثنيه او جمع نسي راتلای، خو په پاتې نورو كي راتلای سي، ځكه چي مفعول مطلق عددي وي، د عدد لپاره خو عدد دوه كېدای سي او تردوو زيات هم، لكه (جلستُ جلستين او جلسات) او مفعول مطلق نوعي، يعني كوم چي د نوع ښودلو لپاره راځي، نو په هغه كي هم تثنيه اوجمع ځكه راتلای سي، چي د يو شي انواع څو قسمه كېدای سي.

دوهمه مسئله: وقد يكون بغير لفظه:

دوهمه مسئله دا بيانوي، چي كله كله مفعول مطلق د فعل مذكورله مادې پرته له بلې مادې څخه هم راځي، لكه: (جلستُ قعودًا او قعدتُ جلوسًا) وغيره، دېته (مفعول مطلق من غير لفظه او مفعول مطلق مغائرعن فعله) هم ويل كېږي، ياد ساتئ، چي د مغائراتو درې صورتونه دي:

①: المغائرة في المادة فقط: يعني مفعول مطلق د فعل مذكور له مادې څخه نه وي، بلكي له كومې بلې مادې څخه وي، لكه: (جلستُ قعودًا او قعدتُ جلوسًا) وغيره.

②: المغائرة في الباب فقط: يعني د فعل مذكور او مفعول مطلق ماده يوه خو وي، ليكن باب يې بېل، بېل وي، لكه (انبت الله نباتًا) دلته (انبت) د افعال له باب څخه ده او (نباتًا) د نصرينصرله باب څخه ده.

③: المغائرة في المادة والباب كليهما: يعني د مفعول مطلق او فعل مذكوردواړو ماده هم بېله، بېله وي او باب يې هم بېل، بېل وي، لكه (فاوجس في نفسه خيفة موسى) دلته د (فاوجس) ماده هم بېله ده، د افعال له باب څخه ده او (خيفة) كوم چي مفعول مطلق دی، د دې ماده هم بېله ده او د فتح يفتح له باب څخه ده.

د مغائرت دا درې سره طريقې جائزې دي، وجه يې دا ده، چي په دغو درې سره طريقو كي ماده كه څه هم بدله ده، ليكن د مصنف رحمه الله عليه لګول سوی (بمعناه)

شرط په سبب کي راځي، يعني په دريو سره صورتونو کي مفعول مطلق د ماقبل فعل په معنا دی، که څه هم د هغه له مادې او باب څخه نه دی.

دريمه مسئله: وقد يُحذف الفعل لقيام قرينة جوازًا:

دريمه مسئله داده، چی له اصل طريقې پرته د مفعول مطلق د فعل په هکله يوه طريقه دا هم ده، چی که چيري د ده پر حذف کېدو کومه قرينه موجوده وه، نو د کلام د مختصر جوړولو لپاره دده حذفول جائز دي، لکه چي يو څوک له سفر څخه راځي، نو د ده لپاره وويل سي (خيرمقدم) دا په اصل کي (قدمتَ قدومًا خيرمقدم) و، دلته که چيري فعل حذف هم کړل سي، نو د ده پر موجود کېدو له موږ سره قرينه حاليه موجوده ده او هغه داده، چي ددغه مسافر را رسېدل او دده دراتلو حالت پخپله دلالت کوي، چي دلته فعل محذوف دی.

يا چي دغه فعل موږ حذف کړ، نو د عبارت تقدير داسي کېږي: (قدومًا خير مقدمٍ) يا (قدومًا) هم حذف کړل سو، (خيرمقدم) يې قائم مقام جوړ سو، ځکه چي (خيرمقدم) مضاف مضاف اليه صفت جوړېږي، د (قدومًا) مصدر لپاره او د موصوف او صفت حکم يو وی، ځکه نو دی د هغه قائم مقام جوړ سو.

که يو څوک سوال وکړي، چی دلته (خيرمقدم) صيغه داسم تفضيل ده، کومه چی په اصل کي (اخيرٌ) و، دا مفعول مطلق څرنګه جوړ سوی؟، حال داچی د مفعول مطلق مصدر کېدل ضروري دي؟

د دې دوه جوابونه دی: يو دا چي دا که څه هم پخپله مصدر نه دی، لېکن تر ده مخکي (قدومًا) محذوف دی او دا يې صفت دی او د موصوف او صفت حکم يو وي او هغه چونکه مصدر دی، نو دا هم مصدر کېږي.

دوهم جواب دادی، چي (خيرٌ) مضاف دی د (مقدمٍ) وطرفته، کوم چی مصدر دی او د مضاف و مضاف اليه حکم يو وي، او هغه حذفول يا خو سماعي وي، يا قياسي، سماعي دا معنا، چي چيري دفعل پر حذف کولو کومه قاعده، يا قانون دلالت نه کوي، يوازي داچي له عربو څخه موږ داسي اورېدلی دی، يا د دوی په کتابونو کي ليکلی په لاس راغلی، نو څرنګه چي هغوی اهل لسان دي، ځکه نو په داسي شيانو کي موږ د دوی اتباع کوو.

او قیاسي دا معنا، چې د فعل پر حذف کېدو له موږ سره کومه قاعده او قانون شتون لري.
د سماعي مثال، لکه: (سقیًا) دا په اصل کي (سقاک الله سقیًا) و او (رعیًا) په اصل کي (رعاک الله رعیًا) او (خیبةً) په اصل کي (خاب خیبةً) و او (جدعًا) (جدعَ جدعًا) او (حمدًا) په اصل کي (حمدتُ حمدًا) و او (شکرًا (شکرتُ شکرًا) او (عجبًا) په اصل کي (عجبتُ عجبًا) و، نو په دې ټولو ځایونو کي د فعل حذفول واجب دی، وجه یې څه ده؟، نو هغه زموږ په پوهه کی نسته، ځکه چي سماعي دي او په سماعي شیانو کي موږ د عقل نېلی نسو زغلولای.
پنځمه مسئله: و قیاسًا فی مواضع؛
له دې ځایه د مفعول مطلق لپاره پنځمه مسئله بیانوي، چي اووه قسمه مقامات داسي دي، چیري چي په قیاسي توګه یعنی د قانون او قاعدې له مخې دا فعل حذف کېږي.

د فعل په وجوبي توګه د حذفولو لومړی مقام

د فعل په وجوبي توګه د حذفولو لومړی مقام:
ما وقع مثبتًا بعد نفیٍ او معنیٰ نفی داخل علیٰ اسم لا یکون خبرًا عنه؛
لومړی مقام دا دی، چي چېري مفعول مطلق تر (الا) وروسته مثبت واقع سي او تر ده مخکي داسي اسم منفي سوی وي، د کوم لپاره چي دا مفعول مطلق خبر نسي کېدای، دا راز که چېري مفعول مطلق تر (انّما) وروسته مثبت واقع سوی وي او تر ده مخکي داسي اسم وي، له کوم شخه چي د دغه مفعول مطلق خبر کېدل صحیح نه وي، نو په دې دواړو صورتونو کي د فعل حذفول واجب دي، د لومړي صورت لپاره د کتاب مصنف رحمه الله دوه مثالونه راوړی دی:
په لومړی مثال کي مفعول مطلق د نکره مفرده په صورت دی او په دوهم کي د مرکب اضافي او معرفه په صورت کي دی، لکه (ما انتَ الّا سیرًا) او (اما انتَ الّا سیرَ البرید)، نو په دې سره دا ښودل غواړي، چي مفعول مطلق که معرفه وي، یا نکره او مفرد وي، یا مرکب په هرصورت کي د ده فعل حذف کېږي، لکه (مَا اَنتَ اِلّا سیرًا)، دا په اصل کي (ما انتَ الّا تسیرُ سیرًا) و، دلته (سیرًا) مفعول مطلق تر

(الّا) وروسته مثبت واقع سوی دی او ترده مخکي (ما انتَ) اسم منفي راغلی دی او ځيني (سيرًا) خبر نسي جوړېدای، نو په اخير کي (تسيرُ) فعل حذف کړل سو.

قرينه: پر دې حذف قرينه د ده د قائمقام (سيرًا) موجود کېدل دي، ځکه (سيرًا) نه که چېري وکتل سي، نو دا په دغه جمله کي له مذکوره کلماتو څخه د يوې لپاره هم معمول نسي کېدای او بل طرف چې کله موږ وکتل، نو په ده کي عمل سوی دی، ځکه چې منصوب دی، نو په لازمي توګه موږ وويل، چې د ده منصوب کېدل د کوم عامل ناصب پر موجودېدو دلالت کوي او هغه (تسيرُ) فعل کېدای سي، ځکه چې په عواملو کي قوي عامل فعل دی.

نو خلاصه دا راوزي، چې په داسي ځايونو کي که چېري موږ په عبارت کي فعل و نه ليکو، نو هم هلته د ده پر موجود کېدو د(سيرًا) په څېر کوم مصدر دلالت کوي، ځکه نو د داسي فعل حذفول واجب وي.

دوهمه وجه: د دغه فعل پر حذف کېدو داده، چې په داسي جملو کي زموږ مقصد دوام او استمرار وي، او په فعل کي دوام او استمرار نه وي، بلکي هغه پر حدثي معنا دلالت کوي، نو ګواکي چې هغه زموږ د مقصدي معنیٰ په مراد اخستلو کي يو خنډ جوړېدی، ځکه نو هغه په وجوبي ډول حذف کړل سو، د دې لپاره چې خنډ نسي.

دوهم مثال: (ما انتَ الّا سيرَالبريد) دا په اصل کي (ما انتَ الّا تسيرُ سيرَالبريد) و، په دې کي هم هماغه تفصيل دی، کوم چې په مخکني مثال کي تېر سو، لنډه دا چې د (سيرالبريد ما انتَ) لپاره خبر نسي جوړېدای، او د جمله په مذکوره کلماتو کي کوم عامل ناصب هم داسي نسته، چې ده ته يې نصب ورکړی وي، نو له مجبوري څخه موږ وويل، چې دا هم پر فعل محذوف دلالت کوي او هغه (تسيرُ) دی.

دريم مثال (انّما) د نفي معنیٰ ورکوي (انّما انتَ سيرًا) دا هم په اصل کي (انّما انتَ تسيرسيرًا) و په دې کی هم هماغه مخکنی تفصيل دی.

د فعل په وجوبي توګه د حذف کېدو دوهم مقام

د فعل په وجوبي توګه د حذف کېدو دوهم مقام:

او وقع مکررًا: دوهم هغه مقام چیري چی د مفعول مطلق د فعل حذفول واجب وی، هغه دادی، چي یو ځای مفعول مطلق مکرر راغلی وي، تر ده مخکی داسي اسم وي، کوم چي مبتداء وي او د خبر غوښتنه هم کوي، لیکن سره له دې هغه مفعول مطلق دده لپاره خبر نسي جوړېدای، لکه (زیدٌ سیرًا سیرًا) دا په اصل کي (زیدٌ یسیرُ سیرًا) و، (سیرًا) فعل حذف کړل سو، (سیرًا) یې قائم مقام سو، نو (زیدٌ سیرًا سیرًا) سو.

دلته د فعل د حذف او بیا د مفعول مطلق دده پر ځای د درېدو قرینه داده، چي له داسي جملې راوړلو ځخه مقصود زموږ دوام او استمرار وي او فعل له استمرار سره مخالف وي، ځکه نو د ده حذفول واجب وبلل سوه.

چیري چي مفعول مطلق مکرر خو وي، لیکن تر ده مخکی هیڅ اسم نه وي، بلکي فعل وي، نو په داسي ځای کي فعل نه حذف کېږي، بلکی پر خپل حال به پاتېږي، لکه د الله جل جلاله وینا (کلا اذا دُکَّتِ الارض دَکًّا)، ځکه چي موږ شرط لګولی وو چي تر مکرر مفعول مطلق مخکی داسي اسم وی، چي مبتداء وی او د خبر غوښتنه کوي، لیکن دلته تر مفعول مطلق مخکي فعل مجهول واقع سوی دی، کوم چي مبتداء نسي کېدای.

پنځوسم (۵۰) درس

د قیاسي وجوبي حذف درېیم او څلورم ځای

و منها ما وقع تفصیلًا لأثر مضمون جملة متقدّمةٍ، مثل : (فشدُّوا الوثاق فاما منًّا بعد واما فداءً) و منها ما وقع للتشبیه علاجًا بعد جملة مشتملة علیٰ اسم بمعناه و صاحبه، نحو: مررت به فاذا له صوتٌ صوتَ حمارٍ و صراخٌ صراخَ ا لثکلیٰ.

ترجمه: او له هغو اوو ځایونو څخه چیري چی د فعل حذفول واجب دي، هغه مفعول مطلق هم دی، کوم چي له مخکنۍ جملې څخه د راوتلي مصدر د غرض او غایې د تفصیل بیانولو لپاره راوړل سوی وي، لکه: (فشدُّوا الوثاق فاما منًّا بعد

واما فداءً)، یعني هغه مشرکان ټینګ وتړئ، بیا تر دې وروسته یا د احسان معامله کول دی، یا فدیه اخستل دی او (څلورم) په دوی کی هغه مفعول مطلق دی، کوم چې د تشبیه لپاره وی، او له افعال جوارح څخه د یو فعل مصدر وي او دا تر داسي جمله وروسته راغلی وي، کومه چې پر داسي اسم مشتمله وي، کوم چې د مفعول مطلق په معنا وی او د اسم پر صاحب مشتمل وي، لکه: (مررت به فاذا له صوتٌ صوتَ حمارٍ وصراخٌ صراخَ الثکلی).

تشریح: له دې ځایه د فعل د وجوبي قیاسي حذف دریم او څلورم صورت بیانوي:

د فعل د حذف وجوبي دریم مقام:

منها ما وقع تفصیلا لأثر مضمون جملة متقدّمةٍ: چیري چي تر مفعول مطلق مخکي داسي جمله فعلیه وي، له کومې څخه چي فهمول سوی مصدر د خپل فاعل، یا مفعول وطرفته مضاف وي او پوره مطلب و غرض و غایه یې په پوهه کی نه راځي (ځکه چی دا مرکب اضافي وي، د مرکب ناقص په حکم کي وي) او د ده دتفصیل او غرض د انواعو د بیانولو لپاره مخکي مفعول مطلق راغلی وي، نو د داسي مفعول مطلق د فعل حذفول واجب دی، لکه: (فشدُّوا الوثاق فاما منًّا بعد واما فداءً) په دې کی د جمله متقدمه مصداق (فشدوا الوثاق) دی، پکي (فشدّوا) فعل او فاعل دي او (الوثاق) مفعول به دی، فعل سره له خپل فاعل او مفعول به جمله فعلیه دي.

د شَدَّ یشدّ مصدر (شدًّا) راځي، نو ګواکي چي له مذکوره جمله متقدمه څخه هُمدا مصدر وفهمول سو، د خپل مفعول وطرفته مضاف کړل سو، نو (شدّوا الوثاق) جوړ سو، په معنا د غاړو تړلو.

نو سوال پیداکېدی، چي د غاړو د تړلو غرض او غایه څه دي؟، په وروسته کي یې مفعول مطلق راوړ، د هغه تفصیل یې وکړ، چي (فاما منابعد) چی زمابندګانو! د دې مقصد دادی، چي تر تړلو وروسته یې یا ازاد کړئ، احسان پر وکړئ، نو د

(الانسان عبدالاحسان) په مخته بنودلو سره به یا دا مشرکین بندیان مسلمانان سي، یا به لږ ترلږه په راتلونکي کي تاسو ته تکالیف خو نه رسوي.

(و اما فداءً) په دې کي دوهم مقصد دا بیانوي، چي له دوی ځخه فدیه واخلئ، دوی پرېږدئ، لهذا د آیت مبارکه تقدیر داسي کېږي: (فشدّوا الوثاق تمنّون منّا واما تفدون فداءً) ترجمه یې داسي کېږي: نو مشرکین ټینګ وتړئ، بیا یې ترتړلو وروسته یا خو پرېږدئ، احسان وربانديي وکړئ، په احسان کولو سره، یا فدیه ځیني واخلئ په فدیه اخستلو سره.

و هکذا (جلسَ زیدٌ فاما اکلًا بعد و اما شربًا) دلته هم جمله متقدمه (جلس زیدٌ) ده، له کومې نه چي د حاصل (راوتلې) مصدر اضافت داسي سوی (جلوس زید فاما اکلًا و اما شربًا).

دلته سوال کېږي، چي د (فشدّوا الوثاق) رنګه هرومرو مرکب اضافي جوړوئ، حال دا چي پر خپل حال پرېښودل سي، نو مرکب مفید کېږي، دومره تکلفاتو ته ضرورت نه و؟

د دې جواب دادی، چي جنابه! ستا خبره بلکل سمه ده، لیکن په دې پسې په (فاما منّا بعد واما فداءً) سره یې تفصیل بیان کړی دی، حال دا چي تفصیل د اجمال کېږي او مذکوره جملې که چېري پر خپل حال پاتې سي، نو پکی اجمال نه پاتېږي، لکه چي تا وویل او که اجمال نه وي، نو وروستنی تفصیل بېکاره ثابتېږي، حال دا چي قرآنکریم له داسي عیبونو ځخه پاک دی، نو دا خبره ثابته سوه، چي په مخکی کي اجمال ومنو او هغه مرکب اضافي سي، نه چي مرکب مفید او بیا د دغه اجمال تفصیل را روان مفعول مطلق وکړي.

نو ګواکی چی د (فاما منّا بعد) د تفصیل لپاره کېدلو د فعل د مصدر په تاویل پر کېدلو او د خپل فاعل، یا مفعول وطرفته پر مضاف کېدو دلالت وکړ.

تر دې وروسته دا خبره په ذهن کی ونیسئ، چي په داسي ځای کي د فعل په وجوبي ډول د حذف کېدو دوې وجې دي:

①: لومړی دا چي که چېري فعل حذف نسي، نو تحصیل د حاصل او اشتغال په ما لا یعني لازمېږي، ځکه چي له (منًا او فداءً) دواړو څخه مذکوره مطلب او غرض و غایبت پخپله معلومېږي، نو فعل ذکر کولو ته ضرورت نه پاتېږي.
②: دوهم دا چي دلته که څه هم فعل پخپله ذکر سوی نه دی، لېکن قائم مقام او د ده له طرفه ترجماني کوونکی مفعول مطلق موجود دی او د فعل پر حذف کېدو قرینه هم موجوده ده (یعنی د مفعول مطلق منصوب کېدل)، ځکه چي دلته له فعل محذوف پرته بل هېڅ عامل ناصب نسته.
اوس د عبارت د کلماتو هرې یوې بېل، بېل مطلب واضح کېږي:
جملةٌ متقدمة: یعنی تر مفعول مطلق مخکی یوه جمله راغلې وي.
له مضمون څخه مراد دادی، چي له مخکني جملې څخه د راوتلي مصدر اضافت دخپل فاعل، یا مفعول وطرفته سوی وي.
له اثر څخه مراد غرض و غایه دي.

د فعل په وجوبي ډول د حذف کېدو څلورم مقام

د فعل په وجوبي ډول د حذف کېدو څلورم مقام:
و منها ما وقع للتشبیه علاجًا بعد جملة مشتملة علی اسم بمعناه وصاحبه:
په دې عبارت کي د فعل په وجوبي ډول د حذف کېدو څلورم مقام ذکر کېږي، چي هرهغه مفعول مطلق کوم چی له افعال جوارح څخه د کوم فعل مفعول وی او مشبه به وي، یعني له ده سره د یو شی تشبیه ورکول سوي وي او دا مفعول مطلق تر داسي جملې وروسته واقع سوی وي، په کومه کی چي د دغه مفعول په معنا اسم هم وي او صاحب اسم هم، نو د داسي مفعول مطلق د فعل حذفول واجب دي، لکه (مررت بزید فاذا له صوتٌ صوتُ حمار).
دلته په وجوبي ډول پر حذف کېدو قرینه او قائم مقام دواړه سته، قرینه خو د مفعول مطلق منصوب کېدل دي، کوم چی د خپل عامل ناصب تقاضا کوي او په پوره جمله کي د ده لپاره کوم نصب ورکوونکی عامل نسته، کوم چی ده ته نصب ورکړی وي، نو موږ مجبورًا فعل محذوف ومانه، او قائم مقام هم دلته همدا مفعول مطلق دی.

وګورئ! (صوت حمارٍ) مضاف سره له مضاف الیه مفعول مطلق دی او دا مشبه به دي، ځکه چې ورسره د مخکښي اسم (صوت) تشبیه ورکول سوې ده او ترده مخکې د مخکې جمله متقدمه مصداق (فاذا له صوتٌ) دی، کوم چې د مفعول مطلق په معنا پر اسم یعنی (صوتٌ) او پر صاحب اسم یعنی (له) مشتمل دی، نو پکې (یصوتُ) فعل په وجوبي ډول محذوف دی، د ارازپه (مررت به فاذا له صراخ کصراخ الثکلی) کې (یصرخ) فعل په وجوبي ډول محذوف دی.

فائده ①: مصنف رحمه الله علیه مسئله یوه او مثالونه دوه ځکه بیان کړې، چې دا وښیي چې د مفعول مطلق د ذوی العقول وطرفته هم اضافت کېدای سي، لکه په دوهم مثال کې او د غیرذوی العقول وطرفته هم، لکه په لومړي مثال کې.

دوهمه وجه دا چې مصنف رحمه الله علیه غواړي را وښیي چې دا د معرفه وطرفته هم مضاف کېدای سي، لکه په دوهم مثال کې او دنکره وطرفته هم لکه په لومړي مثال کې.

فائده ②: د مفعول مطلق په هکله مونږ ویلې وه، چې دا کله کله د عدد د بیانولو لپاره راځي او کله کله د نوع د بیانولو لپاره او کله، کله د تاکید لپاره راځي، دلته په پورتنیو دوو مثالونو کې د نوع د بیان لپاره دی.

یو پنځوسم (۵۱)

د حذف وجوبي پنځم، شپږم، او هفتم ځای

و منها ما وقع مضمون جلمة لا محتمل لها غیره، نحو: له عليَّ الف درهمٍ اعترافًا و یسمّٰی تاکیدًا لنفسه، و منها ما وقع مضمون جملةٍ محتمل غیره، نحو: زیدٌ قائمٌ حقًا و یسمّٰی تاکیدًا لغیره ومنها: ما وقع مثنًّی، مثل: لبّیک و سعدَیک.

ترجمه: او له دغو ځایونو څخه هغه مفعول مطلق هم دی، چې د داسې جملې مضمون واقع سوی وي، په کوم کې چې له ده پرته بل احتمال نه وي، لکه (له

عليّ الف درهمٍ اعترافًا) او نومول سوی په تاکید لنفسه سره او له دغو ځایونو څخه هغه مفعول مطلق هم دی، کوم چې د داسي جملې مضمون واقع سوی وي، په کومه کی چي له ده پرته د غیر احتمال هم وي، لکه (زيدٌ قائمٌ حقًا) او نومول کېږي دا په تاکید لغیره سره او له دغو ځایونو څخه هغه مفعول مطلق هم دی، کوم چي تثنیه واقع سوی وي، لکه (لبّیک وسعدَیک).

تشریح: د نن په سبقه کي مصنف رحمه الله د مفعول مطلق د فعل په وجوبي ډول د حذف کېدو پنځم، شپږم او اووم مقام بیانوي:

د مفعول مطلق د فعل په وجوبي توګه پنځم مقام

د مفعول مطلق د فعل په وجوبي توګه پنځم مقام:

ومنها ما وقع مضمون جملة لا محتمل لها غيره: چی مفعول مطلق د داسي جملې ماحصل او خلاصه وي، په کوم کي چي د مفعول مطلق له جوړېدو پرته د بل کوم شي ګنجائش نه وي، نو د داسي مفعول مطلق فعل حذفول واجب دي، لکه (له عليّ الف د رهم اعترافًا) دا په اصل کي (له عليّ الف درهم اعترفت اعترافًا) و، په دې جمله کي (اعترافًا) مفعول مطلق دی، کوم چی د مخکنۍ پوره جملې خلاصه او ځینی راوتلی دی، ځکه د (له عليّ الف د رهم) مطلب هم اعتراف او اقرار کول دي او د (اعترافًا) خو معنی ده اعتراف کول، په دې کي د مفعول مطلق خلاف ګنجائش بلکل نسته، ځکه چی د اعتراف په مقابله کي انکار او دروغ راځي او په مذکوره جمله کي د دې دواړو هېڅ ګنجائش نسته.

يسمّى تاكيدًا لنفسه: داسي مفعول مطلق ته تاکید لنفسه هم ویل کېږي، ځکه چی د دواړو مدلول او مقصد یو دی.

د مفعول مطلق د فعل په وجوبی د حذفولو شپږم ځای

د مفعول مطلق د فعل په وجوبی د حذفولو شپږم ځای:

ومنها ما وقع مضمون جملة لها محتمل غيره: یعني مفعول مطلق د داسي جملې ماحصل او خلاصه وي، په کومه کي چي له مفعول مطلق پرته د بل کوم شی هم ګنجائش وي، لکه (زيدٌ قائم حقًا) دا په اصل کي (زيدٌ قائم احقُّ حقًا) و، (حقًا)

مفعول مطلق دی، کوم چې د (زیدٌ قائمٌ) خلاصه او ماحصل دی. لیکن په (زیدٌ قائمٌ) کې له ده پرته یعنې د ده د ولاړېدو هم احتمال و، ځکه چې دا جمله خبریه ده او په جمله خبریه کې د صدق او کذب دواړو احتمال وي. نو د عبارت تقدیر داسې کېږي: (زیدٌ قائمٌ کذبًا وباطلًا)، لیکن (حقًا) مفعول مطلق کوم چې د تاکېد لپاره دی، نوی راغی، د دروغو احتمال یې ختم کړ او د رښتیا د احتمال تاکید یې وکړ.

و یسمّی تاکیدًا لغیره: چې دا راز مفعول مطلق ته تاکید لغیره هم ویل کېږي، ځکه چې څرنګه دا د خپل فعل د تاکید لپاره راځي، همدا راز د غیر د احتمال په تاکید سره د دفع کېدو لپاره هم راځي.

د مفعول مطلق د فعل په وجوبي توګه د حذف کېدو اووم مقام

د مفعول مطلق د فعل په وجوبي توګه د حذف کېدو اووم مقام:

و منها ما وقع مثنّی: په دې عبارت کې د پوهې دوې خبرې دي: ①: د اووم ځای وضاحت، ②: د لبیک وسعدیک تحقیق:

لومړی خبره: د اووم ځای وضاحت:

مصنف رحمه الله د مفعول مطلق د فعل د حذف کېدو اووم ځای بیانوي، چې هر هغه ځای چېرې چې مفعول مطلق د تثنیه په شکل واقع سوی وي او مراد په تثنیه سره تثنیه نه وي، بلکې کثرت او تکرار وي، په دې شرط چې اضافت یې د فاعل، یا مفعول وطرفته سوی وي، د داسې مفعول مطلق د فعل حذفول هم واجب دي، لکه: (لبیّک وسعدیک)، د حذف وجه یې هماغه لومړی وجه ده، چې پخپله مفعول مطلق د فعل محذوف قائم مقام دی او منصوب کېدل یې د فعل پر حذف قرینه ده، چې تفصیل یې تېر سوی دی.

دلبیک او سعدیک تحقیق

دوهمه خبره: د لبیک او سعدیک تحقیق:

لبیک: دا مرکب اضافي دی، هغه مصدر چې د تثنیه اضافت یې د خپل مخاطب وطرفته سوی دی، دا په اصل کې (اِلبُّ لک البابین)، معنا یې: ده د طاعت لپاره

چمتو اوسېدل، لکه چې د (البّ) فعل حذف کړل سي، مفعول مطلق یې پر ځای ودرېږي، نو (لک البابّینِ) سو، تر دې وروسته ثلاثي مزید د(اِفعال د باب) مصدر دمجرد (نصرینصر) وطرفته واپس کړل سو، نو (لبّین) سو، بیا زوائد یعنی لام حرف جر حذف کړل سو، اضافت یې د خپل مفعول (کاف ضمیر مخاطب) و طرفته وسو، نو نون دتثنیه یې ځیني وغورزاوه، (لبّیکَ) جوړ سو.

دفعل دحذف قرینه:

لکه څرنگه چې ته پوهېږې، چې په اصل کې دا (اَلِبُّ لک البابّینِ) و، لومړی فعل حذف کړل سو، بیا له مزید څخه د مجرد وطرفته راغی او له مینځ څخه یې زوائد حذف کړل سو، نو دا دومره مراحل د دې لپاره طی (پَل) کړل سو، چې مخاطب ته کله هم وویل سي، نو هغه سمدستي جواب ورکولو ته چمتو سي او حکم پر ځای کړي، که نه نو که چېري دی پر خپل اصل پاتې سي، نو د امر پر ځای کول سمدستي محال کېږي، ځکه نو په اسم کي ترمیم او تسهیل وکړل سو، لبیک ځینی جوړ سو (وقس علیٰ هذا کلمة سعدیک)، صرف دومره فرق یې سته، چې (لبّیکَ) په اصل کي تر فعل وروسته لام جاره منل کېږي (کما فی البّ لک)، حال دا چې په (سعدیک) کي دا راز نه دی، ځکه چې (اسعدَ یُسعد اسعادًا) متعدي بنفسه او (البَّ یُلبُّ البابًا) متعدي باللام دي.

فائده: لبیک بېله سعدیک استعمالول جائز دي، لېکن د دې پر عکس جائز نه دی، ځکه چې (سعدیک) که چېري ته ووایې، نو تر دې مخکي (لبیک) ویل ضروري دي.

دا دواړه که څه هم تثنیه دی، لیکن مراد ځیني کثرت او تکرار دي، له همدې وجې د (لبیک) معنا داسي کېږي: (البُّ بطاعتک البابًا بعد البابِ) او د (سعدیک) معنا داسي کېږي: (اسعد اسعادًا بعد اسعادٍ).

دریمه خبره: یو سوال او د ده جواب:

دلته سوال کېږي، چې جنابه! ته له څو ورځو نه د مفعول مطلق کوم چې د تاکید لپاره وي مسائل او احکامات بیانوي، لیکن څرنگه چې دا مسائل پای ته

ورسېدل، نو تا ترټولو مخکي د لومړۍ مسئلې خلاف ورزی پیل کړه. هغه په دې دول چې دلته تا مفعول مطلق تاکید د تثنیه په صورت کي راوړی، حال دا چې هلته خو موږ ویلي وه، چې فالاول لایُثنٰی ولایُجمع؟

د دې جواب دادی، چې جنابه! هلته چې د کومې تثنیه اوجمع نفې سوې وي، له هغه څخه د حقیقي تثنیه او جمع نفې مراد وي، پاتې سو دلته، نو دا که څه هم په لفظي توګه تثنیه دي، لېکن په حقیقت کي تثنیه نه ده، بلکې له دې څخه مراد تکرار او کثرت دي.

یادونه: د حاشیه والا د هندي په حواله دلته یوه نکته لیکلې ده، چې په داسي ځای کي د مفعول مطلق فعل حذفول که څه هم وجوبي قیاسي دی، لیکن پر داسي مصادرو تاسو مصادر نسي قیاسولای، ځکه چې مصادر پخپله سماعي وي.

دوه پنځوسم (۵۲) درس

د مفعول به بیان

المفعول به: وهو ما وقع علیه فعل الفاعل، نحو: ضربتُ زیدًا، وقد یتقدّم علی الفعل، نحو: زیدًا ضربتُ، وقد یُحذف الفعل لقیام قرینةٍ جوازًا، کقولک: زیدًا، لمن قال: من أضرب؟، و وجوبًا فی اربعة مواضع: الاول سماعیٌّ، نحو: امرأو نفسه، و(انتهوا خیرًالکم)، واهلًا و سهلًا.

ترجمه: مفعول به هغه اسم دی، پر کوم چي د فاعل فعل واقع سوی وي، لکه (ضربتُ زیدًا) او کله کله پر خپل فعل مخکي کېږي هم لکه: (زیدًا ضربتُ) او کله کله د قرینې په وجه په جوازي ډول حذف کېږي هم، لکه چي تاسو دا وواياست (زیدٌ) د هغه چا په جواب کي چي پوښتنه وکړي (من اضرب؟) یعنی ما څوک وواهم او په وجوبی ډول یې د حذف کېدو څلور ځایونه دي: لومړی په دوی کي سماعي دي، لکه: (امرأونفسه) او (انتهوا خیرًالکم) و اهلًا و سهلًا.

تشریح: د نن په سبقه کي دوې خبرې دي:

①: د مفعول به تعریف او د قیدونو فائدې، ②: له مفعول به سره تړلې څه مهمې مسئلې.

د مفعول به تعریف

لومړۍ خبره: د مفعول به تعریف:

المفعول به: د دې لغوي تحقیق دادی، چې (المفعول) د اسم مفعول صیغه ده، په پیل کې چې کوم (الف لام) راغلی دی، هغه د (الذی) په معنا دی او په (به) کې (باء) د سببیت ده او ((ها)) ضمیر دغه (الف لام) ته راجع دی، کوم چې د (المفعول) په پیل کې دی، او د (الذی) په معنا دی، نو اوس د عبارت تقدیر دامې کېږي: (المفعول به، ای الذی فعل الفعل لاجله)، یعني هغه شی، د کوم له وجې چې یو کار سوی وي.

او اصطلاحي معنا یې بخپله مصنف رحمه الله بیان کړې، چې (هو ما وقع علیه فعل الفاعل)، یعني مفعول هغه اسم دی، چې د فاعل فعل، هغه که منفي وي، یا مثبت واقع سوی وي، لکه: (ما ضربَ زیدٌ عمروًا او ضرب زیدٌ عمروًا).

د قیدونو فائدې:

په مذکوره عبارت کې د (هو) ضمیر مرجع (المفعول به) ده، کوم چې معرّف دی او (ما وقع علیه فعل الفاعل) یې تعریف دی، بیا په دې تعریف کې (ما) جنس ده، کوم چې هر قسم اسماؤ ته شامل ده، (وقع علیه فعل الفاعل) دا فصل دی، له وجې یې له مفعول به پرته پاتې ټول اسماء ووتل.

دوهمه خبره: له مفعول به سره تړلې څو مهمې مسئلې:

لومړۍ مسئله: د مفعول به پر خپل فعل (عامل) مخکې کېدل:

وقد یتقدّم علی الفعل: مصنف رحمه الله په دې عبارت کې له مفعول به سره تړلې لومړۍ مسئله بیانوي، چې کله کله مفعول به پر خپل فعل (عامل) مخکې کېږي، د مصنف رحمه الله د دې مطلق بیانول دېته اشاره ده، چې د مفعول به مخکې کول کله په جوازي ډول وي، او کله په وجوبي ډول، د جوازي مثال، لکه (ضربتُ زیدًا) او لکه چې د حضرت حسان بن ثابت رضي الله عنه په قصیده کې هم دي:

وَاَحْسَنُ مِنْکَ لَمْ تَرَ قَطُّ عَیْنٌ * وَ اجْمَلُ مِنْکَ لَمْ تَلِدِالنِّسَاءُ

ترجمه: تر تا ښائسته هېڅکله سترګو لیدلی نه دی او تر تا ښائسته هیڅ مور زېږولی نه دی.

او د وجوبي پېژندګلوي په دې ډول ده، چې په مفعول کې د استفهام معنا موجوده وی، لکه چې یو څوک پوښتنه وکړي: من رأیتَ؟، دلته مَنْ د استفهام معنا ته متضمن دی او مفعول به دی، کوم چې مخکې سوی دی، ځکه چې حروف استفهام د کلام صدارت غواړي، دلته که چېرې مفعول به مخکې نکړل سي، نو د کلام صدارت له مینځه ځي.

د مفعول مخکې کول که جوازي وي، که وجوبي، دا ځکه ممکن دي، چې په ټولو عواملو کې فعل یو قوي عامل دی، یعنی که یې معمول مخکې وي، نو هم دی پکې عمل کولای سي او که وروسته وي، نو هم خپل عمل کولای سي (کما لاحظتَ فی الأمثلة آنفا).

د مفعول به د عامل په جوازی ډول حذفول

دوهمه مسئله: د مفعول به د عامل په جوازی ډول حذفول:

و قد یُحذف الفعل لقیام قرینة جوازًا:

یعني کله کله (چې قرینه حالیه، یا مقالیه موجوده وي) د مفعول به عامل حذف کېږی، مثلا یو سړی سوال وکړي، چې (مَنْ اضرب؟)، نو په جواب کی یې وویل سي: (زیدًا)، وګوره! دلته مفعول منصوب دی، لیکن د ده کوم ناصب عامل نه ښکاري، ځکه چې هغه حذف کړل سوی دی، او پر حذف یې قرینه مقالیه (یعني د سوال کوونکي سوال) دی او دا قاعده مخکې تېره سوه، چې (المذکور فی السؤال کالموعود فی الجواب) او په سوال کې اضرب فعل عامل موجود دی، نو ګواکې چې هغه دلته هم موجود دی، لېکن په تقدیري ډول، نو په لفظي توګه یې ذکر کولو ته کوم ضرورت پاتې نسو، ځکه حذف کړل سو.

او د قرینه حالیه مثال دادی، چې یو سړی د سفر سامان تیار کړي او احرام وتړي او (لبیک اللّهم لبیک ، لبیک لا شریک لک لبیک، ان الحمد والنعمة لک

لک، لا شریک لک) په لوړ اواز په شدت او شوق سره وايې، تر سترګو يې
ځکې، څاڅکي اوښکې هم څڅېږي، په دې کي يو څوک راسي، پوښتنه ځيني
وکړي: (مکۀ؟)يا (حجّ البيت؟)، د ده په جواب کی هغه ووايې (نعم الحمدلله)
اوس وګوره! (مکة) او (حجّ البيت) دواړه منصوب دی، سره له دې چي تر دوی
مخکي هيڅ عامل ناصب نه ليدل کېږي او بيا هم موږ وايو، چي منصوب کېدل
يې صحيح دي، ځکه چي تر دې مخکی (أتُسافر؟، يا أتريدُ؟ فعل ناصب محذوف
دی او د هغه پر حذف کېدو قرينه حاليه موجوده ده، ځکه دا حالت پخپله دا ښيي،
چی دا سړی د حج په سفر روان دی.

د مفعول به د عامل په وجوبي ډول حذفول

دريمه مسئله: د مفعول به د عامل په وجوبي ډول حذفول:

و وجوبًا فی اربعة مواضع:

دلته د کتاب مصنف رحمه الله دريمه مسئله بيانوي، چي څلور قسمه داسي ځايونه
دی، چېري چي د مفعول به عامل په وجوبي ډول حذف کېږي، په هغو څلورو کي
لومړی سماعی او پاتې درې يې قياسي دي.

سماعي دا معنا، چی پر حذف يې له موږ سره کومه قاعده او قانون شتون نلري،
بس موږ يا خو له عربو حضراتو نه داسي اورېدلي وی، يا د دوی په کتابونو کي
هداسي ليکلي وي، له همدې وجې مصنف رحمه الله څلور مثالونه ذکر کړي دي:

لومړی مثال: امرأ ونفسه: يعنی دی او خپل ذات سره پرېږده، دلته تر (امرأ)
مخکی (اترُکْ) فعل ناصب محذوف دی، چی له وجې يې (امرأ) منصوب
معلومېږي، تر دې وروسته په (واو) کي دوې خبرې دي:

يو دا چی (واو) د عطف لپاره سي، په دې صورت کي لکه څرنګه چي (امرأ) د
(اترُکْ) په وجه منصوب دی، دا راز (نفسه) هم دده په وجه منصوب دی، ګواکی
چی د دغو دواړو عامل محذوف دی.

دوهمه داچي دا (واو) د (مع) په معنا دی، نو بیا دا د مفعول معه کېدو په وجه منصوب دی، په دې صورت کي صرف د لومړي اسم (امرأ) فعل عامل محذوف کېږي.

دوهم مثال: (انتهوا خیرًالّکُمْ) دلته (خیرًا) مفعول به دی، چي عامل ناصب یې محذوف دی، که چېري یو څوک ووایې، چي دا دي د (انتهوا) لپاره مفعول جوړ سي، د دې پر ځای چي د فعل محذوف لپاره مفعول جوړ سوی دی؟

د دې جواب دادی، چي جنابه! په دې صورت کي معنا خرابېږي، مثلا په دې صورت کي معنا داسی کېږي: (له هغه شی څخه منع سئ، کوم چي ستاسو لپاره غوره وي)، له دې خرابۍ څخه د ژغورني لپاره موږ د ده اصل را وایست (انتهوا عن التثلیث وقصدوا خیرًالکم) یعني ای نصاراوو! تاسو د تثلیث له عقیدې څخه منع سئ او د هغه شی قصد و هوډ وکړئ، چي ستاسو لپاره غوره وي، وګوره دلته د (خیرًا) عامل ناصب (اقصدوا) دی، کوم چي محذوف دی.

درېیم او څلورم مثال: اهلاً و سهلاً، دا دواړه هم منصوب دي او عامل ناصب مذکور نه دی، ځکه چي په اصل کي دا (اتیتَ اهلاً و وطئتَ سهلاً و) یعنی تاسو خپل کورته راغلاست او تاسو پسته او نرمه ځمکه پل کړه.

عرب حضرات خپل مېلمانه ته د ښه راغلي په مهال دا جمله وایې، په دې کي (اهلا او سهلا) د واړه مفعول به دي، عامل ناصب یې د مسافر د حال په قرینه حذف کړل سوی دی، او پر دې حذف له موږ سره کومه قاعده او قانون شتون نلری، بلکي له عربو څخه همداسي اورېدل سوي دي.

دري پنځوسم (۵۳) درس

دفعل په وجوبي، قیاسي ډول د حذف کېدو لومړی ځای (منادٰی)

والثاني المنادٰی، وهو المطلوب اقباله بحرف نائب مناب ادعو لفظًا او تقدیرًا، ویُبنی علٰی ما یُرفع به ان کان مفردًا معرفةً نحو: یازیدُ و یارجلُ ویازید ویازیدان و یازیدون، و یُخفض بلام ا لاستغاثة نحو: یا لزیدٍ و یفتح لالحاق الفها و لا لام فیه، نحو: یازیداه، ویُنصب ماسِواهما، نحو: یاعبدَالله، ویاطالعًا جبلًا، ویا رجلًا لغیر معیّن.

ترجمه: او دوهم ځای منادیٰ ده او منادیٰ هغه اسم دی، په کوم سره چی متوجه کول د داسي حرف په ذريعه مطلوب وي، کوم چي د (ادعو) فعل قائم مقام وي، هغه که په لفظي ډول وي، که په تقديري ډول وي او منادیٰ مبني د رفع پر علامه وي، که هغه مفرد معرفه وه، لکه (يازيدُ ويارجلُ ويازيدان و يازيدون) او منادیٰ ته جر ورکول کېږي په لام استغاثه سره، لکه: (يالَزيدٍ) او منادیٰ ته فتح ورکول کېږي د الف استغاثه په لاحق کېدو سره او په دې وخت کی لام استغاثه نه کېږي، لکه (يازيداه) او له دې پرته نورو صورتونو ته نصب ورکول کېږي، لکه: (يا عبدَالله، ويا طالعًا جبلاً و يارجلًا).

تشريح: د نن په سبقه کي درې خبرې دي:

①: د فعل د حذف کېدو د دوهم ځای وضاحت، ②: د منادیٰ لغوي او اصطلاحي تعريف، ③: د منادیٰ قسمونه او اعراب يې.

لومړۍ خبره: د فعل د حذف کېدو د دوهم ځای وضاحت:

والثاني المنادیٰ: تر دې مخکي مصنف رحمه الله ويلې وه، چي (و وجوبًا في اربعة مواضع)، نو له دغو ځخه لومړی قسم کوم چی سماعی و، هغه تېر سو، اوس د قياسي له دريو قسمونو ځخه لومړی قسم بيانوي. او هغه دادی، چی چېري منادیٰ مفعول به واقع سوي وي، نو په داسي ځای کي د عامل ناصب حذفول واجب دي، لکه (يازيدُ)، دا په اصل کي (ادعو زيدًا) و، نو (ادعو) فعل (عامل ناصب) حذف کړل سو، (يا) حرف نداء يې قائم مقام سوه، ځکه د نداء استعمال ډېر کېږي او ډېر استعمال د اختصار تقاضا کوی او اختصار د (ادعو) پر ځای په (يا) کي په پوره طريقه سره راځي.

د منادیٰ لغوي او اصطلاحي تعريف

دوهمه خبره: د منادیٰ لغوي او اصطلاحي تعريف:

المنادیٰ: دا د مفاعلې له باب ځخه د اسم مفعول صيغه ده، په معنا د را بلل سوي، د دې په پيل کي (الف لام) په معنا د (الذی) اسم موصول ده او پښبله منادیٰ دده صله ده، نو د عبارت تقدير داسي کېږي: (الاسم الذی يُنادیٰ).

او د نحاة په اصطلاح كي يې تعريف هماغه دی، كوم چې مصنف رحمه الله بيان كړی دی: (هوالمطلوب اقباله بحرفٍ نائبٍ مناب ادعو لفظًا اوْ تقديرًا) يعنی منادٰی هغه اسم ده، په كوم سره چې ځان ته متوجه كول مطلوب او مقصود وي، او دا متوجه كول د داسي حرف په ذريعه وي، كوم چې د (ادعو) فعل قائم مقام وي، هغه قائم مقام حرف كه په لفظ كي وي، لكه (يازيدُ) چې په اصل كی (ادعو زيدًا) و، يا په تقديري ډول وي، لكه (يوسف اعرض عن هذا) چې په اصل كي (يايوسف ا عرض عن هذا) و، او په هر يوه كي د متكلم مقصد د مخاطب ځان ته متوجه كول دي.

بيا دا توجه پر دوه قسمه ده: ①: توجه حقيقي، ②: توجه حكمي.

كه چېري منادٰی روح لرونكی شی وي، نو دېته توجه حقيقي ويل كېږي، لكه (يا داؤدُ انا جعلناک خليفةً في الارض) او كه چېري روح لرونكي نه وي، نو ورته توجه حكمي ويل كېږي، لكه (يا جبال اوبی معه والطّير).

بيا توجه حقيقي پر دوه قسمه ده: ①: توجه وجهي، ②: توجه قلبي.

توجه وجهي دا معنا چې ستا مخاطب بيله كومې پردې ستا په مخكی وي، د ده د را بللو مقصد دا وي، چې هغه تاته مخ را واړوي، لكه چې عمر ستا په مخكي وي او ته هغه په (ياعمر) را وبلې، نو دېته توجه وجهي ويل كېږي.

او توجه قلبي دا معنا چې له مخكې نه ستا د مخاطب مخ ستا پر طرف وي، ليكن د هغه زړه بل لور ته وي، په داسي وخت كي ده ته اواز كول، چې د ده زړه ستا طرفته متوجه سي، دېته توجه قلبي ويل كېږي.

د منادٰی قسمونه او اعراب يې

درېيمه خبره: د منادٰی قسمونه او اعراب يې:

له (و يبنى علىٰ ما يرفع به) څخه واخله تر (لغير معين) پوري مصنف رحمه الله د منادٰی شپږ قسمونه او د هريوه اعراب بيانوي:

لومړی قسم: منادٰی مفرده معرفه او اعراب يې:

ويبنى على ما يرفع به : د منادى د لومړى قسم منادى مفرده معرفه مطلب دادى، چې يو اسم مفرد وي، يعنى مضاف، يا شبه مضاف نه وى، که څه هم تثنيه، يا جمع وي او د معرفه مطلب دادى، چې د حرف نداء تر داخلېدو وروسته هغه اسم معرفه سي، تر دې مخکې هغه معرفه وي، يا نکره وى، د هغه هيڅ اعتبار نه کېږي، لکه (يازيدُ ويارجلُ) دلته لومړى مثال د حرف نداء تر داخلېدو مخکې هم معرفه و او اوس هم معرفه دى او مضاف، يا شبه مضاف هم نه دى او په دوهم مثال کې (رجلٌ) مخکې نکره و، خو اوس د حرف نداء تر داخلېدو وروسته معرفه سوى دى او مضاف يا شبه مضاف هم نه دى، د دې اعراب دادى، چې هغه مبني پر علامه د رفع کېږي، لکه (ياسعيدُ) او دا خبره مخکې تېره سوه، چې علامه د رفع دري دي، رفع، واو او الف، لکه (يازيدُ و يازيدان و يازيدون)، نو ځکه مبني پر علامه د رفع سو.

فائده: د منادىٰ دغه قسم مبني بلل سوى دى، ځکه چې په (يازيدُ) کې زيد منادىٰ دى او د کاف اسمى پر ځاى واقع سوى دى، يعني د (ادعوک) د کاف پر ځاى او دغه کاف د (ذالک) له کاف حرفي سره مشابهت لري، نو څرنګه چې حروف مبني وي، نو د منادىٰ دغه قسم هم مبنى سو.

منادىٰ بلام الاستغاثة او اعراب يې

دوهم قسم : منادىٰ بلام الاستغاثة او اعراب يې:

ويخفض بلام الاستغاثة: په لومړي قسم کې منادىٰ مبني وه، اوس په دوهم قسم کې منادىٰ معربه ده، نو د دې اعراب بيانوي، چې کله پر منادىٰ د استغاثه لام داخل سي، نو مجروره کېږي، لکه چې يو سړى د کوم مظلوم لپاره له قوم څخه مرسته غواړي، نو وو ايې: (ياَلَلقومِ لِلمظوم) وګوره! دلته منادىٰ مجروره ده.

په منادىٰ مستغاثه کې څلور شيان وي: ①: استغاثه، ②: مستغيث، ③: مستغاث له، ④: مستغاث.

①: استغاثه: دا د استقامةٌ په څېر د استفعال د باب مصدر دى، په مجردو کې يې ماده (غ، ى، ث) ده، له باب د ضرب يضرب څخه ده، معنا يې ده (مرسته کول)، کله چې د دې ماده د استفعال له باب څخه راوړل سي، نو پکى د طلب معنا

پیدا کېږي، نو اوس یې معنی داسې کېږي: (له فریاد سره مرسته غوښتل). یا چې کله پر مستغاث له (لام) داخل سي، نو د دې لپاره د استغاثه علامه کېږي، له همدې وجې ورته لام استغاثه ویل کېږي.

②: مستغیث دا له همدغه باب څخه د اسم فاعل صیغه ده، په معنا د (مرسته کوونکي).

③: مستغاث له، دا د اسم مفعول صیغه ده او ورسره په (له) کې لام اجلیه لګول سوی، نو معنا یې داسې کېږي: (د چا لپاره چې مرسته غوښتل سوې وي).

④: مستغاث به، دا هم د اسم مفعول صیغه ده او ورسره (منه) لګول سوی دی، نو معنا یې داسې کېږي: (هغه سړی په کوم سره چې مرسته غوښتل سوې وي).

منادیٰ په الف الاستغاثه

دریم قسم: منادیٰ په الف الاستغاثه:

و یفتح لالحاق الفها ولا لامَ فیه:

د منادیٰ په دریم قسم کې دا بیانېږي، چې د ده په اخیر پورې الف استغاثه نښتل سوی وي، نو په داسې صورت کې دوې خبرې دي، یوه دا چې په دې صورت کې منادیٰ منصوبه وي، ځکه الف د خپل ماقبل فتحه غواړي، دوهمه دا چې په داسې صورت کې دده په شروع کې لام استغاثه رانسي، ځکه لام استغاثه دده مجرور کېدل غواړي او الف یې مفتوح کېدل، حال دا چې دا دواړه سره ضد دي (والضدان لا یجتمعان)، لکه: (یازیداه) دلته (زیدٌ) منادیٰ مستغاث بالالف ده او د الف ورپورې نښتل کېدو په وجه مفتوح ده او په اخیر کې یې د وقف (هاء) ده.

د منادیٰ څلورم، پنځم، او شپږم قسم:

وینصب ماسواهما: مصنف رحمه الله وایې: چې له مذکوره دوو قسمونو پرته چې څومره قسمونه او صورتونه دي، په هغو ټولو کې منادیٰ منصوبه کېږي:

دلته یو سوال کېدای سي، چې مخکې خو درې قسمونه بیان سوي دي، نو مصنف رحمه الله (ماسواهما) ولې وویل او (ماسواها) یې ولې ونه ویل؟

د دې جواب دادی، چې بېشکه مخکې درې قسمونه بیان سوي دي، خو مصنف رحمه الله دوهم او دریم قسم یو قسم شمېرلی دی، ځکه یې نو (ماسواهما) وویل.

په (ماسوهما) كي درې صورتونه راتلاى سي، مثلاً څلورم قسم د منادىٰ مضاف دى او پنځم د منادىٰ شبه مضاف او شپږم قسم د منادىٰ نكره غير معينه، په دغو كي د هريوه لږ غوندي تفصيل ته غوږ سئ:
منادىٰ مضافه هغه اسم ته وايې، كوم چي مضاف وي د يو دوهم اسم وطرفته لكه: (يا عبدَالله).
منادىٰ شبه مضافه هغه اسم دى، د كوم چي پوره معنا تر هغه وخته په پوهه كي نسي راتلاى تر څو چي له ده سره تر ده وروسته اسم يو ځاى نكړل سي، يعنى څرنګه چي مضاف په پوره معنا وركولو كي مضاف اليه ته محتاج وي، دا رازدا هم په خپله پوره معنا وركولو كي وروستني اسم ته محتاج وي، لكه (ياطالعًا جبلاً).
دلته سوال كېږي، چي جنابه! ته دېته شبه بالمضاف ولي وايې، مضاف مضاف اليه ورته ووايه؟
دې جواب دادى: چي دا په معنوي توګه خو د مضاف مضاف اليه په ډول دي، ليكن په لفظ كي په عملي ډول د هغه په ډول نه دي، ځكه چي مضاف اليه هېښه مجرور وي، حال دا چي دا هېښه منصوب وي، له همدې وجې موږ ورته شبه بالمضاف وويل او بعينه مضاف مو ورته ونه ويل.
منادىٰ نكره غير معينه: د دې مطلب دادى، چي منادىٰ مفرد وي، يعنى مضاف ياشبه مضاف نه وي او نكره وي، په عامه توګه خو چي پر كومه نكره هم حرف ندا داخل سي، نو هغه دغه نكره معرفه كوي، ليكن دلته د حرف نداء له داخلېدو سره، سره هم هغه نكره پاتې سوى دى، هغه په دې ډول چي يو ړوند سړى بېله كوم تعيين څخه يو سړي ته په مخاطب كولو اواز وكړي (يارجلًا خذ بيدى)، نو دلته خو ړوند سړى هغه سړي نه ويني، چاته چي يې اواز كړى، بلكي هغه بېله تعيين څخه هغه راوباله، نو ځكه موږ وويل، چي هغه څوک را وباله هغه منادىٰ نكره غير معين كېږي.

څلور پنځوسم (۵۴) درس

د منادىٰ مبني د توابع مفرده بيان

و توابع المنادى المبنى المفردة من التاكيد والصفة وعطف البيان والمعطوف بحرفٍ الممتنع دخول (يا) عليه تُرفع على لفظه، و تُنصبُ على محلّه، مثل: يازيدُ العاقلُ والعاقلَ والخليل فى ا لمعطوف يختار الرَّفع، وابو عمرو النَّصب وابوالعباس ان كان كالحسن فكالخليل والّا فكابى عمرو، والمضافة تنصب.

ترجمه: او د منادیٰ مبني پررفع مفرد توابع يعنى تاكيد، صفت، عطف بيان، او داسي معطوف بالحرف، پر كوم چي حرف نداء داخلېداى نسي، دېته رفع د منادیٰ پر لفظ په حمل كېدو سره وركول كېږي او نصب وركول كېږي د منادیٰ پر محل په حمل كېدو سره، لكه: (يازيدُالعاقلُ او يازيدالعاقلَ) او امام خليل په معطوف بالحرف كي رفع وركول غوره او خوښ ګڼلي دي او امام ابوعمرو نصب او امام ابوالعباس مبرد وايي، چي منادیٰ كه چېري د (الحسن) په څېر كوم اسم وي، نو هغه ته دامام خليل په ډول رفع وركول اولىٰ ده او كه نه وي، نو د ابوعمرو په څېر نصب وركول.

تشريح: د نن په سبق كي درې خبرې دي:

①: د منادیٰ مفرد معرفه توابع، ②: د دغو توابع په اعراب كي اختلاف، ③: د منادیٰ مضاف د توابع اعراب.

د منادیٰ مفرد معرفه توابع

لومړۍ خبره: د منادیٰ مفرد معرفه توابع:

مصنف رحمه الله چي كله د منادیٰ له احكامو او مسائلو څخه فارغ سو، اوس د منادیٰ توابع بيانوي، (توابع، تابعةٌ) صيغه د اسم فاعل جمع ده، په معنیٰ د تابعداري كولو. لكه چي (ضوارب جمع ده د ضاربةٌ) صيغه اسم فاعل، مصنف رحمه الله د منادیٰ د لومړي قسم منادیٰ مفرد معرفه څلور توابع ذكر كوي، يعني تاكيد، صفت، عطف بيان او هغه عطف بالحرف پر كوم چي ياء داخلېدل منع وي، يعني معطوف معرف باللام وي او د توابع بيان كه څه هم په مستقله توګه راروان دي. لېكن دلته د منادیٰ مفرد معرفه د تابع كېدو په وجه د منادیٰ د توابعو ځيني

خاص احکامات ومسائل سته، یعنی پر دوی د رفع او نصب دواړو جائز کېدل، حال دا چي په عامه توابعو کي داسي نه وی، ځکه نو دلته د هغه ذکر کېږي.
فائده: له تاکېد څخه مراد تاکېد معنوي دی، نه چي تاکید لفظي، ځکه چي تاکید لفظي صرف د لفظ تابع وي، او له صفت او عطف بیان څخه مراد عام دی، هغه که صفت بحاله وی، یا صفت بحال متعلقه وي، دا راز عطف بیان که معرف باللام وی، یا غیر معرف باللام وي.

د توابع منادٰی اعراب او پکي د نحوي د علماؤ اختلاف

دوهمه خبره: د توابع منادٰی اعراب او پکي د نحوي د علماؤ اختلاف:
ترفع علیٰ لفظه وتنصب علیٰ محله: دا عبارت مصنف رحمه الله تر (والا فکأبی عمرو) پوري د دې لپاره راوړي، چې د منادٰی مذکوره د څلورو توابعو اعراب بیان کړی، په دې کي یې څلور اقوال ذکرکړي دي:
لومړی قول: د کافیه د ملاصاحب رحمه الله:
لومړی قول، کوم چې د کافیه ملاصاحب رحمه الله خوښ کړی، هغه دادی، چې دا په دوو طریقو سره ویل جائز دي، یو دا لکه څرنګه چي د ده متبوع مبنی پر علامه د رفع وي، دا راز دی هم د هغه پر لفظ په محمول کولو سره مرفوع ویل کېږي، بیا که دا منادٰی مرفوع لفظًا وي، یا تقدیرًا وي، یا محلًا او په هر حال کي دا مرفوع ویل کېږي، لکه: یازیدُالعالِمُ و یا قاضیُ العالِمُ ویا هؤلاءِ الکرامُ او دوهم دا چي د ده د هغه پرمحل په حمل کولو سره منصوب ویل کېږي، ځکه محلًا منادٰی منصوبه وي، نو ددې توابع هم منصوب وي.
دلته دا شبه نه کېږي، چي مبنی پر اعراب لفظي او تقدیري څرنګه راځي، حال دا چي د مبني اعراب خو محلي وی؟
ځکه چي د منادٰی مبني کېدل اصل نه دي، بلکي عارضی دی او پر مبنی عارض دا اعراب راتلای سي.
دوهم قول: د امام خلیل:
ده ویلي دي: چي د مذکوره قسمونو مرفوع ویل اولیٰ دي، ځکه چي دا هم مستقل منادٰی وي، صرف دا چي پر دوی حرف نداء نسي داخلېدای، ځکه بیا

دوې علامې د تعریف یعنی د معرّف باللام او حرف ندا جمع کېدل لازمېږي، کوم
چي ممنوع دی.

دریم قول: د ابوعمروالمازني:

امام ابوعمرو بن العلاء المازني وايې: چي د دوی منصوب ویل اولیٰ او غوره
دي، ځکه چي کله پر دوی حرف نداء نسي داخلېدای، نو دا منادیٰ نسي
جوړېدای، بلکي د معطوف په حکم کی وي او د معطوف د معطوف علیه پر محل
محمول کېږي، نو دلته هم داسي سوې، څرنګه چي دلته معطوف علیه منادیٰ
محلًا منصوب دی، نو دا هم منصوب کېږي.

څلورم قول: د امام مبرد:

ابوالعباس محمد بن یزید المبرد وايې: چي منادیٰ که چېري د (الحسن) په ډول
وي، یعني په اصل وضع کي ورسره الف لام نه وی، بلکی وروسته وربانديي
لګول سوی وي. نو ګواکی چي د اسي الف لام راوړل او نه راوړل دواړه برابر
دي، نو د ده په شروع کي د حرف نداء راوړل صحیح وي او حرف نداء چي کله پر
داخله سي، نو دا د مستقل منادیٰ په حکم کي کېږي او منادیٰ مفرد معرفه چونکه
مرفوع وي، ځکه نو دا هم د دي دتابع کېدو په وجه مرفوع کېږي، لکه چي امام
خلیل صاحب رحمه الله د ده مرفوع ویل اولیٰ او غوره ښودلی دی.
او کوم اسم چی داسي وي چي په اصل وضع کي ورسره الف لام وی، نو داسي
اسم له الف لام پرته نه مستعملېږي، بلکی همیشه معرف باللام استعمالېږي او
پر داسي اسم چونکه د حرف نداء داخلېدل ممتنع وي، نو ګواکی چي د ده منادیٰ
نه کېږي او معطوف کېدل متعین کېږي او پورته قاعده تېره سوه، چي د معطوف
حمل د همېشه لپاره د معطوف علیه پر محل کېږي او معطوف علیه چونکه محلا
منصوب دی، نو دا هم منصوب کېږي، لکه چي ا مام ابوعمرو بن العلاء المازني
ویلی دي، همدا مطلب د مصنف رحمه الله د قول (ان کان کالحسن فکالخلیل والا
فکأبی عمرو).

د منادیٰ مضاف د توابع اعراب

دریمه خبره: د منادیٰ مضاف د توابع اعراب:

نردې ځایه د منادٰی مفرد معرفه مبني پر علامه د رفع د هغو څلورو توابعو بیان کېدی، کوم چي مفرد وي، اوس د هغو توابعو بیان کېږي، کوم چي مضاف وي په اضافت حقیقیه سره، یاد لرئ، چی دلته کوم نوی شی نه بیانېږی، بلکي هماغه مذکوره قسمونه بیانېږي، فرق یې صرف دومره دی، چي مخکې تول مفرد وه، او دلته تول مضاف دي.

نو وایي: (والمضاف تُنصب) یعنی که چېري همدا څلور قسمونه مضاف راسي، نو ددوی حکم دادی، چي دوی منصوب ویل کېږي، مثلا د تاکید مثال (یاتمیمُ کلّهم او یا طلّابُ کلّکم).

او صفت چي مضاف تابع سی، د هغه مثال (یازید ذا المال او یا بکر اعلمَ الناس).

دا راز که عطف بیان د کوم اسم وطرفته مضاف سي او بیا د منادٰی تابع سي، د هغه مثال (یارجل اباعبدالله) دی.

له مخکني قسمونو څخه څلورم قسم معطوف معرّف باللام هم و، لیکن د معرف باللام کېدو په وجه سره د ده اضافت نسي کېدای، ځکه نو په دغو قسمونو کی نسي شاملېدای، ځکه دلته د مضاف بیان کېږي.

پنځه پنځوسم (۵۵) درس

د منادٰی د پاته توابعو اعراب

والبدل والمعطوف غیر ماذُکر حکمُه حکم المستقل مطلقًا والعلم الموصوف بابن او ابنة مضافًا الی علمٍ، یُختار فتحه.

ترجمه: او بدل او هغه معطوف کوم چی له هغه څخه غیر وی، دکوم چی حکم ذکر کړل سو، د هغه حکم د مستقل منادٰی د حکم په ډول دی او هغه نوم د کوم چی په (ابنٌ یا ابنةٌ) سره صفت بیان سوی وی، په داسي حال کي چی هغه (ابنٌ، یا ابنةٌ) د کوم بل چا د نامه طرفته مضاف وی، نو پر ده فتحه ویل اولیٰ او غوره بلل سوی دی.

تشریح: د نن په سبقه کي درې خبرې دي:

①: د بدل او معطوف غیر معرف باللام اعراب:

②: د مذکوره اعراب وجه، ③: د علَم چې (موصوف په ابنٌ او ابنةٌ) سره وي اعراب او وجه يې.

لومړی خبره: د بدل او معطوف غیر معرف باللام اعراب.

مصنف رحمه الله تر دې ځایه پورې د منادیٰ هغه څلور توابع بیانول، کوم چې مفرد وه، بیا يې له هغه وروسته هغه قسمونه مضاف جوړ کړل، د هغوی اعراب يې بیان کړ، نو له دوی پرته دوه صورتونه پاتې سوه، یعني بدل او معطوف غیرمعرّف باللام، د نن په سبق کې د همدغو دوو بیان کېږي:

نو وايي، چې (والبدل والمعطوف غیر مذکور حکمه حکم المستقل مطلقًا) یعني د بدل او معطوف غیر معرف باللام اعراب د مستقل منادیٰ د اعراب په ډول دی، یعني د منادیٰ چې کوم خپل اعراب دی، هماغه اعراب دوی ته هم ورکول کېږي.

د کافیه د ملاصاحب رحمه الله مطلقًا ویل، چې د منادیٰ اعراب بیانېږي، ټولو صورتونو ته اشاره ده، یعني که دا بدل او معطوف مفرد معرفه وي، یا مضاف، یا مشابه بالمضاف وي، یا نکره غیرمعینه وي، په دې ټولو صورتونو کې د دوی اعراب هماغه کېږي، کوم چې د مستقل منادیٰ وي، د مثال په ډول:

①: که بدل مفرد معرفه وي، نو په داسې صورت کې منادیٰ مستقله مرفوع وي، نو دا بدل هم مرفوع کېږي، لکه (یازیدُ بکرُ) او دا راز معطوف غیرمعرف باللام هم مرفوع کېږیو لکه (یازید واخاعمرو).

②: بدل چې کله مضاف وي، نو په داسې صورت کې منادیٰ مستقل منصوب وي، نو دا بدل هم منصوب کېږي، لکه (یازید اخاعمرو) دا راز معطوف غیر معرف باللام هم منصوب کېږي، لکه (یازید واخاعمرو).

③: کله چې بدل مشابه بالمضاف وي. نو دا هم په مستقل منادیٰ کی منصوب وي. ځکه نو دلته هم منصوب کېږی، لکه (یازید طالعًا جبلًا) او معطوف غیر معرف باللام هم منصوب کېږیو لکه (یازید وطالعًا جبلًا).

④: کله چې بدل نکره غیر معین وي، نو چونکه د منادیٰ مستقل کېدو په صورت کي دا مرفوع وي، نو دلته هم مرفوع کېږي، لکه (یازیدُ رجلاً صالحًا). دا راز معطوف غیر معرف باللام هم مرفوع کېږي، لکه (یازیدُ و رجلاً صالحًا).

⑤: دا راز د بدل مثال کله چې له ده سره لام استغاثه وی، نو څرنګه چې هلته مجرور وی،نو دلته هم مجرور کېږي، لکه (یالزید لعمرو) او د معطوف غیر معرف باللام مثال (یالزید ولعمرو).

⑥: کله چې د بدل په اخیر کي الف استغاثه وی، نو چونکه هلته منصوب وي، ځکه نو دلته هم منصوب کېږي، لکه (یازیداه سعیداه) او د معطوف غیرمعرف مثال لکه (یازیداه وسعیداه).

غرض دا چې څېرې، څېر د منادیٰ کوم اعراب وی، هلته که څېري له دغو دوو څخه کوم یو تابع جوړ سي، نو د دغو دواړو هم بعینه هماغه اعراب کېږي (کما مثلنا لکل احد فی کل صورةٍ).

دوهمه خبره: د مذکوره اعراب وجه:

بدل او معطوف غیر معرف باللام ته یې په مذکوره ټولو صورتونو کی بعینه د منادیٰ اعراب ولي ورکړ؟، د دې یې دوې وجې بیان کړی دي:

لومړۍ وجه یې داده، چې بدل او معطوف د عامل د تکرار په حکم کي وی، یعني کوم عامل چې پر متبوع داخل سي، په هغه کي عمل وکړي، ګواکی هماغه عامل دوهم ځل مکرر سو، په بدل او معطوف کی یې هم هماغه عمل وکړ.

دوهمه وجه داده، چې له بدل او مبدل منه څخه مقصود بدل وي، نو ګواکی چې د مبدل منه عامل په حقیقت کي پر همدغه بدل داخل دی، نو کله چې هماغه عامل په غیرمقصود (مبدل منه) کي عمل کوي، نو په مقصودي شی (بدل) کي خو په طریقه اولیٰ سره عمل کوي. لکه (یازید بکرٌ). دلته ګواکي چې (یا) حرف نداء پر (بکر) داخله ده. ځکه اواز ده ته سوی دی، له همدې وجې یې ده ته رفع ورکړې ده.

او معطوف ته یې د معطوف علیه اعراب ځکه ورکړی، چې په دوی دواړو کي هر یو مقصود بالذکر وي او په شروع کي داخلېدونکی عامل ګواکي چې پر

د وارړو يو ډول داخل دی، لهذا د دغه عامل په وجه صرف معطوف عليه ته عمل ورکول او معطوف هسي پرېښودل ترجيح بلامرجح کېږي، لکه چي په (يازيد وبکر) کي (ياء) حرف نداء څرنګه پر (زيد) داخله سي، د منادیٰ مفرد معرفه کېدو په وجه رفع ورکول کېږي، بعينه همداسي پر (بکر) هم داخله ده، د منادیٰ مفرد معرفه کېدو په وجه دېته هم رفع ورکول کېږي.

درېيمه خبره: د هغه علم، چي موصوف په ابن او ابنة سره وي اعراب او وجه يې:

والعلم الموصوف بابن او ابنَة مضافًا الیٰ علم آخر يُختار فتحه.

د كافيه ملاصاحب رحمه الله دلته د استثناء په ډول څو صورتونه بيانوي، کوم چي له مخکي بيان سويو اصولو څخه مستثنیٰ دي، له کومو څخه چي به يو صورت مورډ نن په سبقه کی بيان کړو، پاتې به انشاء الله د صبا په سبقه کی بيان کړو:

مثلًا د منادیٰ متعلق لومړی اصول موږ دا بيان کړی و، چي که چېري منادیٰ مفرد معرفه وي، نو هغه به مبني پر علامه د رفع وي، ليکن که چيري تر دغه منادیٰ مفرد معرفه د وروسته لفظ د (ابنٌ يا ابنةٌ) په ذريعه د دغې منادیٰ صفت بيان کړی و، او د دغه (ابن يا ابنة) اضافت د يو بل علم وطرفته سوی وي، نو د داسې منادیٰ مفرد معرفه مرفوع ويل هم جائز دی او منصوب ويل يې هم، ليکن د مرفوع پر ځای يې مفتوح ويل زيات اولیٰ او ښه دي، لکه: يا سعدَ بنَ سليمٍ او يا زينبَ بنتَ سعيدٍ.

وجه يې داده، چي د عربو په کلام کي د داسي منادیٰ استعمال په کثرت سره کېږي او د کثرت وجه يې داده، چي د عربو اکثره نومونه په کنيه سره مقيد وي، خالي نوم ډېر لږ وي، نو کثرت چونکه د خفت او اسانۍ تقاضا کوي او فتحه اخف الحرکات ده، له همدې وجې د اسي منادیٰ مفتوحه ويل مختار او خوښ بلل سوي دي.

شپږپنځوسم (۵۶) درس

د منادیٰ معرف باللام د نداء طريقه او د هغې د توابعو حکم

و اذا نودیَ المعرَّف باللام قیل: یا ایّهاالرَّجلُ و یا هذا الرَّجلُ و یاایّها هذاالرَّجلُ والتزموا رفع الرجل، لأنّه المقصود بالنداء و توابعه، لانّها توابع معرب، وقالوا: یا الله خاصّةً.

ترجمه، او کله چي د معرف باللام د نداء اراده وکړله سي، نو ویل کېږي: (یا ایهاالرّجلُ، ویا هذا الرّجلُ و یاایّها هذا الرّجلُ) او عربو پر ځان د (الرجل) رفع لازمه کړي، ځکه چي دا مقصود بالنداء دی او د ده د توابعو هم، ځکه چي دا د معرب توابع دي او عربو (یاالله) په خاصه توګه ویلی دی.

تشریح: د نن په سبقه کي درې خبرې دي:

①: د منادیٰ معرف باللام صورتونه، ②: د منادیٰ معرف باللام او ددې دتوابعو اعراب، ③: اسم ذاتي یعنی د الله جلّ جلاله د لفظ د منادیٰ کېدو په مهال د استعمال طریقه.

د منادیٰ معرف باللام صورتونه

لومړۍ خبره: د منادیٰ معرف باللام صورتونه:

مخکی په (والمعطوف بحرف الممتنع دخول یاء علیه) کي موږ دا خبره کړې وه، چي پر معرف باللام له حروف نداء څخه هیڅ نسي داخلېدای، ځکه چي بیا د تعریف د دوو حرفونو جمع کېدل لازمېږي، ځکه یو خو الف لام پخپله هم حرف تعریف دی او دوهم حرف نداء هم حرف تعریف دی او د دې دواړو په یوه ځل پر اسم داخلېدل منع دي، نو زما خواږه طالبان پرېشانه سو، چی که چېري موږ داسي خلګو ته نداء کوو، چی د معرف باللام مصداق وی، نو په داسي صورت کي به موږ څه کوو، ځکه چي یوه طرفته وکتل سي، نو دوی ته له نداء پرته چاره نسته، او بل طرفته که وکتل سي، نو دوی په نداء کولو د کافیه ملاصاحب رحمه الله ناراضه کېږي، چي تاسو زما په وړاندي سوي قاعده عمل ونکړ.

نو په (و اذا نودی المعرف باللام) عبارت سره دا ښیي، چي خوږو طالبانو تاسو مه خفه کېږئ، ځکه ستاسو د دغې مسئلې حل له ما سره سته او هغه دا چي که چېری داسي اسم منادیٰ سي، نو د دې درې طریقي دي:

①: قیل: یا ایها الرجل، یعنی لومړی طریقه یې داده، چې براه راست داسې اسم منادیٰ مه جوړوئ، بلکې په شروع کې یې یو مبهم اسم راوړئ، هغه منادیٰ جوړه کړئ، بیا دغه معرف باللام ددغه مبهم اسم صفت جوړ کړئ، لکه (یاایهاالرجل او یا ایّهاالناس وغیره).

②: یا هذا الرجل یعني د ده په شروع کې اسم اشاره راوړه، هغه منادیٰ جوړه کړه، لکه (یا هذا الرجل او یا هذه المرأة).

③: یا ایهذا الرجل: دریمه طریقه یې دا ده، چې د ده په شروع کې اسم مبهم او اسم اشاره سره ګډ راوړه، منادیٰ ځیني جوړه کړئ او معرف باللام یې صفت جوړ کړئ، لکه: (یا ایّهذاالرجل او یا ایّهذه البنت)، وګورئ! په ټولو مثالونو کې معرف باللام صفت جوړ سوی دی او تر ده مخکې اسم موصوف دی او د موصوف وصفت یو حکم وی، لهذا دلته چې موصوف منادیٰ سي، نو د صفت منادیٰ کېدل هم معلومېږي.

په بل عبارت مذکوره درې طریقې په لنډو الفاظو زده کړئ، چې د (یا) حرف نداء او منادیٰ معرف باللام ترمینځ فاصله وکړه او دا فاصله په دریو اسمونو کې په یوه سره کېږي:

یا خو (ایّها او ایتها) راوړه، لکه (یا ایّهاالرجل، یا ایها الناس او یا ایتهاالمرأة وغیره).

یا د اسم اشاره په ذریعه سره، لکه: (یا هذا الرجل ا و یا هذه المرأة).

یا دواړه سره یو ځای کړه د منادیٰ او حرف نداء ترمینځ یې فاصل جوړ کړه، لکه: (یا ایّهاالرجل او یا ایهذه البنت).

د منادیٰ معرف باللام او ددې دتوابعو اعراب

دوهمه خبره: د منادیٰ معرف باللام او د دې دتوابعو اعراب:

والتزموا رفع الرجل: دا هم د یوه سوال جواب او د استثناء یو صورت دی، سوال دادی، چې جنابه! تا مخکې د همداسې اسم، یعنې د منادیٰ مفرد معرفه د صفت په هکله ویلې وه، چې (ترفع علیٰ لفظه و تنصب علیٰ محله) او د دې مثال هم تا

په دوه طرزه راوړی و (یا زید العاقلُ او یا زید العاقلَ). لیکن د ته خو ستا لهجه بدله سوه، ځکه چې تا وویل: (والتزموا رفع الرجل) چې په داسي صورت کی معرف باللام اسم کوم چي د منادیٰ موصوف تابع وي، د هغه په رفع ویل لازمی او ضروري دی، حال داچي مخکی تا دواړه صورتونه جائز بللي وه؟

نو جواب یې دادی (لان المقصود بالنداء) چي جنابه! ستا خبره بلکل سمه ده، خو کوم مثال چي تا وړاندی کړی، په هغه کی مقصود بالنداء (زید) دی او (العاقل) یو زائد او تابع اسم صفت وو لیکن دلته که څه هم په لفظي توګه موصوف منادیٰ ده، خو په اصل کي مقصود بالنداء په داسي ټولو ځایونو کي صفت وي او مقصود بالنداء چي کله صفت وي، نو ګواکی چي په دې سرد د منادیٰ مفرد معرفه صورت جوړېږي، لیکن دومره فرق د دواړو ترمینځ ضرور سته، چي دا چونکه مستقل منادیٰ نه دی، ځکه دا که څه هم مرفوع ده لیکن معرب ده او منادیٰ مفرد معرفه مستقل منادیٰ وي، ځکه نو مبني پر علامه د رفع کېږي.

و توابعه، لانّها معرب: اوس چي کله موږ (الرجل) موصوف معرف باللام مقصود بالنداء وګرزاوه، ومو ویل چي دا مرفوع کېږي او دده توابع هم مرفوع کېږي، نو پر دې سوال کېږي، چي جنابه! د منادیٰ مفرد معرفه په تابع کي موږ دوې وجې ویلې وي، نو تا د (وتوابعه) عطف پر (الرجل) کړی، دا مو په التزام د رفع کي څرنګه شامل کړی؟

د دې جواب دادی، چي هو کې! موږ داسي کړي دي، ځکه چي کوم احکام مخکي تېر سوي دي، هغه د منادیٰ مبني د توابع وو او کوم چي دلته ذکر کېږي، دا د منادیٰ معرب د توابعو دي، لکه د مفرد مثال (یا ایها الرجلُ الکریمُ) او د مضاف مثال (یا ایها الرجل صاحب الفرس) په دې دواړو کي (الرجلُ) معرب دی.

د منادیٰ په مهال د الله جل جلاله د لفظ د استعمال طریقه

دریمه خبره: لفظ د الله جل جلاله چي منادیٰ سي، د استعمال طریقه یې:

مخکی موږ قاعده بیان کړه، چي کوم اسم معرف باللام وي، نو پر هغه براه راست حرف نداء نسي داخلېدای، او اوس وایو، چي مخکی کومه قاعده وه، هغه د

عامو اسماؤ لپاره وه، پاتې سو اسم ذاتي، يعني د الله ﷻ اسم، نو هغه تردې قاعده لاندې نه دی، بلکی بېله واسطې حرف نداء وربانديٰ داخلېدای سي، او پکی د اسم مبهم، حرف تنبيه او اسم اشاره راوړلو ضرورت نسته، لکه (يالله)، نو داسي مورږ له دوو وجو کړې دي:

لومړۍ وجه: دا چی د الله ﷻ ذات مشهوردی او په ذات مشهوره کي د اسم مبهم راوړل، د هغه د قدر نه پېژندل دي.

د دې تفصيل دادی، چې له مخکنيو اسماؤ څخه که چېری د مثال په توګه (ايّ) مورږ دده په شروع کی راوړو، نو داسي کول صحيح نه دی، ځکه چی (ايٌ) د تعداد لپاره راځي او الله ﷻ له تعداد څخه پاک دی.

دوهم په دې کی (ها) لپاره د تنبيه ده او د الله ﷻ ذات له تنبيه څخه هم پاک دی، ځکه تنبيه د غافل لپاره وی او الله ﷻ له غفلت څخه پاک دی، کما قال:

(ولا تحسبنّ الله غافلًا عما يعمل الظالمون).

دريم په دوی کي اسم اشاره دی او د اسم اشاره استعمال د حسي شيانو لپاره وي، حال دا چي الله ﷻ له دې څخه هم پاک دی، لکه چي د يوه مؤحد شاعر په شعر کي دي:

ته په زره کي خو راځې، په پوهه کي نه راځې
بس زه پوهېږم، چي ستا پېژند ګلـــوي همداده

دوهمه وجه: داده، چې په اسم ذاتي يعنی په الله ﷻ کي چي کوم الف اولام دي، هغه د همزې په عوض کی راغلی دی او همزه اصلي وه، نو اوس دا دواړه له ده سره داسي لازم سوي دي، چي کله هم نه ځيني بېلېږي، نو د دوی دواړو عوضی او لازمي کېدل دواړه لازم سو او چېري چي الف لام عوضی هم وی او لازمي هم وي، نو پر هغه حرف نداء بېله واسطه داخلېدای سي، هوکې! چېري چي صرف لازمي وی، يا صرف عوضي وی، نو په داسي صورتونو کي حرف نداء او دده په مينځ کی فاصله راوړل کېدای سي.

اووه پنځوسم (۵۷) درس

د منادٰی مکرر او وياء متکلم ته د مضاف اعراب او د استعمال طريقه

ولک فی مثل: یا تیم تیمَ عدیٍّ الضمُّ والنَّصب والمضاف الیٰ یاء المتکلم یجوز فیه: یا غلامِیْ و یا غلامَی و یا غلامِ و یاغلامًا و بالهاء وقفًا، وقالوا: یا ابیْ و یا امّیْ و یاأبتِ ویا امَّتِ فتحًا وکسرًا و بالالف دون ا لیاء و یاابن امّ و یاابن عمٍّ خاصةً، مثل: باب غلامي و قالوا: یا ابن امَّ و یا ابن عمَّ.

ترجمه: او ای مخاطبه! ستا لپاره د یا تیمُ تیمَ عدیّ په څېر مثالونو کی مضموم او منصوب ویل دواړه روا دي او کوم اسم چي د یاء متکلم وطرفته مضاف وي، نو په هغه کي (پنځه طریقې) جائز دي، لکه: یا غلامِي، یا غلامِيْ و یا غلامَي و یا غلامِ و یاغلامًا او په دې څلورسره صورتونو کي د وقف هاء لګول هم روا دي ا وعربو دا هم ویلي دي: یا ابیْ و یا امّیْ و یاأبتِ ویا امَّتِ د تاء په فتحه او کسره سره او ترتاء وروسته په الف سره هم نه چي په یاء سره او په خاصه توګه (یاابن امّ و یاابن عمّ) د (یاغلامي) په څېر دي او عرب یې یاابن امَّ او یا ابن عمَّ هم وایې.

تشریح: د نن په سبقه کي مختصري شپږ خبري دي:

①: د منادیٰ مفرد معرفه (کله چي مکرره وی) اعراب، ②: د مذکوره صورت د اعراب په علت کي اختلاف، ③: په عبارت کي د ذکرسوي مثال وضاحت، ④: د منادیٰ مضاف ویاء متکلم ته اعراب، ⑤: د اُمّ او اَبٌ مضاف ویاء متکلم ته اعراب، ⑥: لفظ د ابن چي مضاف وي، د اَمّ یا عمّ وطرفته اعراب.

لومړی خبره: د منادیٰ مفرد معرفه (کله چي مکرره وی) اعراب:

ولک فی مثل: یا تیمُ تیمَ عدیّ الضمّ والنّصب: د کافیه ملاصاحب رحمه الله وایې، چي هر هغه جمله په کومه کی چي منادیٰ مفرد معرفه صورةً مکرره راغلي وي او تر هغه وروسته یو اسم مضاف الیه هم موجود وي، لکه (یاتیمُ تیمَ عدیّ) په دې کي (تیمُ) منادیٰ مفرد معرفه ده او دوهم (تیم) یې تاکېد ده او تر دې وروسته (عدیّ) مضاف الیه دی، نو د داسي مثالونو په هکله ویل سوي دي، چي په دې کي د لومړي اسم مضموم او منصوب دواړي طریقې ویل جائز دي، ځکه چي د دې دوه حیثیتونه وي:

یو دا چې دا منادیٰ مفرد معرفه وي، په دې حیثیت سره مبني پر علامه درفع وي او دوهم حیثیت یې دادی، چې دا منادیٰ مضاف واقع سوی وي، ځکه لومړی (تیمُ) مؤکد او دوهم یې تاکید دی او قاعده ده، چې تابع او متبوع دواړه د شئ واحد په حکم کې وي، نو دا دواړه هم د شئ واحد په حکم کې کېږي، د (عدیٰ) وطرفته مضاف کېږي، نو دا د منادیٰ مضاف صورت جوړېږي، له همدې وجې بیا منصوب کېږي.

دوهمه خبره: د مذکوره صورت د اعراب په علت کې اختلاف:

د منادیٰ د مذکوره قسم تر اعراب وروسته داخبره په ذهن کې ونیسئ، چې د دې د منصوب کېدو په علت کې د امام سیبویه او امام مبرد اختلاف دی:

امام سیبویه خو هماغه راز وایي، څرنګه چې پورته تېرسول، چې لومړی تیم د (عدیّ) وطرفته مضاف کېږي او دوهم تیم یې تاکید جوړېږي.

پر دې که څېړي یو څوک سوال وکړي، چې مجرور خو صرف متصل وي، حال دا چې دلته خو د مضاف او مضاف الیه تر مینځ فاصله لازمېږي؟

د دې جواب دادی، چې په حقیقت کې خو کومه فاصله سته نه، ځکه چې دا دواړه د شئ واحد په حکم کې دي (کمامرّ)، لېکن صورتًا چې کومه فاصله راغلې ده، د هغه جواب دادی، چې دا فاصله بالاجنبي نه ده، بلکي فاصله بالتابع لمتبوعه ده، کومه چې جائز ده.

او امام مبرد صاحب وایي: منصوب خو یې زه هم منم، لیکن له دې وجې څخه نه کومه چې ذکر سوې، بلکي له دې وجې، چې لومړی (تیمُ) مضاف ده د (عدیٰ) محذوف وطرفته او دوهم (تیمُ) مضاف ده د (عدیّ) مذکور وطرفته نو په دې صورت کې لومړی (تیم) د منادیٰ مضاف کېدو په وجه منصوب کېږي او دوهم مضاف د تابع کېدو په وجه منصوب کېږی، لکه چې تر دې مخکي په (والمضاف تُنصبُ) کې تېرسول.

خلاصه داچې د لومړي د مرفوع او د دوهم د منصوب په ویلو کې د علماء نحو هیڅ اختلاف نسته، خو د لومړي د منصوب ویلو په علت کې د امام مبرد او امام سیبویه تر مینځ اختلاف دی.

دریمه خبره: د مذکوره مثال وضاحت:
مصنف رحمه الله چي کوم مثال وړاندي کړی دی، هغه د مشهور شاعر جریر د یوه شعر ټوټه ده، پوره شعر په لاندي ډول دی:

یاتیمُ تیمَ عدیً لا اباً لکم ٭ لا یُلقِیَنَّکُم فی سوءة عمرُ

په عربو کي د تیم په نامه څو قبیلي دی، لکه قبیله تیم بن غالب بن مُرّة او قبیله تیم بن عبدمناف، دا راز یوه قبیله د تیم بن عدی په نامه هم مشهوره ده، څرنګه چي د دې قبیلې یوه شاعر عمرو تیمی کله د جریر د هجو (سپکاوی) اراده وکړه، نو جریر د هغه تر هجو او سپکاوي مخکي د هغه د پوره قبیله په مخاطب کولو وویل: خبر اوسئ ای د تیم بن عديّ ټبره! ستاسو خوله مخکي نه هم کوم پلار نه سپکاوي څخه لاس واخلي، که نه نو تاسو ته تر حرامی النسل ویلو وروسته هم زه داسي سپکاوی کوم چي له وجې به يې تاسو ټوټل عیبجن سئ.

د منادی مضاف ویاء متکلم ته اعراب

څلورمه خبره: د منادی مضاف ویاء متکلم ته اعراب:
والمضاف الی یاء المتکلم یجوز فیه: یا غلامي الخ: دلته یو بل صورت د استثناء بیانوي، هغه داسي، چي مخکی موږ ویلې وه، چي منادی کله مضاف وی، نو هغه منصوب وی، لیکن دلته وایو، چي مخکی د اضافت کومه خبره سوې وه، هغه عامه وه او اوس وایو، چي په خاصه توګه که چېري د یاء متکلم وطرفته د یو اسم اضافت سوی وی، نو د منادی په صورت کي ددې څلور رنګه ویل جائز دي:
①: د یاء متکلم په سکون سره، لکه: یاغلامي، ②: د یاء متکلم په فتحه سره، لکه یا غلامیَ، ③: په کسره په اکتفاء کولو او ددې د یاء متکلم قائم مقام جوړول، پخپله یاء حذفول، لکه: یاغلام، ④: د یاء په الف بدلول، د ماقبل کسره دالف د مناسبت په وجه مفتوح ویل، لکه: یا غلامًا.
⑤: په (و بالهاء وقفًا) سره وایې، چي د دې ټولو صورتونو په اخیر کي هاء د وقف لپاره لګول هم جائز دي، لکه: یا غلامیِه، و یاغلامیَه، و یا غلامِه و یا غلاماه.

دام او ابْ مضاف ویاء متکلم ته اعراب

پنځمه خبره: د ام او ابْ مضاف ویاء متکلم ته اعراب:

و قالوا یا أبی و یاأمی: د کافیه ملاصاحب رحمه الله ویلي دي، چي لفظ د (ابْ) او (امْ) که چېري د یاء متکلم وطرفته مضاف سي، نو په څو طریقو یې ویل جائز دي، یعني مذکوره لومړی ځلور طریقې او پر هغو سربېره پنځمه طریقه یې دا دی، چي یاء متکلم په تاء سره بدله کړل سي، په فتحه او کسره دواړو ویل کېږي، لکه: یا ابتِ و یاابتَ و یاامتِ ویاامَّتَ او شپږم صورت دادی، چي تر دغه تاء وروسته الف زیات کړل سي، یا ابتا او یاامّتا ویل هم جائز دي.

دون الیاء: کله چي تاسو یاء متکلم په الف یا تاء بدله کړئ، نو بیا دوهم ځل همدا یاء ذکر کول، یا ابتیْ او یا امّتیْ او یا امتای او یا ابتای ویل جائز نه دي، ځکه چي دلته کوم الف او تاء راغلي دي، هغه د دغې یاء متکلم په عوض کي راغلي دي، نو که چېري په اخیر کي هم یاء راوړل سي، نو د عوض (الف او تاء) او معوض (یا) جمع کېدل لازمېږي، کومه چي جائز نه ده.

اته پنځوسم (۵۸) درس

دمنادیٰ د ترخیم تعریف او حکم یې

و ترخیم المنادی جائز و فی غیره ضرورةً وهو حذف فی آخره تخفیفًا وشرطه: ان لا یکون مضافًا و لا مستغاثًا ولا جملةً و یکون اما علمًا زائدًا علی ثلاثة احرف واما بتاء التأنیث.

ترجمه: او په منادیٰ کي ترخیم (مطلقًا) جائز دی او له دې پرته په غیر کی د ضرورت پر وخت او هغه حذفول د منادیٰ له اخیر څخه د تخفیف په ډول او د دې شرط دادی، چي هغه (منادیٰ) نه خو مضاف وي او نه مستغاثه وي او نه کومه جمله وی او دا چي منادیٰ یا خو داسي علم وي، کوم چي تر درېو حرفونو زیات وي، یا داسي اسم وي، له کوم سره چي تاء تانیث لګېدلي وي.

تشریح: د نن په سبقه کي انشاء الله تعالیٰ درې خبرې کېږي:

①: د ترخیم لغوي او اصطلاحی تعریف، ②: د ترخېم حکم، ③: د منادٰی د ترخیم شرطونه.

د ترخېم لغوی او اصطلاحي تعریف

لومړۍ خبره: د ترخېم لغوی او اصطلاحي تعرېف:

ترخېم د تفعېل دباب مصدر دی، لغوي معنا يې ده نرمی او اساني کول او په اصطلاح د نحو کي يې معنا داده، چی د کومې کلمې د اسانه کولو لپاره د دې له اخیر څخه یو یا د وه حرفونه، یا ځيني يوه کلمه حذفول، لکه له حارث څخه یاحارُ او له عثمان څخه یا عثمُ او له بعلبکٌ څخه یا بعلُ.

دوهمه خبره: د ترخېم حکم:

وترخیم المنادی جائز و فی غیره ضرورةً: په دې عبارت کي د ترخېم حکم بیانېږي چی په منادٰی کي ترخېم مطلقًا جائز دی، وجه يې داده، چي يو خو د دې استعمال زيات دی او دوهمه وجه يې داده، چي په منادٰی کي اصل منادٰی له وی، یعنی هغه خبره، د کومې خواته چي اواز کېږي، هماغه اصل وي، نو د منادٰی کوشش داوي، چي په یوه نه یوه طرېقه هغه له نداء اومنادٰی څخه ژر فارغه سي او مقصودي خبره وکړي، نو علماء نحو او اهل لغت د دې اجازه ورکړې، چي د مذکوره مقصد د حاصلولو لپاره دي د منادٰی په اخیرکی ترخېم وکول سي.

او پاتې سو له منادٰی پرته په نورو اسماؤ کي ترخېم کول، د هغو په هکله د کافیه ملاصاحب رحمه الله ویلي دي: (و فی غیره ضرورةً) یعني له منادٰی پرته په نورو اسماؤ کي چي کله ضرورت وي، نو جائز دی او که ضرورت نه وي، نو نه ده روا، د ضرورت مطلب دادی، چي د وزن شعري برابرول وي، نو په داسي ځای کي جائز دی، له دې پرته په نثر کي جائز نه دی.

دمنادٰی د ترخېم شرطونه

دریيمه خبره: د منادٰی د ترخېم شرطونه:

له و شرطه ان لا یکون مضافًا څخه تر اما بتاء التانیث پوري په عبارت کي مصنف رحمه الله د ترخېم لپاره پنځه شرطونه بیانوي، له کومو څخه چي څلور عدمي متعین دي او یو ثبوتي غیر معین دی.

لومړی شرط:

وشرطه ان لايكون مضافًا: لومړی شرط دادی، چي په منادٰی كي ترخيم هغه مهال جائز دی، كله چي هغه د كوم بل اسم وطرفته مضاف نه وي، وجه يې داده، چي د منادٰی مضاف دوه حيثيتونه دي: لفظي او معنوي:

په لفظي اعتبار سره خو هغه دوې كلمې د ي، ځكه مضاف بېله كلمه ده او مضاف اليه بېله، لېكن په معنوي اعتبار سره دا دوارې د يوې كلمې په حكم كي دي، ځكه لكه څرنګه چي د يوې كلمه د ټولو اجزاء له يوځای كولو پرته پوره معنا په پوهه كي نه راځي، بلكل همدا راز له مضاف سره د مضاف اليه له يو ځای كېدو پرته هم د مضاف پوره معنا په پوهه كي نه راځي، نو كه چېري په مضاف كي موږ ترخيم كوو، نو په لفظي اعتبار خو صحيح دی، لېكن په معنوي اعتبار سره صحيح نه دی، ځكه معنًا خو دا يوه كلمه ده، نو ګواكي چي موږ د كلمه په مينځ كي ترخيم وكړ، حال دا چي ترخيم د منادٰی په اخير كي كېږي.

او كه چېري په اخير كي يعني د مضاف اليه په اخير كي ترخيم وكړو، نو په معنوي اعتبار سره داسي كول كه څه هم صحيح دي، ځكه چي په معنوي اعتبار سره دا دواړه يوه كلمه دي، لېكن په لفظي اعتبار سره داسي كول صحيح نه دي، ځكه چي دا دوې كلمې دي او په دواړو كي مقصود بالنداء مضاف دی او ترخيم موږ د مضاف اليه په اخير كي كوو، نو دا صحيح نه دی.

خلاصه: دا چي كه چېري په مضاف كي ترخيم كوي، نو په معنوي اعتبار سره صحيح نه دی او كه يې چېري د مضاف اليه په اخير كي كوي، نو په لفظي اعتبار سره صحيح نه دی، ځكه غوره همداده، چي له سره دا ناجائز وبلل سي.

دوهم شرط:

ولا مستغاثًا: د كافيه ملاصاحب رحمه الله د منادٰی د ترخيم لپاره دوهم شرط دا بيان كړی، چي هغه منادٰی به مستغاث نه وي، وجه يې داده، چي مستغاث پر دوه قسمه دی، مستغاث بالالف او مستغاث باللام، كه چېري منادٰی مستغاث بالالف وي، نو پكي په ترخيم كولو دوې خرابيانې لازمېږي:

لومړی دا چي په منادیٰ مستغاثه بالالف كي مقصود مدصوت (يعنی د اواز اوږدېدل) وي، حال دا چي د ترخيم په صورت كي دا مقصد فوتېږي.
او دوهمه خرابي دا چي كه چېري په داسي منادیٰ كي ترخيم وسي، نو له مفرد معرفه سره التباس لازمېږي، مثلا په (يازيداه) كي تر ترخيم وروسته (يازيدُ) پاتېږي، كوم چي منادیٰ مفرد معرفه دی، نو د دواړو تر مينځ فرق كول مشكل كېږي.
او كه چېري هغه منادیٰ مستغاث باللام وی، نو هم پكي ترخيم ځكه جائز نه دی، چي په داسي صورت كي د لام استغاثه (يعني جرور كول) ختمېږي، چي له كبله يې موږ ته معلومېږي، چي دا لام د مستغاث دی، كه د مستغاث له.

دريم شرط:

ولا جملةً: دريم شرط يې دا بيان كړی، چي هغه منادیٰ مرخم داسي جمله نه وي، كومه چي د يو چا نوم وي، ځكه چي په داسي جمله كي هم په ترخيم كولو دوې خرابيانې لازمېږي:
لومړی دا چي كومه جمله د يو چا علَم جوړه سي، نو هغه مبني وي او د مبني اخير هم نه بدلېږي، نو كه چېري د ده په اخير كي موږ ترخيم وكړو، نو د مبني د حكم يعني (المبنى ما لا يختلف آخره بدخول العوامل المختلفة عليه) خلاف ورزي لازمېږي.
او دوهمه خرابي دا لازمېږي، چي جمله د يو چا ځكه نوم ښودل كېږي، چي هغه پر يو غرېب او عجيب قسم قصه دلالت وكړي، لكه: تأبّط شرًّا.
له همدې نوعې څخه يوه قصه زموږ يوه پښتانه ملګري ته ورپېښه سوه، هغه دا چي ده ټولو كليوالو ته ويلې وه، چي زه سعودي عرب ته ځم، نو كه كوم څوك ليك وغيره لېږی، نو ماته دي راكړي، بيا له كومې وجې هغه نه ولاړ، اوس نو هغه په پوره كلي كي د (خط به وړي) په نامه مشهور سو، نو كه چېري په داسي نومونو كي ترخيم وكړل سي (ياتأبط) او (ياخط به) وويل سي، نو دا بيا پر غرېبه

او عجیبه قصه دلالت نسي کولای، د کومې له وجې چې دی په دغه نامه مشهور سوی و.

څلورم شرط:

و یکون اما علمًا زائد علیٰ ثلاثة احرف: څلورم شرط کوم چې وجودی دی، دا لګېږي، چې هغه منادیٰ داسي علم وی، چې تر درې حرفونو زیات وي، وګوره په دې کې دوه شیان بیانېږي، یو دا چې هغه به علم وي، دوهم دا چې هغه زائد علی الثلاثة وي، نو د علم کېدو شرط ځکه ورسره لګول سوی، چې په اعلامو کې په عامه توګه اشتباه ډېره لږ کېږي، دوهم دا چې اعلام اکثره منادیٰ جوړېږي، نو کثرت استعمال د تخفیف تقاضا کوي، نو د ترخیم لپاره د علمیت شرط د تخفیف له وجې لګول کېږي.

او د زائد علی الثلاثة کېدو شرط ځکه د ده لپاره لګول سوی، چې په داسي صورت کې تر ترخیم وروسته هم د اسم معرب بناء لږ تر لږه پر درېو حرفونو پاتېږي، کومه چې صحیح ده، لیکن که چېرې له مخکې څخه هماغه درې حرفونه وي، نو تر ترخیم وروسته د معرب بناء صرف پر دوو حرفونو پاتېږي، کومه چې ناجائز ده.

محشي صاحب د غایة التحقیق په حواله لیکلي دي، چې کوم اسم درې حرفيز وي، لیکن متحرک الاوسط وي، خو د مینځ حرکت د څلورم حرف قائم مقام جوړ سوی وي، په داسي اسم کې د کوفیینو په نزد ترخیم جائز وي، لکه له (یاعُمَرُ) څخه (یا عُمَ)، لیکن د غایة التحقیق ملاصاحب پخپله دا رد کړی او ضعیف یې بللی دی، جواب یې ورکړی، چې داسي کول د غیرمنصرف په بحث کې خو صحیح دی، لیکن له هغه پرته په نورو مباحثو کې د اهل عربو په نزد عام نه دی او کوم حضرات چې په ساکن الاوسط کې ترخیم جائز بولي، هغوی (یازیدُ) (یازَی) وایې، نو د دوی دغه قول د اسم تفضیل له صیغې سره اضف بلل سوی دی.

پنځم شرط:

واما بتاء التأنيث: که چېرې کومه کلمه نه خو د چا علم وی او نه زائد علی الثلاثة وي، نو لږترلږه د دې په اخیر کې تاء تانیث ضروري وي، تر څو چې پکې ترخیم کېدای سي، که نه نو ناجائز دی.

د مذکوره شرط د لګېدو وجه داده، چې تاء تانیث د زوال په محل کې وي، ځکه چې یو خو هغه زائده وي، دوهم دا چې هغه د وقف په محل کې وي، نو زائد کول یې او د وقف په محل کې کېدل دواړه د ده د زوال تقاضا کوي، نو دا منادیٰ مرخم جوړول، له اخېر څخه یې تاء تانیث حذفول په طریقه اولیٰ سره جائز دي، لکه له (یاثُبَةُ څخه یا ثُبُ).

دلته یو سوال کېږی، چې جنابه! دلته خو د معرب بناء پر دوو حرفونو پاتېږي، کومه چې تاسو ناجائز بللې ده؟

د دې جواب دادی، چې موږ د هغه اسم دوه حرفیزه کېدل جائز بولو، کوم چې د ترخیم په وجه دوه حرفیزه پاتې سوې وي، پاتې سو دلته نو دا خو تر ترخیم مخکی دوه حرفونه وه، ځکه چې تاء خو له مخکې څخه لا زائده وه.

د حاشیه ملاصاحب ویلي دي: چې د دې تانیث لپاره شرط دادی، چې هغه په کوم صفت کې نه وی، لکه په (فاسقةٌ فاجرةٌ) کې چې دی، ځکه که چېرې له داسې اسماؤ څخه تاء حذف کړل سي، (یافاسقُ، یا فاجرُ) وویل سي، نو بیا د مذکر او مؤنث صېغې د یوې له بلې سره التباس راځي او فرق کول یې ستونزمن کېږي، چې دا د مؤنث صېغه ده، که د مذکر.

نه پنځوسم (۵۹) درس

په منادیٰ کې د ترخیم صورتونه او د هغه اعراب

فان كان فى آخره زيادتان فى حكم الواحدة كاسماء ومروانَ، او حرفَ صحيح قبله مدَّةٌ و هو اكثر من اربعة احرفٍ حُذفتا، و ان كان مركبًا حذف الاسم الأخير وان كان غير ذلک فحرفٌ واحدٌ، وهو فى حكم الثابت على الاكثر، فيقال: ياحارِ و يا ثموُ و ياكرَوَ، وقد يُجعل اسمًا برأسه، فيقال: ياحارُ ويا ثمىْ و يا كرا.

ترجمه: نو که چېرې د ده په اخیر کې داسې دوه حرفونه زائد وي، کوم چې د یو
زیادتی په حکم کې وي، لکه (اسماء او مروان)، یا دده په اخیر کې داسې حرف
صحیح وي، تر کوم مخکې چې حرف مده وی، په داسې حال کې چې هغه تر
څلورو حرفونو پر زیاتو مشتمل وی، نو داسې دواړه حرفونه حذف کېږي او که
چېرې هغه منادیٰ مرکبه وی، نو اخیری اسم حذف کېږي او که چېرې داسې نه وي،
نو صرف یو حرف حذف کېږي او هغه حذف سوی حرف د اکثره علماء نحو په نزد
ثابت حرف په حکم کې دی، نو ویل کېږی: (یاحارِ، ویا ثمو، ویا کَرَوَ) او کله
منادیٰ مرخم مستقل اسم بلل کېږي، نو ویل کېږي: (یٰاحارُ ویاثمیٰ و یاکرًا).

تشریح: د نن په سبقه کې صرف دوې خبرې دي:

①: په منادیٰ کی د ترخیم صورتونه، ②: د منادیٰ مرخم اعراب.

لومړی خبره: په منادیٰ کې د ترخیم صورتونه:

د منادیٰ په اخیر کې ترخیم کول، یا خو یو حرف حذ کېږي، یا دوه، یا یوه پوره
کلمه، نو د دې لپاره مصنف رحمه الله له (فان کان فی آخره زیادتان) څخه تر (وان
کان غیر ذالک فحرفٌ واحدٌ) پورې په عبارت کې د منادیٰ پنځه صورتونه او د
ترخیم درې قسمونه بیانوي، په لومړیو دوو صورتونو کې دوهم قسم، په دریم
کې دریم قسم، او په څلورم صورت کې د لومړي قسم بیان کېږي.

لومړی او دوهم صورت:

له فان کان فی آخره زیادتان څخه تر (او حرف صحیح قبله مدةٌ) پورې په عبارت
کې مصنف رحمه الله لومړی او دوهم صورت بیانوی، نو وایې: چې که چېرې په
منادیٰ کې دوه حرفونه زائد وي، لیکن هغه دواړه حرفونه د یوه زیادتی په حکم
کی وي، مثلا الف او نون زائدتان، یا الف ممدوده د منادیٰ په اخیر کې وي:
لکه: مروان او اسماء، یا هغه داسې تر څلورو حرفونو زیات اسم وي، چې په اخیر
کې یې حرف صحیح وي، لیکن تر دې مخکې حرف صحیح نه وي، بلکې حرف
مده (واو، الف او یاء) وي، نو په دې صورتونو کې په منادیٰ کې ترخیم کېږي او
له اخیر څخه یې دوه حرفونه حذف کېږي، لکه له یا مروان څخه یا مروَ او له یا

اسماءُ ځخه یا اسمُ او له یا منصورُ ځخه یا منصُ او له یا ادریسُ ځخه یا ادرِ او له یا عمّارُ ځخه یا عمّ ویل جائز دي.

حاشیه والا نور مثالونه هم راوړي دي، لکه د (بصریّ)په اخیر کي یاء مشدده نسبتیه کومه چي په حقیقت کي دوې یاءان دي، خو په حکم کي یوه ده د دې منادیٰ مرخمه جوړېږي، (یابصرُ) ویل کېږي، دا راز له (یازیدَان) او (یازیدون) ځخه یازیدُ او له (یاهنداتّ) ځخه (یاهندُ) ویل کېږي.

د کتاب مصنف رحمه الله د دې قول (فی حکم الواحدة) مطلب دادی، چي زائد حرف خو دوه وي، لیکن هغه دواړه د یوه حرف زائد په حکم کي وي، یعنی داسي نه کېږي، چي په کوم اسم کي له دوی دواړو ځخه یو وي او دوهم نه وي، بلکي یا خو دواړه په یوه وار موجود ېږي، یا محذوف، یعني د هغه کېدل او نه کېدل دواړه یو ډول وني.

دریم او څلورم صورت:

وان کان مرکبًا حذف الاسم الاخیر: له دې ځای ځخه د منادیٰ دریم او څلورم صورت بیانوي، چي که چېري هغه منادیٰ مرکب منع صرف وي، یا مرکب بنائي وي، نو په دغو دواړو صورتونو کي په باقاعده ډول دوهمه پورهٔ کلمه حذف کېږي، لکه له (بعلبکَّ) ځخه یا بعلُ او له حضرموت ځخه یا حضرَ او له خمسة عشر ځخه خمسة.

وجه یې داده، چي د مرکب په دغو دواړو قسمونو کی دوهم اسم په منزله دتاء تانیث زائده ده، کوم چی په اصل کي خو یوه مستقله کلمه ده، لېکن دشدت اتصال او په یوځل د کثرت استعمال په وجه ګواکي چي دا یوه کلمه جوړ سوی او دوهمه کلمه ګواکی چي د همدغې یوې کلمه یو جزء جوړ سوی، نو په منادیٰ مرخم کي چونکه د کلمې اخیري جزء حذف کېږي، نو له ده ځخه هم د همدې کلمې کومه چی په منزله د یوه جزء ده حذف کېږي.

پنځم صورت:

وان کان غیر ذالک:

که چېري یو داسي صورت وي، کوم چې له مخکنیو څلورو صورتونو غیر وي. هغه چې څرنګه هم وي، نو له داسي اسماء څخه صرف یو حرف حذف کېږي. لکه له (یاحارث څخه یاحارِ او له یا شعیبُ څخه یا شعَیَ او له یا ثمود څخه یاثمو ویل کېږي.

د منادٰی مرخم اعراب

دوهمه خبره: د منادٰی مرخم اعراب:

و هو فی حکم الثابت علی ا لاکثر: د کافیه ملاصاحب رحمه الله په دې عبارت کې د منادٰی مرخم اعراب را ښیي، په دې کې د نحوي د علماؤ دوه مذهبونه دي:
د نحوي جمهور علماء وایي، چي تر ترخیم مخکي څرنګه حرکت وي، هماغـې اوس هم پاتېږي، ځکه چې کوم حرف حذف سي، نو هغه ګواکې چي تر اوسه قائم او دائم دی، مثلا په (یاحارثُ) کي پر (راء) د کسري حرکت و، نو تر ترخیم وروسته هم هماغه حرکت وي، نو (یاحارثُ یاحارِ) ویل کېږي او په (یاثمودُ) کي واو ساکن وو، نو تر ترخیم وروسته هم ساکن پاتېږي، لکه یا ثموْ او یا کروانُ یاکروَا.

و قد یُجعل اسمًا برأسه: د نحوي ځیني علماء وایي، چي کله کله تر ترخیم وروسته باقي پاتې حروف هم مستقل اسم منل کېږي، نو تر ترخیم مخکی چې د دوی کوم اعراب و، هماغه اعراب اوس هم ویل کېږی، نو مذکوره مثالونه د دوی په نزد داسي کېږي له (یاحارثُ څخه یا حارُ او له ثمود څخه یاثَمُوْ) په دې کي واو په طرف کی د واقع کېدو په وجه په یاء بدلېږي، بیا د یاء د مناسبت په وجه د ماقبل ضمه په کسره بدلېږي، بیا د (یدعوو یرمي) په قانون سره د یاء حرکت غورځول کېږي، (یاثَمِیْ) ځیني جوړېږي.

او (یاکروانُ یا کَرَوْ) ویل کېږي، بیا واو متحرک ماقبل یې مفتوح و، نو د (قال باع) په قانون سره الف جوړ سو، نو (یاکَرَا) سو.

شپېتم (۶۰) درس

د مندوب تعریف او ضروري مسائل یې

و قد استعملوا صیغة النداء فی المندوب، وهو المتفجَّع علیه بیا او واو واختص بواو وحکمه فی الاعراب والبناء حکم المنادٰی، و لک زیادة الالف فی آخره، فان خفت اللبس قلتَ واغلامکیه، واغلامکموه، ولک الهاء فی الوقف و لاینب الاالمعروف، فلا یقال وارجلاه، وامتنع وازیدالطویلاه، خلافًا لیونس.

ترجمه: او په یقیني توګه اهل عرب حروف ندا په مندوب کي هم استعمالوي او هغه نوم دی دهغه شی، پر کوم چي واویلا او درمندي کېږي د (یاء) یا (وا) په ذریعه او له مندوب سره (وا) خاص سوی دی او د ده حکم په اعراب او بناء کي د منادٰی د حکم په څېر دی او ای مخاطبه! ته (الف) زیاتولای سي د دوی په اخیر کي، لېکن که چېري د التباس وېره وي، نو داسي یې ویلای سي: واغلامکموه، او ستا لپاره د وقف په حال کي (هاء) زیاتول هم جائز دي او مندوب نسي کېدای، پرته له معروف څخه، نو داسي نسي ویل کېدای، وارجلاه او ناجائز دی: وازیدالطویلاه، په دې کي امام یونس مخالف دی.

تشریح: د نن په سبقه کي یو تمهید او څلور خبرې دی:

①: د مندوب تعرېف او حروف ندبه، ②: د مندوب حکم، ③: د مندوب د استعمال طرېقه، ④: د مندوب لپاره ضروري قاعدې.

تمهید:

و قد استعملوا صیغة النداء فی المندوب: د مندوب تر تعرېف مخکی د کافیه ملاصاحب رحمه الله دا عبارت د تمهېد په ډول راوړي دي، وایې: چي عرب حضرات په حروف نداء کي (یاء) دمندوب لپاره هم استعمال کړې ده، د دې لپاره چی د مندوب څه ناڅه مناسبت له منادٰی سره پیداسي، نو د کافیه ملاصاحب رحمه الله مناسب وبلل چي د ده هم څه ناڅه یادونه د منادٰی په بحث کي وکړي.

دمندوب تعرېف او حروف ندبه

لومړۍ خبره: د مندوب تعرېف او حروف ندبه:

وهو المتفجّع علیه بیا او واو: په دې عبارت کې مصنف رحمه الله د مندوب تعریف بیانوي، مندوب له (ندب، یندب ندبًا وندبهٌ) څخه د اسم مفعول صیغه ده، لغوي معنا یې ده: هغه مړی، د کوم چې د ښېګڼو پر یادولو اه او زارۍ کېږي او له وارثینو سره د درمندۍ څرګندونه کېږي او پرې ژړاکوونکي په ژړا کې معذور بلل کېږي، دا خو لاڅه چې اورېدونکی داسې ګڼي، چې په یقیني توګه د مړو سوي مرګ یوه عظیمه پېښه او واقعه ده.

او د نحوي په اصطلاح کې مندوب هغه دی، پر کوم چې په (یاءاو واو) سره آه و زارۍ کېږي، بیا متفجع علیه عام دی، چې د ده پر وجود آه وزارۍ کېږي، یا یې پر عدم موجودګۍ کېږي، د وجوب مثال: (واحسرتاه وامصیبتاه)، لکه زموږ په هېواد کې چې غدار، ظالم د غریبانو پوستونه وکاږي او ورباندې مشر سي، چې تر هر موجوده اولس مشر وروسته د یو بنه او عادل اولس مشر انتظار کېږي، خو لکه څرنګه چې وي هماغسې چلېږي او تر ده وروسته دوهم تر ده لوی ظالم راسي، نو ټول غریبان وایې (واحسرتاه وامصیبتاه)، چې های مصبت او های افسوس! دا خو ګواکې چې تر ګټري وروسته خنزیر راسي اود (فَخَلَفَ مِنْ بَعضِدِهِمْ خَلْفٌ) مصداق سو، ای خدایه! اوس به له دې څخه کله ځان وژغورو.

او د عدم موجودګۍ مثال داسې دی، چې د مثال په توګه زید مړسي او یو څوک ووایې: (وازیداه او واحسرتاه)، یعنی د ده پر مرګ د افسوس او غم څرګندونه وسي او د افسوس دا راز اظهار کول، هغه که د چا پر موجودګۍ وي، یا پر عدم موجودګۍ د (یا حرف ندا) او (واحرف ندبه) په ذریعه کېږي.

دلته یو سوال کېږی، چې د کتاب مصنف رحمه الله خو مخکی (وقد استعملوا صیغة الندا) وویل، کوم چې مطلق دی او ټولو حروف نداء ته شامل دی او دلته ته وایې، چې (و هو المتفجع علیه بیاء) نو دلته یوازی د (یاء) له خاص والي څخه مراد څه دی؟

د دې جواب: بلکل سمه ده د کتاب مصنف رحمه الله (وقد استعملوا صیغة الندا) ویلي دي، لېکن د مطلق په هکله یوه قاعده مشهوره ده، چې (المطلق اذا یطلق

یراد به الفرد الکامل) او دا ښکاره خبره ده، چې په حروف نداء کې فرد کامل (یاء) ده، نو ځکه یې خاص کړې ده.

واختصّ بوا: (وا) صرف له مندوب سره خاص ده او (یا) عامه ده، د منادیٰ او مندوب دواړو لپاره کارېږي.

د مندوب حکم

دوهمه خبره: د مندوب حکم:

وحکمه فی البناء والاعراب حکم المنادیٰ: په دې عبارت کې د مندوب د مبني او معرب کېدو په اعتبار او د اعراب په اعتبار حکم بیانېږي، هغه په دې ډول چې د مندوب حکم بعینه هماغه دی، کوم چې مخکې موږ په منادیٰ کې بیان کړ، مثلا موږ ویلې وه، چې منادیٰ مفرد معرفه مرفوع وي، مبني وي پر علامه د رفع، نو دا راز که چېرې همدا مفرد معرفه مندوب جوړ سي، نو دا هم مبني پر علامه د رفع کېږي، لکه له (یازیدُ) څخه (وازیدُ).

د مندوب د استعمال طریقه

درېیمه خبره: د مندوب د استعمال طریقه:

ولک زیادة الألف فی آخره: په دې عبارت کی د مندوب د استعمال طریقه را ښیي:

یوه طریقه خو داده، چې د مندوب په اخیر کې (الف) راځي، ځکه چې په مندوب کې اواز لوړول مقصود وي او دا مقصد د (الف) راوړلو په صورت کې په پوره توګه ترسره کېږي او په دې صورت کې د ده په اخېر کی (ها) د وقف هم لګول کېږي، (د کومې چې لږ مخکې مصنف رحمه الله پخپله بیان وکړ)، چې (ولک الهاء فی الوقف) او دا ځکه راوړل کېږي، چې حرف مده په ښه توګه ادا سي، لکه له (یازیدُ) څخه (یازیداه).

فان خفتَ اللبس قلتَ: واغلامکیه، په دې عبارت کې مصنف رحمه الله وایي: چې د مندوب په اخیر کې الف راوړل جائز او صحیح دي، لېکن چېرې چې د ده له لوېدو (اوړدېدو) څخه د یوې صیغې له بلې سره التباس لازمېږي، نو هلته الف

نه زياتېږي، د مثال په توګه چي د يو واحده مؤنثه مخاطبه مرېيې مرسي، يا نه پر هغه ندبه كوي، نو (واغلامكِ، يا يا غلامكِ) ويل كېږي، ليكن كه چېري د دې په اخېر كي الف اوړد كړي، تر هغه وروسته (هاء) د وقف لپاره هم ولګول سي، نو (واغلامكاه) جوړېږي او بعينه همدا صورت هغه وخت هم جوړېږي، كله چي د واحد مذكر حاضر پر مرېيې دا راز ندبه كېږي، نو د دواړو تر مينځ التباس (ګډوډي) راځي، نو له دغه التباس څخه د ځان ساتلو لپاره د ده په اخېر كي د الف پر ځاى ياء ساكنه لګول كېږي، (ياغلامكيه) ويل كېږي.

دا راز كه چېري د جمع مذكر حاضر پر مرېيې ندبه كول وي، او په اخير كي يې الف ولګول سي، نو له (واغلامكم) څخه (واغلامكماه) جوړېږي، كوم چي له تثنيه مذكر حاضر سره ملتبس كېږي، نو له دغه التباس څخه د ځان ساتني لپاره په اخېر كي (واو)، تر هغه وروسته (هاء) دوقف لپاره لګول كېږي، (واغلامكموه) ويل كېږي.

ځلورمه خبره: د مندوب لپاره دوې ضروري قاعدې:

ولا يُندب الا المعروف: په دې عبارت كي د مندوب لپاره يوه قاعده بيانېږي، هغه دا چي ندبه صرف پر معروف (معلوم) شخص كېږي، پر كوم مجهول او نامعلوم سړي نسي كېداى، ځكه چي د معلوم شخص صفات هم معلوم وي، نو ندبه كوونكي چي كله د ده صفات يادوي او ژاړي، نو اورېدونكى دى په ژړا كي واقعي معذور ګڼي او كه پر معلوم سړي نه وي، نو اورېدونكى همداسي وايي چي دا لېونى ولې ژاړي؟ او پر چا ژاړي؟، نو له همدې وجې دا شرط ولګول سو، چي ندبه پر معلوم سړي كېږي، نو (وارجلاه) ويل صحيح نه دي.

وامتنع وازيدالطويلاه: په دې عبارت سره دوهمه قاعده بيانوي، لكه څرنګه چي ندبه پر معلوم كېږي، پر مجهول او نامعلوم نه كېږي، نو همدا راز كه چېري پر موصوف ندبه كول وي، نو د ده په اخير كي خو (الف او هاء) راوړل جائز دي، ليكن دده د صفت په اخير كي دا دواړه نسي راوړل كېداى، نو (وازيداه الطويل)

ویل خو جائز دي، لېکن (وازیداه الطویلاه) ویل جائز نه دی، دا خو د نحوې د جمهورو علماؤ مذهب دی.

او امام یونس رَحِمَهُ اللهُ وایې، چې (الف او هاء) د صفت په اخېر کي هم راتلای سي، پر دغه دعوی له ده سره دوه دلېلونه سته، یو عقلي او دوهم نقلي:

عقلي دلېل: لکه څرنګه چې مضاف مندوب وی، نو (الف او هاء) یې له مضاف الیه سره راتلای سي، سره له دې، چې مضاف او مضاف الیه یو له بل سره غیر وی، نو موصوف او صفت کوم چې دواړه ذات واحده وي، په دوی کي خو یې په طریقه اولیٰ سره راوړل جائز دي، نو د ده په نزد لکه (واغلامکاه) ویل چې روا دي، دا راز (وازیدالطویلاه) ویل هم جائز دي.

نقلي دلېل: له یوه اعرابي (صحرایي) څخه دوې پیالې ورکې سوې، تر ډېرې پلټنې وروسته چې یې پیدا نکړې، نو یې دندبه کولو پر مهال وویل: (واجُمْجُمَتَيَّ الشامِيَتَيْناه) یعنی های زما دوو شامي پیالو!

دلته وګوره! ندبه پر (جمجمتین) کوي، لیکن (الف اوهاء) یې پر صفت (الشامیتین) راوړي دي.

خو د نحوي جمهور علماء د لومړي دلېل جواب داسي ورکوي، چې مضاف او مضاف الیه ګواکي چې یو اسم دي، ځکه مضاف په خپله معنا ورکولو کي مضاف الیه ته محتاج دی، نو ګواکي چې مضاف الیه د مضاف یو جزء دی، ځکه نو پکي د (الف اوهاء) راوړل جائز دی، لیکن د دې پر خلاف د موصوف او صفت معامله داسي نه ده، بلکي هغه دواړه بېلې، بېلې مستقلې کلمې دی، او صفت صرف د موصوف د وضاحت لپاره راوړل کېږي، نو پر مضاف او مضاف الیه قیاس کول قیاس مع الفارق دی او بطلان یې ښکاره دی.

او د دوهم دلېل جواب یې داسي کړی، د علماء نحو په مقابله کي د یوه اعرابي قول څرنګه وړاندې کېدای سي، حال دا چې هغه قول شاذ هم دی.

یوشپېتم (۶۱) درس

د حرف نداء او منادی د حذف بیان

و يجوز حذف حرف النداء الا مع اسم الجنس، والاشارة، والمستغاث والمندوب، نحو: (يُوسُفُ اَعْرِضْ عَنْ هٰذَا) وايهاالرّجل وشذّ اصبح ليلُ، وافتدِ مخنوق، واطرق كرا، وقد يحذف المنادٰى لقيام قرينة جوازًا، مثل الا يا اسجدوا.

ترجمه: او روا دي، د حرف نداء حذفول پرته له هغه نداء چي له اسم جنس، اشاره، مستغاث اومندوب سره وي، لكه (يُوسُفُ اَعْرِضْ عَنْ هٰذَا) وايهاالرّجل او شاذ دى اصبح ليلُ او افتدِ مخنوق او اطرق كرا او كله كله (چي قرينه وي) په جوازي توګه منادٰى حذف كيږي، لكه الا ياسجدوا.

تشريح: د نن په سبق كي دري خبري دي:
①: د حرف نداء حذفول، ②: له دغې قاعدې څخه د څو صورتونو استثناء، ③: د منادٰى حذفول.

لومړۍ خبره: د حرف نداء حذفول:

و يجوز حذف حرف النداء: د ټول درس په اخېر كي تاسو دوې قاعدې بيان كړې وى، نن د كافيه ملاصاحب رحمه الله په دې عبارت كي دريمه قاعده بيان كړې او بېرته د منادٰى اصل بحث ته تللى دى، قاعده داده، چي په منادٰى كى دننه كه چېرې كومه قرينه موجوده وى، نو له هغې څخه حرف نداء حذفول جائز دي، لكه (يوسُفُ اَعرِضْ عَنْ هٰذَا)، دلته د قرينې د موجودېدو له وجې (ياء) حرف نداء حذف سوې ده، د ياء د حذف كېدو قرينه دلته داده، چى كه چېري تر (يوسف) مخكي (ياء) حرف نداء محذوف ونه منل سي، نو دا خبره لازمېږي، چي (يوسف) مبتداء دءا و مبتداء خبر غواړي او دلته له (اعرِضْ عَنْ هٰذَا) پرته له موږ سره بل شى نسته او دا خبر نسي كېداى، ځكه چى دا جمله انشائيه ده او د خبر لپاره د جمله خبريه كېدل ضروري دى.

د دې په مقابله كي د حرف نداء د محذوف منلو په صورت كى هيڅ خرابي نه راځي، ځكه چى دواړې جملې انشائيه جوړېږي، (يُوْسُف) سره له (يا) محذوفه منادٰى جوړېږي او دوهمه جمله يعنى (اعرض عن هذا) يې جواب د نداء جوړېږي.

دا راز په (ايهاالرجل) كي هم قرينه موجوده ده، هغه دا چي پر معرف باللام چي كله (ايها) داخل سي، حال دا چي پرده تر دې مخكي ياء حرف نداء داخله وي، نو دلته خو كوم حرف نداء نه ليدل كېږي، او بيا هم (ايها) پر داخل دی، نو په لازمي توګه به منو، چي دلته حرف نداء محذوف ده.

دوهمه خبره: له مذكوره قاعدې څخه د څو صورتونو استثناء:

الا مع اسم الجنس والاشارة والمستغاث والمندوب:

مصنف رحمه الله په دې عبارت كي له مذكوره قاعدې څخه د څلورو شيانو استثناء كوي: (۱، ۲) الا مع اسم الجنس، والاشارة، چي اسم جنس او اشاره منادٰی جوړ سي، له دې څخه حرف نداء نسي حذف كېدای، وجه يې داده، چي اسم علم خو په عامه توګه منادٰی جوړېږي، لېكن په مقابله كي يې اسم جنس او اسم اشاره ډېر لږ منادٰی جوړېږي، نو د دغه قليل الاستعمال كېدو سره، سره كه چېري حرف نداء هم ځيني حذف سي، نو كتونكی دا راز اسم جنس نكره او اسم اشاره هماغه زوړ اسم اشاره بولي، مثلاً له (يارجل او يا هذا) څخه چي يا حرف نداء حذف كړل سي، (رجل او هذا) پاتېږي، چي پته يې نه لګېږي، چي آيا دا منادٰی دي، كه نكره، ځكه نو په دغو دواړو ځايونو كي د حرف نداء ذكر كول ضروري سو، د دې لپاره چي مذكوره خرابي لازمه نسي.

(۳، ۴): والمستغاث والمندوب: درېيم او څلورم صورت دا چي له منادٰی مستغاث او مندوب څخه هم د حرف نداء حذفول جائز نه دي، ځكه چي په دې دواړو كي د صوت لوړول مقصود وي او د صوت لوړوالی د منادٰی په صورت كي راځي، لېكن كه حرف نداء حذف كړل سي، نو هغه منادٰی نه پاتېږي او د منادٰی نه پاتې كېدو په صورت كي د اواز لوړاولی هم نه پاتېږي، او د اواز د نه لوړوالي په صورت كی هغه مستغاث او مندوب نه پاتېږي، نو چي كوم اصل مقصود دی، هغه له مينځه ځي.

و شذ اصبح ليل: په دې عبارت سره د يوه سوال جواب كوي، سوال دادی، چي اوس مو يوه قاعده وويله، چي (و يجوز حذف حرف النداء الا مع اسم

الجنس...الخ) او دلته (لیل) کوم چي اسم جنس دی، له دې سره، سره هم په (اصبح لیل) کي ځیني حرف نداء حذف سوی دی، ځکه چي دا په اصل کی (ادخل فی الصّباح یالیلُ)، یا (اوصرفی الصّباح یا لیل) و.
د دې قصه داده، چي ام جندب نومې مېرمن پر امرءالقیس (کوم چی مشهور عربي شاعر و) عاشقه وه، تر واده وروسته لومړی شپه وه، نو له امرءالقیس څخه یو داسي حرکت صادر سو، کوم چی د دې ناخوښه و، نو هغه ټوله مینه چی د دې په سینه کی وه، په یوه وار ځیني ووته او علی الصباح (تر سهار کېدو) پوري یې له ده څخه د بېلېدو ټینګ هوډ وکړ، په انتظار کي یو، یو ګړی په مشکل تېرېده، خو په اخیر کي ډېره تنګه سوه، نو ویې ویل (اصبح لیلُ، ای ادخل فی الصباح یالیلُ) یعني ای شپې! په تلوار تېره سه او د سهار په وخت کي داخله سه.
دا راز په (وافتد مخنوق) کي هم مخنوق اسم جنس منادٰی دی او حرف نداء ځیني حذف کړل سوی دی، ځکه چي دا په اصل کي (افتد نفسک یا مخنوق) و.
د دې قصه اوشان ورود دادی، چي سلیک بن سلکه نوم سړی یوه شپه ستوني ستغ پروت و، چي یو غل راغی، د ده پر غاړه یې زور وکړ، ویې ویل چي (افتد مخنوق) یعني ای خفه سوي د خپل ځان فدیه اداکړه، چي له مرګه خلاصون ومومي.
دا راز په (اطق کرا) کی هم (کرا) اسم جنس منادٰی ده او حرف نداء ځیني حذف سوی دی، ځکه چي دا په اصل کي (اخفض عنقک یا کروانُ) و.
د دې قصه او شان ورود داسي بیان سوی، چي د جاهلیت په زمانه کی یو منتر مشهور و، چي په ذریعه به یې کروان نومي مرغۍ نیول کېدل، پوره منتر په لاندي ډول و:

اطق کرا اطرق کرا

فانّ النُّعامة فی القری

و بغالکم فی ارضنا

مااستنسر اماااستنسرا

یعني ای کروان نومي پرندې! نو ته پخپله خپل سر کښته کړه او زما لاسونو ته راسه، که داسي ونکړې، نو زما لپاره ستا نیول او ښکار کول څه ستونزمن نه دی،

ځكه چي ترتا لويې مرغۍ، يعنى شترمرغ موږ ښكار كړى دى، نو ستا وژل هم څه ستونزمنه خبره نه ده، نو دغو كروان نومو مرغيو چي به دا منترواورېد، نو را جمع به سوې.

غرض دا چي په دې ټولو ځايونو كي اسم جنس كوم چي منادىٰ دى او يا حرف نداء ځيني حذف سوې ده، نو په دې خوله (الا مع اسم الجنس) قاعدې سره مخالفت لازمېږي؟

مصنف رحمه الله د دې ټولو ډېر اسانه جواب وركړى دى، چي (و شذّ)، چي ورورہ! دا ټول شاذ دي، شاذ لكه نادر، نادرليس بشئ.

دوهم جواب موږ دا وركوو، چي جنابه! دا كومې قاعدې چي بيان سوې، دا د فصحاوُ او بلغاوُ علماوُ د كلام لپاره بيان سوي دي، نو كه چېري پر دې تاسو كوم اعتراض لرئ، نو د دغو حضراتو له كلام څخه يو كلام وړاندي كړئ، نو بيا اعتراض وكړئ، ليكن د مجازي عاشقانو، غلو او جادوګرانو په كلام وړاندي كولو تاسو اعتراض نسئ كولاى، ځكه چي د دغو دوو ډلو ترمينځ خو يو ليري مناسبت هم نسته.

د منادىٰ حذفول

دريمه خبره: د منادىٰ حذفول:

و قد يُحذف ا لمنادٰى لقيام قرينة جوازًا:

چي كله كله منادىٰ هم حذف كېږي، كله چي يې پر حذف كومه قرينه موجوده وى، مثلا (الا يااسجدوا) كوم چي په اصل كي (الا ياقوم اسجدوا) و، نو (قوم) كوم چي منادىٰ و، هغه په جوازي ډول حذف سوى دى، ځكه چي د ده تر حذف وروسته هم (الااسجدوا) د ده پر حذف دلالت كوي، ځكه چي قاعده ده، چي حرف نداء كله هم پر فعل نسي داخلېداى، پر اسم داخلېږي، ليكن دلته چي كله موږ وكتل، نو پر حرف نداء فعل داخل سوى دى او دا دقاعدې خلاف دى، نو له دې څخه معلومه سوه، چي دلته هرومرو يو اسم محذوف دى او په اصل كي منادىٰ هماغه محذوف اسم دى.

دوه شپیتم (۶۲) درس

په وجوبي دول د فعل د حذف کیدو دریم ځای، یعنی د ما اضمر عامله بیان

والثالث: ما اضمر عامله على شريطة التفسير وهو كل اسم بعده فعلٌ او شبهه مشتغلٌ عنه بضميره او متعلقه، لوسلّط عليه هو او مناسبه لنصبه، مثل: زيدًا ضربته و زيدًا مررتُ به و زيدًا ضربتُ غلامَهُ و زيدًا حُبستُ عليه، يُنصب بفعلٍ مضمرٍ يفسّره ما بعده، اى: ضربتُ و جاوزتُ واهنتُ ولابستُ.

ترجمه: او دریم هغه اسم دی، چي عامل يې د تفسیر په شرط مقدر سوی وي او هغه (یعني ما اضمرعامله) هغه اسم دی، تر کوم وروسته چی فعل، یا شبه فعل وي او هغه فعل یا شبه فعل دغه اسم ته له اعراب ورکولو څخه اعراض کوي، ځکه چي هغه یا خو د دغه اسم ضمیر ته عمل ورکوي، یا یې متعلق ته، که چیري فعل، یا شبه فعل پخپله یا یې مناسب پر کوم فعل ما اضمرعامله داخل سي، نو هغه یقینًا ده ته نصب ورکوی، لکه (زیدًا ضربته و زیدًا مررت به و زیدًا ضربتُ غلامَهُ و زیدًا حسبتُ علیه) او نصب ورکوي دغه اسم ته د داسي فعل مقدر په ذریعه د کوم چي مابعد دده تفسیر کوي، یعني (ضربتُ و جاوزتُ واهنتُ ولابستُ).

تشریح: د نن په سبقه کي تر تمهید وروسته دري خبري کیږي:
①: د مااضمر عامله علیٰ شریطة التفسیر تعریف، ②: د مثالونو وضاحت، ③: د ما اضمرعامله اعراب.

تمهید: د مفعول به د بحث په شروع کي مصنف رحمه الله ویلي وه، چي (و وجوبًا في اربعة مواضع) یعني د مفعول فعل په څلورو ځایونو کی حذفول واجب دي، لکه چي له دغو څلورو ځایونو څخه د لومړیو دوو یعنی سماعی او منادیٰ ذکر

خو وسو، اوس دلته د دریم مقام (ما اضمر عامله) بیان کېږی، یعنی چي د مفعول به فعل په دې شرط حذف کړل سي، چي مخکي یې تفسیر را روان وي.

د ما اضمر عامله علیٰ شریطة التفسیر تعریف

لومړۍ خبره: د ما اضمر عامله علیٰ شریطة التفسیر تعریف:

وهو کل اسم بعده فعل او شبهه مشتغلٌ عنه بضمیره او متعلقه لو سلّط علیه هو او مناسبه لنصبه، چی ما اضمر عامله هغه اسم دی، تر کوم وروسته چي کوم فعل، یا شبه فعل وي، لېکن فی الحال هغه په مذکوره اسم کي کوم عمل نه کوی، ځکه چی هغه فعل یا شبه فعل یا خو د مذکوره اسم په ضمیر کي عمل کړی وي، یا یې په متعلق کي، لېکن همدا فعل، یا شبه فعل یا دده مناسب فعل داسي وي، چی که چېري په دوی کي یو هم د ما اضمر عامله په شروع کي راسي، براه راست د هغه عامل جوړېږي، نو په دوی کي هر یو دغه خپل معمولٌ (مفعول به) **جوړوي، نصب ور کوي.**

دوهمه خبره: د مثالونو وضاحت:

له زیدًا ضربته څخه تر زیدًا حبستُ علیه پوري د کافیه ملاصاحب رحمه الله د ما اضمر عامله شلور مثالونه بیانوی، لېکن دومره خبره په یادلرئ، چي د کافیه ملاصاحب رحمه الله په تعریف کي دوه شیان ذکر کړي وه، یعني د فعل او شبه فعل، لېکن مثالونه یې ټول صرف د فعل راوړي دي، د شبه فعل یې کوم مثال نه دی راوړی، نو د هر یوه مختصر وضاحت ته غوږ سئ:

①: زیدًا ضربته:

دا په اصل کي (ضربتُ زیدًا ضربته) و، په دې کی (زیدًا) هغه اسم دی، د کوم چي فعل (عامل) حذف کړل سوی او د ده لپاره لګول سوی شرط هم موجود دی، چي ترده وروسته کوم (ضربتُ) فعل دی، یا د هغه حذف سوي فعل تفسیر کوي او فی الحال یې په (زیدًا) کي عمل ځکه نه دی کړی، چی دا د همدغه زید وطرفته په راجع ضمیر کي عمل کړی دی، لېکن که چېري دغه عامل له ضمیر څخه فارغ سي (زیدًا) په شروع کي راوړل سي، نو دا هغه هم خپل معمول جوړوي، نصب ورکوي، لکه ضربتُ زیدًا.

په داسي ځای کي د مفعول به فعل حذفول ځکه واجب دی، چي د نه حذف کېدو
په صورت کي د مفسَر او مفسِّر دواړو جمع کېدل لازمیږي، کوم چي د فصحاؤ په
کلام کي یو لوی عیب شمېرل کېږي.

②: زیدًا مررت به:
دا په اصل کی (جاوزتُ زیدًا مررتُ به) و، نو دلته هم (جاوزت) فعل حذف سوی
دی، د (مررت به) په ذریعه یې تفسیر بیان سوی دی او دغه زید ته په راجع
ضمیر کي یې عمل کړی دی، اوس که چېري له ده سره مناسب فعل (جاوزتُ) د
همدغه ما اضمرعامله یعنی د (زیدًا) په شروع کي راوړل سي، نو دا هغه ته
نصب ورکوي، لکه (جاوزتُ زیدًا).
دلته بزاه راست (مررتُ) نسي مسلط کېدای، ځکه چي (مررتُ) به یا له حرف
جر سره مسلط کېږي، یا به بېله حرف څخه، که چېري په حرف جر سره مسلط سي،
نو هغه د مفعول به تقاضا خو کوي، لیکن هغه ته نصب نسي ورکولای، ځکه هغه
خو د همدغي (باء) حرف په وجه مجرور کېږي او که چېري بېله باء څخه مسلط
سي، نو بیا (مررتُ) فعل لازمي دی، کوم چي مفعول به ته اړتیا نه لري، نو کله
چي په دواړو صورتونو کي ده ته نصب نسي ورکولای، نو په لازمي توګه ددغه
فعل مناسب راوړل سو، چي هغه ته نصب ورکړی او هغه (جاوزتُ زیدًا، ای:
مررتُ به) دی.

③: زیدًا ضربتُ غلامَهُ:
دا دریم مثال دی، په کوم کی چی وروستنی فعل د مفعول به په متعلق یعني
(غلام) کی عمل کوی، دا که چېري پر مخکنی اسم داخل کړل سي، نو دا هغه ته
هم نصب ورکوي، مثلا (ضربتُ زیدًا)، لیکن فی الحال پکی عمل ځکه نه کوي،
چي دا د هغه په متعلق یعني (غلام) په عمل سره مشغول دی او هغه ته یې
نصب ورکړی دی.

④: زیدًا حُبستُ علیه:
دا هم د هغه اسم مثال دی، ترکوم وروستني فعل چي د دغه اسم په ضمیر کی
عمل کړی وی او بعینه همدا فعل پر مخکنی اسم نسي مسلط کېدای، ځکه هغه

به یاپه (علی) حرف سره مسلط کېږي، یا به بېله (علی) که چېري په (علی) سره مسلط سي، نو دا هغه ته دنصب پر ځای جر ورکوي او که چېري بېله (علی) مسلط کړل سي، نو دا هغه ته د نائب فاعل کېدو له وجې رفع ورکوي، نو دلته هم د ده مناسب او هم معنا فعل (لابستُ) پر ده مسلط کېږی او ده ته نصب ورکوي، لکه (لابستُ زیدًا ای حُبستُ علیه).

د ما اضمر عامله اعراب

درېیمه خبره: د ما اضمر عامله اعراب:

و ینصب بفعلٍ مضمر یفسره مابعده: په دې عبارت کي د ما اضمر عامله اعراب بیانوي، چی دا منصوب کېږی او عامل ناصب دده هغه تقدیری فعل دی، د کوم چی تفسیر وروستنی فعل کړی وي، لکه په لومړي مثال کي فعل مقدر (ضربتُ) اوپه دوهم کي (جاوزتُ) او په درېیم کي (اهنتُ) او په څلورم کي (لابستُ) دی.

دري شپېتم (۶۳) درس

د ما اضمر عامله اعرابي صورتونه

و یُختار الرفع بالابتداء عند عدم قرینةٍ خلافه او عند وجود اقوىٰ منها کاما مع غیرالطلب و اذا للمفاجاة.

ترجمه: او رفع د ابتداء په وجه غوره ده، که یې چېري پر خلاف قرینه نه وي او یا کومه قوي قرینه موجوده وی، لکه (اما) چي کله له جمله انشائیه سره نه وي او چي تر (اذا) مفاجاتیه وروسته وي.

تشریح: د نن په سبق کي د ماضمر عامله داعراب په اعتبار سره لومړی حکم بیانېږي، یعنی رفع اولیٰ او نصب جائز دی.

لومړی حکم: رفع اولیٰ او نصب جائز:

د عربو په کلام کي ټول دري ځایونه داسي دی، چیری چي پر اسم رفع ویل غوره او اولیٰ وی، نو مصنف رحمه الله هغه دلته بیانوی، ورته غوږ سئ:

درفع د غوروالی لومړی مقام:

بالابتداء عند عدم قرینة خلافه: لومړی مقام چي کوم اسم مبتداء واقع سوی وي او د ماأضمر عامله له قبیلي څخه هم جوړېدای سي، له دواړو قبیلو څخه پر کېدو یې باقاعده دلائل او قرینې هم موجود وي، لیکن ما اضمرعامله والا قرینه یا خو نسبتًا کمزوري وی، یا تر زیات لا زیات مرفوع ویونکی یې له قرینې سره مساوي وی، نو په داسي ځای کي د ده مرفوع ویل اولیٰ او غوره دي او همدا مطلب دی د (عند عدم قرینة خلافه)، نو ګواکي چي دا عبارت په اصل کي داسي دي: (عند عدم قرینة راجحةٍ خلافه)، لکه (زیدٌ ضربته) دا مرفوع او منصوب دواړه ویل کېدای سي، د مرفوع ویلو په صورت کی (زیدٌ) مبتداء جوړېږي او د منصوب ویلو په صورت کی دا د ما اضمرعامله له قبیلې څخه کېږي، لیکن په منصوب ویلو کي چونکه د (ضربت) فعل حذف لازمېږي او په مرفوع ویلو کي کوم حذف نه لازمېږي، ځکه نو مرفوع ویل اولیٰ او غوره سو.

د رفع د اولویت دوهم مقام:

او عند وجود اقویٰ منها: چي په کومه جمله کي د دغه اسم د مرفوع او منصوب دواړو ویلو قرینې موجودي وي او په دواړو کی د هریوه قرینه وجه د ترجیح هم لري، لیکن په دواړو کي د رفع ترجیح اقویٰ او زیاته راجح وی، نو په داسي ځای کي هم د دغه اسم مرفوع ویل غوره دي.

(کاما مع غیرالطلب واذا للمفاجأة) په دي عبارت کی د دې قاعدې لپاره دوه صورتونه بیانوي:

①: یوه دا چي یو داسي اسم وي، چی په شروع کي یې (اما) وي او تر ده وروسته جمله خبریه وي، انشائیه نه وي، نو داسي اسم مرفوع ویل کېږي، لکه (لقیتُ القوم و أما زیدٌ فاکرمته) وګورئ! دلته (زیدٌ) تر (اما) وروسته راغلی دی، منصوب او مرفوع دواړه ویل کېدای سي او د هریوه لپاره قرینه مصححه او مرجحه دواړې موجودي دي:

قرینه مصححه: مثلاً د منصوب ویلو قرینه مصححه یې داده، چي دا د ما اضمرعامله له قبیلې څخه ومنل سي، وروستنی فعل یې تفسیر جوړسي.

قرینه مرجحه: او قرینه مرجحه یې داده، چي د منصوب ویلو په صورت کي د معطوف او معطوف علیه ترمینځ مناسبت پیداکېږي، هغه په دې ډول، چي دا دواړې جمله فعلیه جوړېږي او د (اکرمت) فعل عطف پر (لقیت) فعل او د (زیدٌ) اسم عطف پر (القوم) اسم کېږي او د عبارت تقدیر داسي کېږي: (لقیت القومَ و اما اکرمتُ زیدًا فاکرمته)، نو د جمله فعلیه عطف پر جمله فعلیه او د جمله اسمیه عطف پر جمله اسمیه راغی او د مرفوع ویلو لپاره هم دواړه قسمه قرینې موجودي دي:

قرینه مصححه: مثلا قرینه مصححه داده، چي (زیدٌ) اسم علم په ابتداء کي واقع سوی دی او ترده مخکي کوم لفظي عامل نسته، نو دی د مبتداء په جوړولو مرفوع ویل کېږي.

قرینه مرجحه: او قرینه مرجحه داده، چي تر (اما) وروسته اکثره وختونه مبتداء راځي، څرنګه چي مبتداء مرفوع وي، ځکه نو دا هم مرفوع کېږي، اوس موږ د دواړو قسمونو قرینو تر مینځ پرتله وکړه، نو د مرفوع ویلو قرینه اقوی او غوره معلومه سوه، ځکه چي د منصوب ویلو په صورت کي صرف د معطوف او معطوف علیه ترمینځ مطابقت مطلوبه حاصلېږي، حال داچي ددې په مقابله کي د ده پر عکس کول هم جائز دی، ځکه د عربو په کلام کي د دې تر بسه پوري مثالونه او بېلګي سته او په دې صورت کی د فعل حذف هم راځي، حال داچي عدم حذف تر حذف اولی او غوره دی.

لیکن د مرفوع ویلو په صورت کي دوه شیان حاصلېږي، یو دا چي تر (اما) وروسته کله هم فعل نه راځي، بلکی اسم راځي، لکه چي په موجوده صورت کي دي او دوهم دا چي په دې صورت کي د هیڅ شی حذفول نه لازمېږي، بلکی په جمله کي د دې ټول اجزاء موجود دي، نو د رفع قرینې اقوی سوي، ځکه یې نو مرفوع ویل غوره او خوښ سو، لکه (لقیتُ القومَ و اما زیدٌ فاکرمته).

د رفع د غوراوي دریم مقام:

و اذا للمفاجاة: چي یو اسم تر (اذا) مفاجاتیه وروسته واقع وی، نو هم یې منصوب او مرفوع دواړه ویل جائزدي او د دواړو خپلې، خپلې قرینې هم موجود

دي، ليکن په دې صورت کې هم د رفع د قرېنې د اقوئ کېدو له وجې د ده مرفوع ويل غوره او اولى دي، لکه (خرجتُ فاذا زيدٌ يضربه عمرٌو).

وګوره! دلته د (زيدٌ) د منصوب ويلو قرېنه مصححه داده، چې دلته چې (زيد) د ما اضمرعامله له قبيلې څخه سي، وروستنى (يضربه) فعل يې د تفسيرلپاره جوړ سي.

او قرېنه مرجحه يې داده، چې په دې صورت کې د معطوف او معطوف عليه تر مينځ مطابقت مطلوبه حاصلېږي، يعني د جمله فعليه عطف پر فعليه او د جمله اسميه عطف پر جمله اسميه راغلى دى.

او د رفع لپاره قرېنه مصححه داده، چې (زيدٌ) له عوامل لفظيه څخه خالي دى او دوهمه دا چې پر ده (اذا) مفاجأتيه داخله ده، نو په دغو دواړو وجو دَى مرفوع ويل کېږي.

او قرېنه مرجحه داده، چې (اذا) مفاجأتيه پر اسم داخلېږي، پر فعل کله هم نه داخلېږي، او دوهمه وجه داده، چې د نصب په صورت کې د فعل حذفول لازمېږي، حال دا چې د مرفوع ويلو په صورت کې هيڅ حذف نهٔ لازمېږي، نو د مرفوع ويلو قرېنې اقوئ سوې، ځکه نو ددغه اسم مرفوع ويل اولىٰ او غوره دي.

څلورشپېتم (۶۴) درس

د ما اضمرعامله اعرابي صورتونه

و يُختار النَّصب بالعطف على جملةٍ فعليةٍ للتناسب، وبعد حرف النفى والاستفهام، واذا الشّرطية وحيث، وفى الأمر والنهى، اذ هى مواقع الفعل وعند خوف لبس المفسَّر بالصّفة، مثل (إنّاكُلَّ شَيْءٍ خَلَقْنَاهُ بِقَدَرٍ) و يستوى الأمران فى مثل: زيدٌ قامَ وعمرًوا اكرمته.

ترجمه: او نصب په وجه د عطف پر جمله فعليه غوره دى، د تناسب د پيداکېدو لپاره او تر حرف نفي او استفهام او (اذا) شرطيه او (حيث) وروسته او په امر اونهي کې، ځکه چې دا د فعل مقامات دى او کله چې د مفسّر له صفت سره د

التباس وېره وي، لكه (اِنَّاكُلَّ شَيْءٍ خَلَقْنَاهُ بِقَدَرٍ) اود : زيدٌ قامَ وعمروًا اكرمته په خبر تركيب كي دواړه جائز دي.

تشريح: د نن په سبقه كي د ماضمرعامله د اعراب په اعتبارسره د دوهم او دريم حكم بيان كېږي:

دوهم حكم: نصب اولىٰ او رفع جائز:

ويختارالنصب بالعطف علىٰ جملة فعلية: د كافيه ملاصاحب رحمه الله چي كله د ماضمرعامله د اعراب په اعتبارسره لومړی حكم (يعنی د رفع د غوروالی) صورتونه ذكر كړل، نو اوس دهغه دوهم حكم (يعني د نصب د غوروالي اته صورتونه) ذكر كوي:

لومړی صورت: ويختارالنصب بالعطف علىٰ جملة فعلية:

لومړی صورت داچي په كومه جمله كي ما اضمرعامله اسم واقع وي او هغه پر جمله فعليه عطف سوی وي، نو په داسي صورت كي هغه په نصب سره ويل غوره او اولىٰ دي، د دې لپاره چی د معطوف او معطوف عليه ترمينځ مناسبت پيداسي، يعني د جمله فعليه عطف پر جمله فعليه راسي، لكه (ضربتُ زيدًا وعمروًا اكرمته).

غور وكړه! دلته د رفع لپاره هم قرينه مصححه سته، هغه داسی، چي (عمرو) مبتداءسي، (اكرمته) يې خبرسي.

او قرينه مرجحه هم سته، چی په دې صورت كي سلامتی عن الحذف لازمېږي.

دا راز د نصب لپاره هم قرينه مصححه سته، چی د فعل محذوف لپاره دا مفعول جوړوي، او قرينه مرجحه هم سته، چي په د ې صورت كي د جمله فعليه عطف پر جمله فعليه راځی، لېكن دا قرينه مرجحه د رفع لپاره تر قرينه افضله او غوره ځكه ده، چي په دې صورت كي د دواړو جملو تر مينځ مناسبت پيداكېږي او دلته مقصود همدا دی، ځكه يې نو وويل (علىٰ جملةٍ فعليةٍ للتناسب).

په بل عبارت تاسو داسي هم ويلای سئ، چي د عربو په نزد د حذف عمل ډېر خو دی، لېكن د دې په مقابله كي د معطوف او معطوف عليه په فعليت او اسميت كي د مخالفت عمل ډېر لږ پيداكېږي، تر دې پوري چي امام رازی رحمه الله خو د

تخالف عمل قبیح بللی دی او دا بنکاره خبره ده، چې سلامت عن القبح تر سلامت عن الحذف غوره و اولیٰ دی، ځکه نو په دې صورت کې نصب اولیٰ او غوره سو.

دوهم، دریيم او څلورم صورت:

و بعد حرف النفي والاستفهام واذا الشرطية: دوهم، دریيم او څلورم صورتونه بیانوی، چې ما اضمرعامله تر حرف نفي، یا حرف استفهام، یا (اذا) شرطیه وروسته واقع سي، نو هم رفع اونصب دواړه جائز دي، لیکن په دواړو کې نصب اولیٰ او غوره دی، ځکه چې په دې دریو سره کې پر هریوه فعل داخلیږي، لیکن دلته چې موږ وکتل، نو دا دری سره پر اسم داخل وه، نو په لازمي توګه دا خبره معلومه سوه، چې دلته یو فعل محذوف دی، او د هغه له وجې دغه مذکوره اسم د مفعولیت پر بنسټ منصوب دی، لکه: (ما زیدًا ضربته) دا په اصل کې (ماضربتُ زیدًا) و، (ضربتُ) فعل حذف کړل سو، د دې تفسیر په وروسته کې ذکر کیږي، دا راز (ازیدًا ضربته) په اصل کې (اضربتَ زیدًا ضربته) و، او (اذا زیدًا ضربته اضربک) د دې اصل عبارت (اذا ضربتَ زیدًا اضربک) و.

پنځم صورت:

ما اضمرعامله که چیرې تر (حیث) وروسته واقع وي، نو هم نصب مختاره دی، ځکه چې (حیث) د شرط معنا ته متضمن ده او حرف شرط پر فعل داخلیږي، لکه (حیث زیدًا تجده اکرمه) دا په اصل کی (حیث تجد زیدًا اکرمه) و.

شپږم او اووم صورت:

و فی الامر والنهی: شپږم او اووم صورت دادی، چې تر ما اضمرعامله وروسته د امر، یانهي کومه صیغه واقع وي، نو هم د نصب ویل اولیٰ او غوره دي، ځکه که چیرې د منصوب پر ځای مرفوع وویل سي، نو په لازمي توګه به د مبتداء کیدو په وجه مرفوع ویل کیږي او دا صحیح نه دی، ځکه مبتداء د ځان لپاره خبر

غواړي، حال داچي له موږ سره د امر او نهی له صيغو پرته بله کومه کلمه نشته، چي خبريې ورته جوړ کړو او دا دواړې جمله د انشائيه کېدو په وجه خبر نسي جوړېدای، نو دا خبره ثابته سوه، چي دی مبتداء نسي جوړېدای، بلکی دا به د ماضمرعامله پر بنا منصوب ويل کېږي، لکه (زيدًا اضربه و عمروًا لاتضربه) دا په اصل کی (اضرب زيدًا ولاتضرب عمروًا) و.

له دوهم صورت څخه تر اووم صورت پوري د ټولو په هکله مصنف رحمه الله وايي: چي په دغو شپږو صورتونو کي نصب ځکه مختاره او غوره دی، چي (اذ هی مواقع الفعل) يعني په دې ټولو صورتونو کي تر ماضمرعامله مخکي فعل راغلی دی او دهمدغه فعل (عامل ناصب) په وجه ما اضمرعامله والا اسم منصوب کېږي.

پر شپږم او اووم صورت سوال کېږي، چی د دغو د منصوب ويلو چي تاسو کومه وجه ښودلې، له هغې څخه خو معلومېږي، چی منصوب ويل يې صرف اولیٰ او مختاره نه، بلکی واجب دی، ځکه چي مبتداء کېدای نسي، ځکه چي مبتداء خبر غواړي، حال دا چي امر او نهی دده لپاره خبر نسي کېدای، نو کله چي د ده دمرفوع ويلو يو صورت و او هغه هم محال دی، نو په لازمي توګه د ده منصوب ويل واجب کېږي؟

د دې جواب دادی، چي بېشکه! ستاسو خبره سمه ده، خو خبره داده، چي د امر او نهي ېيله واسطې خبر جوړېدل صحيح نه دی، لېکن چي پکي تاويل وسي، نو بيا يې په خبر جوړولو کوم حرج نشته، مثلا که چېري (زيدٌ اضربه) د (زيدٌ مقول فی حقه اضرب) په تاويل واوړي او (عمروًا لا تضربه) د (عمروٌ مقولٌ فی حقه لا تضرب) په تاويل سي، نو دد وی خبر او د ماضمرعامله مبتداء جوړول مرفوع ويل جائز دي.

د مرفوع ويلو لپاره قرينه مصححه (يعنی تاويل کول) که څه هم موجود دي، لېکن د منصوب ويلو په صورت کي د تاويل ضرورت هم نشته، ځکه نو موږ وويل، چی د ده منصوب ويل اولیٰ او غوره دي.

اتم صورت:

و عند خوف لبس المفسّر بالصفة:

اتم مقام چېري چي نصب مختاره دی، هغه داچی د مرفوع ويلو په صورت کي يو ځای د مفسّر له صفت سره التباس لازمېږي، نو له التباس څخه د ځان ساتني لپاره منصوب ويل اولیٰ او مختاره دي، لکه (اِنَّا کُلَّ شَیْءٍ خَلَقْنَاهُ بِقَدَرٍ) وګوره! د (اِنَّا کُلَّ شَیْءٍ) په ترکیب کي دري احتمالات دي:

①: (ان) مخففه من المثقله حرف دی له حروف مشبه بالفعل څخه، (نا) ضمير منصوب متصل يې اسم دی، (کل) مضاف، (شئ) مضاف اليه، مضاف سره له مضاف اليه مفعول به کېږي د (خلقنا) محذوف فعل لپاره، (خلقنا) فعل سره له خپل فاعل او مفعول به د (انّ) خبر، (انّ) سره له خپل اسم او خبر جمله فعليه خبريه سوه.

تر دي وروسته په مذکوره (خلقنا) کي (خلق) فعل، (نا) ضميرمرفوع متصل يې فاعل، (ها) ضمير يې مفعول به کوم چی راجع دی د (کل شئ) وطرفته، په (بقدر) کي (باء) حرف جار او (قدرٍ) يې مجرور، جار سره له مجروره متعلق دی تر (خلقنا) فعل پوري، (خلقنا) فعل سره له خپل فاعل او مفعول به جمله مفسّره سوه.

②: (کُلُّ شَیْءٍ) چي مرفوع وويل سي، نو دوه ترکيبونه يې جوړېږي:

يو دا چي (کُلُّ شَیْءٍ) مبتداء سي او (خلقناه بقدر) ټوله جمله يې خبر سي، بيا مبتداء سره له خبره جمله اسميه خبريه سي د (انّ) لپاره، خبر (انّ) سره له خپل اسم او خبر جمله فعليه خبريه کېږي.

③: د مرفوع ويلو په صورت کي يې دوهم ترکيب داسي کېږي: (کل) مضاف، (شئ) موصوف او (خلقناه) جمله فعليه يې صفت، موصوف سره له خپل صفت مضاف اليه، مضاف سره له خپل مضاف اليه مبتداء او (بقدر) جار سره له خپل مجرور سره له متعلق د مبتداء لپاره خبر، مبتداء سره له خپل خبره جمله اسميه خبريه د (انّ) لپاره خبر، (انّ) سره له خپل خبر جمله فعليه خبريه کېږي.

اوس د ایت شریف ترجمه ته وګورئ، د آیت صفا او ښکاره ګرزه د قسم معنا داسي کیږي، چي یقینًا ما هر شی پر خپله اندازه پیدا کړی دی.
که غور وکړل سي، نو په دې کي دوې خبرې بیان سوي دي: یوه دا چي د هر شی پیداکوونکی الله ﷻ دی او دوهمه دا چي ټول شیان الله ﷻ په خپله اندازه سره پیداکړي دي.
اوس که چېري (کل شئ) منصوب وویل سي، لکه چي په لومړي ترکیب کي و، نو معنی یې هم صحیح کېږي او پکي بیان سوې دوې خبرې هم حاصلېږي او که چېري مرفوع وویل سي او وروستنی جمله یې ټوله خبر جوړه سي، لکه (په دوهم ترکیب کي چي تېر سول)، نو هم یې معنا صحیح کېږي (په دې صورت کي یې معنا داسي کېږي: یقینًا چي کوم شی هم دی، موږ هغه پر خپله اندازه جوړ کړی دی) او په دې کي پورته بیان سوې دوې خبرې هم حاصلېږي.
لېکن د مرفوع ویلو په صورت کي که چېري (خلقناه) صفت او تر ده وروسته صرف (بقدر) خبر جوړ کړل سي، نو بیا نه خو معنا صحیح کېږي او نه پکي پورته بیان سوې دوې خبرې حاصلېږي، په دې صورت کي معنا داسي جوړېږي، چي یقینًا هر شی کوم چي موږ جوړ کړی دی، هغه په خپله اندازه سره جوړ سوی دی.
په دې معنا کي که څه هم دا خو معلومه سوه، چي د الله ﷻ هر جوړ سوی شی په اندازه سره دی، لېکن دا نه معلومېږي، چي هر شی الله ﷻ جوړ کړی دی، نو دا خو داسي سو، لکه معتزله ته چي موږ ووایو، چي ستاسو کومه غلطه عقیده ده، چي هر شی الله ﷻ نه دی جوړ کړی، بلکي د بعضي شیانو خالق پخپله انسان هم دی، پر هغه دلیل زموږ له لوري واخلئ او هغه دلیل زموږ او زموږ د مسلمانو ورونو پر خلاف بنه استعمال سوی وي (نعوذبالله من ذالک).
خلاصه دا سوه، چي د نصب ویلو په صورت کي هېڅ سوال او اشکال نه پیداکېږي، بلکي خبره بلکل صفا معلومېږي، خو که چېري مرفوع وویل سي، نو یو ترکیب که څه هم پکي صحیح دی، لېکن دوهم ترکیب چي معنا یې بلکل غلطېږي، له هغه سره د دې التباس لازمېږي او همدا مطلب دی د مصنف رحمه الله د

قول (و عند خوف لبس المفسّر بالصفة)، يعني كله چي د مفسّرله صفت سره د التباس ويره وي، لكه چي په دوهم تركيب كي چي (خلقناه) جمله تفسيريه ده د مخكني (خلقنا) فعل لپاره او په دريم تركيب كي همدا (خلقناه) صفت جوړيږي د (شئ) محذوف لپاره، نو بيخي ممكن ده، چي پر قاري ياسامع دا تركيبونه ملتبس سي، ځكه يې نو وويل چي د ده منصوب ويل مختاره او غوره دي، د دې لپاره چي د التباس كومه خطره پاتې نسي.

دريم حكم: چي رفع او نصب دواړه برابر وي:

و يستوى الامران: د (زيدٌ قام ا و عمروا اكرمته) په څېر تركيبونو كي رفع او نصب دواړه په غوره او مختاره كېدو كي سره برابر دي، يعني متكلم واک لري، كوم يو چي غواړي غوره دي كړي.

او له فى مثل زيدقام...الخ څخه مراد هر هغه تركيب دی، چېري چي د ما اضمرعامله عطف پر داسي جمله سوى وي، په كومه كي چي د مبتداء خبر جمله فعليه وي.

د جمله معترضه په توګه داخبره زد كړه، چي جمله پر دوه قسمه ده: جمله كبرىٰ او جمله صغرىٰ.

جمله كبرىٰ دا معنا چي يو ځاى د پوره جملې عطف پرپوره جمله سوى وي، جمله صغرىٰ دا معنا، چي د كومي جملې عطف د بلې جملې پر يوه جزء سوى وي، نو په مذكوره عبارت كي (عمرو) مرفوع او منصوب دواړه ويل جائز دي، د مرفوع ويلو په صورت كي د وروستنۍ ټولې جملې عطف پر مخكنۍ ټوله جمله يعنى جمله كبرىٰ كېږي، لكه (زيدٌ قام وعمروٌ اكرمته) دلته (زيدٌ) مبتداء او (قام) يې خبر او (عمرٌو) مبتداء او (كرمته) يې خبر دى.

او د منصوب ويلو په صورت كي د وروستنۍ جملې عطف پر مخكنۍ جمله صغرىٰ كېږي، چي محذوف عبارت يې د اسي دى: (زيدٌ قام وا كرمتُ عمروًا اكرمته) دلته (زيدٌ) مبتداء، (قام) معطوف عليه او (اكرمت عمروًا اكرمته)

معطوف، معطوف علیه سره له خپل معطوف د مبتداء لپاره خبر، مبتداء سره له خپل خبره جمله اسمیه خبریه کیږي.

والله اعلم بالصواب

پنځه شپېتم (۶۵) درس

د ما اضمر عامله شپږم صورت او څو مستثنیات

و یجب النصب بعد حرف الشرط وحرف التحضیض، مثل: ان زیدًا ضربته ضربک، والا زیدًا ضربته ولیس (ازیدٌ ذهب به) منه فالرفع وکذالک (و کل شئ فعلوه فی الزبر) و نحو (الزانیة والزانی فاجلدوا کل واحد منهما مائة جلدة)، الفاء بمعنی الشرط عندالمبرد، وجملتان عند سیبویه والا فالمختار النصب.

ترجمه: او پر داسي اسم نصب واجب دی، کله چي تر حرف شرط، یا حرف تحضیض وروسته راغلی وي، لکه (انِ زیدًا ضربته ضریک او ألا زیدًا ضربته) او نه دی د (ازیدٌ ذُهب به) په څېر ترکیب له دې باب څخه، نو پر ده رفع واجب ده او داراز (وکل شئ فعلوه فی الزبر) هم د ما اضمرعامله له باب څخه نه دی او د (الزانیة والزاني فاجلدوا کل واحد منهما مائة جلدة) په څېر ترکیب کي (فاء) د شرط په معنا ده د امام مبرد په نزد او همدا آیت که دوې مستقلې جملې سي د امام سیبویه په نزد، که نه نو نصب مختاره او غوره دی.

تشریح: د نن په سبقه کي صرف دوې خبرې د ی، لومړی مختصره ده، لیکن دوهمه څه تفصیلي ده:

①: د ما اضمر عامله د اعراب شپږم قسم، ②: له اما اضمر عامله څخه د څو صورتونو استثناء.

لومړی خبره: د ما اضمرعامله د اعراب شپږم قسم:

و یجب النصب بعد حرف الشرط وحرف التحضیض: په دې عبارت کي د ما اضمرعامله د اعراب شپږم قسم بیانیږي، هغه داسي، چي دوه ځایونه داسي دي، چي ما اضمرعامله منصوب ویل واجب دي:

①: لومړی دا چې ما اضمر عامله تر حرف شرط وروسته راغلی وي، لکه (اِنْ زیدًا ضربته ضربکَ) یعنی که چیری ته زید ووهې، نو هغه به تا ووهي.

②: دوهم دا چې ما اضمر عامله تر حرف تحضیض وروسته راغلی وي، لکه (الا زیدًا ضربته) یعني ته زید ولې نه وهې؟

فائده: د حرف تحضیض په هکله موږ دا قاعده ښودلې، چې که چیرې د ماضي پر صیغه داخل سي، نو پر ندامت (پښېماني) دلالت کوي، لکه په مذکوره مثال کې او که چیرې د مضارع پر صیغه داخل سي، نو د یو کار پر تمنیٰ (ارزو) لرلو دلالت کوي، لکه د الله جل جلاله مبارکه وینا (وَمَالَکُم الا تقاتلوا فی سبیل الله) یعني څه وسوای مؤمنانو! چې تاسو د الله جل جلاله په لاره کې جهاد نه کوئ.

په دې دواړو ځایونو کې د ما اضمر عامله منصوب ویل ځکه واجب دی، چې قاعده کلیه ده، چې حرف شرط، کوم چې محض د شرط لپاره وي، تر هغه اوتر حرف تحضیض وروسته فعل راځي، اسم کله هم نه راځي، نو چیرې چې تر دغو دوو وروسته اسم راغلی وي، نو هرومرو دا فهمېږي، چې تر دغه اسم مخکې هرومرو کوم فعل حذف سوی دی، لکه مصنف رحمه الله چې د دې لپاره مثال راوړی دی (ان زیدًا ضربته ضربکَ) دلته چې محذوف عبارت هم را واخستل سي، نو پوره عبارت داسې کېږي: (ان ضربت زیدًا ضربته ضربکَ) او دوهم مثال یې دا راوړی (الا زیدًا ضربته) داهم په اصل کې (الا ضربت زیدًا ضربته) و. نو په دې د واړو ځایونو کې داخبره بلکل طی (پل) سوې ده، چې دا د ما اضمرعامله له قبیلې څخه کېږي، مبتداء او خبر نسي کېدای، نو د وی منصوب ویل واجب سو.

دوهمه خبره: له ما اضمرعامله څخه د څو صورتونو استثناء:

لومړی صورت:

ولیس ازیدٌ ذُهبَ به منه: مصنف رحمه الله د دې عبارت په ذریعه د یوه صورت استثناء او د یوه سوال جواب ورکوي، سوال دادی، چې په مخکنې درس کې خو دا خبره تېره سوې وه، چې تر حرف نفي او استفهام وروسته که چیرې ما

اضمرعامله راسي، نو د ده مرفوع ویل جائز خو دي، لیکن د مرفوع ویلو پر ځای د ده منصوب ویل اولیٰ او غوره دي، لېکن دلته چې کله تر استفهام وروسته راغی، نو تاسو وویل، چې (فالرفع لازمٌ) یعني په دې صورت کې مرفوع ویل لازمي دي او منصوب ویل بلکل ویل کېدای نسي؟
د دې جواب دادی، چې دا د ما اضمرعامله له قبیلې څخه نه دی، ځکه چې د ما اضمرعامله په تعریف کې موږ ویلې وه، چې (لوسلط علیه هو او مناسبه لنصبه) حال داچې دلته داسي نسي کېدای، ځکه چې مخکنۍ خبره خو په دې کې داده، چې (ذُهب) فعل مجهول موږ پر (زیدٌ) نسو داخلولای، ځکه چې هغه فعل لازمي دی او قاعده ده، چې د فعل لازمي مجهول نه راځي او د فعل مجهول د نه راتلو په وجه د ده نائب فاعل هم نسي راتلای.
دوهمه خبره داده، چې که چېري موږ (ذُهب) پر زیدٌ) داخل کړو، د زید عامل یې هم جوړ کړو، نو بیا هم هغه (زید) ته نصب نه ورکوي، بلکي د نائب فاعل کېدو په وجه ده ته رفع ورکوي.
دلته یو سوال کېدای سي، چې سمه ده، موږ به دا ومنو، چې د فعل لازمي مجهول او نائب فاعل نه راځي، نو د دې خو یو حل دا هم دی، چې د ده پر معمول (باء) حرف جر داخله کړل سي، نو دهغه په ذرېعه به فعل لازمي فعل متعدي سي، (کماقرأناه فی شرح مائة عامل)؟
د دې جواب دادی، چې هوکې! د (باء) په ذرېعه فعل لازمي متعدي کېږي، لېکن هغه بیا هم خپل مفعول به ته نصب نسي ورکولای، ځکه چې د ده پر مفعول له مخکي څخه لا (باء) داخله ده، که چېري دغه (با) حذف کړل سي، نو فعل متعدي دوهم ځل لازمي کېږي او که چېري پر خپل ځای پاته سي، نو (باء) ده ته جرورکوي.
خلاصه داچي په درې سره صورتونو کې په کوم صورت کي هم پر ده نصب نسي راتلای، ځکه یې نو مرفوع ویل واجب وبلل سو.

دوهمه صورت:

دوهم صورت دا چي په (وكل شئ فعلوه فى الزبر) كي خو (كل) په ظاهره ما اضمرعامله دى، ځكه چي ترده وروسته يو فعل دى، كوم چي مخكني اسم ته په راجع ضمير كى عمل كوي، له دې څخه دا وهم پيداكېدى، چي كه چېري دغه فعل پر (كل شئ) داخل سي، نو دا هغه ته هم نصب وركوي، لېكن مصنف رحمه الله وويل: چي دا دما اضمرعامله له قبېلې څخه نه دى، ځكه يې نو مرفوع ويل واجب دي.

له مصنف رحمه الله سره پر خپله مدعى' (چي دا د ما اضمر عامله له قبېلې څخه نه دى) دلېل د ادى، چي كه چېري مورږ دا دما اضمرعامله له قبېلې څخه ومنو، نو عبارت داسي كېږي: (وفعلوا كل شئ فعلوه فى الزبر) په دې صورت كي (كل شئ) مضاف مضاف اليه د (فعلوا) لپاره مفعول به جوړېږي او (فى الزبر) جار سره له مجروره د همدغه (فعلوا) متعلق كېږي، نو د معنى خرابي لازمېږي، ځكه چي په دې صورت كي معنا داسي كېږي: (بندګانو هر شى په عملنامه كي كړى دى)، حال دا چي دارالعمل او محل د عمل دنيا ده نه چي عملنامه.

او كه چېري (فى الزبر) د (شئ) لپاره صفت سي، نو د معنا خرابي خو نه لازمېږي، لېكن كومه چي مقصودي معنا وه، هغه نه حاصلېږي، بلكي د هغې پر خلاف لازمېږي، ځكه چي په دې صورت كي معنا داسي كېږي، چي (كوم شى هم په صحيفو كي دى، هغه بندګانو كړى دى)، نو دا معنا كه څه هم صحيح ده، مثلاً په صحيفو كي واقعي صرف هماغه شيان دي، كوم چي بندګانو كړي دي، لېكن مقصد دلته دادى، چي (وكل شئ مفعولٌ لهم ثابتٌ فى الزبر)، يعنى كوم كار چي بنده كوي، هغه په عملنامه كى لېكل كېږي، او دا مقصد د ما اضمرعامله په صورت كي نسي حاصلېداى، نو دا مبتداء جوړېږي، او مبتداء خو مرفوع وي، نو دا (كلُّ شئٍ) هم مرفوع ويل لازم او واجب سو.

دريم صورت:

په و نحو (الزانية والزانى الآية) سره مصنف رحمه الله د استثناء دريم صورت بيانوى، چي په ظاهره خو د ما اضمر عامله له قبېلې څخه دى. لېكن په حقيقت كي داسي نه ده. بلكي مبتداء او خبر واقع وي، نو ويې ويل: (الزانية والزانى

الآیة) د ما اضمر عامله له قبیلې څخه نه دی، ځکه چې د ما اضمر عامله تعریف نه وریاندې صادقیږي، ځکه مورږ د ما اضمر عامله په تعریف کې ویلې وه، چې (و هو کل اسم بعده فعل او شبهه مشتغل عنه بضمیره او متعلقه)، حال داچې دلته (فاجلدوا) فعل امر نه خو د (الزانیة والزانی) په ضمیر کی عمل کړی دی او نه یې دده په متعلق کې، نو دا دما اضمر عامله له قبیلې څخه نه سو.

اوس پاتې سوه داخبره، چې دی مرفوع ولې پاتې سوی دی، نو په دې کې د امام مبرد او امام سیبویه رحمهما الله اختلاف دی:

امام مبرد رحمه الله وایې، چې دا مرفوع ځکه پاته سوی، چې (فاجلدوا) فعل امر په کې عمل نسي کولای، ځکه چې (الزانیة والزانی) دواړه د اسم فاعل صیغې دي او د دوی په پیل کې (الف لام) په معنا د (الذی) دی او (زانیة او زانی) د ده لپاره صله دي، نو معنا یې داسي کیږي: (هغه مېرمن، کومه چې بدکاري وکړي او هغه نارینه، کوم چې بدکار وکړي، نو د ذ دوی سزا داده، چې هریو له دوی څخه سل دُرې ووهل سي، نو په (فاجلدوا) کې (فاء) جزائیه ده او قاعده ده، چې (فاء) جزائیه خپل مدخول له ماقبل سره له یو ځای کېدو را ګرزوي، نو کله چې په (الزانیة والزاني) کې (فاجلدوا) عمل نسو کولای او له ده پرته کوم بل عامل ناصب هم نه و، چې دوی ته یې نصب ورکړی وای، نو د ده مرفوع ویل لازم او واجب سو.

او امام سیبویه هم دا مرفوع وایې، خو د مرفوع ویلو وجه یې هماغه نه ده بنودلې، کومه چې امام مبرد رحمه الله بنودلې وه، بلکي هغه وایې، چې (الزانیة والزانی) یوه بېله جمله ده او (فاجلدوا کل واحد منهما مائة جلدة) یوه بېله جمله ده او قاعده ده، چې څرنګه د یوه امام مقتدی د بل جماعت امام صاحب ته لقمه (ګوله) نسي ورکولای، همدا راز د یوې جملې جزأ هم په بله جمله، یا د هغه په کوم جزء کې عمل نسي کولای.

نو (الزانیة والزانی) بېله جمله ده، چې د عبارت تقدیر یې داسي کیږي: (حکم الزانیة والزانی فیما یُتلی علیکم) په دې کې (حکم الزانیة) مضاف سره له

مضاف اليه معطوف عليه، واو حرف عطف او (الزاني) معطوف، معطوف عليه سره له خپل معطوف جمله اسميه خبريه سوه.

او (فاجلدوا) صيغه دامريوه بېله جمله ده، چي د عبارت تقدير داسي كېږي: (ان ثبت زناهما فاجلدوا كل واحدمنهما مائة جلدة)، نو دا خبره ثابته سوه، چي داد ما اضمر عامله له قبيلې څخه نه دى، بلكي دواړه بېلې، بېلې جملې دي، نو دهغه هم مرفوع ويل متعين كېږي.

امام مبرد رحمه الله چي كومه وجه بيان كړې وه، هغه لږ غوندى كمزورې ده، ځكه چي د (فاء) مدخول كله كله په خپل ماقبل كي هم عمل كوي، لكه چي د الله جل جلاله وينا ده (وربّک فكبّر و ثيابک فطهر والرجزَ فاهجر) وګوره! دلته دري سره ځايونه هر فعل پر كوم چي (فاء) داخله ده، له هغه سره، سره هم په خپل مخكني اسم كي عمل كړى دى.

دلته سوال كېږي، چي كله د (فاء) مدخول په خپل ماقبل كي عمل كولاى سي، نو بيا يې دلته يعني (فاجلدوا) ولې نسي كولاى؟

د دې جواب دادى، چي بېشكه! دلته يې هم كولاى سي، خو په قراء سبعه رحمهم الله كي يو هم دا منصوب نه دى ويلى، بلكي پر مرفوع ويلو يې ټول يوه خوله او متفق دي، ځكه نو دا منصوب نسي ويل كېداى، كه نه في نفسه د ده په منصوب ويلو كي هم كومه خرابي نه لازمېږي.

و الا فالمختار النصب: چي كه چېري له امام مبرد رحمه الله او امام سيبويه رحمه الله څخه د يوه رأيه هم قبوله نسي او د قراء سبعه وو اتفاق هم ونه منل سي، نو بيا د ده په نزد ما اضمر عامله منصوب ويل مختاره كېږي، لېكن دا خو كېداى نسي، چي قراء سبعه ټوټل او ائمه نحو هم ټوټل دي پر كومه غلطه خبره متفق سي، ځكه چي په حديث شريف كي راغلي دي: (لاتجتمع امّتى على الضّلالة) او دوهم حديث دادى (لم يكن الله ليجمع امتى على الضلالة) نو د دغو حضراتو اتفاق د بل شي پر ځاى د ده پر مرفوع ويلو اولى!

شپږ شپېتم (۶۶) درس

دفعل په وجوبي توګه د حذف كېدو څلورم مقام يعني د تحذير بيان

الرّابع التحذير: و هو معمولٌ بتقديراتّق تحذيرًا مما بعده او ذكر المحذّر منه مكرّرًا، مثل: أيّاك والأسد واياك وان تحذفَ، والطريق الطريق، و تقول: ايّاك من الأسد ومن ان تحذف واياك وان تحذف بتقدير منْ ولا تقول: ا يّاك الأسد الامتناع تقدير من.

ترجمه: څلورم ځای تحذير دی او هغه د (اتق) فعل داسي معمول وی، تر کوم وروسته چي د وېرولو لپاره ذکر کېږي، يا محذر منه مکرر ذکر کېږي، لکه (ايّاک والأسد، واياک و ان تحذف او الطريق الطريق) او تاسو داسي هم ويلای سئ (اياک من الأسد ومن ان تحذف واياک ان تحذف) د (منْ) په مقدر منلو سره او ته داسي نسي ويلای (اياک الأسد)، ځکه چي دلته د (من) مقدر منل ممتنع دي.

تشريح: د نن په سبقه کي څلور خبري دي:

①: د تحذير لغوی او اصطلاحي معنا، ②: د تحذير په ځای کي د فعل د حذف کېدو سبب او د حذف وجوبی قرينه، ③: د استعمال په اعتبار د محذرمنه (له چا څخه وېره کېږي) عقلي صورتونه، ④: د مثالونو وضاحت.

د تحذير لغوي او اصطلاحي معنا

لومړی خبره: د تحذير لغوي او اصطلاحي معنا:

مصنف رحمه الله د مفعول به د فعل (عامل) د وجوبی حذف درې ځايونه بيان کړل، اوس څلورم او اخيري ځای بيانوي او هغه تحذير دی، دا د تفعيل له باب څخه مصدر دی، لغوی معنا يې د ه (وېرول)، دا خبره په ياد لرئ، چي ددغې معنا (يعني وېرولو) په ضمن کي څلور شيان راځي:

①: وېرونکی، دېته محذِّر وايي، ②: وېرول سوی، دېته محذّر وايي، ③: هغه شی، چي وېره ځيني کېږی، دېته محذّر منه وايي، ④: پخپله وېرول، دېته تحذير وايي، لکه چي د تېرلو مثال (حذّر سعيدٌ بكرًا من الأسد) دی، دلته سعيد وېرونکی، بکر وېرول سوی، اسد له چا څخه چي وېره کېږی، او دسعيد دبکر وېرول تحذير دی.

او اصطلاحي معنا ئې په مصنف رَحِمَهُ اللهُ دوې بيان كړي دي:
①: هو معمولٌ بتقدير اتّق تحذيرًا مما بعده، يعنى تحذير هغه اسم منصوب دی، كوم چي د (اتّق، يا بعّد) فعل مقدر داسي معمول وي، كوم چي له خپل مابعد څخه وېرول كېږي، هغه اسم كه حقيقي وي، كه اسم تأويلي وي.
د تعريف په دې صورت كي مفعول محذّر او دده مابعد محذّر منه كېږي، لكه د اسم حقيقي مثال (اياك والأسد) او د اسم تاويلى مثال (واياك وان تحذف).
②: او ذكر المحذّر منه مكرّرًا، مثل: الطريقَ الطريقَ، يعني تحذير هغه اسم منصوب دی، كوم چي د (اتّق يا بعّد) فعل مقدر داسي معمول وي، كوم چي مكرر راغلی وي، لكه: الطريق، الطريقَ.
د تعريف په دې صورت كي محذّر منه پخپله همدا معمول كېږي، كوم چي مكرر راغلی دی او محذّر مخاطب كېږي.
دوهمه خبره: د تحذير په مقام كي د فعل د حذف كېدو سبب او د وجوبي حذف قرينه:
د تحذير په مقام كي فعل يعني عامل ناصب دوخت دتنګۍ او فرصت نه لرلو وجې حذف كېږي، ځكه چي د تحذير استعمال په داسي صورت كي كېږي، چېرې چي يو زيان رسوونكى شى راتږدې وي او متكلم وېرېږي، چي كه چېري زه په خپل كلام كي فعل ناصب هم ذكر كوم، نو محذّر يعني مخاطب له دغه زيان رسوونكي شى څخه نسي ژغورل كېدای، ځكه نو فعل ناصب حذف كړي، يوازې د محذّر منه په ذكر كولو بسنه وكړي.
او كه چېري دغه زيان رسوونكى شى بيخي نژدې وي، نو څرنګه چي په دغه صورت كي په نسبت د لومړي صورت وخت ډېر تنګ وي، نو په داسي صورت كي محذّر هم حذف كېږي، يوازي محذّر منه مكرر ذكر كېږي، د دې لپاره چي په تحذير (وېرولو) كي ښه مبالغه راسي او مخاطب خپل ځان له دغې خطرې وژغوري.
داخو د فعل ناصب د حذف كولو سبب سو، پاتې سوه داخبره، چي په داسي ځای كي د فعل حذفول واجب ولې دي؟ نو د دې وجه داده، چي يو خو په داسي ځای

کي قرینه موجوده وي، او دوهمه وجه داچي په داسي ځای کي د فعل ناصب قائم مقام هم موجود وي، قرینه خو د تحذیر مقام دی، کوم چي پر فعل محذوف دلالت کوي او د فعل محذوف قائم مقام مفعول به یعنی محذّر یا محذّر منه دی.

درېیمه خبره: د استعمال په اعتبار د محذرمنه عقلي صورتونه:

وتقول: ایاک من الأسد، په دې عبارت کي مصنف رحمه الله د محذرمنه بیانوي، له کومو ځخه چي درې جائز او اخیري یې ناجائز بلل سوی دی.

مصنف رحمه الله خو ټول شپږ مثالونه راوړی دی، لیکن که چېري په عقلي اعتبار وکتل سي، نو اته صورتونه جوړېږي، ځکه چي محذرمنه به یا اسم حقیقي وي، یا به اسم تاویلي وي، بیا د دغو دواړو استعمال به یا په (من) سره وي، یا به په (واو) سره وي، دا ځلور کېږي، بیا به (من) او (واو) مذکور وي، یا به محذوف وي، دا راز دا ټول اته صورتونه کېږي.

په دغو کي پنځه جائز او درې ناجائز دي، یعني د (واو) حذفول په اسم حقیقی او تاویلي دواړو کي ناجائز دی، مثلا (ایاک الأسد) او (ایاک ان تحذفَ) دواړه ناجائز دي او د (من) حذفول له اسم حقیقي ځخه ناجائز دي، لکه (ایاک الأسد)، په بل عبارت دا داسي هم ویل کېږي، چي له اسم حقیقي ځخه هغه که (من) سره وی، یا په (واو) سره وي، د دواړو حذفول ناجائز دي، دا راز د (واو) حذفول هغه که له اسم حقیقي ځخه وي، که له تاویلي ځخه وي، دا هم نا جائز دي، له دې پرته باقي پاته پنځه صورتونه دي، کوم چي جائز دي.

ځلورمه خبره: د مثالونو وضاحت:

لومړی مثال: د تحذیر تر بیانولو وروسته مصنف رحمه الله مثالونه وړاندي کوي، تر ټولو مخکي مثال یې (ایاک والأسد) راوړی دی، دا په اصل کي (اتقک والأسدَ) و، لېکن قاعده داده، چي د فاعل ضمیر او دمفعول ضمیر چي کله یو ځای سي او مراد یې هم یو ذات وي، نو داسي کول په افعال قلوب کي جائز دي، لکه (علمتُنی فاضلًا)، خو له افعال قلوب پرته بل ځای ناجائز دي، نو چېري چي دا دواړه جمع سي، نو حل یې دا دی، چي د دغو دواړو ضمیرونو تر مینځ د (نفسّ)

کلمه راوړل سي، د ضمير مفعول وظرفته مضاف کړل سي، ددې په ذريعه دواړو ضميرونو ترمينځ فصل او بېلون وکړل سي او د جوازيو صورت جوړ کړل سي.
د (نفسْ) لفظ تر راوړلو وروسته عبارت داسي کېږي (اتق نفسک من الأسد والأسد من نفسک) د تحذير په مقام کي د واقع کېدو په وجه (اتق) فعل ناصب په وجوبي توګه حذف کړل سو، نو (نفسک من الأسد والأسد من نفسک) پاته سو، بيا چي (نفسْ) لفظ له کومي وجې راوړل سوی و، هغه وجه پاته نسوه، ځکه چي د فعل په حذف سره ضمير فاعل هم پاتې نسو، نو (نفس) هم حذف کړل سو، (ک من الأسد والاسد من نفسک) پاته سو، بيا چي کله فعل پاته نسو، نو دده متعلقات هم حذف کړل سو، نو (ک والأسد) پاته سو، تر دې وروسته کاف ضمير متصل په ضمير منفصل بدل کړل سو، نو (اياک والأسد) پاته سو.

دوهم مثال:

مصنف رحمه الله د تحذير د لومړي تعريف دوهم مثال دا راوړی دی (اياک وان تحذفَ) کوم چي په اصل کي (بعّد نفسک من ان تحذف و أن تحذف من نفسک) و، په دې کی هم په پورتنی ذکر سوې طريقه تعليل کولو سره (اياک وان تحذفَ) پاتېږي.

دريم مثال:

الطريق، الطريق: دا دتعريف د قسم ثاني مثال دی، په کوم کی چي محذر منه مکرر ذکر سوی دی، دا په اصل کي (اتّق الطريق الطريق) و، د تحذير په مقام کي د واقع کېدو په وجه فعل ناصب حذف کړل سو، (الطريق الطريق) پاته سو، له دې دواړو څخه لومړی (الطريق) محذر منه دی او دوهم يې تاکيد دی، دا راز (الصبی الصبی) او (الجدار الجدار) هم دی.

څلورم مثال:

(و تقول: اياک من الأسد ومن أن تحذف) دا څلورم مثال دی، په کوم سره چي مصنف رحمه الله دا ښيې، لکه څرنګه چي د تحذير د قسم اول په دواړو مثالونو کي په (واو) سره استعمالول جائز دي، دا راز دا په (من) سره استعمالول هم جائز دي.

پنځم مثال:

واياک ان تحذفَ بتقدير من: د دې مثال په ذريعه د لومړي قسم د نوع ثاني په هكله وايې، چې لكه څرنګه په متن كى موږ دا مثال راوړى دى، يعني بېله (من) څخه، نو هغه لكه څرنګه چې بېله (من) څخه جائز دى، دا راز په (من) سره هم جائز دى، بلكې د دې اصل صورت په (من) سره و، لېكن (من) جاره د تخفيف لپاره حذف كړل سو (اياک ان تحذف) پاته سو، ځكه چې چېرې (من) حرف جاره او (ان) حرف ناصب دواړه يو ځاى سي، نو له عربو څخه يې اكثره (من) حذف كوي.

شپږم مثال:

ولا تقول اياک الأسد: دلته د تحذير د قسم اول په لومړى مثال كې (من) مقدر كول صحيح نه دي، ځكه چې مخكې د درېيمې خبرې په ضمن كى دا خبره تېره سوه، چې له اسم حقيقى څخه هغه كه په (من) سره وي، يا په (واو) سره وي، د دواړو حذفول ناجائز دي.

د عدم جواز دوه صورتونه خو داسو، له دوى پرته يو صورت داهم دى، چې د (واو) حذفول هغه كه له دا سم تاويلي څخه وي، يا له اسم حقيقي څخه وي، دا هم ناجائز دي، نو د جواز پنځه او د عدم جواز درې صورتونه سول.

اووه شپېتم (۶۷) درس

درېيم منصوب يعنى د مفعول فيه بيان

المفعول فيه : هو ما فُعل فيه فعلٌ مذكورٌمن زمانٍ او مكانٍ وشرط نصبه تقدير (فى) و ظروف الزمان كلها تقبل ذٰلک، وظروف المكان ان كان مبهمًا قبل ذٰلک و الا فلا.

ترجمه: مفعول فيه هغه اسم دى، په كوم كي چي مذكور فعل كېږي، هغه اسم كه ظرف زمان وي، يا مكان او دده د منصوب كېدو شرط دادى، چې تر ده مخكې (فى) مقدره وي او ظروف زمان كه محدودوي، كه مبهم دواړه (فى) قبلوي او ظروف مكان كه چېرې مبهم و، نو (فى) قبلوي او كه چېرې محدود وي، نو نه يې قبولي.

تشريح: د نن په سبقه كي څلور خبرې دي:

①: د مفعول فیه تعریف او قسمونه، ②: د مفعول فیه د منصوب کېدو شرط.
③: د مصنف رحمه الله او جمهورو علماؤ رحمهم الله اختلاف، ④: د فی د تقدیر د جواز او عدم جواز ځایونه.

د مفعول فیه تعریف او قسمونه یې

لومړی خبره: د مفعول فیه تعریف او قسمونه یې:

وروره! موږ د منصوباتو بحث کوو، څرنګه چې دوه منصوبات موږ په بشپړه تفصیل سره وویل، اوس مصنف رحمه الله دریم منصوب، یعنی مفعول فیه بیانوي، نو په (هو ما فعل فیه فعل مذکورٌ) سره یې تعریف کوي، چې مفعول فیه هغه اسم منصوب دی، په کوم کي چې مخکنی فعل یعنی د همدغه مفعول فیه عامل واقع سوی وي، هغه که له اسم ظرف څخه وي، یا له ظرف زمان څخه وي. څرنګه چې مفعول فیه د فعل د واقع کېدو له وجې د لوښي په منزله دی، ځکه نو ورته ظرف هم ویل کېږي او ظرف بیا پر دوه قسمه دی، ظرف زمان او مکان، یعنی که چېري هغه اسم داسي وي، چې د کومې زمانې نوم وي او د همدغې زمانې په هکله په ده کي څه بنودل سوي وي، نو ورته ظرف زمان وایې او که چېرې د کوم ځای په هکله په ده کي بنودنه وي، نو ورته ظرف مکان وایې، همدا مطلب دی د مصنف رحمه الله په دې عبارت (من زمانٍ او مکان) سره، نو داسي سو، لکه د مفعول فیه دوه قسمونه چې هم بیان سول.

د مفعول فیه د منصوب کېدو شرط

دوهمه خبره: د مفعول فیه د منصوب کېدو شرط:

و شرط نصبه تقدیر فی: په دې عبارت کي مصنف رحمه الله د مفعول فیه د منصوب کېدو لپاره یو شرط بیانوی، هغه دا چی تر ده مخکي (فی) مقدره کېږي، لکه (صمتُ شهرًا) دا په اصل کی (صمتُ فی شهر) و، لیکن په مفعول فیه کي که چېري کلمه د (فی) په لفظ کي مذکوره وه، نو هغه منصوب نه کېږي، بلکي هغه د همدې (فی) په وجه مجرور کېږي، لکه (صلیتُ فی المسجدِ) نو ګواکی چی مفعول فیه دوه قسمونه سوه، یو مفعول فیه په تقدیر د (فی) سره،

کومه چې مجروره وي او دوهم قسم چې مفعول فيه د (في) په ذکر سره وي، کومه چې منصوب وي.

دريمه خبره: د مصنف او جمهورو رحمهم الله اختلاف:

څرنګه چې مخکې د مفعول فيه دوه قسمونه بيان سوه، يعني يو مفعول فيه په تقدير د (في) سره او دوهم مفعول فيه په ذکر د (في) سره، نو د مصنف رحمه الله په نزد دا دواړه د مفعول فيه قسمونه دي، خو د دواړو ترمينځ فرق دادی، چې لومړی قسم منصوب کېږي او دوهم مجرور کېږي، حال دا چې د جمهورو علماؤ په نزد لومړی قسم خو مفعول فيه دی، ليکن دوهم قسم ته مفعول فيه ويل صحيح نه دي، ځکه چې دا په اصل کي د حرف جر په واسطه مفعول به جوړ سوی، نو د دوی په نزد د مفعول فيه د منصوب کېدو لپاره ګواکي چې هيڅ شرط نسته، ځکه چې د دوی په نزد د مفعول فيه يو صورت دی، يعني په تقدير د (في) سره او يو يې اعراب دی، يعني منصوب کېدل يې.

او د مصنف رحمه الله په نزد دا شرط ځکه ورسره لګول سوی، چې د ده په نزد مفعول فيه پر دوه قسمه ده، منصوب او مجرور، په دوی کي چې د مفعول فيه منصوب لپاره د تقدير د (في) شرط لګول سوی وی، هغه لومړی قسم جوړېږي او چېري چې (في) په لفظ کي ذکر سوي وی، نو هغه مجرور کېږي او دوهم قسم جوړېږي.

څلورمه خبره: د (في) د تقدير د جواز او عدم جواز ځايونه:

وظروف الزمان كلها تقبل ذلک: فاضل مصنف رحمه الله په دې عبارت کي د (في) د تقدير د جواز او عدم جواز ځايونه بيانوی، ليکن تر دې مخکې دا خبره په ذهن کي ونيسئ، چې په ظروف زمان او مکان دواړو کي هر يو پر دوه، دوه قسمه دی: معلوم او مبهم، د دغو تفصيل ته لږ غوندي غوږ سئ:

ظروف زمان معلوم: يعني هغه اسماء چې پر داسې وختونو دلالت کوي، چې پيل او پای يې دواړه معلوم وي، لکه يومٌ، ليلٌ، اسبوعٌ، شهرٌ وغيره.

ظروف زمان مبهم: يعني هغه اسماء چې پر داسې وختونو دلالت کوي، چې پيل او پای يې دواړه معلوم نه وي، لکه: وقتٌ، حينٌ او دهرٌ وغيره.

ظروف مکان معلوم: یعني هغه اسماء کوم چي پر داسي مکان او ځای دلالت کوي، چي حدود یعني ابتداء او انتهاء یې دواړه معلوم وي، لکه: مسجِدٌ، مدرسةٌ او بیتٌ وغیره.

ظروف مکان مبهم: یعنی هغه اسماء کوم چي پر داسي مکان او ځای دلالت کوي، چي پیل او پای یې دواړه معلوم نه وي، د دې تفسیر په مستقله توګه انشاء الله تعالیٰ را روان دی.

تر دې تمهید وروسته په دې خبره پوه سئ، چی ظروف زمان هغه که معلوم وي، یا مبهم او هغه که معرفه وي، یا نکره، ټول تقدیر د (فی) قبولوي او دا ټول له هماغي وجې منصوب کیږي، لکه: (سِرتُ دهرًا و خرجتُ یومًا)، دا دواړه د نکره مثالونه دي او (سِرتُ حینَ قعودِکَ او خرجتُ یومَ الجمعة) دا د معرفه مثالونه دي او په ټولو کی (فی) مقدره ده او دا ټول هم د همدغه تقدیر د (فی) په وجه سره منصوب دي، د دې پر ځای که چیري (فی) په لفظ کي مذکوره وي، نو دا ټول مجرور کیږي.

یادونه: ظرف زمان مبهم ځکه تقدیر د (فی) قبلوی، چي دا د فعل یو جزء وي، ځکه چي د فعل دري جزؤنه وی:

①: اشتقاق من المصدر، ②: نسبت الی الفاعل، ③: نسبت الی الزمان.

او زمانه چونکه ظرف زمان وي او په فعل کي راځي، او کلمه (فی) هم د ظرفیت لپاره راځي، نو ګواکي چي ددغه فعل له دریو اجزاؤ څخه یو جزء جوړیږي او کله چي د فعل جزء جوړ سو، نو د فعل په جزء کېدو کي دا له مفعول مطلق سره مشابه کیږي، نو څرنګه چي د فعل نسبت د مفعول مطلق وطرفته د کوم حرف جر له واسطې پرته کیږي، دا راز د مفعول فیه طرفته هم د فعل نسبت د (فی) مذکور پرته کیږي او څرنګه چي مفعول مطلق منصوب وي، دا راز دا هم منصوب کیږي، او پاته سو ظرف زمان معلوم نو هغه که څه هم د فعل د مفهوم جزء نه کیږي، لیکن بیا هم له ظروف زمان مبهم سره پر زمانه په دلالت کولو کي له ده سره مشابه دی، ځکه نو هغه هم د (فی) تقدیر قبول کړی دی.

و ظروف المکان ان کان مبهمًا قبل ذلک و الا فلا، له دې ځای څخه مصنف رحمه الله له مفعول فیه څخه د ظروف مکان حکم بیانوي، هغه دا چي ظروف مکان که څه هم مبهم وي،هغه که نکره وي، یا معرفه وي، پکي د (فی) تقدیر نه منل کېږي، منصوب ویل یې جائز کېږي، لکه (قُمْتُ امامَ المسجد).

د ده د (فی) د تقدیر قبلولو وجه داده، چي دی له ظروف زمان مبهم سره په مبهم کېدو کي مشابهت لري، نو لکه هلته چي جائزوه، دلته هم جائز کېږي.

پاته سو ظروف مکان معلوم، نو هغه تقدیر د (فی) ځکه نه قبلوي، چي په ده کي (فی) په لفظ کي ذکرسوي وي او له وجې یې هغه مجرور وي، لکه (جلستُ فی الغرفة).

پر دې سربېره په ده کي د (فی) دتقدیر د عدم جواز دوهمه وجه دا هم ده، چي دا له ظرف زمان مبهم سره مشابهت نه لري، خو له ظرف زمان معلوم او ظرف مکان مبهم سره دی مشابهت خو لري، لیکن هغه چونکه پخپله پر کوم بل شی په محمول کولو سره د (فی) د تقدیر قابل کېږي، اوس که چېري پرده بیا بل شی حمل سي، نو ګواکي چي د یوه شی محمول او محمول علیه او محتاج او محتاج الیه کېدل لازم سو او له یوه پخپله مستعار شی څخه استعاره لازمېږي، کومه چي نا مناسبه ده.

اته شپېتم (۶۸) درس

د مبهمه اسماؤ تفسیر او نوري ضروري خبرې

وفُسّرالمبهم بالجهات الستّ وحملَ علیه (عند) و (لدی) وشبههما، لابهامهما، ولفظ (مکان) لکثرته وما بعد (دخلتُ) علی ا لاصح وینصب بعامل مضمر وعلی شریطة التفسیر.

ترجمه: او د مبهم تفسیر په جهات سته سره سوی دی او پر دغو ظروف مکان مبهمه باندي د (عند، لدی) او د دې په څېر کلمات (په دوی کي د ابهام په وجه سره) او لفظ د (مکان) د کثرت استعمال په وجه سره محمول کېږي او تر (دخلتُ) وروسته ا سم هم له صحیح قول سره سم پر دغو ظروف مکان مبهمه محمول کېږي او کله کله دوی ته نصب ورکول کېږي د هغه مقدر عامل په وجه

سره، تر کوم وروسته چې تفسېر نه وي و کله کله د هغه عامل مقدر په وجه سره هم د کوم چې په وروسته کې تفسېر روان وي.

تشریح: د نن په سبقه کې درې خبرې دي:

①: د اسماء مبهمه تفسېر سره له اسماء محموله، ②: د دخلت په مابعد کې د جمهورو او نورو ځینې علماؤ رحمهم الله اختلاف، ③: د مفعول فیه د عامل ناصب حذفول.

لومړی خبره: د اسماء مبهمه تفسېر او نور اسماء محموله.

و فُسّرالمبهم بالجهات الست: مخکې د ظرف مکان مبهم د (فی) د تقدېر په اعتبار سره حکم بیان سوی و، لېکن دا خو مورږ ته معلومه نسوه، چې اسماء مبهمه څه دي؟

نو په مذکوره عبارت کې د هماغو اسماء مبهمه تفسېر بیانوی، نو وایې: چې اکثره متقدمین د اسماء مبهمه تفسیر په جهات سته سره کړی دی، یعنی (الخلف، القدام، الفوق، التحت، الیمین، الشمال)، له دغو پرته نور هغه اسماء کوم چې ددوی په معنا وي، نو هغه هم د دوی په ډول په اسماء مبهمه کې داخلېږي، لکه (قَبْلُ) او (قُبلُ)، کوم چې د (امامَ) په معنا دی او (وراءِ) او (دُبُرُ) کوم چې د (خلفُ) په معنا دي او (یسارُ) کوم چې د (شمالُ) په معنا دی او (عَلْوُ) چې د (فوق) په معنا دی او داراز (سِفلُ) د (تحت) په معنا دی، نو دا ټوټل د (فی) تقدېر قبلوي.

و حمل علیه (عند ولدی) وشبههما، لابهامهما و لفظ مکان لکثرته: په دې عبارت سره مصنف رحمه الله د ظروف مکان د مبهمه محمولات بیانوي او ورسره د یوه سوال جواب هم کوي:

سوال دادی، چې جنابه! تا وویل، چې د اسماء مبهمه تفسېر د جهات سته په اسماؤ سره کېږی، حال دا چې (عند اولدی) او د دې په څېر نور اسماء مثلا (دون او سوی) وغیره اسماء نه خو په ظروف مکان مبهم کی شمېرل کېږي، ځکه چې دا له جهات سته څخه نه دي، او نه په ظروف مکان محدود (معلومو) کې، ځکه

چې هغه خو منصوب استعمالیږي، نو تا د اسماء مبهمه تفسیر صرف د جهات سته په نامه سره ولې کړی، له دې پرته په کوم بل شی سره یې وکړه، د دې لپاره چې یکې دادواړه هم داخل سي؟

دې جواب دادی، چې دا اسماء بېشکه له مذکوره اسماء سته څخه خو نه دي، لیکن دوی پر ظروف مکان مبهم حمل کېږي، ځکه چې د ابهام په وصف کي دا او هغه دواړه شریک دي.

ولفظ مکان لکثرته: دلته هم مخکنی سوال واقع کېږي، خو جواب یې دادی، چې بېشکه دا که څه هم په هغو کي داخل نه دي، لیکن څرنګه چې د کثرت استعمال په وجه د تخفیف تقاضا کوي او تخفیف د (فی) په مقدر منلو کي دېر دی په نسبت د ذکر کولو، لکه (جلستُ مکانکَ) نو دا هم پر ظرف مکان مبهم په حملولو سره په دوی کي هم (فی) مقدر منل کېږي.

وما بعد دخلتُ علی الاصح: چي (دخلتُ) او ددې په ډول نور افعال مثلا تر (نزلتُ، سکنتُ وغیره) وروسته اسم هم له صحیح قول سره سم د کثرت استعمال په وجه پر ظرف مکان مبهم محمول کېږي او په دي کي هم تقدیر د (فی) جائز کېږي، لکه (دخلتُ الدارَ و نزلتُ البیتَ وسکنتُ القریة) دا خبره په یاد لرئ، چي له (دخلتُ) څخه هر هغه فعل مراد دی، د کوم چي مفعول فیه له مفعول به سره مشابه وي، لکه چي د نزلتُ او سکنتُ مثالونه تېر سول.

دوهمه خبره: د جمهورو او د نحوي د ځیني نورو علماؤ اختلاف:

د (مکانْ) لفظ او تر (دخلتُ) وروسته دواړه د کثرت استعمال په وجه پر ظرف مکان مبهم حمل کېږي، لېکن د دواړو تر مینځ فرق دادی، چي د (مکانْ) د لفظ مفعول به کېدل متفق علیه دی، خو د (دخلتُ) د مابعد په مفعول به کېدو او نه کېدو کي اختلاف دی، د کوم طرفته چي مصنف رحمه الله په (علی الاصح) سره اشاره کړې ده.

د اختلاف تفصیل په دې ډول دی، چي د ځیني علماؤ په نزد د(دخلتُ) مابعد مفعول به وي، دلیل یې دادی، لکه څرنګه چي متعدي پخپله پوره معنا نښیندلو کي تر ځان وروسته اسم ته محتاج وي، دا راز (دخلتُ) هم په خپله پوره معنا

ورکولو کي تر ځان وروسته اسم ته محتاج وي او محتاج الیه مفعول به کېدای سي، نه چي مفعول فیه.

دوهمه وجه یې داهم ده، چي مفعول به مخکي وي او مفعول فیه وروسته، نو په (دخلتُ الدارَ) کي (الدارَ) مفعول به جوړېږي، نه چي مفعول فیه.

د دې پر خلاف د نحوي د جمهورو علماؤ رحمهم الله په نزد د (دخلتُ) مابعد مفعول فیه وي، دوی پر خپله دعوی درې دلائل وړاندي کړي دي:

لومړی دلیل:

تر ټولو مخکي د قاعدې په توګه یو دلیل وړاندي کوي، چي (هر هغه فعل چي مصدریې د (فعول) پر وزن وي، نو هغه فعل لازمي وي) او د (دخلتُ) فعل مصدر هم (دخول) پر وزن د (فعول) راځي، نو په لازمي توګه (دخلتُ) لازمي فعل سو او د فعل لازمي لپاره نور مفاعیل خو راتلای سي، لیکن مفعول به نسي راتلای.

دوهم دلیل:

دوهم دلیل دادی، چي بالفرض که چېري دا مونږ مفعول فیه ونه منو، نو بیا هم تر ده وروسته مفعول به خو نسي جوړېدای، ځکه چي قاعده او اصول دادي، چي پر مفعول به که چېري (فی) داخله سي، نو د هغه معنا یا خو بدلېږي، یا بلکل خرابېږي، لکه په (ضربتُ زیدًا) کي که چېري پر زید (فی) داخله سي، (ضربتُ فی زید) وویل سي، نو هیڅ معنا نه ورکوي، د دې پر خلاف که چېري د (دخلتُ) پر مابعد (فی) داخله سي، نو د معنا تبدیلي او خرابي خو پر لویه لاره پرېږده، نوره یې هم معنا واضح او روښانه کېږي، لکه د (دخلتُ الدارَ) پر ځای (دخلت فی الدار).

درییم دلیل:

درییم دلیل دا چي د (دخلتُ) په مثل او که په معنا کي ورنژدې افعال دي، د هغو مابعد بالاتفاق مفعول فیه وي، نو د قریب المعنا کېدو په وجه دده مابعد هم مفعول فیه کېږي.

پاته سو د نحوي د ځیني علماؤ وړاندي کړل سوی دلیل، نو د هغه جواب دادی، چي موږ دا خبره بلکل منو، چي د مفعول فیه درجه تر مفعول به وروسته وي، لېکن دومره خبره هرومرو سته، چي دا په فعل متعدي کي وي، نه چي په فعل لازمي کي او د (دخلتُ) فعل لازم کېدل موږ پورته ثابت کړ (کما فی تقریر الکافیه).

دمفعول فیه دعامل ناصب دحذف کېدودوه صورتونه

درېیمه خبره: د مفعول فیه د عامل ناصب د حذف کېدو دوه صورتونه:

وینصبُ بعامل مضمر: له دې ځای څخه مصنف رحمه الله د مفعول فیه د عامل د حذفولو دوه صورتونه بیانوی:

لومړی صورت:

لومړی صورت دادی، چي کله کله د مفعول فیه عامل حذف کېږي، بدون شریطة التفسیر، چي د هغه په ذرېعهٔ مفعول فیه ته نصب ورکول سي، یعنی د مفعول فیه چي کوم عامل ناصب وي، هغه کله کله حذف کېږی، لیکن تر ده وروسته ددغه حذف سوي فعل هیڅ تفسیر مذکور نه وی، لکه چي یو څوک سوال وکړي، چي (متیٰ سرتَ؟)، په جواب کي یې وویل سي (یومَ الجمعة)، دا په اصل کي (سرتُ یومَ الجمعة) و، نو په شروع کي چي کوم عامل ناصب (سرتُ) دی، هغه حذف کړل سو (یوم الجمعة) وویل سو او تاسو ولیدل، چي د دغه حذف سوي عامل هیڅ تفسیر په وروسته کي نه دی سوی او بیا هم (یومَ الجمعة) منصوب دی.

وعلی شریطة التفسیر: او کله کله د مفعول فیه عامل خو حذف سوی وي، لیکن په دې شرط، چي په وروسته کي یې تفسیر ذکر سوی وي، لکه چي له (سرتُ یومَ الجمعة) څخه عامل ناصب (سرتُ) حذف کړل سي، تفسیر یې په وروسته کي وسي، داسي وویل سي (یومَ الجمعة سرتُ فیه).

نه شپېتم (۶۹) درس

دڅلورم منصوب (مفعول له) بیان

المفعول له هو ما فعل لأجله فعلٌ مذكورٌ، مثل: ضربته تأديبًا وقعدتُ عن الحرب جبنًا، خلافًا للزجاج فانه عنده مصدرٌ، وشرط نصبه تقدير اللام وانما يجوز حذفها اذا كان فعلًا لفاعل الفعل المعلّل به ومقارنًا له في الوجود.

ترجمه: له منصوباتو څخه مفعول له هم ده، دا هغه اسم دی، چې له وجې يې مذكور فعل سوی وي، لكه په (ضربته تأديبًا) كې (تأديبًا) او په (قعدتُ عن الحرب جبنًا) كې (جبنًا)، په دې كې د امام زجاج رحمه الله اختلاف دی، ځكه چې داسې اسم دده په نزد په مصدر يعنی مفعول مطلق كې شمېرل كېږي او دده د منصوب كېدو شرط د (لام) مقدر كېدل دي او د دغه (لام) حذفول هغه مهال جائز دي، كله چې دا د معلل‌به د فعل د فاعل فعل وي او په وجود كې هم د هغه مقارن وي.

تشريح: د نن په سبقه كې پنځه خبرې دي:

①: د مفعول له تعريف او د قيدونو فائدې، ②: د نحوي دجمهورو علماؤ او امام زجاج اختلاف، ③: د مفعول له د منصوب كېدو شرط، ④: د كافيه د ملاصاحب رحمه الله او جمهورو نحوي علماؤ اختلاف، ⑤: د لام دحذف د جائز كېدو صورتونه.

دمفعول له تعريف

لومړی خبره: د مفعول له تعريف او د قيدونو فائدې:

المفعول له: له منصوباتو څخه څلورم قسم مفعول له دی، د دې تحقيق داسې دی، چې د ده په شروع كې داخلېدونكی (لام) په معنا د (الذی) اسم موصول دی او صله يې پخپله (مفعول) جوړېږي، بيا موصول او صله دواړه صفت جوړېږي د (الاسم) موصوف محذوف لپاره او په (له) كې لام اجليه دی، نو د عبارت تقدير داسې كېږي: (الاسم الذی فُعل الفعل لاجله) يعنی هغه اسم چې له كبله يې مخكنی فعل سوی وي.

او اصطلاحی معنا يې د كافيه ملاصاحب رحمه الله په خپل عبارت كې داسې بيان كړې ده (هوما فُعل لاجله فعل مذكورٌ) يعني مفعول له هغه اسم دی، چې د

حاصلولو لپاره يې تر دغه اسم مخکې فعل سوی وي، لکه (ضربته تأديبًا) په دې کې د ادب د ښودلو لپاره مخکنی فعل (ضرب) سوی دی او په (قعدتّ عن الحرب جبنًا) کې (جبنًا) يعني د بې زړه توب له وجې مخکنی فعل قعدتّ (له جګړې کښېناستل) سوي دی.

د قيدونو فائدې:

د فاضل مصنف رحمه الله په عبارت (هوما فُعل لاجله فعل مذكور) کې د (هو) ضمير مرجع (مفعول له) دی، کوم چې معرّف دی او (مافُعل الفعل...الخ) يې تعريف دی، بيا په تعريف کې (ما) جنس ده، کومه چې معرف (يعني مفعول له) او غير معرف (يعني نورو مفاعيلو) ته هم شامل دی، (فعلا لفعل لاجله) فصل دی، د ده په وجه نور ټول مفاعيل له تعريف څخه وزي.

دوهمه خبره: د نحوي د جمهورو علماؤ او امام زجاج رحمه الله اختلاف:

خلافًا للزجاج: د مفعول له په هکله د نحوي د جمهورو علماؤ مذهب دادی، چې له مفاعيل خمسه څخه باقاعده يو مستقل قسم کېږي، خو امام زجاج رحمه الله وايې، چې دا کوم مستقل قسم نه دی، بلکې په اصل کې دا مفعول مطلق دی، چې اصل عبارت داسې دي: (ادّبته بالضرب تأديبًا) او (جبنت فی القعود عن الحرب جبنًا)، نو په اصل کې (تأديبًا) او (جبنًا) تقدير د عامل يعني فعل محذوف يعني د (ادبته او جبنتُ) لپاره مفعول مطلق جوړېږي.

او دوهم صورت داهم کېدای سي، چې دی سره له مضاف محذوف مفعول مطلق جوړېږي، مثلا د (ضربته تأديبًا) محذوف عبارت داسې دي: (ضربته ضربَ تأديبٍ) او د (قعدت عن الحرب جبنًا) محذوف عبارت داسې دي: (قعدت عن الحرب قعودَ جبنٍ).

لېکن که چېرې وکتل سي، نو علامه زجاج رحمه الله چې دلته کوم تاويل کړی، محذوف عبارت يې را ايستلي دي او بيا يې د مفعول مطلق حکم پر لګولی دی، نو دا يو کمزوري خبره ده، ځکه چې په تاويل کولو سره د يوه قسم له بل قسم جوړولو څخه دا نه لازمېږي، چې لومړی قسم بلکل ختم سي، بعينه دوهم قسم جوړ سي، که نه نو د تاويل دا دروازه که چېرې خلاصه سي او دا صحيح وبلل

Scanned by CamScanner

سي، نو دغې مأول صورتونه به خپل اصلي صورتونه پرېږدي او د مأول ائيه
صورت طرفته به منتقل کېږي، مثلا د حال او ذولحال مثالونه را واخله (جاءني
سعيدٌ راكبًا) او (زرتُ بكرًا مسرورًا) په دې کي په تاويل کولو عبارت داسې
کېږي: (جاءني سعيدٌ في وقت الركوب) او (زرتُ بكرًا وقتَ سروره) ليکن له دې
سره، سره دده کوم مفعول فيه نه ويل کېږي، بلکي هماغسي حال او ذوالحال
ورته ويل کېږي.

فائده: دامام زجاج رحمه الله نوم ابراهيم بن محمد بن سرى بن سهل دى او کنيه
نوم يې ابو اسحاق دى، د زېږېدني نېټه خو يې ده معلومه لېکن د مړيني نېټه يې
د جمادى الاخرى (۳۱۰هـ، يا ۳۱٦هـ) د جمعې په ورځ په بغداد کي تر اتيا (۸۰)
کلونو پورې څه زيات عمر وفات سوى، د امام احمدبن حنبل رحمه الله په مذهب و، په
پيل کي يې د شيشه جوړولو کار کاوه، او په عربي کي شيشې ته زجاج ويل
کېږي، له همدې وجې دى د زجاج په لقب مشهور سوى دى، تر دې وروسته يې:
علم زدکولو ته توجه وکړه او په ټولو علوم دينيه په خاصه توګه په عربي کي يې
داسي مهارت حاصل کړ، چي له خپلې زمانې څخه تراوسه په علوم عربيه کي د
امام حيثيت لري.

د مفعول له د منصوب کېدو شرط

درېيمه خبره: د مفعول له د منصوب کېدو شرط:

درېيمه خبره، کومه چي مصنف رحمه الله په (وشرط نصبه تقدير اللام) عبارت کي
ويلي دي، هغه دادى، چي د مفعول له د منصوب کېدو شرط دادى، چي تر ده
مخکي (لام) مقدر وي، لکه (ضربته تأديبًا)، لېکن که چېري (لام) مذکور وي،
نو بيا مفعول له منصوب نه کېږي، بلکي د همدغه (لام) حرف جر له وجې مجرور
کېږي، لکه (ضربته للتأديب).

څلورمه خبره: د مصنف او د نحوي د جمهورو علماؤ رحمهم الله تر مينځ اختلاف:
د مفعول له د منصوب کېدو لپاره د مصنف رحمه الله په ذکر سوي شرط سره دې
طرفته اشاره ده، چي د ده په نزد د مفعول له هم د مفعول فيه په ډول دوه قسمونه

دي: يو مفعول له په تقدير د لام سره او دوهم مفعول له د لام په ذكر سره، لومړی قسم منصوب او دوهم مجرور بحرف الجر كېږي، نو د تقدير لام د شرط لګول د مفعول فيه دصحت لپاره شرط نه بلكې د ده صحت د نصب لپاره شرط دی، نو د مصنف رحمه الله په نزد دا دواړه قسمونه د مفعول له كېږي، نو د دې لپاره چې پر ده د مفعول له تعريف هم صادقېږي او لفظًا منصوب هم دی او دوهم قسم د دې لپاره، چې پر ده هم د مفعول له تعريف صادق سي او لفظًا كه څه هم منصوب نه دی، لېكن محلا منصوب دی.

او حال دا چې د نحوي د جمهورو علماؤ رحمهم الله په نزد لومړی صورت خو د مفعول له دی او يكې د لام مقدر كېد شرط د نصب د صحت لپاره نه بلكی د مفعول له د صحت لپاره دی، ځكه چې كله د ده مفعول كېدل ثابت سي، نو دده منصوب كېدل پخپله ثابتېږي، پاته سو دوهم صورت نو هغه ددوی په نزد مفعول له نه كېږي، بلكې د حرف جر په واسطه سره مفعول به كېږي.

پنځمه خبره: د لام د حذف د جائز كېدو صورتونه:

وانما يجوز حذفها...الخ: په دې عبارت كې فاضل مصنف رحمه الله تر مفعول له مخكې د لام د تقدير لپاره درې شرطونه بيانوي:

①: لومړی شرط دادی، چې مفعول له مصدر وی او د اعراضو له قبيلې څخه وي، د اعيانو له قبيلې څخه نه وي، لكه (ضربته تاديبًا) او چېرې چې دا شرط نه وي، نو هلته لام نه حذف كېږي، لكه (جئتک للسمن) دلته (السمن) نه خو مصدر دی او نه د اعراضو له قبيلې څخه دی.

②: اذا كان فعلًا لفاعل الفعل المعلل به: دوهم شرط دادی، چې د مفعول له او معلل به فعل فاعل يو وي، لكه (ضربته تأديبًا) له معلل به فعل څخه مراد هغه فعل دی، د كوم علت چې په وروسته كې د راتلونكي مفعول له په ذريعه ښودل كېږي، لكه په مذكور مثال كې (ضرب) فعل معلل به دی او د (تأديبًا) په ذريعه د ده علت بيان سوی دی او د(ضربَ) او د (تأديبًا) فاعل يو دی، ځكه چې وهونكی او ادب ورزدكوونكی يو سړی دی.

چیري چي د دواړو فاعل بېل، بېل وي، نو هلته لام نه مقدر کېږي. لکه (جئتک لمجیئک ایایَ) دلته د فعل معلل به (جئتک) فاعل متکلم او د مفعول له (لمجیئک) فاعل مخاطب دی.

③: و مقارنًا له فی الوجود: دریم شرط یې دا بیان کړی، چي د فعل مذکور او مفعول له دواړو زمانه یوه وي، لکه (ضربته تأدیبًا) دلته وهونکی او ادب ورزدکوونکی دواړه په یوه زمانه کي دي، داسي نسي کېدای، چي د وهونکی عمل خو اوس وي او د ادب ورزدکولو لپاره وروسته بیا کوم بل عمل کېږي.

چیري چي د دواړو زمانه یوه نه وی، نو هلته د لام حذفول جائز نه دي، لکه: (اکرمتک الیومَ لو عدی بذلک امسِ) یعني نن ما ستا عزت وکړ، د دې لپاره چي ما پرون له تا سره ددې وعده کړې وه، وګورئ! دلته لومړی دوه شرطونه خو سته، لیکن دریم نسته، ځکه نو لام حذف کړل سوی نه دی.

د دریو سره شرطونو خلاصه داده، چي مفعول له که چیري مصدر نه وي، یا دده او دده دعامل زمانه یوه نه وی، یا د دواړو فاعل یو نه وي، نو له ده څخه د لام حذفول جائز نه دي.

یادونه: مصنف رحمه الله په خپل عبارت کي د (حذفها) کلمه راوړې ده، خو مراد یې ځیني (تقدیرها) دی، ځکه چي د حذف او تقدیر ترمینځ ډېر فرق سته.

اویایم (۷۰) درس

د پنځم منصوب (مفعول معه) بیان

المفعول معه هو مذکورٌ بعدالواو لمصاحبة معمول فعل لفظًا او معنًی، فان کان الفعل لفظًا وجاز العطف فالوجهان، مثل: جئتُ انا وزیدٌ و زیدًا والا تعین النصب مثل: جئتُ وزیدًا، وان کان معنًی و جازالعطف تعین العطف نحو: ما لزیدٍ وعمرٍو؟ والا تعین النصب، مثل: مالکَ و زیدًا؟ و ماشأنک وعمرًوا؟، لأنّ المعنی ما تصنع؟.

ترجمه: مفعول معه هغه اسم دی، کوم چي تر واو وروسته ذکر سوی وي، چي معلومه سي، چي هغه د فعل له معمول سره ملګری دی، هغه فعل که لفظي وي،

یا معنوي، نو که چېرې فعل لفظي وي او عطف جائز وي، نو پکې دواړه صورتونه جائز دي، لکه: (جئت انا وزيدٌ و زيدًا) او که چېرې داسې نه وي، نو نصب متعين کېږي، لکه (جئتُ و زيدًا) او که چېرې فعل معنوي وي او عطف جائز وي، نو عطف متعين کېږي، لکه (مالزيد وعمرو) او که داسې نه وي، نو نصب متعين کېږي، لکه (مالک وزيدًا وما شأنک وعمروًا)، ځکه چې دده معنا (ماتصنع) ده.

تشریح: د نن په سبق کې صرف دوې خبرې دي:

①: د مفعول معه تعريف د قيدونو فائدې، ②: د مفعول معه صورتونه او د هر يوه نښې.

د مفعول معه تعريف

لومړۍ خبره: د مفعول معه تعريف او د قيدونو فائدې:

المفعول معه: د دې تحقيق دادی، چې په (المفعول) کې (الف لام) په معنا د (الذی) دی، (مفعولٌ) صيغه د صفت ده او (معه) يې نائب فاعل، صيغه د صفت سره له خپل نائب فاعل صله کېږي د موصول لپاره، موصول سره له خپلې صله د (الاسم) موصوف محذوف لپاره صفت کېږي، موصوف سره له خپل صفت مبتداء کېږي، نو په دې اعتبار سره د عبارت تقدير داسې کېږي (الاسم الذی فُعِلَ فعلٌ لمصاحبته).

او اصطلاحي معنا پخپله مصنف رحمه الله په خپل عبارت کې بيان کړې ده، چې (هو مذکورٌ بعدالواو لمصاحبة معمول فعل لفظًا او معنًى) يعنی مفعول معه هغه اسم دی، چې تر واو وروسته په معنی د مع واقع سوي وي او مقصد يې تر داسې واو وروسته په ذکر کولو د مخکنې فعل عامل (هغه که لفظي وي، يا معنوي) د ده له معمول سره ملګرتيا (يعني يو له بل سره په فاعليت، يا مفعوليت کې شريک کېدل) وي، لکه (جاء البردُ والجبات)، دلته فعل لفظي (جاءَ) عامل دی او (البرد) يې معمول يعني فاعل دی او (واو) د (مع) په معنی دی دی تر ده وروسته په (الجبات) فاعليت کې د (البرد) فاعل مصاحب او

ملګرې دی، دا راز په (استوی الماءُ والخشبةُ) کې هم (الماء او الخشبة) د فاعلیت په معنا کې شریک دي او د مفعول مثال په (کفاکَ وزیدًا درهمٌ) کې د (کفاکَ) کاف او (زیدًا) دا دواړه د مفعولیت په معنا کې شریک دي.

دا راز د فعل معنوي مثال (مالک وزیدًا) دا په اصل کې (ماتصنع وزیدًا) و، نو دلته هم په (تصنع) کې دننه (انتَ) ضمیر فاعل او (زیدًا) دواړه د فاعلیت په معنا کې شریک دي.

فائده: فعل پر دوه قسمه دی، لفظي او معنوي، لفظي فعل هغه دی، کوم چې په باقاعده ډول په لفظ کې مذکور وي، د فعل علامې پکې موجودې وي او فعل معنوي هغه کلمه ده، کومه چې نه خو په لفظ کې وي، او نه په تقدیر کې، بلکې د کلام له انداز او خبرو، اترو څخه معلومېږي، لکه په (مالک وزیدًا) کې چې تېر سوه، چې له (مالک) څخه (ماتصنع) فعل راوزي، ځکه چې چېرې جار مجرور او حرف استفهام راسي، نو هغه پر فعل دلالت کوي، ځکه همدا جار مجرور د مخکښې فعل معنا وروستني اسم ته د رسېدو لپاره راځي، او حرف استفهام هم اکثره وخت پر فعل داخلېږي، نو د دغو وجوهاتو پر بنا دلته (تصنع) فعل راوزي.

دوهمه خبره: د مفعول معه صورتونه او د هر یوه علامې:

له (فان کان الفعل) څخه واخله تر اخیره پورې، یعني تر (لأن المعنی ماتصنع) پورې په عبارت کې مصنف رَحِمَهُ اللهُ څلور صورتونه بیانوي، له کومو څخه چې په دریو صورتونو کې تر (واو) وروسته مفعول معه جوړېږي، په دوو صورتونو کې په وجوبي توګه او په یوه کې په جوازي توګه.

لومړی صورت:

فان کان الفعل لفظًا وجاز العطف فالوجهان: په دې عبارت کې لومړی صورت دا بیانېږي، چې د مفعول معه فعل عامل که چېرې لفظي وي او تر (واو) وروسته پر مخکښې اسم (یعني د فعل پر معمول) عطف هم جائز وي، یعني له عطف څخه کوم مانع نه وي، نو دا پر دوه ډوله ویل جائز دی، لومړی دا چې دا د

مفعول معه پر بنا منصوب وویل سي، لکه (جئت انا وزیدًا) او دوهم دا چي پر مخکني اسم عطف سي، لکه (جئت انا وزیدٌ) په دې صورت کي د فاعلیت پر بنا مرفوع ویل کېږي.
دلته د عطف د جواز وجه داده، چي مخکي (تُ) ضمېر متکلم د مرفوع متصل تاکیدله (انا) ضمېر منصوب منفصل سره راغلی دی، کوم چي د عطف د جواز لپاره ضروري دی.

دوهم صورت:

و الّا تعین ا لنصب: دوهم صورت یې دا بیان کړی، چي که چېري تر (واو) وروسته د (واو) پر ماقبل عطف جائزنه و، یعنی یو مانع موجود و، نو په داسي صورت کي هغه یوازي په یوه طریقه سره ویل کېدای سي؛ یعني د مفعول معه پر بنا منصوب ویل کېږي، لکه (جئتُ وزیدًا) په دې صورت کي د عطف د جواز وجه داده، چي دلته د (تُ) ضمېر مرفوع متصل تاکید په کوم ضمېر مرفوع منفصل سره نه دی سوی، کوم چي د عطف د جواز لپاره شرط دی.

درېیم صورت:

وان کان معنی وجازالعطف تعین العطف، درېیم صورت مصنف رحمه الله دا بیانوي، چي که چېري د مفعول معه عامل فعل معنوي و او تر (واو) وروسته د مخکني اسم یعني د فعل معنوي پر معمول عطف جائز و، یعني کوم مانع موجود نه و، نو دده عطف متعین کېږي، لکه (مالزیدٍ وعمرو) وجه یې داده، چي فعل معنوي یو پټ او کمزوری عامل دی، حال دا چي په مقابله کي یې (لام) حرف جرلفظي او قوي عامل دی، نو د قوي عامل په شتون کي کمزوري عامل ته عمل ورکول بنائسته نه بنکاري، نو تر (واو) وروسته اسم پر (لزیدٍ) عطف کړل سو، مجرور وویل سو.

څلورم صورت:

والّا تعین النصب: که چېري عامل فعل معنوي و، لېکن د کوم مانع له وجې پر ماقبل دده عطف کول صحیح نه وه، نو دا د مفعول معه کېدو پر بنا منصوب ویل

کېږي، لکه (مالک وزیدًا) په دې کي عامل که څه هم معنوي او کمزوری دی، لېکن دده په مقابله کي کوم بل عامل نسته، نو ده ته عمل ورکول سو.
دلته د عطف د عدم جواز وجه داده، چی دا یوه قاعده ده، چي پر مجرور د یو شی عطف کول هغه مهال صحیح کېږي، چي پر معطوف د هغه حرف جر اعاده وسي، کوم چی پر مجرور داخل دی، لېکن دلته په (مالک وزیدًا) کي پر (لک) خو حرف جر داخل دی، لیکن پر (زیدٌ) کوم حرف جر داخل نه دی، نو عطف ناجائز سو، دا دمجرور بحرف الجر مثال و او د مجرور بالمضاف مثال دادی (ماشأنک وعمروًا)، دلته که چېري (عمروًا) پر ماقبل عطف کول غواړي، نو د ده په معطوف علیه کي دوه احتمالونه دي، یو دا چي (شأن) پر مضاف عطف سي او دوهم دا چي پر (کاف) ضمیر مخاطف مضاف الیه عطف سي او دا دواړه غلط دي، ځکه چي که چېري پر (شان) مضاف عطف سي، نو د مقصود خلاف لازمېږي، یعني معنا خرابېږي، ځکه چي زموږ مقصود دواړو شان معلومول دي، حال دا چی په دې صورت کي معنا داسي کېږي، چي ستا شان څرنگه دی او د عمر ذات څرنگه دی.
او که چېري پر (کاف) ضمیر خطاف عطف سي، نو هم ناجائز دی، ځکه چي پورته موږ دا قاعده بیان کړه، چي پر مجرور عطف هغه مهال جائز وي، کله چي پر معطوف هم دغه حرف جر اعاده کړل سي، لېکن دلته عامل جار (شأن) مضاف دی، لېکن مخکي دده هیڅ اعاده نه ده سوې، نو دا خبره ثابته سوه، چي عطف ناجائز دی، نو د مفعول معه کېدو پر بنا (عمروًا) منصوب ویل کېږي.
لأنّ المعنی ما تصنع؟ په دې عبارت سره مصنف رحمه الله په مذکوره مثالونو کي د فعل پر معنوی کېدو دلیل وړاندي کوي، لکه چي وایي: د (مالک و زیدًا) معنا ده (ماتصنع وزیدًا) او د (مالعمرو وزید) معنا ده (مایصنع عمروٌ وزیدٌ).
پر دې یو سوال کېدای سي، چي کله په لومړنیو مثالونو کی هم فعل معنوي دی، ځکه چي هغه خو هم د (تصنع) په معنا دی او دلته په اخري مثال کي هم فعل

معنوي دی، نو څه وجه ده، چي تاسو (ماتصنع) یوازي له (ماشأنک) سره خاص کړ؟

ددې جواب دادی، چې په لومړنیو مثالونو کي خو داسي قرینې وي، چي پر فعل بې دلالت کاوه، ځکه چي په دغو دوارو کي جار مجرور وو او جارمجرو د ځان لپاره متعلق ضرور غواړي، نو د دوی د متعلق غوښتل پر مقدر فعل دلالت کوي، په خلاف د اخیري مثال، چي په دې کي داسي شی نسته، چې ددوو فعلونو پر موجودګۍ دلالت وکړي.

فائده: انشاء الله تعالیٰ تاسو به په جامي کي وواياست، چی د مفعول معه په عامل کي د نحوي د علماؤ څو اقوال دي، لکه چي لومړی قول د شیخ عبدالقادر رحمه الله دی، چي (واو) په معنا د (مع) پخپله په مفعول معه کي عامل دی.

دوهم قول د امام اخفش رحمه الله دی، هغه وايې، چي عامل خو مخکنی فعل وی، لېکن هغه په مفعول معه کي عمل نه کوي، بلکه هغه په (واو) بمعنی (مع) کي عمل کوي، لېکن د عمل ظهور په اسم کي نسي کېدای، بلکي په وروسته اسم یعنی مفعول معه کی کېدای سي، ځکه د عمل ظهور په اسم کي کېږي، چي د (الا) اعراب پر وروستني اسم یعنی مستثنیٰ راځي.

او درېیم قول د نحوي د جمهورو علماؤ رحمهم الله دی، هغوی وايې، چی په مفعول معه کي عامل هماغه مخکنی فعل دی، لېکن په واسطه د (واو) په معنا د (مع) دی.

یو اویایم (۷۱) درس

د شپږم منصوب (حال بیان)

الحال ما يبين هيئة الفاعل اوالمفعول به لفظًا او معنًى، نحو: ضربتُ زيدًا قائمًا و زيدٌ في الدار قائمًا وهذا زيدٌ قائمًا وعاملها الفعل او شبهه او معناه.

ترجمه: حال هغه اسم د، کوم چي د فاعل، یا مفعول به حالت بیانوي، هغه فاعل، یا مفعول که لفظي وي، یا معنوي، لکه: (ضربتُ زيدًا قائمًا، وزيدًا قائمًا

معنوي دی، نو څه وجه ده، چي تاسو (ماتصنع) يوازي له (ماشأنک) سره خاص کړ؟

ددې جواب دادی، چې په لومړنيو مثالونو کي خو داسي قرينې وي، چي پر فعل باندې دلالت کاوه، ځکه چي په دغو دواړو کي جار مجرور وو او جارمجرو د ځان لپاره متعلق ضرور غواړي، نو د دوی د متعلق غوښتل پر مقدر فعل دلالت کوي، په خلاف د اخيري مثال، چي په دې کي داسي شی نسته، چې ددوو فعلونو پر موجودګی دلالت وکړي.

فائده: انشاء الله تعالىٰ تاسو به په جامي کي ووایاست، چې د مفعول معه په عامل کي د نحوي د علماؤ څو اقوال دي، لکه چي لومړی قول د شيخ عبدالقادر رحمه الله دی، چي (واو) په معنا د (مع) پخپله په مفعول معه کي عامل دی.

دوهم قول د امام اخفش رحمه الله دی، هغه وايې، چي عامل خو مخکنی فعل وی، لیکن هغه په مفعول معه کي عمل نه کوي، بلکه هغه په (واو) بمعنی (مع) کي عمل کوي، لیکن د عمل ظهور په اسم کي نسي کېدای، بلکي په وروسته اسم يعنی مفعول معه کی کېدای سي، ځکه د عمل ظهور په اسم کي کېږي، چي د (الا) اعراب پر وروستني اسم يعنی مستثنیٰ راځي.

اودریم قول د نحوي د جمهورو علماؤ رحمهم الله دی، هغوی وايې، چې په مفعول معه کي عامل هماغه مخکنی فعل دی، لیکن په واسطه د (واو) په معنا د (مع) دی.

یواویایم (۷۱) درس

د شپږم منصوب (حال بیان)

الحال ما يبين هيئة الفاعل اوالمفعول به لفظًا او معنًى، نحو: ضربتُ زيدًا قائمًا و زيدٌ في الدار قائمًا وهذا زيدٌ قائمًا وعاملها الفعل او شبهه او معناه.

ترجمه: حال هغه اسم د، کوم چي د فاعل، يا مفعول به حالت بیانوي، هغه فاعل، يا مفعول که لفظي وي، يا معنوي، لکه: (ضربتُ زيدًا قائمًا، وزيدًا قائمًا

وزيدٌ في الدار قائمًا وهذا زيدٌ قائمًا) او د ده فعل يا خو فعل وي، يا شبه فعل، يا معنا د فعل.

تشریح: د نن په سبقه کې درې خبرې دي:

①: د حال تعريف سره د قيدونو له فائدو، ②: د مثالونو وضاحت، ③: د حال د عامل تفصيل.

لومړۍ خبره: د حال تعريف سره د قيدونو له فائدو:

د مفاعيل خمسه له بيانولو وروسته مصنف رحمه الله اوس د مفاعيلو د ملحقاتو بيان کوي او ملحقات ټول اووه دي: ①: حال، ②: تميېز، ③: مستثنیٰ، ④: خبر کان واخواتها، ⑤: اسم دان واخواتها، ⑥: اسم د لائ نفي جنس، (۷): خبر د ماولا مشابه بليس.

په دوی کې تر ټولو مخکې د حال بيان کوي، چې (الحال) تر ده مخکې (ومنها) جار مجرور خبر مقدم مقدر دی او (الحال) دده لپاره مبتدأ مؤخره ده، د (منها) ضمير د (منصوبات) طرفته هم راجع کېدای سي، په دې صورت کې معنا داسې کېږي، چې له منصوباتو څخه شپږم منصوب حال دی او که مقدر(ملحقات) را وايستل سي، د هغه وطرفته هم راجع کېدای سي، بيا معنا داسې کېږي، چې له ملحقاتو څخه لومړی حال دی.

د حال تعريف يې داسې بيان کړی دی : (الحال ما يبين هيئة الفاعل اوالمفعول به لفظًا او معنًى)، يعني حال هغه اسم دی، چې د فاعل، يا مفعول حال بيانوي، هغه فاعل او مفعول که په لفظ کې مذکوروي، يا مقدر وي.

په عبارت کې (لفظًا او معنًى) دا دواړه له (الفاعل او المفعول به) څخه تميېز واقع کېږي، له همدې وجې دواړه منصوب دي.

دوهمه خبره د مثالونو وضاحت:

د حال تر تعريف وروسته مصنف رحمه الله د حال لپاره درې مثالونه وړاندې کړي دي:

لومړی مثال:

ضربتُ زیدًا قائمًا، دلته (قائمًا) د (ضربتُ) له ضمیر فاعل څخه، یا له (زیدًا) مفعول به څخه حال واقع سوی دی او دا دواړه په لفظ کي مذکور دي، په عبارت کي د تقدیر را ایستلو ته کوم ضرورت نسته.

دوهم مثال:

زیدٌ فی الدار قائمًا: دا د فاعل معنوي مثال دی، ځکه دلته (قائمًا) له (زیدٌ) څخه حال واقع سوی دی او (زیدٌ) په لفظي ډول فاعل خو نه دی، بلکي په لفظي توګه هغه مبتداء واقع سوی دی، هوکې! په معنوي توګه هغه فاعل جوړېدای سي، ځکه دلته موږ (کانَ) فعل، یا (کائنٌ) صیغه د اسم فاعل مقدره کړه، چي په دواړو کي دننه (هو) ضمیر فاعل دی، چي همدغه (زیدٌ) ته راجع دی، نو ګواکي چي دا فاعل معنوي سو، د عبارت تقدیر داسي کېږي: (زیدٌ حاصلٌ فی الدار قائمًا، یا زیدٌ حصلَ فی الدار قائمًا).

درېیم مثال:

هذا زیدٌ قائمًا: دا د مفعول معنوي مثال دی، ځکه چي د دغه تقدیري عبارت داسي جوړېږي (اشیر الیٰ زیدٍ قائمًا) دلته (قائمًا) له (زیدٌ) څخه حال واقع سوی دی او په معنوي ډول مفعول به دی.

د انصاف خبره داده، چي د کافیه ملاصاحب رحمه الله چي د حال کوم تعریف بیان کړی دی، پکي څه تکلفات سته، لکه چي په اخیري دوو مثالونو کي تاسو ته اندازه وسوه، حال دا چي د ده په مقابله کي جمهورو کوم تعریف بیان کړی، هغه بلکل بېله ګرځ وغباره تعریف دی، په دې کي د (لفظًا او معنًی) قیدونو لګولو ته هم ضرورت نسته او مذکوره مثالونه هم په فوري توګه په پوهه کي راځي، د دوی په نزد د حال تعریف دادی، چي حال هغه اسم یا جمله ده، کوم چي له فاعل، مفعول، مبتداء، خبر او جار مجرور څخه د یوه حالت بیانوي.

اوس د مذکوره تعریف په مخکي ښودلو سره مثالونو ته غور وسئ: په (ضربتُ زیدًا قائمًا) کي د فاعل یا مفعول حالت بیان سوی دی، په (زیدٌ فی الدار قائمًا) کي

د مبتداء حالت بيان سوی دی او په (هذا زيدٌ قائمًا) كي د خبر حالت بيان سوی دی والله اعلم بالصواب.

د قيدونو فائدې:

په پورته عبارت كي له (الحال) معرّف او (ما) څخه تر (لفظًا او معنًى) پوري ټوټل عبارت د حال تعريف دی، بيا يې په تعريف كي (ما) جنس ده، په كوم كي چي ټول منصوبات شامل دي، لېكن په (هيئة) لومړی فصل سره تميېز ووت، ځكه چي تميېز د يو شی هيئت (ډول) نه، بلكي دده ذات بيانوي، لكه (عندی عشرون درهمًا)، دلته (درهمًا) د (عشرون) د ذات بيانولو لپاره راوړل سوی دی، تر دې وروسته يې په (الفاعل او المفعول به) دوهم فصل لګولو سره باقي منصوبات هم ووتل.

درېيمه خبره: د حال د عامل تفصېل:

و عاملها الفعل اوشبهه او معناه: مصنف رحمه الله په دې عبارت كي د حال د عامل درې صورتونه بيانوي:

لومړی صورت:

عاملها الفعل: چي يا خو د حال عامل فعل لفظي وي، لكه چي په مخكي مثال (ضربتُ زيدًا قائمًا) كي تېر سوه، په دې كي چي كوم (ضربتُ) فعل لفظي دی، په (قائمًا) حال كي يې عمل كړی دی.

دوهم صورت:

او شبهه: يا د ده عامل د شبه فعل په شكل وي، لكه چي په دوهم مثال (زيدٌ فى الدار قائمًا) كي تېر سوه، دا په اصل كي (زيدٌ كائنٌ فى الدار قائمًا) و، نو (كائنٌ) كوم چي شبه فعل دی، په (قائمًا) حال كي يې عمل كړی دی.

يادونه: شبه فعل شپږو شيانو ته ويل كېږي: ①: اسم فاعل، ②: اسم مفعول، ③: صفت مشبه، ④: اسم تفضېل، ⑤: مصدر، ⑥: اسم فعل.

درېيم صورت:

او معناه: چي د حال عامل به يا د فعل معنوي په شکل وي، لکه چي په دريم مثال (هذا زيدٌ قائمًا) کي تېر سوه، په دې جمله کي په لفظي توګه فعل خو هيڅ نسته، خو له (هذا) اسم اشاره څخه موږ په معنوي ډول (اشير) فعل را وايست، همدغه معنوي فعل په (قائمًا) حال کي عمل کړی دی.

دوه اوياېم (٧٢) درس د حال لپاره ضروري قاعده

و شرطها ان تكون نكرةً وصاحبها معرفة غالبًا و ارسلها العراکَ و مررت به وحده ونحوه متأولٌ، فان كان صاحبها نكرةً وجبَ تقديمها.

ترجمه: او د حال شرط دادی، چي نکره به وي او ذوالحال به په اکثري توګه معرفه وي د (ارسلها العراک ومررت به وحده) په څېر په مثالونو کي تاويل سوی دی او که چېرې ذوالحال نکره وي، نو دده پر حال مخکي کول واجب دي.

تشريح: د نن په سبقه کي درې خبرې دي:

①: د حال لپاره يوه ضروري قاعده، ②: پر ياده سوې قاعده سوال او دهغه جواب، ③: د حال پر ذوالحال مخکي کېدل.

لومړی خبره: د حال لپاره يوه ضروري قاعده:

و شرطها ان تكون نكرةً: دلته د حال او ذوالحال لپاره د تعريف او تنکېر په اعتبار يوه قاعده بيانېږي، قاعده داده، چي حال به تل نکره وی او ذوالحال به اکثره وختونه معرفه وي او کله کله نکره هم راځي، چي پوره تفصيل به يې وروسته راسي.

د حال لپاره د نکره کېدو شرط ځکه لګول سوی، چي په حالت نصبی کي د ده له صفت سره التباس لازم نسي، مثلاً که چېري دا شرط ونه لګول سي، او داسي وويل سي چي (ضربتُ زيدًاالقائم) نو دا نه معلومېږي، چي (القائم) د (زيد) لپاره صفت دی، که حال، خو کله چي د نحوي علماؤ د ده لپاره د نکره کېدو شرط ولګاوه، نو التباس يې له هېڅ سره نه راځي او ددواړو ترمينځ فرق بلکل واضح سو، دا راز د (ضربتُ زيدًا قائمًا) په خپل مينځ کي حال او ذوالحال کېږي، حال دا چي (ضربتُ زيدًا القائمَ) موصوف او صفت دي.

دوهمه وجه داده، چي د اسم لپاره په معرفه او نكره كي اصل دده نكره كېدل دي، دلته ضرورت د اصل نكره په ذريعه پوره كېږي او په ښه طريقه سره پوره كېږي، نو فرع (معرفه) ته كوم ضرورت نه پاتېږي.

درېيمه وجه داده، چي د حال له خبر سره مشابهت سته، ځكه لكه څرنګه چي خبر محكوم به وي، دا راز حال هم محكوم به وي او د محكوم به لپاره اصل دادی، چي هغه نكره وي او د ذوالحال لپاره معرفه كېدل شرط دي، ځكه چي دا د مبتداء په څېر محكوم عليه وي او محكوم عليه خو معرفه وي، نو ذوالحال به هم معرفه وي.

و ارسلها العراکَ ومررت به وحده: په دې سره د يوه سوال جواب وركوي، سوال دادی، چي اوس تاسو قاعده بيان كړه، چي حال همېشه نكره وي او درې دلېلونه مو هم وړاندي وويل، حال دا چي لبيد بن ربيعه ﷺ كوم چي يو صحابي دی او فصيح او بليغ عرب دی، بلكي په عربي ژبه كي د لوړې كچې شاعر هم دی، ده يو شعر ويلی دی:

و ارسلها العراکَ ولم يزدها* و لم يشفق على تغض الدّخال

ترجمه: هغه وحشي خره ماده خرو ته د اوبو څښلو لپاره لاره خوشي كړه، په داسي حال كي چي د دوی ازدحام (ګڼه ګوڼه) وه او ونه توانېدی چي له ازدحام جوړولو يې را وګرزوي او نه پر دې ووېرېد چي د ازدحام له كبله به تږې پاتې سي.

د مذكوره شعر تحقيق:

مشهور صحابي لبيدبن ربيعه ﷺ يو ځل د تفريح (سيال) په توګه د غره خواته تللی و، هلته يې وليدل، چي د غره په لمن كي پر يوه چينه څه خرې له نورو عامو خرو سره وليدل، چي د اوبو څښلو لپاره را ورسېدل، او يو خريې پر لوړ ځای ولاړ وليد، چي له حاله يې څرګندېدل، چي ددوی د حفاظت لپاره ولاړ دی، يعني كه چېري كوم ښكاري وغيره راسي، نو دی هغه نور خبروي، لبيد بن ربيعه ﷺ چي دا حيرانوونكی منظر وليد، نو يې پورتنی شعر وواېه:

و ارسلها العراکَ ولم يزدها* و لم يشفق على تغض الدّخال

د استشهاد ځای: وګوره! په مذکوره شعر کې (العراک) د (ارسلها) له (هاء) ضمیر څخه حال واقع سوی دی، خو سره له دې چې حال دی او معرفه هم دی، دا راز په (مررت به وحده) کې (وحده) د (به) له ضمیر څخه له حال واقع کېدو سره، سره د اسم ضمیر و طرفته د مضاف کېدو په وجه معرفه دی، نو د بې ادبی بخښنه غواړم، چې ستاسو قاعده صحیح نه ده، یا دا مثالونه غلط دي؟

د دې سوال په جواب ورکولو د کافیه ملاصاحب د دریاب په کوزه کې د ځایولو په دول په یوه کلمه سوال کوونکی چوب کړی دی، چې (متأول) یعني جنابه! دا دواړه هم او ددوی په څېر هر هغه کلمه چې حال وي، خو په ظاهره هغه معرفه وي، نو په هغې کې تاویل سوی دی، د تأویل تفصیل ته غوږ سه!

امام ابوعلي صاحب وایې، چې جنابه! موږ قاعده د حال او ذولحال لپاره وړاندي کړې ده او تا سوال د مفعول مطلق د مثال په ذریعه پر کړی دی، دا کوم انصاف دی؟، ځکه تا چې کوم مثال وړاندي کړی دی، د دې له حال او ذوالحال سره هیڅ تړاو نسته، بلکي په لومړي مثال کي (العراکَ) د (تعترکُ) فعل مقدر لپاره مفعول مطلق جوړېږي او په دوهم مثال کي (وحده)، د (ینفرد) لپاره مفعول مطلق من غیر لفظه دی، نو که چېري ته زما پر قاعدي سوال کوي، نو د حال او ذوالحال مثال وړاندي کړه، بیا سوال پر وکړه.

امام سیبویه رحمه الله وایې: جنابه! (العراک او وحده) که څه هم لفظًا معرفه دي، خو په حقیقت کي دا دواړه نکره دي، ځکه چې (العراک) د (معترکةً) په معنا دی او (وحده) د (منفردة) په معنا دی او (معترکة او منفردة) دواړه نکره دي، اوس نو هغه چې ستاسو جواب دی، هغه زموږ جواب دی.

د حال پر ذوالحال مخکي کېدل

دریيمه خبره: د حال پر ذوالحال مخکي کېدل:

فان کان صاحبها نکرة وجب تقدیمها: په دې عبارت کي د مذکوره قاعدي پاته برخه پوره کوی، هغه دا سي لکه څرنګه چې موږ قاعده بیان کړه چې ذوالحال اکثره وخت معرفه وي او کله، کله نکره هم واقع کېږي، اوس نو که چېري ذوالحال نکره واقع سوی وي، نو هلته حال پر ذوالحال مخکې کول واجب دي،

ولې كه چېرې حال او ذولحال پر خپل ترتيب پاته سي، نو د نصب په حال كې ير
له صفت سره د التباس خرابي لازمېږي، مثلا كه يو څوك ووايې: (ضربتُ رجلًا
مجرّدًا عن ثيابه)، نو د متكلم نيت كه څه هم دادى، چې (مجرّدًا) له (رجلا) څخه
حال واقع سوى دى، خو كتونكى او اورېدونكى دده په نيت خبر نه دى، بلكې
هغه خو ظاهري الفاظو ته ګورى او په ظاهر كې لكه څرنګه چې (مجرّدًا) د
(رجلا) لپاره حال واقع كېداى سي، دا راز دده لپاره صفت هم واقع كېداى سي
او غالبًا همداسي وي، نو په حالت نصبي كي د قاعدې له مخې حال مقدم كېږي
او په حالت رفعي كي كه څه هم د التباس وېره نسته، خو طردًا للباب هلته هم حال
مخكي كېږي.

نو لكه څرنګه چې د نكره محضه په صورت كې د تخصيص پيداكېدو لپاره د خبر
مخكي كېدل واجب وي، دا راز په ذوالحال كې د تخصيص پيداكېدو لپاره د حال
مخكى كول واجب دي، لكه چې مشهور اصول دى (التقديم ماحقه التأخيريفيد
الحصر والاختصاص).

دروا وپايم (۷۳) درس

د حال پر ذوالحال د مخكي كېدو دوه صورتونه

و لا يتقدم على العامل المعنوي بخلاف الظرف و لا على المجرور على الاصحّ و
كل مادلّ على هيئةٍ صحّ ان يقع حالاً، مثل: هذا بسرًا اطيب منه رُطبًا.

ترجمه: او نه مخكى كېږي حال پر عامل معنوي، په خلاف د ظرف او نه پر هغه
ذوالحال چي په حرف جر سره مجرور وي د صحيح قول پر بنا او د هر هغه اسم كوم
چي پر يو هيئت (ډول) دلالت كوي حال واقع كېدل صحيح دي، لكه (هذا بسرًا
اطيب منه رُطبًا).

تشريح: د نن په سبقه كي څلور خبرې دي:

①: د حال د تقديم د عدم جواز لومړى صورت، ②: له مذكوره حال څخه بر
استثنائي صورت، ③: د حال دتقديم د عدم جواز دوهم صورت، ④: د كافيه د
ملاصاحب پر جمهورو علماؤ رد.

لومړۍ خبره: د حال د تقدیم د عدم جواز لومړی صورت:

ولا یتقدم علی العامل المعنوي: له دې ځایه تر (علی الاصح) عبارت پورې د حال د تقدیم د عدم جواز دوه صورتونه او د جواز یو استثنائي صورت بیانېږي:

لومړی صورت دادی، چې حال پر خپل عامل معنوي نسې مخکې کېدای، ځکه چې عامل معنوي یو ضعیف عامل دی، په خپل مابعد کې خو عمل کولای سي، لېکن په ماقبل کې یې نسي کولای، لکه چې دا ویل جائز دي (هذا زیدٌ قائمًا)، لېکن (هذا) اسم اشاره کوم چې عامل معنوي ده، پر ده که چېري حال (قائمًا) مخکې کړل سي، (قائمًا هذا زیدٌ) وویل سي، نو جائز نه دی.

لېکن چیري چې د التباس خطره وي، نو هلته یې تقدیم جائز دی، لکه (زیدٌ قائمًا کعمرو قاعدا) دلته (کاف تشبیه) کوم چې عامل معنوي دی پر ده (قائمًا) مخکې سوی دی، ځکه که چېري مخکې نسي او (زیدٌ کعمرو قائمًا قاعدًا) وویل سي، نو التباس پیداکېږي، نه معلومېږي، چې په دوی کې کوم اسم د کوم اسم لپاره حال جوړېږي.

دوهمه خبره: له مذکوره حالت څخه یو استثنائي (وتلی) صورت:

بخلاف الظرف: په دې سره د جواز یو استثنائي صورت بیانېږي، چې که چېري د حال عامل ظرف و، نو ظرف که څه هم عامل معنوي دی، لېکن پر ده حال مخکې کېدای سي، ځکه چې قاعده ده، چې (یسع فی الظرف ما لا یسع فی غیره لکثرة وروده فی الکلام) یعني په ظرف کې د ډېر واقع کېدو له کبله د هغو شیانو فراخي ده، کومه چې په بل شی کې نسته، لېکن دا خبره په یاد لره، چې پر ظرف د حال مخکې کېدل یو اتفاقي مسئله نه ده، بلکې پکې د امام سیبویه او امام اخفش رحمهما الله اختلاف دی.

امام سیبویه رحمه الله وایي: چې ظرف عامل معنوي دی او پورته دا خبره تېره سوه، چې عامل معنوي یو کمزوری عامل دی، نو پر ده حال نسي مخکې کېدای، لکه چې (زیدٌ قائمًا فی الدار) ویل ناجائز دي.

او امام اخفش رحمه الله وایي، چې که چېري تر حال مخکې مبتداء وه، نو بیا د حال مخکې کېدل جائز دي، لکه (زیدٌ قائمًا فی الدار) د دې تقدیري عبارت داسي

دي: (زیدٌ ثبت فی الدار قائمًا) په دې صورت کي (قائمًا) د (ثبت) له ضمیر فاعل څخه حال واقع سوی دی، کوم د (زیدٌ) وطرفته راجع دی او تر حال مخکې د مبتداء شرط څکه لګول سوی، چی له وجې یې ظرف قوی سي، ځکه ظرف پخپله ضعیف عامل دی.

دوهمه وجه، کومه چی تر لومړی زیاته قوي ده، هغه داچی که چیرې پر ظرف مقدم سي، لیکن تر دغه حال مخکي مبتداء وي، نو هلته خو داسي موږ ویلای سو، چي حال پر ظرف مقدم دی، لیکن داسي نسو ویلای، چي من کل الوجوه مقدم دی، ځکه چي همدا ظرف د مبتداء مذکور لپاره خبر جوړیږي او د خبر رتبه دا وي، چي هغه له مبتداء سره متصل (نښتی) وي، او دلته که څه هم لفظًا حال پر ظرف مخکي دی، لیکن رتبةً مقدم نه دی، بلکي رتبه خو د حال تر خبر وروسته ده او د عامل ضعیف عمل په خپل ماقبل کي هغه مهال مانع وي، کله چي هغه من کل الوجوه یعني لفظًا او رتبةً په دواړو اعتبارو سره مؤخر وي، لکه (قائمًازیدٌ فی الدار، یا قائمًا فی الدار زیدٌ) دا په اتفاق د امام سیبویه او د اخفش رحمهما الله ناجائز دی، امام سیبویه خو هماغه وجه وایي: چي ظرف عامل ضعیف دی او د امام اخفش رحمه الله په نزد ځکه چي په دې صورت کي ظرف من کل الوجوه مؤخر دی.

د تقدیم حال د عدم جواز دوهم صورت

درپیمه خبره: د تقدیم حال د عدم جواز دوهم صورت:

و لا علی المجرور علی الاصح: دوهم صورت چیرې چي د حال پر ذوالحال مقدم کول ناجائز دي، دادی، که چیرې ذوالحال مجرور وي، هغه که په حرف جر سره وي، که په اضافة سره وي، په دواړو صورتونو کي له صحیح قول سره سم د حال پر ذوالحال مخکي کېدل ناجائز دي، وجه یې داده، چي دلته د حال د مخکي کېدو دوه صورتونه دي، یو دا چی پر جار او مجرور دواړو مخکي سي، مثلًا: (مررت برجلٍ راکبًا) پر ځای (مررت راکبًا برجلٍ) وویل سي، دا ځکه ناجائز دی لکه څرنګه چي د مجرور پر حرف جر مخکی کېدل ناجائز دي، دا راز د مجرور تابع هم پر حرف جر مخکی کېدل ناجائز دي.

او دوهم صورت دادی، چي حال صرف پر ذوالحال مجرور مقدم سي او حرف جر تر ده مخکي وي، لکه د (مررت برجلٍ راكبًا) پر ځای (مررت براكبًا رجلٍ) دا هم ځکه ناجائز دی، چي په داسي صورت کي د حرف جر او مجرور تر مينځ فاصله لازميږي، چي له کبله يې مجرور منفصل جوړيږي، او موږ په نحومير کي داخبره کړې ده، چي حروف جاره کمزوری قسم عامل دي، له دوی سره مجرور متصل خو راتلای سي، لېکن منفصل نسي راتلای.

په همدې طريقه سره که چېري ذوالحال بالمضاف مجرور وي، نو هلته هم حال نسي پر مخکي کېدای، ځکه چي هلته هم د حال دمخکي کېدو دوه صورتونه دي:

يو دا چي حال پر مضاف او مضاف اليه دواړو مخکي کړل سي، لکه چي د (جاءتنی ضاربة زيد مجرّدًا عن الثياب) پر ځای (جاءتنی مجردًا عن الثياب ضاربة زيد) وويل سي.

د دې د عدم جواز وجه هماغه ده، کومه چي بيان سوه، چي حال د ذوالحال تابع وي او متبوع دلته مضاف اليه واقع سوی دی، نو لکه څرنګه چي پخپله د مضاف اليه پر مضاف مخکي کېدل ناجائز دي، دا راز پر ده دده دتابع مقدم کېدل هم جائزنه دي، نو (مجردًا عن الثياب) کوم چي له (زيدٌ) څخه حال واقع سوی دی، نو لکه څرنګه چي د (زيدٌ) پر (ضاربةٌ) مخکي کېدل ناجائزدي، دا راز د (مجردًا عن الثياب) پر (زيدٌ) مخکي کېدل هم ناجائزدي.

او د تقديم دوهم صورت دادی، چي حال صرف پر ذوالحال يعني پر مضاف اليه مخکي کړل سي او مضاف پر خپل ځای وي، نو دا هم ځکه ناجائز دی، چي د مضاف او مضاف اليه ترمينځ فصل (بېلون) لازميږي، لکه چي د (جاءتنی ضاربة زيد مجرّدًا عن الثياب) پر ځای (جاءتنی ضاربة مجردًا عن الثياب زيدٍ) وويل سي.

د کوفي دځيني علماؤ په نزد که چېري ذوالحال د حرف جر په ذريعه مجرور وي، نوحال پر مخکي کېدای سي، دوی دليل د قرآنکريم دا مبارک آيت وايي: (و ما

ارسلناک الا کافة للناس بشیرًا ونذیرًا)، دلته (کافة) له (للناس) مجرور څخه حال واقع سوی دی او پر مخکي سوی دی.
جمهورو علماؤ د دې دوه جوابونه ورکړي دي:
یو دا چي (کافةً) بېشکه حال دی، لېکن له (للناس) څخه نه دی، بلکي د (ارسلناک) له ضمیر خطاب څخه حال دی او هغه پر مخکي دی، نو کوم سوال پاته نسو.
دوهم دا چي (کافةً) حال نه دی، بلکي مصدر دی صفت یې محذوف دی، اصل عبارت داسي دي: (وما ارسلناک الا رسالةً کافةً للناس)، نو په دې صورت کي د کوم سوال نه پاتېږي (کما فی تقریر الکافیة).
څلورمه خبره: د کافیه د ملاصاحب رحمه الله پر جمهورو علماؤ رد:
وکل مادلّ علیٰ هیئة صحّ ان یقع حالًا: په دې عبارت سره د کافیه ملاصاحب رحمه الله پر جمهورو علماؤ رد کوي، ځکه هغوی د حال لپاره د اسم مشتق شرط لګولی دی او کوم اسم چي غیر مشتق وي، هغه د مشتق په تأویل اړوي.
د کافیه ملاصاحب رحمه الله وایي: چي دا راز شرط لګول صحیح نه دی، بلکي هر هغه اسم چي پر یو حالت دلالت کوي، د هغه حال واقع کېدل صحیح دی، هغه که اسم مشتق وي، یا نه وي، لکه (هذا بسرًا اطیب منه رطبًا) غور وکړئ! دلته (بسرًا) او (رُطبًا) دواړه له دې سره، سره چي اسم جامد دي، خو حال واقع سوي دي، ځکه (بسر) هغه نیمه پخې خورما ته وایي، چي پکي لږ غوندي تریو والی پاته وي، نو ګواکي چي پر نیمه پختیا یې دلالت وکړ، او (رطب) هغه پخې خورما ته وایي، چي پکي خوږوالی وي، تریو والی بلکل پکي نه وي، نو ګواکي چي پر پوختیا یې دلالت وکړ، نو د یو شي پوخوالی، یا نیمه پوخوالی دواړه حالتونه دي او پر دغو حالتونو (رطبًا او بسرًا) دلالت کوي، سره له دې چي دا دواړه اسم جامد دي، نو د مصنف رحمه الله تر وړاندي کړې قاعده (وکل ما دل علی هیئة...الخ) لاندي دا دواړه حال واقع کېدل صحیح سو.
د (هذا) اسم اشاره مشارالیه (تمرٌ) دہ، تر دې وروسته (بسرًا) د (اطیبُ) له ضمیر مستتر یعنی (هو) څخه حال واقع سوی دی او (رطبًا) له (منه) ضمیر

مجرور څخه حال واقع سوی دی او په دغو دواړو ذوالحال کي (اطیب) د اسم تفضیل صیغه عامل ده، لومړی په (هو) ضمیر کي، ځکه چي هغه یې فاعل دی او دوهم د (منه) په ضمیر کي، ځکه چي هغه مفعول به دی او قاعده ده، چي د ذوالحال عامل په حال کي هم عمل کوي، یعنی د دواړو عامل یو وي، نو په (بسرًا او رطبًا) کي هم همدا (اطیب) صیغه داسم تفضیل عامل سوه، همدا د امام سیبویه او د نحوي د محققینو علماؤ قول دی.

دلته یو سوال واقع کېږي، چي جنابه! مخکي موږ دا قاعده بیان کړې وه، چي (ولا یتقدم علی العامل المعنوي) او وجه موږ دا ښودلې وه، چي عامل معنوي ضعیف وي، په مابعد کي خو عمل کولای سي، لیکن په ماقبل کي یې نسي کولای، نو اسم تفضیل خو هم یو ضعیف عامل دی، نو دلته هم د حال تقدیم جائز کېدل نه دي پکار؟

د دې جواب دادی: چي جناب محترمه! هغه قاعده بلکل یوه منل سوې قاعده ده، خو له هغې څخه دا صورت مستثناء دی، ځکه چي د دغه اسم تفضیل لپاره هم یوه مستقله قاعده ده، چي یو شی که چېري په مختلفو اعتباراتو سره حال جوړ سوی وي، نو د هر حال له خپل ذوالحال سره متصل کېدل ضروري دي، په مذکوره مثال کي په مختلف اعتبار سره له یوه مشارالیه (خورما) څخه دوه حاله واقع سوي دي، ځکه چي مشارالیه مفضل ده، نو په دې اعتبار یې (بسرًا) حال ده او مفضل علیه هم ده، نو په دې اعتبار سره یې (رطبًا) حال ده، نو (بسرًا) له (هذا) سره او (رطبًا) له (منه) ضمیر مجرور سره متصل پاته سو، نو په لازمي دول (بسرًا) پر (اطیب) مخکي کړل سو.

څلور اویایم (۷۴) درس

د حال جمله خبریه کېدل او پکي درابطې صورتونه

و قد تکون جملةً خبریةً، فالاسمیة بالواو والضمیر او بالواو او بالضمیر علی ضعف والمضارع المثبت بالضمیر وحده وماسواهما بالواو والضمیر اوباحدهما.

ترجمه: او کله کله حال جمله خبریه هم وي، نو که چیرې جمله اسمیه حال واقع سوي وي، نو رابطه یې په واو او ضمیر دواړو سره، یا یوازې په واو، یا یوازې په ضمیر سره کیږي، لیکن دا ضعیف دی او کله چې مضارع مثبت حال واقع سي، نو رابطه یوازې په ضمیر سره کیږي او له دې دواړو (یعنی جمله اسمیه او مضارع) پرته رابطه په واو او ضمیر دواړو سره، یا په دوی کې په یوه سره کیږي.

تشریح: د نن په سبقه کې څلور خبرې دي:

①: د حال د جمله خبریه په شکل راتلل، ②: د جمله اسمیه په صورت کې د رابطې صورتونه، ③: د مضارع مثبت په صورت کې د رابطې صورتونه، ④: له دغو دواړو په ماسوی کې د رابطې صورتونه.

د حال د جمله خبریه په شکل راتلل

لومړۍ خبره: د حال د جمله خبریه په شکل راتلل:

و قد تکون جملةً خبریةً: مصنف رحمه الله د حال مفرده له بیان څخه فارغ سو، او س د حال مرکبه بیان کوي، نو وایې: چې (وقد تکون جملة خبریة) یعني د حال اصلي او ډېر استعمالېدونکی صورت خو دادی، چې مفرد وي، لیکن کله کله د جمله په شکل هم راځي، لیکن خلاف الاصل او قلیل الاستعمال والا صورت همدا دی، چې حال د جمله په شکل وي، نو دا راز حال هم د جمله په شکل راتلای سي. او دوهمه وجه دا هم ده، لکه څرنګه چې مفرد کلمه پر یو کیفیت دلالت کوي، دا راز جمله هم پر یوه کیفیت دلالت کوي او مخکې موږ دا قاعده بیان کړې وه، چې (وکل مادلّ علی هیئة صحّ ان یقع حالاً).

یاد لرئ! چې د کافیه ملاصاحب رحمه الله له (جملةٌ) سره (خبریة) قید لګولی دی، په دې سره ګواکې چې جمله انشائیه ایستل غواړي، ځکه چې حال په منزله د خبر او صفت وي، نو لکه څرنګه چې خبر او صفت د جمله انشائیه په شکل نسي راتلای، نو دا راز حال هم د جمله انشائیه په شکل نسي راتلای.

یا جمله خبریه عامه ده، که اسمیه وي، که فعلیه، دواړې حال واقع کیږي، د اسمیه مثال (جاءنی زیدٌ وغلامه راکبٌ) په دې کې (وغلامه راکبٌ) پوره جمله اسمیه له (زیدٌ) فاعل څخه حال واقع سوې ده او د جمله فعلیه مثال (جاءنی زیدٌ

ویرکب غلامه) په دې کې (ویرکب غلامه) پوره جمله فعلیه له (زیدٌ) فاعل څخه حال واقع سوې ده.

دوهمه خبره: په جمله اسمیه کې د رابطې صورتونه:

فالاسمیة بالواو.... کله چې دا خبره ثابته سوه، چې حال د جمله په شکل راتلای سي، نو د حال د جمله په شکل د راتلو پنځه احتمالات دي:

①: حال د جمله اسمیه په صورت، ②: حال د جمله فعلیه په شکل، او فعل ماضي مثبته وي، ③: حال د جمله فعلیه په شکل او فعل ماضي منفي وي، ④: حال جمله فعلیه وي او فعل مضارع مثبته وي، همدا صورت د کافیه ملاصاحب رحمه الله ذکر کړی دی، ⑤: حال د جمله فعلیه په شکل وي او فعل مضارع منفي وي.

نو دا کېږي پنځه احتمالات، پر دې سربېره زما عزېزانو! ستاسو به په یاد وي، چې په نحومیر کې موږ ویلې وه، چې حال کله د جمله په شکل وي، نو پکې د ذوالحال وطرفته د کوم عائد او رابط کېدل ضروري دي او عائد صرف دوه دي:

①: واو، ②: ضمیر، نو رابط دوه دي اوَ احتمالات پنځه دي اوس موږ دغه دوه پر پنځه تقسیموو، نو وایو چې (فالاسمیة بالواو والضمیر او بالواو، او بالضمیر علی ضعف) یعنی حال که چېري د جمله اسمیه په شکل وي، نو د رابط او عائد یې درې صورتونه دي:

①: په یوه وار په واو او ضمیر دواړو سره هم جائز دی، ځکه چې په جمله اسمیه کې استقلال قوي وي، یو خو په خپله معنا ورکولو کې کومې بلې کلمې ته اړتیا نه لري او دوهم دا چې د دې په معنا کې دوام او استمرار وي؛ نو د استقلال د قوي کېدو په وجه هر کتونکی دا یوه مستقله او غیر مربوطه جمله ګڼي، لېکن کله چې موږ عائد ورسره لګوو، نو عائد به هم قوي وي (او دا هغه مهال کېدای سي، کله چې په واو او ضمیر دواړو سره وي)، نو بیا هر څوک ګڼي، چې دا کومه مستقله جمله نه ده، بلکې د دغه واو او ضمیر په ذریعه له ماقبل سره یوه مربوطه (تړل سوې) جمله ده، لکه (جاءنی زیدٌ وابوه قائمٌ)، په جمله اسمیه کې د عائد تر ټولو غوره صورت همدا دی.

②: او بالواو: دوهم صورت دادی، چې عائد یوازې (واو) وي، دا هم جائز دی، ځکه چې (واو) د معطوف په شروع کې راځي او هغه د دې خبرې علامه وي، چې د وروستنۍ جملې له مخکنۍ جملې سره باقاعده ربط (تړون) شته، لکه (جئتک والشمس طالعة) او په یوه حدیث شریف کې هم دي: (کُنتُ نبیًا وآدم بین الماء والطین).

③: او بالضمیر علی ضعف: دریم صورت دادی، چې عائد صرف ضمیر وي، د دې په هکله مصنف رحمه الله وویل، چې دا که څه هم جائز خو دی، لېکن ضعیف صورت دی، ځکه چې ضمیر په عامه توګه د کلام په شروع کې نه وي، بلکې په اخېر کې یې وي او په داسې حالت کې هغه په فوري (سمدستي) ډول دلالت نسي کولای، چې دا جمله له مخکني اسم سره تړلې او مربوطه ده، بلکې دا یو بېله جمله شمېرل کېږي، لکه (کَلّمتُهُ فُوهُ اِلَی فِیّ) یعنې ما له هغه سره په داسې حال کې خبرې وکړې، چې د هغه مخ زما د مخ وطرفته و، لېکن که چېرې کوم ضمیر په شروع کې وي، نو هلته عائد صرف د ضمیر په صورت راوړل هم جائز دي، لکه (جاءنی زیدٌ هو راکبٌ).

دریمه خبره: د مضارع مثبت په صورت کې د رابط صورتونه:

والمضارع المثبت بالضمیر وحده: له پنځو احتمالاتو څخه څلورم احتمال دا چې کله جمله د مضارع مثبت په شکل وي، نو پکې د رابط او عائد یو صورت کېدای سي، چې هلته صرف ضمیر راوړل کېږي، وجه یې لکه چې له نامه څخه یې هم ښکاري، چې مضارع له اسم فاعل سره د حروفو په تعداد او حرکاتو وسکناتو او عمل کې مشابهت لري، نو لکه څرنګه چې اسم فاعل حال واقع سو، نو د عائد لپاره صرف ضمیر کافي وي، دا راز مضارع مثبت هم چې کله حال واقع سي، نو پکې د ربط لپاره یوازې ضمیر بسنه کوي، لکه (جاءزیدٌ یسرع).

څلورمه خبره: له دغو دوو ماسوی د رابط صورتونه:

وماسواهما بالواو والضمیر: له پنځو احتمالاتو څخه یې لومړی او څلورم بېل بېل بیان کړل، د پاته دریو په هکله یې وویل، چې حال که چېرې ماضي مثبت یا

منفي، یا مضارع منفي وي، نو د عائد لپاره د جمله اسمیه په شان دري صورتونه دي؛

①، بالواو والضمیر: یعني د عائد لپاره د واو او ضمیر دواړو راوړل هم جائز دي.

(۲، ۳): او باحدهما: یعني له دواړو څخه یو راوړل هم جائز دي، یعني یا خو صرف واو راوړل کېږي، یا صرف ضمیر بیله کوم ضعف څخه.

ځکه چي د جمله دغه دري صورتونه که څه هم مستقل دي، لیکن په مستقل کېدو کي قوي نه دي، یعني په خپله معنا ورکولو کي که څه هم بل چاته ارتیا نلري، خو په معنا کي یې دوام او استمرار نسته، لهذا په استقلال کي د قوي نه کېدو په وجه عائد هغه که واو او ضمیر دواړه وي، یا صرف واو، یا صرف ضمیر وي، په هر صورت له ماقبل سره پر مربوط کېدو دلالت کوي، نو دا ټوټل نه صورتونه جوړېږي، ځکه حال به یا ماضي مثبته وي، یا به ماضي منفي وي، یا به مضارع منفي وي، بیا به له دوی څخه په هریوه کي عائد یا واو او ضمیر دواړه وي، یا به صرف واو، یا صرف ضمیر وي، نو ټوټل نه صورتونه کېږي، چي تفصیل یې په لاندي نقشه کي کتلای سئ:

د حال حالت	رابط	مثالونه
مضارع منفي	واو او ضمیر دواړه	جاءني زید ومایتکلم غلامه
ایضًا	صرف ضمیر	جاءني زید مایتکلم غلامه
ایضًا	صرف واو	جاءني زید ومایتکلم عمرو
ماضي مثبت	واو او ضمیر دواړه	جاءني زید وقد خرج غلامه
ایضًا	صرف ضمیر	جاءني زید قد خرج غلامه
ایضًا	صرف ضمیر	جاءني زید وقد خرج عمرو
ماضي منفي	واو او ضمیر دواړه	جاءني زید و ماخرج غلامه
ایضًا	صرف ضمیر	جاءني زید ماخرج غلامه
ایضًا	صرف ضمیر	جاءني زید وماخرج عمرو

(تقریر کافیه ص: ۱۹۵)

پنځه اویایم (۷۵) درس

پر جمله حالیه د (قد) راتلل او د حال د عامل حذفول

و لابدَّ فی الماضی المثبت من (قد) ظاهرةً او مقدرةً و یجوز حذف العامل کقولک للمسافر: راشدًا مهدیًا و یجب فی المؤکدة، مثل: زیدٌ ابوک عطوفًا، ای: احقه و شرطها ان تکون مقررةً لمضمون جملة اسمیة.

ترجمه: او ضروري ده په ماضي مثبت کي (قد) لګول، هغه که په ظاهري توګه وي، یا مقدر وي او جائز دی د حال د عامل حذفول، لکه مسافر ته ستا داسي ویل (راشدًا مهدیًا) او د حال مؤکده لپاره شرط دادی، چي هغه د جمله اسمیه د مضمون لپاره تاکید وي.

تشریح: د متن په سبقه کي څلور خبري دي:

①: په ماضي مثبته کي د (قد) راتلل، ②: دحال د عامل په جوازي توګه حذفول، ③: د حال دعامل په وجوبی ډول حذفول، ④: د حال مؤکده لپاره د عامل د حذفولو شرط.

لومړۍ خبره: په ماضي مثبته کي د (قد) راتلل:

ولابدَّ فی الماضی المثبت من قد: د ماضی مثبته په صورت چی کله جمله حال واقع سي، نو په شروع کي یې د (قد) راوړل ضروري دي، وجه یې داده، چي ماضي پر تېره سوې زمانه دلالت کوي او حال پر موجوده زمانه، نو د ماضی په شروع کي (قد) لګېږي، ددې لپاره چي ماضی د قریب په معنا کړي، نو به د ماضي او حال زمانه سره نژدې سي.

تر دې وروسته وايي، چې (ظاهرةً كان او مقدرةً) يعني د (قد) راتلل كه په لفظ كې وي، يا مقدر وي دواړه جائز دي، لېكن راتلل يې په هر حال ضروري دي، چې (قد) ظاهر وي، د هغه مثال (قال انى يكون لى غلام و قد بلغنى الكبر وامرأتى عاقر) او (جاءنى زيدٌ قد خرج غلامه) او د (قد) مقدره مثال (او جاؤكم قد حصرت صدورهم).

يادونه: د ماضي مثبت په شروع كې خو (قد) راځي، لكه چې تفصيل يې تېر سو، لېكن د ماضي منفي په شروع كې نسي راتلاى، ځكه چې د ماضي په شروع كې چې كومه (ما) وي، هغه د كلام صدارت غواړي، بيا كه چېرې موږ د ده په شروع كې (قد) راوړو، نو د (ما) د كلام صدارت له مينځه ځي.

د حال د عامل په جوازي ډول حذفول

دوهمه خبره: د حال د عامل په جوازي ډول حذفول:

ويجوز حذف العامل: مخكې موږ ويلي وه، چې (وعاملها الفعل او شبهه او معناه) چې تفصيل يې تېر سوى دى، دلته وايو، چې كه كومه قرينه حاليه، يا مقاليه موجوده وى، نو د حال د عامل حذفول جائز دي.

قرينه حاليه دا معنا چې د محذوف پر حذف كېدو د متكلم يا مخاطب حالت دلالت كوى، لكه چې يو ځوك په سفر روانېږي، او يو ځوك ورته (راشدًا مهديًا) ووايي، دا په اصل كې (اذهب راشدًا مهديًا) وو، په دې كې (راشدًا او مهديًا) دواړه د (اذهب) له ضمير فاعل ځخه حال واقع سوي دى او عامل په دوى كې پخپله (اذهب) دى، چې د قرينه حاليه له وجې حذف كړل سوى دى او هغه قرينه د مخاطب په سفر تلل دى، نو پوره عبارت داداي: (اذهب حال كونك راشدًا مهديًا، اى مدلولًا على الطريق المستقيم الموصل الى المقصد).

او قرينه مقاليه دا معنا چې د محذوف پر حذف كېدو د متكلم يا مخاطب كوم قول (وينا) دلالت كوي، لكه چې يو ځوك سوال وكړي (كيف جئتَ؟)، ته يې په جواب كې ووايې: (راكبًا) دا په اصل كې (جئتُ راكبًا) و، (جئتُ) عامل د قرينه مقاليه يعنى د سائل د سوال په وجه حذف كړل سو، دا راز په (ايحسب الانسان ان لن نجمع عظامه بلىٰ قادرين علىٰ ان نسوىَ بنانه) كى هم (قادرين)

د متکلم له ضمیر څخه حال واقع سوی دی، چې عامل (نجمع) یې حذف کړل سوی دی.

درېیمه خبره: د حال د عامل په وجوبي ډول حذفول

ویجب فی المؤکدة: مصنف رحمه الله وایي: چې په عامه توګه خو د حال د عامل حذفول جائز دي، لېکن که چېري حال مؤکده وي، نو د عامل حذفول یې واجب دي، د حال مؤکده مطلب دادی، چې د حال له ذوالحال سره داسي ټېنګ تړاو (تعلق) وي، چې په عامه توګه نه سره بېلېږي، یا په اسانه ټکو کي چې حال مؤکده هغه دی، چې د هغې معنا تاکېد کوی، کومه چې له سابقه جملې څخه فهمېږي، لکه (زیدٌ ابوک عطوفًا) دلته (عطوفًا) له (ابوک) څخه حال واقع سوی دی، د دې معنا ده (مهرباني) او د مهربانۍ معنا په عامه توګه په پلار کي موجوده وی، کله هم نه ځیني بېلېږي (الا ماشاءالله)، نو دلته (عطوفًا) حال مؤکده جوړېږي او د ده عامل کوم چې (احقه) صېغه واحد متکلم د نصرینصر افعال له باب څخه ده، د دې حذفول واجب دي.

د حال مؤکده د عامل د حذف کېدو لپاره شرط

څلورمه خبره: د حال مؤکده د عامل د حذف کېدو لپاره شرط:

و شرطها ان تکون مقررة لمضمون جملة اسمیة: چې د حال مؤکده د عامل د حذف کېدو لپاره شرط دادی، چې هغه به کومه نوې معنا نه ثابتوي، بلکي د مخکنۍ جملې اسمیه مضمون به ثابتوي، لکه په مذکور مثال (زیدٌ ابوک عطوفًا) کي (زیدٌ ابوک) جمله اسمیه ده او عطوفیت یعنی مهرباني مخکي لا فهمول سوې وه، بیا یې په (عطوفًا) سره نور هم تاکېد وسو، څرنګه چې دلته دا شرط موجود دی، نو ځکه د ده د عامل (احقه) حذفول واجب دي.

د کافیه ملاصاحب رحمه الله چې د (مقررة لمضمون جملة) کوم قید لګولی دی، په دې سره د (انا ارسلناک رسولا) په څېر ترکیبونه ووتل، ځکه چې دلته (رسولا) حال مؤکده دی، لېکن د جمله له پوره مضمون څخه حال نه دی، بلکي صرف له (ارسلناک) څخه حال واقع سوی دی، ځکه یې نو عامل نه حذف کېږي.

دا راز دوهم قید (اسمیة) د دې په ذریعه د (شهدالله انه لا اله الا هو والملائکة واولو العلم قائمًا بالقسط) په څېر ترکیبونه ووتل، ځکه چې (قائمًا) حال مؤکده خو دی او د پوره جملې مضمون یې هم ثابت کړی دی، لیکن دا جمله اسمیه نه ده، بلکې فعلیه ده، ځکه یې نو عامل هم حذف نکړل سو، والله اعلم بالصواب.

شپږ اویایم (۷۶) درس
داووم منصوب (تمیېز) بیان

التمیيز ما يرفع الابهام المستقر عن ذات مذکورة او مقدرة، فالأول عن مفرد مقدار غالبًا اما فی عددٍ، نحو: عشرون درهمًا و سیأتی واما فی غیره، نحو: رطلٌ زیتًا ومنوان سمنًا وقفیزان برًا، وعلی التمرة مثلها زبدًا.

ترجمه: تمیېز هغه اسم دی، کوم چې له مذکوره یا مقدره ذات څخه هغه ابهام لیرې کوی، کوم چې په ده کې پوخ او راسخ وي، بیا لومړی کوم چې له (ذات مذکوره) څخه ابهام لیرې کوي، هغه اکثره له مقدار څخه ابهام لیرې کوي، مقدار یا خو په عدد کې وي، لکه (عشرون درهمًا) (او ژر به ددې زیات بیان راسي) او یا به مقدار له عدد پرته په کوم بل شی کې وي، لکه (رطلٌ زیتًا ومنوان سمنًا وقفیزان برًا وعلی التمرة مثلها زبدًا).

تشریح: د نن په سبقه کې پنځه خبرې دي:

①: د تمیېز تعریف او پکې د قیدونو فائدې، ②: د تمیېز قسمونه، ③: د لومړی قسم تفصیل، ④: د عن مفردٍ مقدارٍ تفصیل، ⑤: یو سوال او جواب یې.

د تمیېز تعریف

لومړی خبره: د تمیېز تعریف:

التمیيز ما يرفع الابهام المستقر عن ذات مذکورة او مقدرة، یعني تمیېز هغه اسم دی، کوم چې له ذات مذکوره، یا ذات مقدره څخه داسې ابهام لیرې کوي، کوم چې د دغو دواړو په معنی موضوع له کې پوخ او مضبوط وي، یا په بل عبارت

چي تمیز هغه اسم دی، کوم چي له ذات مذکوره، یا مقدره څخه وضعي ابهام لیري کوي.

په تعریف کي د قیدونو فائدې:

التمیز ما یرفع الابهام المستقر عن ذات مذکورة او مقدرة : په دې عبارت کي (التمیز) معرّف دی او له (ما) څخه واخله تر (اومقدرة) پوري پوره عبارت یې تعریف دی، بیا په تعریف کي لفظ د (ما) جنس دی او (یرفع الابهام) لومړی فصل دی او (المستقر) دوهم فصل دی او (عن ذات مذکورة او مقدرة) دریم فصل دی.

نو (ما) د جنس کېدو په وجه ټول اسماء په دې تعریف کي شامل سو، د (یرفع الابهام) لومړي فصل په وجه هغه اسماء کوم چې بدل جوړېږي ووتل، ځکه چي بدل له مبدل منه څخه د ابهام د لیري کولو لپاره نه راځي، بلکي د هغه د پرېښودلو او نه مرادولو لپاره راځي، لکه (جاءني زیدٌ عمروًا) راغی ماته زید، نه نه بلکي عمر راغی، نو دلته دا خبره واضح سوه، چي متکلم په خپل کلام کي د عمر په ذرېعه له زید څخه ابهام لیري نکړ، بلکي هغه یې پرېښود او د هغه په بدل کي یې عمر مراد کړ.

په (المستقر) دوهم فصل سره هغه صفت ووت، کوم چي له خپل متبوع مشترک څخه ابهام لیري کوي، یعنی د دې څو معناوي راځي، مثلا لفظ د (عینٌ) دی د دې معنا چینه هم ده او سترګه هم او ګونډه هم، لېکن له دغو څخه چي کومه یو هم ته ذکر کړي، نو له متبوع څخه ابهام لیري کېږي، لکه (رأیتُ عینًا جاریةً) دلته (جاریة) د چینې تعین وکړ، په دې کي چي د تعددو ضع په وجه سره کوم ابهام و، هغه یې لیري کړ، لېکن ابهام وضعي یې نه دی لیري کړی، ځکه چي د اصل وضع په اعتبار سره په دې کي هیڅ ابهام نه و، بلکي په دې کي چي کوم ابهام و، هغه صرف دده د متعدد معناوو په وجه سره و.

دا راز په (رأیت اباحفص عمر) کي (عمر) هم د دغه قید په ذرېعه ووت، ځکه چي دلته عمر که څه هم ابهام خو لیري کړ، لېکن ابهام وضعي نه، ځکه چي د (ابوحفص) په موضوع له کي ابهام هیڅ نسته، بلکي هغه خو د ذات معینه لپاره وضع کړل سوی و، صرف دا چي هغه ذات په ابو حفص سره مشهور نه و، نو د

عدم اشتهار په وجه پکې ابهام پیداسو، کوم چي عمر لیري کړ، خلاصه دا چي دلته چي کوم ابهام و، هغه د اصل وضع له وجې نه و، بلکي د عدم اشتهار په وجه و.

عن ذات مذکورة: دا دریم فصل دی، د دې په وجه حال او صفت داوړه ووتل، ځکه هغه داوړه که څه هم ابهام لیري کوي، خو ابهام ذاتي نه، بلکي ابهام وضعي لیري کوي، لکه په (جاءنی زیدٌ راکبًا) کې چي (راکبًا) له (زیدٌ) څخه ابهام ذاتي نه دی لیري کړی، ځکه چی د زید په ذات کې ابهام نه و، هغه خو یو معین شخص دی، بلکي ابهام وضعي یې ځینی لیري کړ، ځکه چي په زید کې د وصف په اعتبار سره ابهام و، چي زید خو راغی، لیکن دا معلومه نه وه، چی آیا په موټر کې راغی، یا پیاده راغی؟، نو (راکبًا) ابهام ځیني لیری کړ، دا راز په (جاءنی رجلٌ عالمٌ) کي د رجل په ذات کې هیڅ ابهام نه و، بلکي په وصف کې یې ابهام و، نو (عالمٌ) راغی هغه ابهام یې له مینځه یووړ.

د تمییز قسمونه او وضاحت یې

دوهمه خبره: د تمییز قسمونه او وضاحت یې:

د تمییز په تعریف کې مصنف رحمه الله (ذات مذکور او مقدرة) ویلي وه، نو له دې څخه ښکاریږي، چي تمییز پر دوه قسمه دی:

①: هغه چي له ذات مذکوره څخه ابهام لیري کوي، لکه (عندي رطلٌ زیتًا) دلته (زیتًا) له (رطلٌ) څخه ابهام لیري کړی دی، کوم چي مذکور دی.

②: هغه چي له ذات مقدره څخه ابهام لیري کوي، لکه (طاب زیدٌ نفسًا) دلته (نفسًا) له ذات مقدره یعني له (شئ) څخه ابهام لیري کړی دی او هغه مذکور نه دی، نو چي محذوف عبارت را وایستل سي، پوره عبارت داسي کیږي: (طاب شئٌ منسوبٌ الیٰ زیدٍ نفسًا).

فائده: دلته د تمییز په تعریف کې درې شیان ذکر سو، ①: ذات، ②: مذکوره، ③: مقدره.

له ذات څخه مراد هغه اسم دی، کوم چی په ممکنات اربعه وو یعني په تنوین، نون تثنیه، نون جمع، یا نون مشابه بنون الجمع او اضافت سره پوره سوی وي.

او (مذکوره) معنا هغه اسم مبهم چي په مخکنې عبارت کې مذکور وي.

او (مقدره) معنا هغه اسم مبهم چي په مخکني عبارت کي مذکور نه وي، بلکي محذوف وي او په راتلونکي کي يې تفصيل را روان وي.

درېيمه خبره: د لومړي قسم تفصيل:

مصنف رحمه الله د تمييز تعريف او د تعريف په ضمن کي د هغه د قسمونو وطرفته اشاره وکړه، کله چي فارغ سو، نو اوس د هغو دوو قسمونو تفصيل بيانوي، وايي: (فالأوّل عن مفرد مقدار غالبًا) يعني د تمييز لومړی قسم کوم چي له ذات مذکوره څخه ابهام ليري کوي، هغه ذات مذکوره او مميز به اکثره وخت مفرد وي، د مفرد مطلب دادی، چي هغه مميّز جمله، يا شبه جمله نه وي.

او مقدار هغه شی ته وايي، په کوم سره چي د بېلابېلو شيانو اندازه لګول کېږي، او داسي شيان توټل پنځه دي، د کومو په ذريعه چي د شيانو اندازه معلومېږي: عدد، کيل، وزن، مساحت او مقياس، چي يو شاعر په خپل شعر کي يو ځای کړي دي:

پنج انـد جـانِ مَن تومقـادير را شناس

کيل است ووزن وعدد وذراع است وهم مقياس

د (غالبًا) په قيد سره دې خبرې ته اشاره ده، چي کله کله همدا مفرد تمييز له غير مقداري شيانو څخه هم ابهام ليري کوي، لکه (خاتمٌ حديدًا) په دې کي (خاتمٌ) ذات مذکوره د (مذکورةٌ) په معنا اخلي، که څه هم مفرد خو دی، ليکن د مقدار له پنځو قسمونو څخه يو قسم نه دی او بيا يې هم له ده څخه ابهام ليري کړی دی.

څلورمه خبره: د عن مفرد مقدار تفصيل:

اما في عدد: په دې سره مصنف رحمه الله د (عن مفردٍ مقدارٍ) تفصيل او د هغه د ځيني قسمونو مثالونه بيانوي، نو وايي: (اما في عَدد) يعني هغه مقدار به يا د عدد په ضمن کي وی، لکه (عشرون درهمًا) دا د مشابه بنون الجمع مثال دی، ځکه (عشرون) د جمع په نون سره تمام (پوره) سوی دی او حاشيه والا ويلي دي: چي دلته د (عشرون) په مثال راوړلو سره دوو شيانو ته اشاره ده، يو دا چي (عشرون) په مشابه بنون الجمع سره پوره سوی دی او دوهم دا چي (درهمًا) له عدد څخه ابهام ليري کړی دی، ځکه مخکي دده مصداق نه معلومېدی، چي

درهم مراد دي، که دینار، یا کوم بل شی، لیکن کله چي یې (درهمًا) وویل، نو ټول احتمالات له مینځه ولاړه، صرف دراهم متعین سوه، که یې د دې پرځای د (احدعشر درهمًا)، یا کوم بل مثال راوړی وای، نو صرف د عدد وضاحت خو به سوی وای، لیکن د جمع په نون سره د پوره کېدو به کوم وضاحت نه وای سوی.

و سیأتي: یعني د عدد د تمیز ذکر به په پوره تفصیل او بسط سره ان شاء الله تعالی د اسماء عدد په بحث کي راسي.

و اما فی غیره: څرنګه چي پورته مو ووېل، چي په (اما فی عدد) سره مصنف رحمه الله د (عن مفرد مقدار) تفصیل بیانوي او د (اما فی عدد) په ضمن کي یې یو صورت او مثال بیان سوه، اوس د دې د دوهم صورت بیان کوي، چي هغه مفرد مقداري، یا د غیر عدد په ضمن کي وي، د دې لپاره مصنف رحمه الله څلور مثالونه وړاندي کړی دي:

لومړی مثال: تمیز له مفرد مقداري وزني څخه:

رطلٌ زیتًا: د دې پوره عبارت (عندی رطلٌ زیتًا) دی، یعنی له ما سره یو رطل دي له غوړیو څخه، دلته (زیتًا) نکره دی، کوم چي له داسي مقدار څخه ابهام لیري کړی، چي د وزن (تللو) په ذریعه معلومېږي.

د تمیز له مفرد مقداري وزني څخه دوهم مثال:

منوان سمنًا: د دې اصل عبارت (عندی منوان سمنًا) دی، یعني له ما سره دوه سېره دي ازروی غوړي، دا دمفرد مقداري وزني دوهم مثال دی، په دې کي (منوان) د (من) تثنیه ده، کوم چي اسم تام مبهم ممیز دی او داسي مقدار دی، کوم چي په تول معلومېږي، په دې کي ابهام و، نو (سمنًا) هغه ابهام لیري کړ.

دریم مثال: تمیز له مفرد مقداري کیلي څخه:

قفیزان برًا: دا په اصل کي (عندی قفیزان برًا) و، یعني له ما سره دوې پیمانې له غنمو څخه دي، په دې کي هم (قفیزان) د (قفیزًا) تثنیه ده، کومه چي د یوه خاص قسم پیمانه ده، په دې کي ابهام و، چي (برًا) هغه له مینځه یوور.

څلورم مثال: تمیز له مفرد مقداري قیاسي څخه:

على التمرة مثلها زبدًا: يعني پر خورما ددې په مثل دي له کوچو څخه، په دې کې (زبدًا) اسم نکره ده او له داسې مقدار څخه ابهام ليري کوي، کوم چې په اندازه سره معلومېږي، لکه په دې مثال کې (مثلها) اسم تام مبهم دی او داسې مقدار دی، چې په اندازه سره معلومېږي، نو (زبدًا) هغه ابهام ليري کړ.

پنځمه خبره: يو سوال او جواب يې:

تر دې ځايه په رسېدو ځينې طالبان سوال کولای سي، چې مصنف رحمه الله د (مفردٍ مقدارٍ) تفصيل بيان کړ، دده دوه صورتونه يعني (اما فی عددٍ و اما فی غيره) بيان کړل، نو د انصاف غوښتنه خو دا وه، چې د دواړو لپاره يې يو دول مثالونه بيان کړي وای، دا کومه خبره ده، چې د لومړی صورت، يعني د (اما فی عدد) لپاره يې صرف يو مثال وړاندي کړ او د دوهم صورت يعني د (اما فی غيره) لپاره يې څلور مثالونه راوړل؟، حال دا چې که يې چيري د دوهم صورت لپاره هم يو مثال راوړی وای، نو د ممثل له وضاحت په کېدی؟

د دې جواب دادی، چې مصنف رحمه الله لکه څرنګه چې ددوو فائدو طرفته اشاره کړې، يوه دا چې د تمييز عامل اسم تام وي او د اسم د پوره والي څو صورتونه دي، نو د هغو مثالونو په ضمن کي هغه تمام صورتونه پخپله راغله، مثلا اسم به يا په تنوين سره تام وي، د کوم وطرفته چې مصنف رحمه الله د (رطلٌ زيتًا) په مثال اشاره کړې ده، يا به په نون د تثنيه سره تام سوی وي، د کوم طرفته چې يې په (منوان سمنًا) او (قفيزان برًا) مثال اشاره کړې ده، يا به په اضافت سره تام سوی وي، د کوم طرفته چې يې په (على التمرة مثلها زبدًا) مثال اشاره کړې ده، او کله کله په نون د جمع او مشابه بنون الجمع پوره سوی وي، د کوم طرفته چې يې په (عشرون درهمًا) مثال سره اشاره کړې ده.

مصنف رحمه الله په مشابه بنون الجمع د پوره سوي اسم مثال ورکړی دی، خو په نون جمع حقيقي د پوره سوي اسم يې هيڅ مثال نه راوړی؟ دا ځکه چې دا خبره پخپله په پوهه کي راځي، چې کله د مشابه بنون الجمع په ذريعه يو اسم تامېږي، نو په نون د جمع حقيقي سره خو په طريقه اولیٰ تامېږي، چې مثال يې دادی: (قل هل ننبئكم بالأخسرين اعمالًا).

درهمه فائده داده، چي له دغو مثالونو څخه مقصود دا بنودل دي، چي د غیر عدد څو صورتونه او څو اعتبارات دي، یعني کله کله خو هغه د وزن په شکل وي، لکه په لومړیو دوو مثالونو یې ورته اشاره کړې او کله کله د کیل په شکل وي، چي په درییم مثال یې اشاره ورته کړې او کله کله د مقیاس په شکل وي، چي په څلورم مثال یې اشاره ورته کړې ده.

پر لومړی فائده سوال کېدای سي، چي جنابه! تا چي د کثرت امثله وو کوم بیان کړی، چی په دې سره د هغو شیانو طرفته اشاره کول مقصود وه، په کومو سره چي اسم تامېږي، نو دومره خو پوه سو، لېکن اسم صرف په دغو شیانو نه تامېږي، بلکي پر دغو شیانو سربېره په الف لام سره هم تامېږي، نو مناسب خو داوه، چي مصنف رحمه الله یو بل مثال هم وړاندې کړی وای، چي دغه طرفته هم اشاره راغلې وای؟

د دې جواب دادی، چي د اسم له تامېدو څخه مراد هغه اسم دی، کوم چي تمیېز ته نصب ورکوي او معرف باللام تمیېز ته نصب نسي ورکولای، ځکه چي اسم تام له فعل سره مشابهت لري او د مذکوره څلورو شیانو له فاعل سره مشابهت سته او له دوی وروسته د تمیېز له مفعول به سره مشابهت سته، لکه څرنګه چي فعل په خپل فاعل تامېږي او تر فاعل وروسته مفعول و، نو هغه ته نصب ورکوي، بلکل همداسي اسم ممیز په اشیاء مذکوره سره تامېږي، اسم تمیېز ته نصب ورکوي، لېکن الف لام خو داسم په شروع کی وي، د کوم به وجه چي له فاعل سره مشابهت نسي کېدای، نو د مشابهت نه لرلو له وجې هغه تمیېز ته نصب نسي ورکولای، له همدې وجې مصنف رحمه الله هغه ذکر نکړ.

فائده: په (فالأول عن مفردٍ مقدارٍ) کي (مقدارٍ) د (مقدّرٌ) په معنا دی، ځکه چي تمیېز له مقدار څخه ابهام نه لیري کوي، بلکي له مقدراتو څخه ابهام لیري کوي، ځکه چي (عشرون، قفیزان، منوان او رطلٌ) د مخصوصو (ځانګړیو) معناوو لپاره وضع سوي دي، په کومو کي چي ابهام هیڅ نسته، خو د دوی په مصداق کي ابهام وي، مثلاً د (عشرون) مصداق څه دی او د (قفیزان) مکیل څه دی وغیره، وغیره.

اووه اویایم (۷۷) درس

له تمیېز سره تړلې درې اهمې مسئلې

فيفردان كان جنسًا الا ان يقصد الأنواع و يجمع فى غيره، ثم ان كان بتنوين او بنون التثنية، جازت الاضافة والا فلا وعن غير مقدار، مثل: خاتمٌ حديدًا والخفض اكثر.

ترجمه: بيا كه چېري اسم تميېز جنس و، نو د تل لپاره مفرد راوړل كېږي، لېكن هوكې! كه چېري جنس خو وي، لېكن مختلف انواع ځيني مراد سوي وي، نو بيا د هغه د ضمير مطابق راوړل كېږي او له جنس پرته كه جمع راسي، نو بيا به كتل كېږي، كه چېري تميېز په تنوين، يا نون تثنيه سره پوره سوى و، نو اضافت كول يې جائز دي او كه چېري په دغو دوو سره نه و تام سوى، نو بيا يې اضافت كول جائز نه دي او دا راز له هغه مفرد څخه هم ابهام ليري كوي، كوم چې مقدار نه وي، لكه (خاتمٌ حديدًا) خو په داسي صورتونو كي تميېز اكثره مجرور وي.

تشريح: د نن په سبق كي له تميېز سره تړلې درې مهمي مسئلې ذكر كېږي:

لومړۍ مسئله: د تميېز مفرد، تثنيه او جمع كېدل:

فيفرد ان كان جنسًا: فاضل مصنف رحمه الله د غير عدد د تميېز په هكله وايې، چې هغه كله مفرد وي او كله تثنيه او كله جمع، نو ويې ويل (فيفرد ان كان جنسًا) يعني د غير عدد تميېز كه چېري جنس و، نو مفرد راوړل كېږي، كه څه هم اسم تام يعني مميز تثنيه يا جمع وي، ځكه چې د جنس اطلاق پر قليل او كثير تولو يو دول كېږي، په دې شرط چې هغه له تاء وحدت څخه خالي وي، لكه (عندى رطلٌ زيتًا، عندى رطلان زيتًا او عندى ارطال زيتًا).

الا ان يقصدالأنواع: په دې عبارت كي له مذكوره قاعدې څخه يو استثنايي صورت بيانېږي: چې تميېز كه چېري جنس و، نو د تل لپاره مفرد راوړل كېږي، لېكن كه چېري له جنس څخه مختلف قسم انواع او اقسام مراد وي، نو په دې صورت كي د هغو انواعو او اقسامو په مناسبت تميېز تثنيه او جمع راځي، مثلا كه چېري له دغه جنس څخه يو قسم مراد وي، نو مفرد راوړل كېږي، كه دوه مراد وو، نو تثنيه او كه تر دوو زيات مراد وو، نو جمع راوړل كېږي، لكه (عندى رطل

زیتًا) له ما سره یو قسم تېل دي او (عندی رطلان زیتین) یعني له ما سره دوه قسمه تېل دي او (عندي ارطال زیوتًا) له ما سره څو قسمه تېل دي.

ویُجمع فی غیره: که چېرې تمیېز اسم جنس نه و، نو دده تثنیه او جمع راوړل کېږي، لکه (عندی عدلٌ ثوبًا) او (عندی عدل ثوبَین او عندی عدلٌ اثوابًا).

د مصنف رحمه الله په (ویُجمع) ویلو سره مراد مافوق الواحد دی، یعني تثنیه هم پکې داخله ده، لکه چې په حدیث شریف کې راغلي دي: الاثنان فما فوقهما جماعة).

داسم تام مضاف کېدل

دوهمه مسئله: داسم تام مضاف کېدل: ثم ان کان بتنوین او بنون التثنیة جازت الاضافة: مصنف رحمه الله مخکې له تمیېز سره د تړلې لومړۍ مسئلې بیان وکړ، اوس له ممیّز سره د تړلې یوې مسئلې بیان کوي، وایې: لېکن که چېرې تر دې مخکې داسم تام تعریف وسي، نو کېدای سي، چې په پوهه کې څه اسانی راسي:

اسم تام هغه اسم ته وایې، چې اسم داسي حالت ته ورسېږي، چې اضافت یې بلې کلمې ته نسي کېدای.

په کومو شیانو چې اسم تامېږي، د هغو پوره تفصیل مخکې تېر سو.

تر دغه تمهید وروسته مسئلې ته غوږ سئ، چې اسم (ممیز) که چېرې په تنوین، یا نون تثنیه سره تام سوی و، نو د تخفیف لپاره د تمیېز طرفته دده اضافت کول که چېرې کېدی، نو جائز دی، لکه د (عندی رطلٌ زیتًا) پر ځای (عندی رطلُ زیتٍ) او د (عندی منوانِ سمنًا) پر ځای (عندی منوانِ سمنٍ)، دا راز د (عندی قفیزان برًا) پر ځای (عندی قفیزان بر).

والا فلا: چې که چېرې اسم په تنوین او نون تثنیه سره نه بلکې په کوم بل شي (مثلاً په مشابه بنون الجمع یا اضافت) سره تام سوی و، نو په داسي صورت کې یې د تمیېز وطرته اضافت صحیح نه دی، لکه د (عندی عشرون درهمًا) پر ځای (عندی عشرون درهمٍ) نسي ویل کېدای او نه د (علی التمرة مثلها زبدًا) پر ځای (علی التمرة مثلها زبدٍ) ویل کېدای سي.

په مشابه بنون الجمع كي د اضافت د عدم جواز وجه داده، چي د ده داضافت په وخت كي كه چيري نون مشابه حذف كړل سي، نو د نون اصلي حذفول لازميږي، كوم چي ناجائز دی او كه چيري حذف نسي، نو هم صحيح نه دی، ځكه چي د جمع له نون سره يې مخالفت لازميږي، ځكه چي د جمع نون د اضافت په وخت كي حذف كيږي او كه باقي پاته سي، نو مشابهت له مينځه ځي.

نو په لومړي صورت كي دالتباس په وجه اضافت ناجائز سو او په دوهم كي طرداً للباب ناجائز سو، خلاصه دا چي د مشابه نون جمع اضافت د تميز وطرفته، يا چيري چي له تميز سره التباس لازميږي ناجائز دی.

دلته سوال كيږي، چي عرب حضرات خو (عشرون درهمٍ) او (ستُون) مضاف استعمالوي او تاسو وويل چي دا ناجائز دي؟

د دې جواب دادی، چي په شرح جامي ص:(۵۵۳) كي پر حاشيه علامه محمد بن موسى بستوي رحمه الله ليكلي دي، چي داسي مثال مورِ له كوم فصيح، بليغ او معتدبه (د اعتبار وړ) عرب ځخه نه دی اورېدلی، كه چيري وي هم، نو بيا دا شاذ دی، كوم چي په عامه توګه د جواز لپاره علت نسي كېدای.

او كه چيري اسم په اضافت سره تام سوی و، د ده اضافت هم د تميز وطرفته ځكه نا جائز دی، چي د اسم وطرفته خو هغه له مخكي لا مضاف دی او كه چيري د بل اسم وطرفته هم د ده اضافت وسي، نو د يوه اسم په يوه وخت كي بېله كوم فصل ځخه د دوو اسمونو وطرفته مضاف كېدل لازميږي او داسي كول ناجائز دي، لكه چي په (و ان تجمعوا بين الأختين) كي الله جل جلاله د دوو خوندو په يوه وار په نكاح كي ساتل ناجائز بللي دي.

دلته سوال كيږي، چي د عربو په كلام كي (كل واحدٍ واحدٍ او كل فردٍ فردٍ) ډېر استعمال سوی دی، حال دا چي تاسو وويل چي داسي كول ناجائز دي؟

د دې جواب دادی، چي بېشكه! عرب دا استعمالوي، خو هغه د (واو) حرف عطف په تقدير سره استعمالوي، نو ګوا كي چي د (كل واحدٍ واحدٍ) پوره عبارت (كل واحدٍ وواحدٍ) دی.

وعن غیر مقدار: تاسو مخکي ویلي وه، چي (فالأول عن مفرد مقدار غالبًا) نو دا عبارت پر هغه عطف دی، لېکن په تقدیر د موصوف، نو پوره عبارت داسي دي: (فالأول یرفع عن مفرد مقدار غالبًا وعن مفرد غیر مقدار احیانًا) یعني لومړی قسم یعني له ذات مذکوره څخه ابهام لیري کوونکی تمیېز په عامه توګه له مفرد مقداري څخه ابهام لیري کوي، لېکن کله کله له مفرد غیر مقداري څخه هم، د غیرمقداري مطلب دادی، چي هغه مفرد نه عدد وي، نه وزن وي او نه کیلي وي او نه مقیاس وي، لکه (خاتمٌ حدیدًا).

والخفض اکثر: مصنف رحمه الله د مفرد غیرمقداري د تمیېز اعراب بیانوي، چي داسي تمیېز اکثره وخت مجرور وي، ځکه چي په دې کي د ممیّز اضافت دتمیېز وطرفته مضاف وي، نو د مضاف الیه کېدو په وجه سره هغه مجرور کېږي، لکه (خاتم حدیدٍ).

د مجرور کېدو دوهمه وجه یې داده، چي په مفرد مقداري کي ابهام اصل او علی وجه الکمال وي، ځکه چي په مفرد مقداري کي اجناس بې شمېره وي، نو ګواکي چي دده په پر تمیېز کېدو تنصیص (تصریح) سوي ده او دده تمیېز کېدل پوخ سوي دي، څرنګه چي تمیېز منصوب وي، ځکه نو دا هم منصوب کېږي، په خلاف د مفرد غیر مقداري، چي په هغه کي د اجناسو د نه ډېرېدو په وجه ابهام ناقص وي، نو ګوا کي چي د ده تمیېز کېدل پوخ نه وي، له همدې وجې دی په اکثري توګه مجرور ویل کېږي.

اته اویایم (۷۸) درس

د تمیېز دوهم قسم بیان

والثانی عن نسبة فی جملة او ما ضاهاها، مثل: طاب زیدٌ نفسًا وزیدٌ طیبٌ ابًا و ابوةً و دارًا وعلمًا او فی اضافة، مثل: یُعجبنی طیبه ابا و ابوة ودارًا وعلمًا ولله درُّهُ فارسًا.

ترجمه او دوهم قسم له هغه نسبت څخه ابهام لیري کوي، کوم چي په جمله یا شبه جمله کي وي، لکه (طاب زیدٌ نفسًا) او (زیدٌ طیبُ ابًا و ابوةً و دارًا وعلمًا)، یا

له هغه نسبت څخه کوم چې په اضافت کې وي، لکه (یعجبنی طیبه ابًا و ابوۃ ودارًا وعلمًا ولله دُرّه فارسًا) یعني له الله ﷻ سره د ده د پر خیر دی په اعتبار د سپرېدو.

تشریح: دنن په سبقه کې صرف دوې خبرې دي:

①: د تمیېز د دوهم قسم بیان، ②: د کافیه د ملاصاحب پر علماء نحو رد.

لومړی خبره: د تمیېز د دوهم قسم بیان:

والثانی عن نسبة فی جملة او ما ضاهاها: کله چې مصنف رحمه الله د تمیېز د لومړي قسم له بیانولو فارغ سو، نو اوس د دوهم قسم بیان کوي، وايي: چې د تمیېز دوهم قسم هغه دی، کوم چې له هغه نسبت (منسوب الیه) څخه ابهام لیري کوي، کوم چې په جمله یا شبه جمله کې وي، لکه د جمله فعلیه مثال (طاب زیدٌ نفسًا) په دې کې منسوب الیه زید دی او هغه شی دکوم چې زید ته نسبت سوی دی په هغه کې ابهام و، چې هغه کوم شی دی، نو په (نفسًا) سره هغه ابهام لیري سو، معنا یې داسې سوه: زید ښه دی د خپل ذات په اعتبار سره او د شبه جمله مثال (زیدٌ طیبٌ ابًا) د دې دوې معناوي دي: لومړی دا چې زید ښه پلار دی او دوهمه دا چې د زید پلار ښه دی، قرینې ته په کتلو سره یې معنا داسې کېږي: زید له خپلو اولادونو سره ښه چلند کوي، کله چې څوک ووايي (زیدٌ طیبٌ ابًا) نو معنا یې دا کېږي، چې زید ښه پلار دی او کله چې د زید پلار له زید سره ښه چلند کوي، نو چې څوک ووايي (زیدٌ طیبٌ ابًا) نو معنا یې داسې کېږي: چې د زید پلار ښه دی.

د شبه جمله دوهم مثال (زیدٌ طیبٌ ابوۃً)، دا راز همدا مثال د جمله فعلیه لپاره هم کېدای سي، لکه (طابَ زیدٌ ابوۃً)، درېیم مثال: (زیدٌ طیبٌ دارًا) او (طاب زیدٌ دارًا) څلورم مثال: (زیدٌ طیبٌ علمًا) او (طاب زیدٌ علمًا).

تاسو ولېدل، چې مذکوره مثالونه موږ د جمله فعلیه او شبه جمله دواړو لپاره بللي دي، نو دا سوال نسي کېدای، چې څه وجه ده، چې د کافیه ملاصاحب رحمه الله

د جمله فعليه لپاره صرف يو مثال راوړى او د شبه جمله لپاره يې پنځه مثالونه راوړي دي.

خو يو سوال اوس هم کېداى سي، چي جنابه! په عامه توګه چي کومه مسئله هم وي، د هغې لپاره يو مثال راوړل کېږي، ځکه په مثال د ممثل له وضاحت مقصود وي او هغه په يوه مثال سره کېږي، نو تاسو پنځه مثالونه ولې راوړي دي؟

د دې جواب دادى، چي هغه تمييز کوم چي له نسبت څخه ابهام ليري کوي، د عربو په پوره کلام کي د هغه پنځه قسمونه دي، نو د مصنف رحمه الله پنځه مثالونه راوړل د هغو پنځو قسمونو طرفته اشاره ده، چي پوره تفصيل به يې انشاء الله تعالىٰ په شرح جامي کي تاسو ته راسي.

او في اضافة: دا پر مخکي (في جملةٍ) عطف دى، نو معنا يې داسي کېږي، چي د تمييز دوهم قسم هغه دى، کوم چي له هغه نسبت څخه ابهام ليري کوي، کوم چي په جمله کي وي، يا په شبه جمله کي وي، يا په مضاف کي وي، لکه (يُعجبنى طيبه ابًا، يا ابوةً يا دارًا يا علمًا).

وګوره! دلته د شبه جمله اضافت د ضمير وطرفته سوى دى او په دغه اضافت کي ابهام و، نو له (ابًا، ابوةً، دارًا او علمًا) څخه يو يو راغى، هغه ابهام يې ليري کړ.

دوهمه خبره: د کافيه د ملاصاحب رحمه الله پر نحوي علماؤ رد:

و لله درّه فارسًا: په ظاهره خو پر دغه مثال سوال کېږي، چي د کافيه ملاصاحب دا ولې راوړي دي؟ ، ځکه چي دا نه خو د لومړي قسم په مثالونو کي شاملېږي او نه د قسم ثاني په مثالونو کي؟

د دې جواب دادى: چي د دې په راوړلو کي دوې فائدې ترلاسه کېږي:

①: د نحوي پر جمهورو علماؤ رد کول، ځکه چي د هغوى مذهب دادى، چي د تمييز لپاره د اسم جامد کېدل ضروري دي، تر دې پوري چي که چېري اسم مشتق تمييز راسي، نو دا حضرات هغه تمييز نه جوړوي، بلکي هر هغه اسم کوم چي ابهام ليري کړى وى، هغه تمييز جوړول جائز دى، هغه که اسم جامد وي، که مشتق لکه په مذکور مثال کي (فارسًا) صيغه د اسم فاعل يعني اسم مشتق

تميېز واقع سوی دی، که چېري په واقع کي دا شرط وای. نو (فارسًا) به کله هم تميېز نه وای جوړ سوی.

②: پر هغو نحوي علماؤ رد کول، کوم چي ددې خبرې قائل دي، چي تميېز کله چېري له اسم ضمېر څخه واقع سوی و، نو د لومړي قسم يعني د ذات مذکوره تميېز کېږي، نو د کافيه ملاصاحب رحمه الله وويل: چي له ضمېر څخه پر واقع سوي تميېز سمدستي داسي حکم لګول، چي دا د ذات مذکوره تميېز کېږي مناسب نه دی، بلکي په دې کي که څه تفصيل وسي، بيا حکم ولګول سي، نو مناسب به وي، هغه په دې ډول، چي د ضمېر مرجع که چېري معلوم و، نو دا له ذات مقدره څخه تميېز واقع کېږي، ځکه چي په حقيقت کي مميّز ضمېر نه وي، بلکي دده مرجع وي او هغه دلته مذکور نه ده او که چېري مرجع معلوم نه وي، نو په دې وخت کي تميېز له ذات مذکوره څخه واقع کېږي، ځکه چي په دې حال کي ضمېر مبهم وي او هغه مذکور ده او له هماغه څخه تميېز واقع سوی دی (ايضاح المطالب ص: ۷۶).

(فارسًا) داسم فاعل صيغه ده، له (فارسة) څخه مأخوذده په معنا د آس په سپرلۍ کي کامل او ماهر کېدل او کله چي دغه کمال په يو چا کې حيرانوونکي حد ته ورسېږي، نو د تعجب پر وخت ددغه نسبت د الله جل جلاله وطرفته کېږي، ځکه چي د عجائباتو خالق الله جل جلاله دی.

د (در) معنا ده شيدې، عربو په شيدو کي د ځان لپاره ډېره لويه ښېګڼه نغښتله، ځکه د دوی اکثره ژوند په شيدو تېرېدی، نو د (در) لپاره خير لازم وي، نو ملزوم يې ذکر کړ او لازم يې ځينی مراد کړی دی، نو معنا داسي کېږي: د الله جل جلاله لپاره دی دغه خير کثير په اعتبار د سپرېدو.

او که چېري دا له (فراسة) څخه مشتق سي، نو معنا يې ده: ظاهر کتل، باطن معلومول، لکه چي شاعر ويلی دي:

د ليک مضمون د لفافې له ظاهر نه څرګندېږي

نو په دې صورت کي د مثال مذکور معنا داسي کېږي: چي د الله جل جلاله لپاره دی ده خير کثير په اعتبار د سپرتيا.

نه اویایم (۷۹) درس

د تمییز لپاره یوه قاعده اودوهم قسم لپاره دوې ضروري مسئلې

ثم ان كان اسمًا يصح جعله لِمَا انتصب عنه جاز ان يكون له و لمتعلقه و الا فهو لمتعلقه فيطابق فيهما ما قصد الا اذا كان جنسًا، الا ان يقصد الانواع وان كانت صفةً كانت له وطبقه واحتملت الحال ولا يتقدم التميز على عامله والأصح ان لايتقدم على الفعل خلافًا للمازنى والمبرّد.

ترجمه: بیا که چیرې تمییز داسې اسم وي، چې اطلاق یې پر منتصب عنه صحیح کیږي، نو جائز دي، چې له منتصب عنه او دده له متعلق څخه د یوه لپاره وبلل سي، که نه نو د متعلق لپاره کیږي، بیا تمییز په دغو دواړو صورتونو کي له هغه سره مطابق کیږي، د کوم چې قصد سوی وي، خو که چیرې تمییز صفت وي، نو د منتصب عنه لپاره کیږي او دهغه مطابق کیږي او دحال احتمال هم پکي سته او تمییز پر خپل عامل نسي مخکی کیدای او صحیح مذهب دادی، چې تمییز پر فعل نسي مقدم کیدای، امام مازني او امام مبرّد رحمهماالله اختلاف کړی دی.

تشریح: د نن په سبقه کي لومړی د تمییز د دوهم قسم د دوو ضروري مسئلو او بیا د تمییز د دوو قسمونو لپاره یوه قاعده بیانیږي.

د تمییز د دوهم قسم لپاره لومړی مسئله:

ثم ان كان اسمًا يصح جعله لما انتصب عنه: په دې عبارت سره د کافیه ملاصاحب رحمه الله له تمییز سره د تړلې یوې مسئلې بیان کوي، چې کوم تمیز له منتصب عنه یعنی له ممیّز سره خاص وي او کوم چې د منتصب عنه له متعلق سره خاص وي او په کوم کي د دواړو احتمال سته، مختصره خلاصه د ټولو داده، چې تمیز به یا اسم ذات وي، یا به اسم صفت وي، که چیرې ذات وي، نو پکی دواړه احتمالات سته او که چیرې اسم صفت وي، نو هغه صرف د ممیّز له متعلق څخه تمیز واقع کیږي، براه راست د ممیّز لپاره تمیز نسي جوړیدای.

د دې تفصیل دادی، چې که چیرې تمییز داسې اسم وي، چې حمل یې پر ممیّز کیدای سي، یعنی اسم ذات وي او د ممیّز لپاره خبر جوړیدای سي، نو دا د ممیّز او

دده د متعلق دواړو لپاره جوړول جائز دي، لکه (طاب زیدٌ ابًا) وګوره! دلته (ابًا) تمیېز دی، حمل یې پر ممیّز یعني (زید) صحیح دی، یعني د (زیدٌ) لپاره یې خبر جوړول صحیح دی، (زیدٌ ابٌ) ویل بلکل صحیح دي او د ده متعلق یعني د زید د پلار (بکر) لپاره هم تمیېز جوړېدای سي، ځکه چي دده لپاره هم دده خبر جوړول جائز دي، یعنی (بکرٌ ابٌ) ویل هم بلکل صحیح دي، لېکن قرینې ته په کتلو: ممیّز او دده د متعلق لپاره تمیېز جوړېږي، مثلاً زید له خپلو اولادونو سره ښه چلند او سلوک کوي، وویل سي (طاب زیدٌ ابًا)، نو دغه ښه چلند پر دې قرینه سوه، چي (ابًا) براه راست د (زیدٌ) تمیېز دی، په دې صورت کي معنا داسي کېږي: چي زید ښه دی د پلار کېدو په اعتبار سره.

او که چېري د زید پلار له زید سره ښه چلند کوي، وویل سي، چي (طابَ زیدٌ ابًا)، نو دده دپلار ښه چلند پر دې خبره قرینه ده، چی (ابًا) د زید متعلق یعنی له بکر څخه تمیېز واقع سوی دی، په دې صورت کي یې معنا داسي کېږي: چي زید ښه دی د خپل پلار په اعتبار سره.

و الا فهو لمتعلقه: دا له (ثم ان کان اسمًا) څخه یو استثنائي صورت دی، چي که چېري هغه اسم داسي وي، چي پر ممیّز یې حمل کول صحیح نه وي، یعنی اسم ذات نه وي، بلکي اسم صفت وي، نو صرف د منتصب عنه یعنی د ممیّز له متعلق څخه تمیېز جوړېږي، لکه (طاب زیدٌ دارًا یا طاب زیدٌ علمًا) غور وکړه! (زیدٌ دارٌ) او (زیدٌ علمٌ) نسي ویل کېدای،نو په دې صورت کي (دارًا او علمًا) د زید له متعلق څخه ابهام لیري کړی دی، نو د هماغه د متعلق لپاره دی تمیېز جوړېږي، نه چي پخپله د زید لپاره.

د تمیېز د دوهم قسم لپاره دوهمه مسئله:

فیطابق فیهما ما قصد: دوهمه مسئله یې په لومړۍ مسئله پسې راوړه، چي په مذکوره دواړو صورتونو کي یعني که د تمیېز حمل پر ممیّز صحیح وي، یا نه وي، په هر حال کي تمیېز له ممیّز سره مطابق راوړل کېږي، یعني که ممیّز مفرد

وي، نو تمیېز به هم مفرد وي او که تثنیه وي، که جمع وي، نو تمیېز به هم تثنیه او جمع راوړل کېږي.

د هغه تمیېز مثالونه کوم چي له ممیّز سره خاص وي، لکه (طاب زیدٌ نفسًا او طاب الزیدان نفسین او طاب الزیدون نفوسًا).

او د تمیېز مخصوص بالمتعلق مثالونه: (طاب زیدٌ دارًا، طاب الزیدان دارَین او طاب الزیدون دیارًا).

او د هغه تمیېز مثالونه، په کوم کي چي ددواړو احتمال وي مثلا (طاب زیدٌ ابًا، طاب الزیدان ابوَین او طاب الزیدون آباءً).

الا اذا کان جنسًا: چي په عامه توګه خو تمیېز له ممیّز سره موافق راوړل کېږي، لېکن که چېري تمیېز جنس وي، حمل یې پر ممیّز جائز وي، که نه وي او ممیّز مفرد، تثنیه، جمع، څرنګه چي هم وي، په هر صورت کي تمیېز مفرد راوړل کېږي، ځکه چي د جنس اطلاق پر قلیل او کثیر تولو کېږي، لکه (طاب زیدٌ علمًا او طاب الزیدان علمًا او طاب الزیدون علمًا).

الا ان یقصد الانواع: که چېري تمیېز جنس هم وي، لېکن د متکلم اراده دده انواع وي، نو په داسي صورت کي له ممیّز سره موافق راوړل کېږي، لکه (طاب زیدٌ علمًا او طاب ا لزیدان علمین او طاب الزیدون علومًا)، دا په هغه صورت کي ویل کېږي، کله چي د متکلم اراده دا وي، چي یو زید د علم د یوې نوعې په وجه ښه دی او بل زید ددوهمې نوعې په وجه ښه دی.

و ان کانت صفة کانت له وطبقه: داهم پر مخکني عبارت (ثم ان کان اسمًا) عطف دی، په دې کي وایې: چي که چېري تمیېز اسم ذات نه وي، بلکي اسم صفت یعني له اسماء مشتقه څخه کوم یو وي، نو دی د منتصب عنه لپاره تمیېز جوړېږي، ځکه چي د صفت لپاره موصوف ضروري دی او مذکور یعني منتصب عنه دخپل متعلق په مقابله کي زیات اولی او حقداره دی د موصوف جوړېدو لپاره.

له دې وروسته د کافیه ملاصاحب رحمه الله ویلي دي: (وطبقه) یعني دغه تمیېز له خپل منتصب عنه سره په افراد، تثنیه او جمع کي بلکل موافق راوړل کېږي، ځکه د موصوف او صفت تر مینځ مطابقت ضروري وي، لکه (طاب زيدٌ والدًا یا طاب زيدٌ فارسًا او طاب الزيدان فارسَين او طاب الزيدون فارسِين).

واحتملت الحال: مصنف رحمه الله وایې، چي که تمیېز له اسماء مشتقه څخه کوم اسم وي، نو عامه قاعده خو داده، چي دی د منتصب عنه لپاره صفت جوړېږي، لېکن یو احتمال په ده کی داهم سته، چي دی د ماقبل منتصب عنه لپاره حال جوړېږي: لکه په (طاب زيدٌ فارسًا) کي (فارسًا) د (زيدٌ) لپاره تمیېز هم جوړېږي، په دې صورت کي عبارت داسي کېږي: (طاب زيدٌ من حيث انه فارسًا) او حال هم جوړېږي، په دې صورت کي عبارت داسي کېږي: (طاب زيدٌ حال كونه فارسًا).

فائده: د مصنف رحمه الله د کلام له انداز څخه دا خبره جوتېږي، چي په داسي صورت کي د اسم صفت تمیېز جوړول راجح دي او حال جوړول یې هم که څه هم جائز خو دي، لېکن مرجوح دي او چېري چي د حال له جوړولو څخه معنا فاسدېږي، نو بیا یې حال جوړول نه صحیح کېږي.

د تمیېز د دواړو قسمونو لپاره یوه ضروري قاعده:

و لا يتقدم على عامله: درېیمه مسئله کومه چي د تمیېز له دواړو قسمونو سره متعلق ده، داده، چي تمیېز پر خپل عامل یعني پر ممیّز نسي مخکي کېدای، وجه یې داده، چي د تمیېز عامل اسم تام وي او هغه کمزوری قسم عامل دی، ولې که چېري تمیېز تر ده وروسته وي، نو پکي دا عمل کولای سي، لېکن که چېري تمیېز تر ده مقدم وي، نو بیا پکي عمل نسي کولای، نو د (عندی عشرون درهمًا یا کتبًا) پر ځای (عندی درهمًا عشرون کتبًا عشرون) نسي ویل کېدای.

والأصح ان لا يتقدم على الفعل: لومړی قاعده چي کومه وه، یعني چي د تمیېز عامل اسم تاوي، نو د عامل د ضعیف کېدو په وجه پر ده تمیېز نسي مخکي کېدای، دا متفق علیه مسلک دی، لېکن چېري چي د تمیېز عامل فعل وی، نو که څه هم عامل قوي دی، لېکن بیا هم تمیېز دده لپاره د فاعل په منزله وي، نو

ځرنګه چي فاعل پرخپل فعل نسي مخکي کېداى، دا راز تميېز هم پرخپل عامل (فعل) نسي مخکي کېداى، دا د جمهورو مسلک دى.

خلافًا للمازني والمبرّد: ابو عثمان بکر بن محمد بن عثمان المازني او دده شاګرد ابوالعباس المبرد دا دواړه حضرات وايي: چي په لومړي صورت کي خو موږ له تاسو سره يو، لېکن په دوهم صورت کي يعنى چيري چي د تميېز عامل فعل صريح وي، نو زموږ قول دادى، چي تميېز پرخپل عامل مخکي کېداى سي، ځکه چي فعل صريح قوي قسم عامل دى، نو که دده معمول پرده مخکى وي، يا وروسته وي، په هرصورت دى عمل پکي کولاى سي، لکه د (طاب زيدٌ نفسًا) پر ځاى (نفسًا طاب زيدٌ) ويل د جمهورو په نزد ناجائز دي او ددغو دواړو حضراتو په نزد جائز دى.

اتيايم (۸۰) درس

داتم منصوب (مستثنى) بيان

المستثنى متصلٌ و منقطعٌ، فالمتصل: هو المخرج عن متعدد لفظًا او تقديرًا بالّا وأخواتها والمنقطع: المذکور بعدها غير مخرج، وهو منصوبٌ اذا کان بعد الّا غيرالصفة فى کلام موجب، او مقدّمًا على المستثنى منه، او منقطعًا فى الاکثر اوکان بعد خلا وعدا فى الاکثر او ماخلا وماعدا و ليس ولا يکون.

ترجمه: مستثنى پردوه قسمه ده، متصل او منقطع، بيا متصل هغه اسم دى، کوم چي له متعدد څخه په لفظي توګه، يا په تقديري توګه د الّا او دهغې د اخواتو په ذريعه راوتلي وي او مستثنى منقطع هغه اسم دى، کوم چي ترالا وروسته سوى وي، لېکن له متعدد څخه نه وي راوتلى او هغه منصوب کېږي، کله چي ترالا غيرصفتي وروسته په موجب کلام کي وي، يا هغه پرمستثنى منه مخکي وي، يا مستثنى منقطع وي اکثره لغات يا د اکثره علماء نحو په نزد، يا وي ترخلا او عدا وروسته په اکثره استعمالاتو کي، يا هغه ترماخلا، ماعدا، ليسا و لايکون وروسته واقع سوي وي.

تشريح: د نن په سبقه کي دري خبري دي:

①: د مستثنی قسمونه او د هر یوه تعریف، ②: د څو ضروري اصطلاحاتو تفصیل، ③: د مستثنی لومړی اعراب یعنی د منصوب کېدو پنځه صورتونه.

د مستثنی قسمونه او د هر یوه تعریف

لومړی خبره: د مستثنی قسمونه او د هر یوه تعریف:

په ترکیبي اعتبار سره (المستثنی) مبتدا مؤخره ده او تر دې مخکي (ومنه) محذوف خبر مقدم دی، استثنی، یستثنی استثناء د استفعال له باب څخه دي، مصدري معنا یې ده (راوتل او را ایستل)او مستثنی کوم چي داسم مفعول یا اسم ظرف صیغه ده، معنا یې ده (راوتلی، یا د راوتلو ځای، یا ایستل سوی، یا د را ایستلو ځای).

او تر اصطلاحي معنا مخکي یې په دې پوه سه! چي مصنف رحمه الله د مستثنی دوه قسمونه بیان کړي دي: ①: مستثنی متصل، ②: مستثنی منقطع.

د مستثنی متصل اصطلاحي معنا بیانوي، چي (هوالمخرج عن متعدد لفظًا او تقدیرًا بالا وأخواتها) یعني مستثنی متصل هغه اسم ده، کوم چي د (الا) او دهغې د اخوات په ذریعه له متعدد څخه راوتلی وي، هغه متعدد شی که لفظي وي، لکه (جاءني القوم الا زیدًا) دلته (القوم) شئ متعدد دی او په لفظ کي ذکر سوی دی او (زیدٌ) د لفظ (الا) په ذریعه ځیني ایستل سوی دی.

او که هغه متعدد شئ په لفظ کي نه وي، بلکي تقدیري وي، لکه (ما جاءني الا زیدٌ) دا په اصل کي (ماجاءني احدٌ الا زیدًا) و، دلته (احدٌ) مستثنی منه په لفظ کي نسته، او زید د (الا) په ذریعه ځیني ایستل سوی دی.

تر دې وروسته د مستثنی منقطع اصطلاحي معنا بیانوي، چي (المذکور بعدها غیر مخرج) یعني مستثنی منقطع هغه اسم دی، کوم چي هماغه رازتر (الا) او دهغې تر اخوات وروسته مذکور وي، لېکن له هماغه شئ متعدد څخه نه وی را ایستل سوی، بلکي هغه له مخکي لا وتلی وي، ځکه هغه له سره د مستثنی منه له جنس څخه هم نه وي، لکه (جاءني القوم الا حمارًا) وګوره! دلته (حمارًا) د (الا) تر لفظ وروسته خو ده، لېکن له مخکني شئ متعدد یعنی (القوم) څخه نه

ده راوتلی، ځکه ایستل د هغه کېږي چې مخکې داخل وي (حمارًا) خو له مخکې څخه لا د قوم له افرادو څخه نه و، چې ځيني وايستل سي.

یادونه: د استثناء ټوټل حروف لس دي: (خلا، عدا، ماخلا، ماعدا، حاشا، لیس، لایکون، سوئ، سواءَ اوغیر) ددې ټولو ماقبل ته مستثنی منه او مابعد ته يې مستثنی ويل کېږي او پخپله دې حروفو ته ادوات استثناء ويل کېږي.

دوهمه خبره: د څو ضروري اصطلاحاتو تفصيل:

مناسبه ده، چې د مستثنی په بحث ترشروع کولو مخکې د تمهيد په ډول د څو ضروري اصطلاحاتو وضاحت وسي:

①: مستثنی: د دې تعريف سره له دوو قسمونو تېرسو، يعني متصل او منقطع.

②: مستثنی منه: يعني هغه متعدد، له کوم څخه چې د استثناء د حروفو په ذريعه بعضي افراد ايستل سوي وي.

③: کلام موجب: کلام موجب هغه کلام دی، په کوم کي چې نفي او استفهام نه وي، لکه (قرأت الکتاب ا لا صفحة).

④: کلام غير موجب: کلام غير موجب هغه کلام دی، په کوم کي چې له نفي او استفهام څخه کوم يو وي، لکه (لا تقرأ الا کتابًا علميًا).

⑤: مستثنی مفرغ: يعني هغه مستثنی ترکومه مخکې چې مستثنی منه مذکوره نه وي، لکه (ماجاءنی الا زيد).

⑥: مستثنی غيرمفرغ: يعنی هغه مستثنی ترکومه مخکې چې مستثنی منه په لفظ کي ذکر وي، لکه (جاءنی القوم الا زيدًا).

(۷): الاصفتي: يعني د (الا) هغه کلمه کومه چې د (غير) په معنا وي او تر دې وروسته واقع کېدونکی اسم مستثنی نه وي، بلکي د خپل ماقبل لپاره صفت واقع سوی وي، لکه (لو کان فيهما آلهة الا الله لفسدتا).

(۸): الا غيرصفتي: يعني د (الا) هغه کلمه ترکومه وروسته واقع کېدونکی اسم چې مستثنی وي، لکه (جاءنی القوم الا زيدًا).

دريمه خبره: د مستثنی لومړی اعراب يعني د منصوب کېدو پنځه صورتونه:

وهوالمنصوب اذاكان بعد الا غير الصفة: مصنف (علامه ابن حاجب رحمه الله) چې کله د مستثنی له تقسیم او تعریف څخه فارغ سو، اوس یې اعراب بیانوي، له (وهومنصوبْ) څخه تر (ولیس و لایکون) عبارت پوري مصنف رحمه الله د مستثنی لومړی اعراب یعنی د منصوب کېدو پنځه صورتونه بیانوي.

د منصوب کېدو لومړی صورت:

اذا کان بعد الا غیرالصفة فی کلام موجب: یعني کله چې مستثنی په کلام موجب کي وی، تر الا غیرصفتیه وروسته واقع وی، لکه (جاء نی القوم الا زیدًا).

د منصوب کېدو دوهم صورت:

او مقدمًا علی المستثنی منه: یعني کله چی مستثنی پر مستثنی منه مخکي وي، لکه (ماجاءنی ا لا زیدًا احدٌ).

د منصوب کېدو درېیم صورت:

او منقطعًا فی الأکثر: چي د نحوي د اکثرو علماؤ په نزد چي مستثنی منقطع وي، نو منصوبه به هم وي، هغه که په کلام موجب کي وي، لکه (جاءنی القوم الا حمارًا)، که په کلام غیر موجب کي وي، لکه (ماجاءنی القوم ا لاحمارًا).

فائده ①: په مذکوره درې سره صورتونو کي د مستثنی منصوب ویل ځکه واجب دي، چي دا په فضله کېدو کي له مفعول به سره مشابه دی او مفعول به چونکه منصوب وي،نو دا به هم منصوب وي او دوهمه وجه داده، چي په دغو ځایونو کي مستثنی د خپل ماقبل لپاره بدل نسي کېدای، د دې لپاره چي د مبدل منه اعراب دېته ورکول سي ا و نه تر دې مخکي کوم حرف جر راتلای سي او نه کوم اسم مضاف، د دې لپاره چي دا مجروره وویل سي، نو د دې منصوب ویل متعین کړل سو.

فائده ②: د کافیه ملاصاحب رحمه الله په (فی الاکثر) عبارت سره دا خبره معلومه کړې، چي په دې کي اختلاف دی، یوه طرفته د نحوي جمهور علماء دي، د کومو چي مسلک ذکر سو او دوهم طرفته علماء بني تمیم دي، دا حضرات

وايي، چي پر مستثنى منقطع سمدستي دا حکم لګول چي دا به منصوب وي
صحيح نه دی، ځکه چي مستثنى منقطع پر دوه قسمه ده:
①: لومړی قسم دادی، چي د مستثنى منه حذفول جائز وي، لکه (ماجاءني القوم
لاحمارًا) دلته د (القوم) په حذف کېدو سره په معنى کي هيڅ خرابي نه راځي،
که چي مستثنى متصل کله په کلام موجب کي وي، نو لکه څرنګه چي د هغې
رفوع (دبدليت پر بنا) او منصوب (د مستثنى کېدو پر بنا) ويل جائز دي، لکه
ماجاء ني القوم الا زيدًا) او (ماجاءني الا زيدًا) بلکل همداسي دی، دا هم مرفوع
د بدليت پر بنا) او منصوب (د مستثنى کېدو پر بنا) ويل جائز دي.
②: چيري چي د مستثنى منه حذفول جائز نه وي، لکه (لاعاصم اليوم من امر الله
لا من رحم)، دلته (عاصم) مستثنى منه دی، چي حذفول يې ناجائز دي، ځکه
ى دا دلاء نفي جنس اسم دی او دا حذف کېدای نسي، نو (من رحم) کوم چي
مستثنى دی، دا محلا منصوب کېږي او منصوب ويل يې صرف جائز نه، بلکي
واجب دي.

منصوب کېدو څلورم صورت:

و کان بعد خلا وعدا في الأکثر: چي تر (خلا او عدا) وروسته هم د اکثره علماء
نحو په نزد مستثنى په وجوبي ډول منصوبه کېږي، لکه (جاءني القوم خلازيدًا
وعدا زيدًا).

ا حضرات ددغه د منصوب کېدو وجه دا بنيي، چي (خلا او عدا) دواړه فعلونه
ي، لکه (خلا يخلوخلوًا او عدا يعدو عدوًا) د نصرينصر له باب څخه ناقص
واوي دي، په معنا د تجاوز کولو او (هو) ضمير پکي فاعل دی، کوم چي د
مخکني فعل د مصدر وطرفته راجع دی او مستثنى دده لپاره مفعول به دی، نو
لکه څرنګه چي د مفعول به منصوب کېدل واجب دي، دا راز دده منصوب کېدل هم
واجب دي.
د کافيه ملا صاحب (في الأکثر) قيد لګولی دی، ځکه چي د ځيني علماء نحو په
نزد (خلا او عدا) دواړه حرف جر دي، نو د دوی په نزد پر دغو دواړو ځايونو

مستثنی مجروره کېږي، لکه (جاءنی القوم خلا زیدٍ وعدا زیدٍ) لیکن دوی په مقابله کي د اکثره علماء نحو مذهب ځکه راجح دی، چي په (خلا اوعدا) کي د فعلیت اعتبار زیات دی په نسبت د حرفیت، ځکه چي پر دغو دواړو کله کله (ما)مصدریه هم داخلېږي او قاعده ده، چي (مامصدریه) پر فعل داخلېږي، پر حرف کله هم نه داخلېږي، نو دا خبره معلومه سوه، چي دا دواړه فعل دي، حرف نه دي.

د منصوب کېدو پنځم صورت:

او ماخلا و ماعدا ولیس ولایکون: پنځم ځای چېري چي د مستثنی منصوب کېدل واجب وي دادی، چي مستثنی په (ماخلا، ماعدا، لیس اولایکون) کي تر کوم یوه وروسته واقع سوي وي، لکه (جاءنی القوم ماخلا زیدًا وماعدا زیدًا) د عبارت تقدیر داسي کېږي: (جاءنی القوم خلا مجیئهم زیدًا، یا جاءنی ا لقوم خلاالجائي منهم زیدًا) وقس علیه مثال عدا.

تر (ماخلا او ماعدا) وروسته مستثنی ځکه منصوب کېږي، چي دا دواړه فعل دي، ځکه چي په شروع کي یې (مامصدریه) راغلې ده او ضمېر یې فاعل دی او مستثنی مفعول به ده، نو د مفعولیت پر بنا دده منصوب کېدل واجب دي او بیا پوره جمله فعلیه له (القوم) څخه د حال واقع کېدو په وجه محلا منصوب کېږي (کما مرت امثلته آنفًا).

او تر (لیس او لایکون) وروسته مستثنی ځکه منصوب کېږي، چي دا دواړه له افعال ناقصه څخه دي او د استثناء په بحث کي ددوی فاعل د تل لپاره ضمېر مستتر وي، کوم چي د ماقبل فعل د اسم فاعل وطرفته راجع دی او مستثنی یې خبر کېږي او د دوی خبر چونکه منصوب وي، نو مستثنی هم منصوب کېږي او بیا دا دواړه له خپل اسم او خبر سره له مستثنی منه څخه د حال واقع کېدو په وجه محلا منصوب کېږي، لکه (جاءنی القوم لیس زیدًا) د دې عبارت تقدېر داسي کېږي: (جاءنی القوم لیس الجائي منهم زیدًا) او جاءنی القوم لا یکون زیدًا) د دې تقدیري عبارت داسي کېږي: (جاءنی القوم لایکون الجائی منهم زیدًا).

یواتیایم (۸۱) درس

د مستثنی داعراب دوهم او دریم صورت

و یجوز فیه النصب، ویختارالبدل فی مابعد (الا) فی کلام غیرموجب و ذُکرَ المستثنی منه، مثل: مافعلوه الا قلیلٌ و الا قلیلًا، ویعرب علی حسب العوامل اذا کان المستثنی منه غیر مذکورٍ وهو فی غیرالموجب، لیفید مثل: ما ضربنی الا زیدٌ، الا ان یستقیم المعنی، مثل: قرأت الا یوم کذا ومن ثم لم یجز ما زال زیدٌ الا عالمًا.

ترجمه: او جائز دی په دې کې نصب او بدل جوړول مختاره دي، په دې صورت کې چې کله مستثنی تر الا وروسته په کلام غیرموجب کې وي او مستثنی منه مذکوره وي، لکه (مافعلوه الا قلیلٌ او الا قلیلا) او دېته اعراب ورکول کېږي د عواملو پر مقتضا باندې، کله چې مستثنی منه مذکوره نه وي، په داسې حال کې چې مستثنی په کلام غیر موجب کې وي، د دې لپاره چې هغه صحیح فائده ورکوي، لکه: (ماضربنی الا زیدٌ)، خو کله چې معنا صحیح وي، لکه (قرأت الا یوم کذا) او له همدې وجې جائز نه دی (مازال زیدٌ الا عالمًا).

تشریح: د نن په سبقه کې د مستثنی دوهم او دریم اعرابي صورتونه بیانېږي:

د مستثنی د اعراب دوهم صورت: نصب جائز او بدل غوره او مختاره:

و یجوز فیه النصب ویختار البدل: مصنف رحمه الله د مستثنی د اعراب دوهم صورت بیانوي، چې مستثنی کله په کلام غیرموجب کې تر (الا) وروسته واقع سوي وي او مستثنی منه مذکوره وي، نو دا مستثنی د استثنا پر بنا منصوب ویل هم جائز دي، خو د بدلیت پر بنا د مبدل منه په اعراب ویل یې زیات اولی او غوره دي، لکه (مافعلوه الا قلیلٌ منهم) د استثناء پر بنا منصوب یعني (مافعلوه الا قلیلًا) ویل هم جائز دي، لیکن دبدلیت پر بنایې مرفوع ویل اولی او غوره دي، یعني (قلیل) د (فعلوه) د ضمیر فاعل لپاره بدل البعض جوړېږي، ځکه چې تر (الا) وروسته که چېرې بدل وي، نو هغه بدل البعض جوړېږي.

په دې قسم کې دوې وجې ځکه جائز دي، چې د نصب په صورت کې مستثنی متصل وي او هغه په فضله کېدو کې له مفعول به سره د مشابه کېدو پر بنا منصوبه کېږي او په دوهم صورت کې د مستثنی منه لپاره بدل البعض کېږي او

په بدل او مبدل منه دواړو کي مقصود بدل وي او همدا وجه تر نوموړی وجه ترجیح
دهٔ، د راجح کېدو وجه یې داده، چي دبدل په صورت کي اعراب پېله کومې
واسطې راځي او د مستثنی په صورت کي د عامل او معمول ترمینځ (د الا)
واسطه وي او دا ښکاره خبره ده، چي تر اعراب بالواسطه اعراب بېله واسطې
غوره او اولی دی، مصنف رحمه الله چي کوم مثال راوړی، هغه د رفع دی، د جر مثال
دا سي جوړېږي: (ما مررت باحدٍ الا زیدٍ) او د نصب صورت داسي جوړېږي: (ما
رأیت احدًا الا زیدًا)، په حالت نصبي کي دبدل او مستثنی دواړو اعراب یو رنګه
کېږي، لیکن اعتباري فرق یې سته، یعني اعراب که چېري بالواسطه سي، نو د
استثنا پر بنا منصوب کېږي او که چېري بېله واسطې سي، نو د بدلیت پر بنا
منصوب کېږي.
د کافیه ملاصاحب رحمه الله د اعراب د دغه قسم لپاره دري شرطونه بیانوي:
①: فی مابعد الا، یعني مستثنی به تر (الا) وروسته واقع وي، په دې سره یې
نه هغې مستثنی احتراز وکړ، چي د (الا) تر اخوات وروسته واقع وي، ځکه چي
د هغې لپاره دا اعراب نه دی، بلکي له هغو ځنې د ځینو (خلا، عدا وغیره) حکم
بیان سوی دی او د ځینیو دا را روان دی.
②: فی کلام غیرموجب: یعني مستثنی به په کلام غیرموجب کي وي، په دې
سره یې له هغې مستثنی څخه احتراز وکړ، کومه چي په کلام موجب کي وي؛
ځکه چي د هغې لپاره دا حکم نه دی، بلکي په هغې کي نصب واجب وي (کمامر
سابقًا).
③: و ذکرالمستثنی منه: دریم شرط یې دا لګولی، چي مستثنی منه به مذکوره
وي، او چېري چي مستثنی منه مذکوره نه وي، یعنی مستثنی مفرغ وي، نو
دهغې اعراب له عواملو سره سم راځي (کما یأتی امامنا فی الدرس القادم ان
شاءالله تعالی).

و یعرب علی حسب العوامل اذاکان المستثنی منه غیرمذکور وهو فی غیرالموجب:
دا د مستثنی د اعراب دریم صورت دی، کوم چي په مذکوره عبارت کي مصنف

ﷺ ذکر کړی دی، دلته د (حَسَبَ، مقتضی) په معنی دی او که د (علی، بأ،)
، معنی سي، نو عبارت داسي جوړېږي: (و یعرب بمقتضی العامل) مطلب دا
ي په کلام غیر موجب کي چي کله مستثنی منه مذکوره نه وي، نو دېته اعراب
عامل له خوښې سره سم ورکول کېږي، یعنی که چېري عامل د رفع تقاضا
وله، نو دېته رفع ورکول کېږي، لکه (ماجاءنی الا زیدٌ) او که عامل د نصب
وښتنه کوله، نو دېته نصب ورکول کېږي، لکه (ما رأیت الا زیدًا) او که یې د جر
اضا کوله، نو دېته جر ورکول کېږي، لکه (ما مررت الا بزید).
صنف رَحِمَهُ اللهُ د مذکوره اعراب لپاره دوه شرطونه بیانوي:

ومړی شرط:

ا کان المستثنی منه غیر مذکور: یعنی مستثنی ته دغه اعراب هغه مهال ورکول
ېږي، کله چي مستثنی منه مذکوره نه وي، یعنی مستثنی مفرغ وي، لېکن که
ېري مستثنی منه مذکوره وه، نو هغه به له دوو حالونو خالي نه وي، یا به په
لام موجب کي وي، یا به په کلام غیر موجب کي وي، د دغو دواړو صورتونو
کم تېر سوی دی، چي په لومړي صورت کي نصب ویل واجب دی او په دوهم
ورت کي نصب جائز او بدل مختار او غوره دی.

وهم شرط:

هو فی غیرالموجب: دوهم شرط یې دا لګولی، چي د مذکوره اعراب لپاره د
ستثنی په کلام غیر موجب کي کېدل شرط دی، ددې وجه پخپله مصنف رَحِمَهُ اللهُ
ه (لیفید) عبارت کي بیان کړې ده، یعني دا شرط ځکه ورسره لګول سوی، چي
ا کلام صحیح او مفید جوړ سي او سامع ته هم د کلام صحیح فائده ورسېږي،
که (ماضربنی الا زیدٌ) په دې مثال سره بلکل صحیح معنا فائده کېږي، ځکه
چي دا ممکن ده، چي متکلم دي له زید پرته هېچا هم نه وي وهلی، ددې پر خلاف
که چېري مستثنی مفرغ په کلام موجب کي وی، لکه (ضربنی الا زیدٌ)، نو سامع
ته د متکلم ددې کلام صحیح فائده نه رسېږي، ځکه چي دا خو کېدای نسی، چي
متکلم دي له زید پرته نور ټول انسانان وهلي وي، ځکه د ډېر انسانان د متکلم تر

پيدا كېدو مخكې تېر سوي دي او فناء سوي دي، او ډېر انسانان د متكلم تر وفات كېدو وروسته دنيا ته راځي، نو بيا دا څرنګه ممكن ده، چې متكلم دې له زيد پرته نور ټول انسانان وهلي وي، نو دا دوهم شرط د معنى د صحيح كېدو لپاره لګول سوى دى.

الا ان يستقيم المعنى: دا د مصنف رحمه الله له دې عبارت (وهو فى غيرالموجب) څخه يو استثنائي صورت بيانوي، چې مستثنى مفرغ په كلام موجب كې نسبي واقع كېداى، ځكه چې دا خبره تېره سوه، چې په داسې حالت كې د معنى خرابي لازمېږي، لېكن چېرې چې د معنى خرابي نه لازمېږي، نو هلته د مستثنى مفرغ په كلام موجب كې واقع كېدل جائز دي، مثلا هلته كومه داسې قرينه وي، چې پر دې خبره دلالت كوي، چې له مستثنى منه څخه بعض متعين افراد مراد دي، لكه چې ددې لپاره مصنف رحمه الله مثال راوړى دى: (قرأت الا يوم كذا)، دلته له مستثنى منه څخه ځيني متعين افراد مراد دي، مثلا يو طالب العلم ووايې: (قرأت كل الأسبوع) ما پوره هفته (اونى) قراءت ووايه، بل يو ووايې: (قرأت الا يوم الجمعة) ما له جمعې پرته پاتې نوره اونى قراءت ووايه او پر دې وروستني كلام قرينه د مخكني طالب العلم كلام دى، نو د دوهم طالب العلم په وينا كې (كل الاسبوع) مستثنى منه محذوف ده.

ومن ثم لم يجز مازال زيدٌ الا عالمًا: دا پر مخكنى مسئله تفريع وړاندې كوي، چې مستثنى مفرغ په كلام موجب كې هغه مهال واقع كېږي، كله چې يې معنى صحيح وي، كه نه نو په كلام موجب كې نه واقع كېږي، ځكه چې مصنف رحمه الله يو مثال راوړى دى، چې له همدې وجې نو (مازال زيدٌ الا عالمًا) ويل صحيح نه دي، ځكه چې (مازال زيدٌ) مستثنى مفرغ ده او (الا عالمًا) مستثنى په كلام موجب كې واقع سوې ده، دا ځكه كلام موجب دى، چې (ما) هم نافيه ده او (زال) هم د نفې لپاره ده او قاعده ده چې نفې پر نفې داخله سي، نو اثبات فائده كوي، نو د دې معنا داسې كېږي: (ثبت زيدٌ دائمًا علىٰ جميع الصفات الا علىٰ صفة العلم)، يعنى زيد د تل لپاره د علم له صفت پرته په نورو ټولو صفاتو سره

متصف وي او د دې باطلېدل خو ښكاره دي، ځكه چي د زيد لپاره د ټولو صفاتو (ممكنه، غيرممكنه، متضاد او غير متضاد) ثابتېدل محال دي.

دوه اتيايم (۸۲) درس

يوه قاعده او پر هغې ديوې شبهې د له مينځه وړلو بيان

واذا تعذّرالبدل على اللفظ فعلى الموضع مثل: ماجاءنى من احدالا زيدٌ، ولا احد فيها الا عمرو، وما زيدٌ شيئًا الا شئٌ لا يُعبأبه، لأن (من) لا تزاد بعد الاثبات، و(ماولا) لا تقدران عاملتين بعده، لأنهما عملتا للنفى وقد انتقض النفى بالا، بخلا ف ليس زيدٌ شيئًا، لأنهما عملت للفعلية، فلا أثر فيها لنقض معنى النفى لبقاء الأمر العاملة هى لأجله ومن ثم جاز ليس زيدٌ الا قائمًا وامتنع ما زيدٌ الا قائمًا.

ترجمه: او كله چي د لفظ په اعتبار بدل جوړېدل متعذر (محال) سي، نو د محل په اعتبار كېږي، لكه (ماجاءنى من احدالا زيدٌ، ولا احد فيها الا عمرو، وما زيدٌ شيئًا الا شئٌ لا يُعبأبه)، ځكه چي (من) تر اثبات وروسته نسي راتلای او ما ولا د عامل كېدو په صورت كی تر اثبات وروسته نسي مقدركېدای، ځكه چي دا دواړه د نفې له وجې عمل كړی و او يقينًا د الا په وجه نفي له مينځه ځي، په خلاف د (ليس زيدٌ شيئًا الا شيئًا)، ځكه چي ليس د فعل كېدو په وجه عامل ده او د نفی د معنى په له مينځه وړلو دده په عمل كي هيڅ اثر نه كېږی، ځكه چي هغه امرتر اوسه باقي دی، د كوم په وجه چي ليس عمل كاوه او له همدې وجې جائز دي (ليس زيدٌ الا قائمًا) او منع دی (ما زيدٌ الا قائمًا).

تشريح: د نن په سبقه كي يوه قاعده او ديوې شبهې د ازالې بيان كېږي:

له و اذا تعذّر البدل) عبارت څخه تر (ما زيدٌ الا قائمًا) پوري مصنف رحمه الله يوه قاعده بيانوي، په اصل كي ددې قاعدې تعلق د مستثنى د اعراب له دوهم صورت سره دی، هلته موږ ويلي وه، چي (ويجوزفيه النصب ويختارالبدل فيما بعد الا فى كلام غيرموجب وذكرالمستثنى منه) يعنى په كلام موجب كي چي مستثنى منه تر (الا) وروسته واقع وي، نو د دې منصوب ويل هم جائز دی،

لېكن د مستثنى منه له لفظ څخه د بدل کېدو پر بنا د مبدل منه په اعراب سره ويل يې اولىٰ او مختاره دي، اوس دلته دا قاعده بيانوي، چې چېري مستثنى د مستثنى منه له لفظ څخه بدل کېدل متعذر وي، نو هلته د مستثنى منه له محل څخه دا بدل جوړېږي، د دې لپاره چې په اولىٰ تر وسه پوري عمل وسي، لكه (ماجاءنى من احد الا زيدٌ ولا احد فيها الا عمرو ومازيدٌ شيئًا الا شئ لا يُعبأبه) په دغو ټولو مثالونو كي د (الا) مابعد د ماقبل مستثنى منه له محل څخه بدل جوړېږي.

پر مذكوره قاعده دلېل:

لأن مِن لا تزاد بعدالاثبات: په دې عبارت كي مصنف رحمه الله له لفظ څخه د بدل د تعذر وجه او دلېل بيانوي، چې په لومړی مثال (ماجاء نى من احد الا زيدٌ) كي كه چېري مورِ (الا زيدٌ) له (من احد) څخه بدل ومنو، نو د (من) استغراقيه په كلام موجب كي راتلل لازمېږي، كوم چي بالاتفاق ناجائز دى او دا ځكه كلام موجب دى، چي كله په يوه جمله كي تر نفې وروسته (الا) راسي، نو له هغې څخه د نفې معنا ختموي، او د نفې معنا چې كله ختم سي، نو كلام موجب کېږي، يا په بل عبارت داسي هم ويل کېداى سي، چې دلته د (من) داخلېدل پر زيد لازمېږى او زيد د اثبات په محل كي دى، ځكه چي تر (الا) مخكى كله نفي وي، نو تر هغې وروسته اثبات وي او زيد چونكه تر دې وروسته دى، نو د اثبات په محل كي کېدل يې ثابت سو.

او بدل چونكه د عامل د تكرار په حكم كي وى، ځكه چي تقديري عبارت يې داسي کېږي: (ماجاءنى من احد الا زيدٍ) او معنى يې داسي کېږي: (جاءنى من زيدٍ).

د دې د عدم جواز يوه وجه خو داده، چې (من) په كلام موجب كي راغلى دى، كوم چي ناجائز دى او دوهمه وجه يې داده، چې پر فرد واحد (زيد) د (من) استغراقيه داخلېدل لازمېږى او داهم ناجائز دى، ځكه چي (من) استغراقيه تل پر كلي داخلېږي، نو له دغو محظوراتو (خنډونو) څخه د ځان ساتنې لپاره (زيد) په اعتبار د محل بدل و بلل سو او (من احد) چونكه محلا د فاعليت پر بنا مرفوع دى، نو (زيد) هم مرفوع وويل سو.

دوهم مثال یعني (لا احد فیها الا عمرو) په دې کې عمرو د (احدٌ) له محل څخه بدل دی او (احدٌ) چونکه د ابتداء پربناء مرفوع دی، نو (عمرو) هم د بدلیت پربناء مرفوع سو.
او دریم مثال هم (ما زیدٌ شیئًا الا شیءٌ لا یُعبأبه) په دې کی (شیءٌ) د مخکني (شیئًا) له محل څخه بدل واقع کېږي او هغه (شیئًا) چونکه د خبریت پر بناء محلا مرفوع دی، نو (شیءٌ) هم مرفوع سو.
په دې دوارو مثالونو کې که چېرې مستثنی د مستثنی منه پر لفظ حمل سي، نو بدل چونکه د عامل د تکرار په حکم کی وي، نو که چېرې موږ وغواړو چې (ماولا) تر بدل مخکې مقدر ومنو، نو د دې لپاره موږ له مصنف رحمه الله څخه پوښتنه کوو، چې صاحبه! آیا داسې کول جائز دي؟، نو راته به ونه وایې، چې هوکې!، ځکه چې قاعده ده، چې (ما و لا تقدران عاملتین بعده) یعني (ما ولا) چې عامل وي، تر اثبات وروسته مقدر کېدای نسی، دلیل یې دادی، چې (لأنهما عملتا للنفی) یعني دغو دواړو ځکه عمل کړی، چې په دوی کې د نفي معنا وه، لېکن (وقد انتقض النفی بالا) یقینًا هغه نفي د الا په ذریعه ختمه سوه، یعنی کله چې (الا) حرف استثناء تر ده وروسته نفي له مینځه یوورِه، نو ګواکی چې له دې څخه دعمل قوت ختم سو او کله چې د عمل قوت ختم سو، نو به دوهم مثال کې (عمرو) او به دریم مثال کې (شیءٌ) د مستثنی منه پر لفظ په حمل کولو او له هغه څخه د بدل منلو پر بنا منصوب نسي ویل کېدای، بلکې (عمرو) د (احدٌ) پر محل په حمل کولو مرفوع ویل کېږی او (شیءٌ) د (شیئًا) له محل څخه بدل کېږي او د خبریت پر بنا مرفوع ویل کېږي.

یوه شبهه او د هغې ازاله:

بخلاف لیس زیدٌ شیئًا الا شیئًا: په دې عبارت سره مصنف رحمه الله د یوې شبهې ازاله کوي، شبه دا کېدای سي، چې (ما اولا) دواړه مشابه دي له (لیس) سره، نو (لیس) مشبه به سو او قاعدہ ده، چې په اکثرو ډول مشبه به اولیٰ وي په نسبت د مشبه، نو اوس د یوه طالب العلم په ذهن کې دا شبه کېدای سي، چې له (ما اولا) څخه د نفي د معنا د ختم کېدو په وجه د دوی عمل هم نه پاتېږي، نو کله چې مشبه

كومه چې ادنیٰ ده، ددې داحالت دی، نو مشبه به يعني (ليس) كومه چې اعلیٰ ده، ددې خو په طريقه اولیٰ داسي حالت كېږي، يعني له (ليس) څخه كه چېري د نفې معنا ختم سي، نو عمل يې هم نه پاتېږي؟

د دغې شبهې د له مينځه وړلو لپاره مصنف رحمه الله وويل: (بخلاف ليس زيدٌ شيئًا الا شيئًا) يعني په خلاف د (ليس) كه چېري له ليسْ څخه دنفي معنا ختم هم سي، نو بيا هم دا په بدل كی عمل كوي.

د دې وجه پخپله د كافيه ملاصاحب رحمه الله را ښيي، چي (لأنها عملت للفعلية) يعني ځكه چي (ليس) د نفي د معنی د شتون له وجې عمل نه كوي، بلكي د فعل كېدو په وجه عمل كوي، نو (الا) حرف استثناء كه څه هم د (ليس) معنی نفي ختم كړي، لېكن (فلا اثر فيها لنقض معنى النفى) يعني د نفي د معنی له ختمېدو سره، سره ددې عمل نه ختمېږي، ولې؟ (لبقاء الأثر العاملة هى لاجله) يعني دنفي معنی كه څه هم له ليس څخه ختم سي، لېكن له كومې وجې چي هغه عمل كاوه، هغه اوس هم باقي ده او هغه ده كلمه دفعل كېدل او ددې فعل كېدل اوس هم باقي دي، ځكه چي (شيئًا) تر (الا) مخكي د (شيئًا) له لفظ څخه په بدل كېدو منصوب ويل كېږي.

ومن ثم جاز ليس زيدٌ الا قائمًا: په دې سره پر مخكني اصل د نفي ا و اثبات په اعتبار يوه تفريع بيانوي، چي (ليس زيدٌ الا قائمًا) ويل خو صحيح دي، ځكه چي د (الا) په وجه د (ليس) معنی نفي كه څه هم ختم سوې، لېكن (ليس) د معنی نفې په وجه عامل نه وه، بلكي د فعليت په وجه وه، او فعليت تر اوسه باقي دی.

(وامتنع ما زيدٌ الا قائمًا) چی (مازيدٌ الا قائمًا) ويل صحيح نه دي، د دې وجه تېره سوې ده، چی (ما اولا) د معنی نفي په وجه عامل دي، نو كله چي (الا) له (ما) څخه نفې ختم كړي، نو ددې عامل كېدل هم ختم سوه، ځكه نو (ما زيدٌ الا قائمًا) ويل صحيح نه سو.

دري اتیایم (۸۳) درس
دمستثنی د اعراب څلورم صورت

و مخفوضٌ بعد غیر و سویً و سواء و بعد حاشا فی الأکثر واعراب (غیر) فیه کاعراب المستثنی بالاعلی التفصیل.

ترجمه: او مستثني چي تر غیر، سوی او سواء وروسته وي مجروره وي، او تر حاشا وروسته په اکثره استعمالاتو کي، او د غیر اعراب د استثناء په باب کي د مستثنی په الا د اعراب په ډول دی، د هماغه تفصیل مطابق کوم چي تېر سو.

تشریح: وروره! د نن په سبقه کي صرف دوې خبرې دي:

①: د مستثنی د اعراب څلورم قسم، ②: د غیر اعراب.

لومړی خبره: د مستثنی د اعراب څلورم قسم:

و مخفوضٌ بعد غیر وسِوی وسواءَ: د مستثنی د اعراب څلورم صورت بیانوي، چي مستثنی که چېري تر (غیر، سِوی او سواء) وروسته راغلي وه، نو په اتفاق سره مجروره کېږي، ځکه چي دا درې سره مضاف جوړېږي او مستثنی مضاف الیه، نو د مضاف الیه کېدو په وجه مستثنی مجروره کېږي.

له دغو دریو پرته د اکثر علماء نحو مذهب دادی، چي که چېري مستثنی تر (حاشا) وروسته وي، نو هم مجروره کېږي، لېکن مجرور بالاضافت نه، بلکي مجروره بحرف الجر کېږي، ځکه چي دا حضرات وایي، چي (حاشا) له حروف جاره څخه ده، لکه (ضرب القوم عمروا حاشازید) ای برأه الله سبحانه وتعالی عن ضرب عمرو) یعني الله ﷻ هغه ذ عمرو له وهلو وساتی.

لیکن ذ نحو ځیني علماء مثلا امام مبرد دا فعل بولي، ځکه هغه وایي: چي دا د(جانب) په معنا دی، لکه په دعاء کي چي مونږ وایو: (اللّٰهمّ اغفرلی ولمن سمع دعائي حاشاالشیطان) او ددې معنا داده: چي مستثنی دی الله ﷻ پاک او بری کړي له هغه شی څخه کوم چي د مستثنی منه وطرفته منسوب دی، نو د دوی په نزد که چېري مستثنی تر (حاشا) وروسته وي، نو د هغې مستثنی په څېرمنصوب

كېږي ، كومه چي تر (ماخلا او ماعد) وروسته وي، د كوم چي بهپوره تفصيل د لومړي صورت په پنځم مقام كي ملاحظه كړئ.

دغيراعراب

دوهمه خبره: د غير اعراب:

واعراب غير فيه كاعراب المستثنى بالا على التفصيل: د كافيه ملاصاحب رحمه الله چي كله د مستثنى له اعراب څخه فارغ سو، نو اوس د (غير) د اعراب بيان كوي، لېكن پر دې به يو طالب العلم ته سوال پيداكېدى، چي د استثناء له ادواتو څخه صرف د (غير) داعراب بيانولو ضرورت ولي پېښ سو، يا خو به يې د ټولو اعراب بياناوه، يا به يې د (غير) اعراب هم نه بياناوه، چي ټول سره برابر سي؟ د دې جواب دادى، چي ددې ضرورت څكه پېښ سو، چي دا اسم متمكن دى او اسم متمكن اعراب ته ضرورت لري، په خلاف د نورو اخواتو دغير، چي په هغو كي اكثره مبني دي او د ځينو لپاره اعراب له مخكي لا متعين دى، مثلا (الا) د حرف كېدو په وجه مبني ده او (خلا، عدا، ماخلا، ماعدا، ليس) د فعل ماضي كېدو په وجه مبني دي او مبني اعراب نه قبلوي، له دوى پرته (سوى او سواء) لازم النصب دي، لكه چي د څلورمې خبرې په ضمن كي به راسي او (لايكون) فعل مضارع ده، پر كومه چي د عواملو په حسب اعراب راځي او (حاشا) هم د اكثره علماء نحو په نزد له حروف جاره څخه دى، نو دا مبني سو او مبني اعراب نه قبلوي، څكه نو دكافيه ملاصاحب رحمه الله مناسب وبلل، چي صرف د (غَير) اعراب بيان كړل سي، لكه د كافيه ملاصاحب رحمه الله چي وويل: چي (واعراب غير فيه كاعراب المستثنى بالا على التفصيل) يعني كلمه د (غير) چي كله د استثناء په باب كي مستعمل سي، نو اعراب يې دمستثنى په (الا) د اعراب په دول دى، يعني په كومو صورتونو كي چي مستثنى تر (الا) وروسته واقع وي او پر هغې كوم اعراب راځي، كه چېري په همدغو صورتونو كي د (الا) پر ځاى (غير) راسي، نو هماغه د مستثنى اعراب پر (غير) راځي او مستثنى د (غيرَ) په وجه مجروره كېږي، مثلا: مستثنى په كلام موجب كي تر (الا) وروسته واقع

وي، نو منصوب کېږي، نو د (الا) پر ځای که چېرې (غیر) راسي، نو هغه مستثنی مجروره کړي ددې اعراب پخپله قبلوي، لکه (جاءنی القوم غیرَ زیدٍ).
دا رازچې کله مستثنی منقطع تر (الا) وروسته واقع سي، نو منصوب کېږي، خو د (غیر) د (الا) پر ځای په راتلو مستثنی مجروره کېږي او د (غیر) کلمه منصوب ویل کېږي، لکه (جاءنی القوم غیرَ حمارٍ).
او مستثنی په (الا) چې کله پر مستثنی منه مقدم وي، نو هغه منصوب کېږي، نو په داسي حالت کي (غیرَ) هم منصوب کېږي، لکه (ماجاء نی غیرَ زیدالقوم).
او مستثنی چې کله تر (الا) وروسته په کلام غیر موجب کي وي او مستثنی منه مذکوره وي، نو نصب یې هم جائز دی او بدل جوړول یې هم، لکه (ماجاءنی احدٌ غیرَ زیدٍ) ویل هم جائز دي. او (ماجاءنی احدٌ غیرَ زیدٍ) ویل هم جائز دي.
او کله چې مستثنی مفرغ تر (الا) وروسته په کلام غیر موجب کي وي، نو په داسي صورت کي یې اعراب بحسب العوامل کېږي، نو په داسي ځای کي د (غیرَ) اعراب هم بحسب العوامل کېږي، لکه (ماجاءنی غیرُ زیدٍ وما رأیتُ غیرَ زیدٍ ومامررتُ بغیرزیدٍ) (خیرالنحوص: ۲۰۸).

څلور اتیایم (۸۴) درس

د غیر معناګاني او د سویٰ او سواءَ اعراب

و (غیر) صفةٌ حملت علیٰ (الا) فی الاستثناء کماحملت (الا) علیها فی الصفة اذا کانت تابعةً لجمع منکورٍ غیر محصور لتعذر الاستثناء، مثل: (لوکان فیهما آلهة الا الله لفسدتا) وضعف فی غیره واعراب (سوی وسواء) النصب علی الظرف علی الاصح.

ترجمه: او غیر په اصل کي کلمه د صفت ده، لیکن د استثناء په باب کي پر الا محمول کېږي، لکه چې الا پر غیر صفت حمل کېږي، کله چې الا تابع وي دداسي جمع کومه چې نکره غیر محصور وي د استثناء د متعذر کېدو په وجه سره، لکه (لوکان فیهما آلهة الا الله لفسدتا) او د (الا) پر (غیر) حمل کول ضعیف دي، له

دې په ماسوی کې او د سوی او سواء اعراب نصب کېږي د ظرفیت پر بناء نه اصح مذهب سره سم.

تشریح: د نن په سبقه کې صرف دوې خبرې دي:

①: د غیر او الا معنی حقیقي او مجازي او استعمال یې، ②: د سوی او سواءَ اعراب.

لومړی خبره: د غیر او الا معنی حقیقي او مجازي او استعمال یې:

و غیر صفة حملت علی الا فی الاستثناء: د کافیه ملاصاحب رحمه الله د (غیر) تر اعراب بیانولو وروسته د هغې معنی حقیقي او مجازي بیانوي، نو وایې: چې په (غیر) کې اصل د ادی، چې دا د ماقبل صفت واقع سي، لکه: جاءنی رجلٌ غیرُ زیدٍ (راغی ماته داسې سړی کوم چې له زید نه غیر و) او په عربي کلام کې په کثرت سره دا د صفت په ډول استعمالېږي، لېکن کله کله دا په مجازي ډول د (الا) په معنی د استثناء لپاره هم کارېږي، لکه (جاءنی القوم غیرَ زیدٍ) دلته (غیرزید) د ماقبل (القوم) لپاره صفت جوړول صحیح نه دي. ځکه چې د موصوف او صفت تر مینځ په تعریف او تنکیر کې مطابقت شرط دی، حال دا چې دلته (القوم) معرفه دی او (غیر) که څه هم د معرفه وطرفته مضاف ده، لېکن د توغل فی الابهام له وجې بیا هم نکره ده، نو دلته (غیر) د الا) په معنا اخستل کېږي، همدا ډ کافیه ملاصاحب بیانوي، چې (غیر) په اصل وضع کې د صفت لپاره ده، لېکن کله کله په استثناء کې کارېږي، نو په دې وخت بیا د (الا) په معنا کېږي.

کما حملت الا علیها فی الصفة اذاکانت تابعة...الخ: لکه چې (الا) د خپلې اصلي وضع په اعتبار د استثناء لپاره ده، لېکن کله کله په مجازي ډول د (غیر) په معنی یعني د صفت لپاره هم راځي، لېکن د دې لپاره مصنف رحمه الله درې شرطونه ذکر کړي دي:

①: اذا کانت تابعةً لجمعٍ منکورٍ: یعني په دې شرط چې دا تر جمع وروسته وي، ②: په دې شرط چې هغه جمع نکره وي، ③: په دې شرط چې هغه جمع غیر محصور وي، یعني د افرادو شمېر یې معلوم نه وي، د ټولو مثال دادی: (جاءنی رجالٌ الا زیدٌ).

تر دغو دريو شرطونو وروسته دا دصفت لپاره ولې استعمالېږي؟ نو د دې لپاره د کافيه ملاصاحب رحمه الله وويل: چې (لتعذّرالاستثناء) يعني په داسې ځاى کې د (الا) د استثناء لپاره کېدل او لکه چې د الله جل جلاله مبارکه وينا هم ده (لوکان فيهما الهة الاالله لفسدتا)، دا راز (لا اله الاالله) په دې دواړو کې (الا) په معنا د (غير) ده او (آلهة او الـــه) دواړه موصوف دي او (الا) يې صفت ده، ځکه چې دلته استثناء نسي کېداى، وجه يې داده: چې مستثنى خو به يا متصله ، يا به يې منقطع جوړوي، که چېرې متصل سي، نو د کومو خدايانو چې په (لا الـــه) کې نفې سوې دي، له هغو څخه مراد آلهه محققه کېږي، ددې لپاره چې الله تعالى پکې داخل سي او بيا ځيني الله تعالى استثناء سي، نو په دې صورت کې د (اله) متعدد کېدل لازمېږي، کوم چې له توحيد سره منافي دی او که چېرې استثناء منقطع سي، نو له آلهه څخه به آلهه باطله مرادېږي، نو په (لااله) سره خو به دآلهه باطله نفي وسي، لېکن د آلهه محققه نفي نه لازمېږي، نو توحيد کوم چې مطلوب او مقصود هغه تر لاسه او حاصل نسو، نو معلومه سوه، چې په داسې ځايونو کې (الا) په خپله اصلي معنا نه، بلکي د (غير) په معنا ده، د ماقبل لپاره صفت ده.

د کلام خلاصه داده، چې (کلمة غيرللصفة اصلاً و للاستثناء فرعًا و کلمة الا للاستثناء اصلاً وللصفة فرعًا) يعني کلمه (غير) د اصل وضع او حقيقي معنا په اعتبار د صفت لپاره ده او د فرع په اعتبار د استثناء لپاره ده او کلمه د(الا) د خپل اصل په لحاظ سره د استثناء او د فرع په اعتبار سره د صفت لپاره ده (خيرالنحوص: ۲۱۰).

دا راز په لومړي مثال (ماجاءنی رجالٌ الا زيدٌ) کې هم استثناء ځکه متعذره ده، چې مستثنى پر دوه قسمه ده:

①: متصل: يعني هغه مستثنى په کومه کې چې دا يقيني وي، چې مستثنى په مستثنى منه کې داخله ده.

②: منقطع: يعني هغه مستثنى په کومه کې چې دا يقيني وي، چې مستثنى په مستثنى منه کې داخله نه ده، نو دلته د (رجالٌ) د نکره کېدو په وجه دا احتمال هم

سته چي په (زید) کي داخل وي او دا احتمال يې هم سته، چي داخل نه وي، له همدې وجې نه دا مستثنی متصل ده او نه مستثنی منقطع، ځکه چي په دغو دواړو مستثناگانو کي يقين ضروري دی، ځکه نو دلته (الا) د صفت په معنا اخستل کېږي، که چېري پر (رجالٌ) الف لام داخل کړل سي، نو اوس (الا) د استثناء لپاره کېږي، ځکه چي په دې صورت کي (زید) تر (الرجال) لاندي داخلېږي او مستثنی متصل کېږي (تقریر کافیه ض: ۲۱۲).

د کافیه ملاصاحب رحمه الله په (غیرمحصور) تکو سره د (لفلان علی الف درهم الا مائة) په څېر مثالونه ووتل، ځکه چي په دې کي (الفٌ) که څه هم جمع منکور ده، لېکن غیر محصوره نه ده، بلکي عدد يې معلوم او متعین دی.

و ضعف فی غیره: چي که چېري جمع منکور غیرمحصوره نه وي، نو پکي (الا) د (غیر) په معنا اخستل ضعېف دي، غور وکړه! د کافیه ملاصاحب (لایجوز فی غیره) ونه ویل، بلکي (وضعف) يې وویل، دا د دې لپاره چي د امام سېبویه اومتاخرین علماء نحو په نزد دا په غیر کي هم جائز دی، نو د کافیه ملاصاحب رحمه الله د دوی په رعایت کولو (ضعف فی غیره) وویل او (لایجوز فی غیره) يې ونه ویل.

دوهمه خبره: د سوایٰ او سواء اعراب:

و اعراب سویٰ و سواء النصب علی الظرفیة علی الأصح:

د کافیه ملاصاحب رحمه الله د (غیر) تر معنی او اعراب بیانولو وروسته د (سوی اوسواء) اعراب بیانوي، نو لکه چي د دوهمې خبرې په ضمن کي موږ ویلې وه، چي دا دواړه لازم النصب دي، یعني تل دا د واړه منصوب وي او د منصوب کېدو وجه مو دا ښودلې وه، چي (علی الظرف) یعني د ظرفیة پر بنسټ دا منصوب کېږي، ځکه چي (جاء نی القوم سویٰ زید یا سواء زید) ویل په منزله د (جاءنی القوم مکان زید) دی، ځکه چي ددې معنا موږ دا کړې ده، چي د زید پر ځای ټول قوم ماته راغی، دا د علماء بصریېن او امام سېبویه صاحب مذهب دی او فاضل مصنف رحمه الله دېته اصح مذهب ویلي دي او د کوفیېنو علماؤ مذهب دادی، چي د (سویٰ او سواء) اعراب د (غیر) په ډول دی، کوم چي د عامل موافق راځي، لېکن دا مذهب مرجوح دی.

پنځه اتیایم (۸۵) درس

نهم منصوب: د کان او د هغه داخواتو بیان

خبر کان واخواتها: هو المسند بعد دخولها، مثل: کان زیدٌ قائمًا وامره کامر خبر المبتداء ویتقدم معرفةً و قد یُحذف عامله فی نحو: الناس مجزیون باعمالهم ان خیرًا فخیرٌ وان شرًا فشرٌ ویجوز فی مثلها اربعة اوجه ویجب الحذف فی مثل: اما انت منطلقًا انطلقتُ، ای: لأن کنتَ منطلقًا.

ترجمه: او له منصوباتو څخه کان او د هغه د اخواتو خبر هم دی، هغه داسي اسم منصوب دی، چي د ده تر داخلیدو وروسته مسند وي، لکه (کانَ زیدٌ قائمًا) او دده معامله د مبتداء د خبر د معاملي په ډول ده او د معرفه کېدو په حال کي مقدم کېږي او کله کله دده عامل حذف کېږي د (الناس مجزیون باعمالهم ان خیرًا فخیرٌ ان شرًا فشرٌ) په څېر ترکیبونو کي او جائز دی په داسي ترکیب کي څلور صورتونه او واجب دی د (کان) حذفول د (اما انت منطلقًا انطلقتُ) په څېر ترکیبونو کي یعني (لأن کنت منطلقًا).

تشریح: ورورکیه! د نن په سبقه کي صرف دوې خبرې دي:

①: د کان او د هغه د اخواتو د خبر تعریف، ②: د کان له خبر سره تړلي څلور اهمي مسئلي.

خبر کان واخواتها هوالمسند بعد دخولها: په دې عبارت کي د کافیه ملاصاحب د افعال ناقصه د خبر تعریف بیانوي، چي دا هغه اسم دی، کوم چي د افعال ناقصه تر داخلیدو وروسته مسند وي، که چیري دکوم بل عامل تر داخلیدو وروسته مسند وي، نو هغه د همدغه عامل خبر خو شمېرل کېږي، لیکن د دغه افعال ناقصه خبر نسي کېدای، لکه په (کان زیدٌ قائمًا) کي (قائمًا) د (کان) خبر دی او مسند دی، یعني ددې نسبت د زید و طرفته سوی دی.

د کان له خبر سره تړلي څلوراهمي مسئلي

دوهمه خبره: د کان له خبر سره تړلي څلور اهمي مسئلي:

لومړۍ مسئله: وامره کامر خبر المبتداء: د کافیه ملاصاحب رحمه الله وایي: چي د افعال ناقصه د خبر معامله په خپلو شرطونو او احکامو او مسائلو کي د مبتداء

دخبر په څېر ده، د تفصيل لپاره دهمدغه كتاب (۴۵) درس، درېيمه خبره) وګورئ، پرته له يوې مسئلې، چي هلته موږ ويلې وه چي (و اذا كان ابتداء... او كان معرفتين... وجب تقديمه) يعني كه چېري مبتداء او خبر دواړه معرفه وي، نو د مبتداء مقدم كول واجب دي او د خبر نسي پر مخكي كېداى، كه نه د التباس خطره ده، چي كوم يو مبتداء دى او كوم يو خبر دى، لېكن دلته د كافيه ملاصاحب رحمه الله وايي: (ويتقدم معرفةً) يعني د افعال ناقصه اسم او خبر كه دواړه معرفه هم وي، خو بيا هم ددوى خبر پر اسم مقدم كول جائز دي، په دې شرط چي د اسم او خبر دواړو، يا لږ تر لږه په دواړو كي د يوه اعراب لفظي وي، د دې لپاره چي التباس لازم نسي، لكه (كان القائم زيدٌ او كان المنطلق زيدٌ او كان هذا زيدٌ) دلته (هذا) اسم اشاره له معرفه كېدو سره سره د كان پر اسم مقدم سوى دى، ځكه چي د اعراب د مختلف كېدو په وجه دلته د التباس هېڅ خطره نسته، لېكن چېري چي پر دواړو اعراب معنوي وي، يعني اعراب هم ظاهر نه وي او كومه قرينه هم نه وي، چي پر اسميت او خبريت دلالت وكړي، نو صرف په داسي ځاى كي خبر پر اسم نسي مخكي كېداى، كه نه د التباس وېره ده، لكه (كان الفتىٰ هذا).

دوهمه مسئله: و قد يحذف عامله فى نحو الناس مجزيون بأعمالهم خيرًا فخيرٌ و ان شرًّا فشرٌّ: په مذكوره عبارت كي د كافيه ملاصاحب رحمه الله دوهمه مسئله بيانوي، چي كله كله د افعال ناقصه د خبر عامل يعني (كان) حذف كيږي هم، لكه (الناس مجزيون بأعمالهم خيرًا فخيرٌ و ان شرًّا فشرٌّ) وګوره! په دې مثالونو كي تاسو (كان) نه وينئ، لېكن بيا يې هم عمل ظاهر دى، نو له دې څخه معلومېږي، چي (كان) فعل ناقص دلته حذف سوى دى، اصلي عبارت داسي وو: (الناس مجزيون بأعمالهم ان كان عملهم خيرًا فخيرٌ و ان كان عملهم شرًّا فشرٌّ) يعني ټولو خلكو ته د خپلو، خپلو عملونو په حساب سره بدله وركول كېږي، بيا كه چېري د دوى عملونه ښه وه، نو دوى ته بدله هم ښه وركول كېږي او كه چېري ددوى عملونه خراب وه، نو بدله هم بده وركول كېږي.

یادونه: له عامل څخه ټول افعال ناقصه مراد نه دي، بلکي په افعال ناقصه کي صرف (کان) مراد ده، ځکه چي دلته دعامل حذفول د تخفیف لپاره دی او تخفیف ملته وي، چېري چي یو شی ډېر استعمالیږي او ظاهره خبره ده، چي په افعال ناقصه کي صرف (کان) ډېر استعمالیږي، پاتې سوه دده اخوات، نو هغه که څه هم استعمالیږي، خو په کثرت سره نه، لکه (صار الطین خذفًا) له دې څخه (صار) حذفول جائزنه دي.

درېیمه مسئله:

یجوز فی مثلها اربعة اوجه: مصنف علامه ابن حاجب صاحب رحمه الله وايي: چي په مخکنۍ مسئله کي چي مونږ کوم مثال وړاندي کړی دی، دداسي مثالونو او ترکیبونو په څلورو طریقو ویل جائزدي:

①: چي دواړه منصوب نسي، لکه (ان خیرًا فخیرًا) د عبارت تقدیر داسي کېږي: (ان کان عملهم خیرًا فیکون جزاؤهم خیرًا).

②: دواړه مرفوع ویل، لکه: (ان خیرٌ فخیرٌ) دعبارت تقدیر داسي کېږي: (ان کان عملهم خیرٌ فجزاؤهم خیرٌ).

③: لومړی منصوب او دوهم مرفوع ویل، لکه (ان خیرًا فخیرٌ) د عبارت تقدیر داسي کېږي: (ان کان عملهم خیرًا فجزاؤهم خیرٌ).

د کافیه ملاصاحب رحمه الله همدا صورت غوره کړی دی، ځکه چي په دې کي محذوف عبارت لږدي.

④: لومړی مرفوع او دوهم منصوب ویل، لکه: (ان خیرٌ فخیرًا) ددې عبارت تقدیر داسي کېږي: (ان کان فی عملهم خیرٌ فیکون جزاؤهم خیرًا) (تقریر کافیه: ۲۱۳).

فائده: د مصنف رحمه الله له قول (فی مثلها) څخه هر هغه ترکیب مراد دی، په کوم کي چي تر (ان) شرطیه وروسته دوه اسمونه وي اوپر دوهم اسم (فاء) جزائیه داخله وي (کما فی المثال المذکور).

څلورمه مسئله:

ويجب الحذف في مثل: اما انت منطلقًا انطلقتُ: تر جوازي حذف وروسته د وجوبي حذف بيان کوي، چي هر هغه عامل د کوم په حذف کولو چي بل شی دده پر ځای دربېږي، نو لومړی که څه هم دده حذف جوازي و، لېکن د عوض او قائمقام تر راتلو وروسته دده حذف وجوبي کېږي، ځکه چي که چېري دا حذف وجوبي نسي، نو د ذکر کولو په صورت کي به د عوض او معوض عنه اجتماع لازمه سي، کومه چي ناجائزه ده، لکه د (لان كنت منطلقًا انطلقتُ) پر ځای (اما انت منطلقًا انطلقت).

اعلال: لأن كنت منطلقًا انطلقتُ: تر ټولو مخکي له دې څخه لام حذف کړل سو، ځکه چي له (ان) مصدريه څخه د حرف جار حذفول قياس هم دي او عقلي هم، نو (أن كنت منطلقًا انطلقتُ) سو، بيا له (كنت) څخه د اختصار لپاره (كان) حذف کړل سو، په عوض کي يې کلمه د (ما) راوړل سوه، مخکنی (ان) مصدريه په نون بدل کړل سو، نو (امانت منطلقًا انطلقتُ) جوړ سو (والله اعلم بالصواب).

شپږ اتيايم (۸۶) درس

د لسم منصوب د (ان د اسم او اخواتو) بيان

اسم د ان واخواتها: هوالمسند بعد دخولها، مثل: ان زيدًا قائمٌ.

ترجمه: له منصوباتو څخه د (انّ) او ددې د اخواتو اسم هم دی، دا هغه اسم دی، کوم چي د حروف مشبه بالفعل تر داخلېدو وروسته مسند وي، لکه (انّ زيدًا قائمٌ).

تشريح: وګوره زما وروركيه! موږ اوس لسم قسم منصوب بيانوو، تر ټولو مخکي يې تعريف ته غوږسئ، چي د حروف مشبه بالفعل اسم هغه اسم دی، کوم چي له دغو حروفو څخه د يوه تر داخلېدو وروسته مسنداليه وي، مثلاً له (زيدٌ قائمٌ) څخه (انّ زيدًا قائمٌ) په دې کي د قيام نسبت د همدغه زيد وطرفته سوی دی.

دلته سوال کېږي، چي (زيدٌ) خو د حروف مشبه بالفعل تر داخلېدو مخکي هم مسنداليه و، نو بيا ددې څه مطلب دی، چي د دغو حروفو تر داخلېدو وروسته مسنداليه کېږي؟

د دې جواب دادی، چې بېشکه لومړی هم زید مسندالیه و، لیکن حروف مشبه بالفعل چونکه د مبتداء له نسخه کوونکو څخه دي، کله چې دا پر داخل سي، نو د مبتداء او خبر ترکیب یې له مینځه ځي، نو اوس له نوي سره دده ترکیب جوړېږي، له نوي سره چې موږ د ده ترکیب جوړ کړ، نو په هغه کي هم زیدٌ مسندالیه جوړ سو، لکه په (ان زیدًا قائمٌ) کي زید د (انّ) اسم دی او مسندالیه دی او (قائم) یې خبر دی او مسند دی.

یادونه: حروف مشبه بالفعل شپږ دي، کوم چې شاعر په خپل شعر کي را یو ځای کړي دي:

اِنّ بــــا اَنّ کأنّ، لیتَ، لـــــکنّ، لعـــلّ
ناصب اسم اند ورافع درخبر ضد ما ولا

اووه اتیایم (۸۷) درس

د یوولسم منصوب د (لایٔ نفي جنس داسم) بیان

المنصوب بلا التی: هو المسندالیه بعد دخولها یلیها نکرةً مضافًا او مشبهًا به، مثل: لاغلام رجلٍ ظریفٌ فیها، ولا عشرین درهمًا لک، فان کان مفردًا، فهو مبنیٌ علی ما یُنصب به وان کان معرفةً او مفصولًا بینه و بین (لا) وجب الرفع والتکریر.

ترجمه: له منصوباتو څخه منصوب په لایٔ نفي جنس هم دہ، دا هغه اسم دی، کوم چې د لایٔ نفي جنس تر داخلېدو وروسته مسندالیه وي په داسي حال کي چې تر لایٔ نفي جنس وروسته بېله فصله مضاف، یا مشابه بالمضاف واقع سوی وي، لکه: (لاغلامَ رجلٍ ظریفٌ فیها ولاعشرین درهمًا لک) بیا که چېري دلایٔ نفي جنس اسم مفرد وي، نو هغه مبني پر علامه د نصب کېږي او که چېري معرفه وي، یا د دغه اسم او (لا) تر مینځ فاصله وي، نو رفع او تکرار واجب دي.

تشریح: په مذکوره عبارت کي مصنف رحمه الله د یوولسم منصوب یعني دلایٔ نفي جنس د اسم بیان کوي، دنن په سبقه کي د دې متعلق موږ درې خبرې ذکر کوو:

①: د اسم لایٔ نفي جنس تعریف، ②: په مذکوره تعریف کي دقیدونو فائدې،
③: پر مذکوره تعریف یو سوال او د هغه جواب.

داسم لائ نفي جنس تعریف

لومړۍ خبره: د اسم لائ نفي جنس تعریف:

المنصوب: په دې کي الف لام په معنی د (الذی) اسم موصول دی او (منصوب) صیغه دصفت یعني د اسم مفعول صیغه د موصول لپاره صله ده، نو د عبارت تقدیر داسي کیږي: (الاسم الذی نُصب بلا التی لنفی الجنس) اوس یې معنا داسي کیږي، چي هغه اسم کوم ته چي د لاء نفي له وجې نصب ورکول سوی وي، هغه د نحوینو په اصطلاح کي هغه اسم دی، چي د (لا) تر داخلېدو وروسته مسندالیه وي، په داسي حال کي چي له ده سره داسي نکره متصل وي، چي مضاف یا شبه مضاف وي، د داسي اسم نکره مضاف مثال (لاغلامَ رجلٍ ظریفٌ فیها) دی، په دې کي (غلام) د (لا) اسم دی او د (لا) تر داخلېدو وروسته مسندالیه واقع سوی دی او له همدغې (لا) سره بلکل متصل هم دی اود را روان (رجلٌ) وطرفته یې اضافت سوی دی، دا راز د مشابه بالمضاف مثال (لا عشرین درهمًا لک) په دې کي (عشرین) د (لا) اسم دی او ورسره متصل دی او مسندالیه هم دی او مشابه بالمضاف هم دی.

مشابه بالمضاف معنا داده، لکه څرنګه چي مضاف په خپله پوره معنا ښېندلو کي مضاف الیه ته محتاج وي، بلکل چي همداسي یو اسم په خپله معنا ښېندلو کي کومې بلې کلمې ته محتاج وي مثلا په مذکور مثال کي (عشرین) را واخله، دا چي څومره ډېرواره هم متکلم ووایې، نو تر هغه وخته پوري په پوهه کي نه راځي، تر څو چي ورسره (درهمًا) یا کوم بل تمییز ونه لګول سي.

دوهمه خبره: په ذکرسوي تعرېف کي د قیدونو فائدې:

المنصوب بلا التی لنفی الجنس: دا معرف دی او له (هوالمسندالیه) څخه تر (او مشبهًا به) پوري عبارت یې تعرېف دی، په تعرېف کي (هو) ضمېر د لائ نفي جنس یعني د معرّف وطرفته راجع دّی (المسندالیه) د جنس په درجه کي دی کوم چي معرف او غیر معرف دواړوته شامل دی او (بعد دخولها) لومړی فصل دی، په ذریعه یې نور ټول مسندونه وزي.

تنبیه: د مطلق لائ نفي جنس تعريف خو صرف دومره دی، کوم چي بيان سو، ليکن موږ چونکه هغه اسم بيان کړی دی، کوم چي منصوب وي، ځکه نو مصنف رحمه الله ده لپاره نور قيدونه هم اضافه کړل، مثلاً: (يليها) دا دوهم فصل دی، د دې په ذريعه د دغې لائ نفي جنس هغه اسم کوم چي ورسره متصل نه وي ووت، (نکره) دا دريم فصل دی، د دې په ذريعه د لائ نفي جنس هغه اسم کوم چي معرفه وي ووت، (مضافًا او مشبهابه) دا څلورم فصل دی د دې په ذريعه د لائ نفي جنس هغه اسم کوم چي مفرد وي ووت، په اخير کي چي د کومو دريو فصلونو په ذريعه کوم اسماء ووتل د هغو ټولو په مستقله توګه بحث را روان دی، انشاء الله تعالی!

دريمه خبره: پر مذکوره تعريف يو سوال او دهغه جواب:

مصنف رحمه الله چي د اسم لائ نفي جنس کوم تعريف بيان کړی، پر دې يو سوال کېږي، چي تر دې مخکي منصوباتو کي يې دا طريقه اختيار کړې وه، چي (خبر کان واخواتها) او (اسم اِن واخواتها) او (خبر ماولاالمشبهتين بليس) ليکن دلته چي را ورسېد، نو خپله طريقه او طرزيې بدل کړل، ويې ويل: (المنصوب بلاالتی لنفی الجنس) نو د دې وجه څه ده؟

شارحينو ددې سوال په مختصر او مفصل دواړو ډولونو جوابونه کړي دي، خو په هغو کي لنډ جواب دا هم دی، چي دلائ نفي جنس هر اسم منصوب نه وي، بلکي په ځينو حالتونو کي منصوب وي او په ځينو کي مرفوع، حال دا چي په منصوباتو کي موږ صرف هغه حالتونه بيانوو په کومو کي چي دا منصوب وي، ځکه نو مصنف رحمه الله د (المنصوب بلاالتی لنفی الجنس) عنوان راوړ.

څلورمه خبره: د لائ نفي جنس داسم حالات او اعراب:

وګوره زما ورورکيه! کوم عبارت چي موږ نن وويل، په هغه کي که چېري غور وسي، نو مصنف رحمه الله په هغه کي د اسم لائ نفي جنس شپږ حالتونه او دهغه اعراب بيانوي، لومړی اودوهم صورت خو د تعريف په ضمن کي بيان کړل سوه، مثلاً: ①: يليها نکرةً مضافًا، يعني هغه اسم به له لائ نفي جنس سره متصل وي

او نکره به هم وي او له دې سره سره به مضاف هم وي، لکه (لاغلام رجل ظریف فیها)، ②: او مشبهًا به: دوهم صورت دادی، چي هغه اسم لائ نفي جنس متصل هم وي او نکره هم وي، لېکن د مضاف کېدو پر ځای مشابه بالمضاف وي، لکه (لاعشرین درهمًا لک).

د دې دواړو قسمونو اعراب دادی، چي دا دواړه معرب کېږي او منصوب کېږي، لکه په لومړي مثال کي (غلام) او په دوهم مثال کي (عشرین درهمًا) دواړه منصوب دي.

③: فان کان مفردًا: درېیم صورت دادی، چي اسم لائ نفي جنس نکره متصله وي، لېکن مضاف یا مشابه بالمضاف نه وي، بلکي نکره مفرده وي، که چېري کوم اسم د تثنیه، یا جمعې په شکل هم وي، لېکن که چېري مضاف یا مشابه بالمضاف نه وي، نو هغه مفرد دی، ځکه چي دلته مفرد دَ مضاف او شبه مضاف په مقابله کي دی، نه چي د تثنیه او جمع په مقابله کي.

مصنف رحمه الله د دغه قسم اعراب بیانوي، وایې: (فهو مبنی علی ماینصب به) یعني د لائ نفي جنس داسي اسم مبني پر نصب کېږي او مبني پر علامه دنصب درې صورتونه لري:

①: زبر، لکه (لارجلَ فی الدار)، ②: یا ماقبل یې مفتوح، لکه (لامسلمَین فی الدار)، ③: یا ماقبل یې مکسور، لکه: (لامسلمِین فی الدار).

سوال: په دې صورت کي دا ولي مبني کېږي؟

جواب: دا د حرف معنا ته متضمن دی، نو څرنګه چي ټول حروف مبني وي، نو دا هم مبني سو او دا دحرف معنا ته داسي متضمن دی، چي د دې اصل عبارت دادي: (لا من رجل فی الدار) د دې دلېل دادی، چي دا د (هل من رجل فی الدار؟) په جواب کي راوړل کېږي او په سوال کي چونکه (من) مذکور دی، نو په جواب کي هم (من) ذکر کېږي، ځکه چي قاعده ده (المذکور فی السوال کالموعود فی الجواب).

④: وان کانت معرفةً: څلورم صورت دادی، چي د لائ نفي جنس اسم معرفه وي.

⑤: او مفصولا بينه وبين لا: پنځم صورت دادی، چي دلائ نفي جنس اسم نکره منفصله وي، هغه که اسم نکره مفرده وي، یا اسم نکره مضاف یا مشابه بالمضاف وي، نو ګوا کي چي د دغه پنځم صورت دري حالتونه سوه، د دې ټولو صورتونو اعراب دادی، چي (وجب الرفع والتكرير) یعني د دې ټولو صورتونو مرفوع کېدل واجب دي، ځکه چي (لا) ملغیٰ عن العمل کېږي، یعني هيڅ عمل نه کوي او دوهم دا چي په داسي صورتونوکي (لا) له دوهم اسم سره مکرر راوړل واجب دي، لکه (لازيدٌ في الدار ولا عمروٌ) او (لا فيها رجلٌ ولا امرأةٌ).

سوال: په ذکرسویو صورتونو کي د لائ نفي جنس اسم مرفوع ولې سو او (لا) ولې مکرره راوړل کېږي؟

جواب: شارحینو ددې جواب دا سي لیکلی، چي لومړی صورت (یعني د معرفه کېدو په صورت کي) ځکه مرفوع ویل کېږي، چي لائ نفي جنس د اصل وضع په اعتبار د نکره دصفت دنفي لپاره راځي، نو کله چي پر معرفه داخل سي، نو ددې عمل باطلېږي او هغه اسم د مبتداء کېدو په وجه مرفوع کېږي.

پاته سو دوهم صورت، نو به هغه کي رفع ځکه واجب ده، چي (لا) یو ضعیف قسم عامل ده، نو که چېري تر دې وروسته اسماء پر خپل صحیح ترتیب وي، نو دا پکي عمل کوي، که نه وي، نو عمل نه کوي، بلکي (لا) ملغی عن العمل کېږي او هغه اسم د مبتداء کېدو په وجه مرفوع کېږي.

او د (لا) تکرار ځکه لازم دی، چي جواب له سوال سره موافق سي، لکه د (ازيدٌ في الدار ام عمروٌ) په جواب کي چي همداسي وویل سي: (لازيدٌ في الدار ولا عمروٌ).

دا راز د (افي الدار رجلٌ ام امرأةٌ) په جواب کي هم همداسي ویل کېږي، چي (لا زيدٌ في الدار ولا عمروٌ).

اته اتیایم (۸۸) درس

داسم لائ نفي جنس اعرابي صورتونه

ومثل: قضيةٌ ولا اباحسنٍ لها متأولٌ وفى مثل لاحول ولا قوة الا بالله خمسة اوجهٍ: فتحهما، وفتح الأول ونصب الثانى، ورفعه و رفعهما ورفع الأول على ضعفٍ وفتح الثانى.

ترجمه: او د (قضيةٌ و لا أبا حسنٍ لها) په څېر ترکیبونو کي تاویل سوی دی او د (لاحول ولاقوة الا بالله) په څېر مثالونو کي پنځه صورتونه دي: ددواړو فتح، د لومړي فتح او دوهم نصب، د لومړي فتح او د دوهم رفع، د دواړو رفع او د لومړي رفع په ضعیفه طریقه او د دوهم فتح.

تشریح: د نن په سبقه کي درې خبرې دي:

①: یو سوال او د مصنف رحمه الله جواب، ②: د اسم لائ نفي جنس اعرابي صورتونه، ③: یو سوال او د هغه جواب.

لومړۍ خبره: یو سوال او دمصنف رحمه الله له لوري یې جواب:

ومثل قضية ولا أبا حسنٍ لها: په دې سره مصنف رحمه الله د یوه سوال جواب ورکوي، سوال دادی، چي جنابه! همدا اوس تا قاعده بیان کړه، چي (وان كان معرفةً وجب الرفع والتكرير) یعني که چېري دلائ نفي جنس اسم معرفه و، نو بیا خو د هغه مرفوع ویل واجب دي او دوهم له هغه سره د (لا) تکرار هم لازمي دی؟ نو مصنف رحمه الله یې داسي جواب ورکړ، چي (متأول) یعني محترمه! ستا خبره بلکل صحیح ده، لېکن تا چي کوم مثال وړاندي کړی، په هغه کي په دوو طریقو سره تاویل کېږي:

①: په دې کي مضاف محذوف دی، اصل عبارت داسي دي: (لامثل ابی حسنٍ لها) نو له دې څخه مضاف (مثل) حذف کړل سو، مضاف الیه (ابی) یې پر ځای ودرېد، د هغه اعراب (نصب) پر ده جاري کړل سو، نو (لا أبا حسنٍ لها) سو او لفظ د (مثل) چونکه په ابهام کي ډوب دی، ځکه نو معرفه ته په مضاف کېدو هم معرفه نسو، بلکي نکره پاته دی، ځکه په معرفه کي تخصیص او عدم ابهام ضروري وي، نو که چېري دېته وکتل سي، نو دا په المنصوب بلا والا صورت کي

داخل دی او له (وان کان معرفة ....) صورت سره دده هيڅ تعلق نسته، پر کوم چي مذکوره سوال واقع سوی دی.

②، دوهم چي دا په کنيه ويلوسره د (لکل فرعونٍ موسی) په خبر وصف مشهور يعني (فَيصلٌ) پر وزن د (حيدرٌ) په معنا د (فاصلٌ بين الحق والباطل) په تاويل کېږي، کوم چي نکره ده، نو اوس يې معنا داسي کېږي: (قضيةٌ لا فصل لها) يعني دا دومره لويه مسئله ده، د کومې چي حل کوونکی هېڅوک نسته، په دې صورت کي دا نکره مفرده کېږي او مبني پر فتح کېږي، ځکه چي په اسماء ستة مکبره کي (الف) مبني د فتح پر علامه جوړېږي او په دې صورت کي هم دا په (وان کان معرفةً) کي داخل نه دی، چي مذکوره سوال وارد سي.

د لائ نفي جنس د اسم شپږم حالت

له (وفی مثل لا حول ولاقوة الا بالله) څخه تر (وفتح الثانی) پوري مصنف رحمه الله د اسم لائ نفي جنس شپږم صورت او په هغه کي د جواز پنځه وجې بيانوي، دلته له (لاحول ولاقوة الا بالله) څخه هر هغه ترکيب مراد دی، په کوم کي چي (لا) په اعتبار د عطف مکرره واقع سوي وي او تر دواړو وروسته متصل اسم نکره وي، نو پکي پنځه وجې جائز دي:

لومړی صورت:

فتحهما: يعني چي دواړه اسم مبني پر فتح وي، لکه (لاحولَ ولا قوةَ الا بالله) په دې صورت کي دواړه ځايونه (لا) لپاره د نفي جنس کېږي او وروستنی اسم د نکره مفرده کېدو په وجه مبني پر فتح دی، په داسي صورت کي د دې په ترکيب کي دوه احتمالات دي: يو دا چي (لاحولَ ولاقوةَ الابالله) ټول يوه جمله سي او د مفرد عطف پر مفرد سي، يعني د دواړو يو خبر مقدر ومنل سي، مثلاً داسي وويل سي: (لاحول عن المعصية ولاقوة على الطاعة موجودان الا بالله) په دې کي (لاقوة) د مفرد عطف پر (حولَ) مفرد سوی دی او (موجودان) د دواړو خبر دی کوم چي محذوف دی.

دوهم دا چي (لاحول ولا قوة الا بالله) پوره دوې جملې سي او د يوې پوره جملې عطف پر بله پوره جمله سي، مثلاً د عبارت تقدیر داسي سي: (لاحول عن المعصية موجودٌ الا بالله ولاقوة على الطاعة موجودةٌ الا بالله) دا راز دواړه ځايونه (لا) لپاره دنفي جنس سي، (حولَ) يې اسم سي او موجودة يې خبر محذوف سي، لائ نفي جنس سره له خپل اسم او خبر پوره جمله معطوف عليه (لا) د نفي جنس، (قوة) يې اسم او (موجودةٌ) يې خبر، لائ نفي جنس سره له خپل اسم او خبره پوره جمله معطوف سو، نو په دې صورت کي د پوره جملې عطف پر پوره جمله کېږي.

دوهم صورت:

فتح الأول ونصب الثاني: يعني له دواړو څخه لومړی مبني پر فتح وي او دوهم منصوب وي، لکه (لاحولَ ولاقوةً الا بالله) په دې صورت کي لومړی (لا) د نفي جنس لپاره ده او وروسته اسم مفرد يې اسم کېږي او دوهم (لا) چونکه صرف د تاکيد لپاره ده، نو (قوةً) يې معمول نسي کېدای، بلکي د لومړي پر لفظ د معطوف کېدو په وجه په تنوين سره منصوب کېږي او (حولَ) چونکه لفظاً منصوب دی او مبني کېدل يې عارضي دي، نو اعتبار يې د منصوب کېدو کېږي، لهذا (قوةً) هم منصوب کېږي، مبني پر فتح ځکه نسي کېدای، چي د مبني پر فتح چي کوم شرطونه دي په هغو کي يو د اتصال شرط پکي نېستي دی.

د دې صورت په ترکيب کي هم دوه احتمالونه دي:

①: د مفرد عطف پر مفرد کېدل او د دواړو يو خبر مقدر را ايستل، لکه (لاحولَ عن المعصية ولاقوةً موجودان الا بالله).

②: د پوره جملې پر پوره جمله عطف کېدل لمؤ د هري (لا) بېل، بېل خبر محذوف کېدل، لکه (لاحول عن المعصية موجودٌ الا بالله ولا قوة على الطاعة موجودٌ الا بالله).

درېيم صورت:

رفعه: دريم صورت دا چي لومړی (لا) د نفي جنس لپاره وي او وروستنی اسم مفرد يې اسم وي او مبني پر فتحه وي او دوهم (لا) زائده او ملغی (منع) عن العمل وي، نو (قوةٌ) په تنوين سره مرفوع او د (حولَ) پر محل عطف کېږي، ځکه چي د لائ نفي جنس اسم د خپل حقيقت په اعتبار مبتداء ده او مبتداء مرفوع وي، نو دا هم مرفوع کېږي، ياد لره چي په دې صورت کي هم دوه احتمالات دي: يعني عطف المفرد على المفرد او عطف الجملة على الجملة.

په بل عبارت د مذکوره دواړو صورتونو خلاصه په اسانه طريقه زده کړئ، چي د (قوةٌ) د معطوف عليه دوه محل دي:

①: **محل قريب:** يعني د لائ نفي جنس اسم کېدل، په دې صورت کي اسم مبني پر فتح کېږي.

②: **محل بعيد:** يعني مبتداء کېدل يې، نو د (قوةً) عطف که چېري د (حولَ) پر محل قريب وسي، نو منصوب کېږي او که چېري پر محل بعيد عطف سي، نو مرفوع کېږي.

څلورم صورت:

رفعهما: يعني (لاحولٌ ولاقوةٌ الا بالله) په دې صورت کي دواړه ځايونه (لا) ملغی عن العمل کېږي او دواړه اسمونه د مبتداء کېدو په وجه مرفوع کېږي، بيا پکي هم دوه احتمالونه دي:

①: د مفرد عطف پر مفرد ، د دواړو يو خبر محذوف را ايستل، لکه (لاحولٌ و لاقوةٌ موجودان الا بالله).

②: د جملې عطف پر جمله، د دواړو بېل او مستقل خبر را ايستل، لکه (لاحولٌ موجودٌ ولا قوةٌ موجودةٌ الا بالله).

دا څلورم صورت په اصل کي د يوه سوال جواب دی، سوال دادی، چي (ابغيرالله حولٌ وقوةٌ؟)، نو د دې په جواب کي ويل کېږي: (لاحولٌ ولاقوةٌ الا بالله).

څرنګه چې دواړه اسم په سوال کې مرفوع وه، نو په جواب کې هم مرفوع سو، (لانّ المذکور فی السؤال کالموعود فی الجواب).

پنځم صورت:

رفع الأول علی ضعف وفتح الثانی یعني (لاحول ولاقوة الا بالله) په د ې صورت کې لومړی (لا) مشابه بلیس کېږي او (حولٌ) یې د اسم کېدو په وجه مرفوع کېږي او دوهم (لا) د نفي جنس لپاره کېږي او (قوةَ) اسم مفرد یې اسم، مبني پر فتح کېږي.

لېکن د لومړی (لا) د لیس له مشابه بللو سره یې (علی ضعف) وویل، یعني دا قول ضعېف دی، ځکه چې د (لا) مشابهت له (لیس) سره ضعېف دی، نو د (لیس) په ډول ددې عمل کول هم ضعېف کېږي.

نه اتیایم (۸۹) درس

لائ نفي جنس اوددې له اسم سره تړلې دوې اهمې قاعدې

و اذا دخلت الهمزة لم یتغیرالعمل ومعناها: الاستفهام والعرض والتمنی ونعت المبنی الأول مفردًا یلیه مبنی ومعربٌ رفعًا ونصبًا مثل: لارجلَ ظریفَ و ظریفٌ و ظریفًا والا فالاعراب.

ترجمه: او کله چې پر لائ نفي جنس همزه داخله سي، نو ددې عمل ته تغېر نه رسېږي، او معنا یې د استفهام، عرض، تمنی جوړېږي او د اسم مبني اول صفت په داسي حال کي چي هغه مفرد وي او (دلا) له اسم سره متصل هم وي، نو هغه اسم مبني او معرب، مرفوع او منصوب دواړه کېدای سي، لکه (لارجل ظریفَ او ظریفٌ او ظریفًا)، که نه نو دده حکم معرب کېږي.

تشریح: وګوره وروركیه! د نن په سبقه کي دلائ نفي جنس او ددې د اسم په هکله دوې قاعدې ذکر کېږي او په دوهمه قاعده کي د امام سېبویه اختلاف هم ذکر کېږي.

لومړی قاعده:

له اذا دخلت همزة الاستفهام څخه تر والعرض والتمنی پوري مصنف رحمه الله دا مسئله بیانوي، چي کله پر لائ نفي جنس همزه استفهام داخله سي، نو ددې په

عمل کي هيڅ هم نه راځي، يعني که چېري ددې اسم مبني پر فتح وي، نو په وروسته کي هم همداسي پاتېږي او که چېري معرب وي، نو په وروسته کي هم هماغسي معرب پاتېږي، وجه يې داده، چي همزه استفهام د کوم عامل عمل نه باطلوي، خو معنا يې بدلېږي، مصنف رحمه الله وايي: چي (ومعناها الاستفهام والعرض والتمنی) يعني داسي لائ نفي جنس هم د استفهام په معنا خو وي، لکه (الا رجلٌ فی الدار؟)، وګورئ د همزه استفهام تر داخلېدو مخکي ددې اسم همداسي مبني پر فتح و او اوس هم مبني پر فتح دی، لېکن په معنا کي يې فرق راغلی، مخکي جمله خبريه وه او اوس جمله انشائيه ځيني جوړه سوه او کله د عرض په معنا وي، لکه: (الا نزول لک بنا فتُحسن اليک) او کله کله د تمنی په معنا وي، لکه (الا ماء اشربه) لېکن دا خبره ياد لرئ، چي د همزه استفهام پر ځای که چېري کوم حرف جر پر داخل سي، نو هغه وخت په عمل کي بدلون راځي، لکه (آذيتنی بلاجرمٍ وخدمته بلامالٍ).

دوهمه قاعده:

له ونعت المبنی الأول مفردًا څخه تر (والا فالاعراب عبارت پوري د کافيه ملاصاحب دوهمه قاعده بيانوي، لېکن تر دې مخکي د دې عبارت د قيدونو فائدې ته غوږ سئ:

د قيدونو فائدې: ونعت المبنی ①: په مبني ويلو سره يې دا عبارت وايستل: لاغلام رجل ظريفًا فی الدار، ځکه چي په دې عبارت کي غلام کوم چي دلائ نفي جنس اسم دی مبني نه بلکي معرب دی.

②: د الاول په قيد سره صفت ثاني اوثالث ووت لکه: لارجل ظريف کريم فی الدار.

③: په مفرد ويلو يې له مضاف وغيره څخه احتراز وکړ، لکه: لارجل حسن الوجه ،دلته احسن الوجه که څه هم نعتِ اول دی، مګر مفرد نه بلکي مضاف دی.

④: د يليه په قيد سره هغه نعت خارج سو، کوم چي د لائ نفي جنس له اسم سره متصل نه وي، لکه: لاغلام فيها ظريف.

داعراب وجې:

په لومړي صورت کي دا مبني پر فتح ځکه سو، چي قاعده ده، چي کلام منفي کله په یو قید مقید سي، نو په حقیقت کي هغه د نفي پر قید داخلیږي، نو د لارجل ظریف عبارت تقدیر داسي کیږي: لاظریفٌ، نو څرنګه چي ظریف نکره مفرد دی او له همدې وجې مبني پر فتح سو، ځکه چي دلائ نفي جنس اسم که چیري نکره مفرد وای نو مبني پر فتح به وه، د دې معرب ویل هم د قاعدې له مخې دی، ځکه چي دا تابع دی او په تابع کي دا قاعده ده چي هغه په اعراب کي د متبوع تابع وي، نه چي په بناء کي، ځکه چي بناء خو یو عارضي شی دی او اصل په کي اعراب (معرب کېدل) دي، اوس که چیري ظریف د رجل پر محل حمل کړل سي، نو مرفوع ویل کیږي، ځکه چي رجل محلا مرفوع دی او که پر لفظ حمل سي، نو منصوب ویل کیږي، ځکه چي رجل لفظًا منصوب دی (تقریر کافیه ص: ۲۱۹).

قاعده داده، چي د لائ نفي جنس اسم کوم چي مبني پر فتح وي د هغه په صفت کي که چیري درې شرطونه موجود وي، نو هغه معرب او مبني دواړه ویل کېدای سي او د معرب کېدو په صورت کي هغه مرفوع او منصوب دواړه ویل کېدای سي، دا راز دا ټوټل درې صورتونه کیږي، له شرطونو څخه تر ټولو لومړی شرط دادی، چي هغه صفت دا اسم مبني لومړی صفت وي، دوهم دا چي هغه صفت هم د اسم مفرد په څېر مفرد وي، یعني مضاف یا شبه مضاف نه وي، درېیم دا چي هغه له خپل اسم مفرد موصوف سره متصل وي، نه ځیني بېلیږي، مصنف رحمه الله د دې لپاره مثال وړاندي کوي (لارجلَ ظریفٌ) وګوره (رجلَ) دلائ نفي جنس اسم دی او د مفرد کېدو په وجه سره مبني پر فتحه دی، (ظریفٌ) یې لومړی صفت دی، مفرد هم دی او متصل هم دی، نو دا مبني پر فتحه ویل کیږي، د دې لپاره چي د موصوف او صفت دواړو تر مینځ مطابقت راسي او دا که معرف ومنل سي، مرفوع هم ویل کېدای سي، په دې صورت کي دده حمل د لائ نفي جنس دا اسم پر محل حمل کیږي، هغه چونکه محلا یعني د مبتداء واقع کېدو په وجه مرفوع وي، نو دا هم مرفوع کیږي.

والا فالاعراب: د کافیه ملاصاحب رحمه الله وایې: چي که چیري له مذکوره درېو شرطونو څخه کوم یو شرط هم پیدا سي، نو داسي صفت صرف په معرب کېدو

سره مرفوع او منصوب خو ويل كېداى سي، لېكن مبني پر فتحه نسي كېداى، كه مرفوع وويل سي، نو دى پر محل بعيد حمل كېږي او كه منصوب وويل سي، نو پر محل قريب حمل كېږي.

نیویم (۹۰) درس

دلائ نفي جنس اودديې له اسم سره تړلې دريېمه قاعده

والعطف على اللفظ وعلى المحل جائزٌ فى مثل: لاأبَ، وابنًا وابنٌ ومثل: لا ابًا له ولا غلامى له جائزٌ تشبيهًا له بالمضاف لمشاركته له فى اصل معناه ومن ثم لم يجز (لا ابا فيها) وليس بمضافٍ لفسادالمعنى خلافًا لسيبويه ويُحذف كثيرًا فى مثل: لا عليک، اى لا بأس عليک.

ترجمه: اوعطف پر لفظ او محل دواړو جائز دى، لكه (لااب وابنًا وابنَ) او لكه (لا اباله ولاغلامى له) دا مثالونه جائز دي، د دوى له مضاف سره د مشابهت لرلو له وجې له مضاف سره په اصل معنا كي مشاركت سته، له همدې وجې (لا ابا فيها) جائز نه دى او دا په حقيقت كي مضاف نه دى دمعنا دفساد له وجې، په دې كي د امام سيبويه اختلاف دى او د (لا) اسم د (لا عليک) په څېر مثالونو كي ډېر حذف كېږي، د دې معنا ده (لابأس عليک).

تشريح: د نن په سبق كي څلور خبرې دي:

①: د لائ نفي جنس له اسم سره تړلې دريېمه قاعده، ②: پر مذكوره قاعدهَ سوال او دهغه جواب، ③: د كافيه د ملاصاحب پر سيبويه رد، ④: د لا نفي جنس له اسم سره تړلې څلورمه قاعده.

لومړى خبره: د لائ نفي جنس له اسم سره تړلې دريېمه قاعده:

والعطف على اللّفظ وعلى المحل جائز فى مثل لااب وابنًا وابنٌ په دې عبارت كي مصنف رحمه الله د لائ نفي جنس له اسم سره تړلې دريېمه قاعده بيانوي، چي پر ده كه چېري اسم عطف سي، نو داسي كول جائز دي، په دې شرط چي دلائ نفي جنس اسم مكرر نه وي او اسم معطوف نكره وي، نو په داسي صورت كي معطوف منصوب هم كېداى سي او مرفوع هم، كه چېري منصوب وي، نو حمل

دمعطوف علیه پر لفظ کېږي او مرفوع کېږي، او پر محل یې عطف کېږي، لکه (لااب و ابنًا دا (لاابٌ وابنٌ) هم ویل کېدای سي، دا د عربي ژبې د مشهور شاعر فرزدق د یوه شعر ټوټه ده، شعرپه لاندي ډول دی:

لا اب و ابنٌ مثل مروان وابنه * اذ هو بالمجد ارتدّی وتأزّرا

ترجمه: د مروان او دده د زوی په څېر هیڅ پلار او زوی نسته، ځکه چي مروان د بزرګۍ قمیص او پرتوګ اغوستي دي.

یادونه: څرنګه چي مورږ د (فی مثل لا اب وابنًا) تعریف دا کړی و، چي لائي نفي جنس مکرره نه وي او اسم معطوف نکره وي، لېکن ددې پر خلاف که چېري (لا) مکرره وي، نو دهغه اعراب داسي نه کېږي، بلکي د هغه اعراب د (لاحول ولاقوة الا بالله) په ډول کېږي، دا راز که چېري د معطوف نکره پر ځای معرفه راسي، نو هم یې دا اعراب نه کېږي، بلکي د هغه مرفوع ویل واجب دي، ځکه په دې صورت کي (لا) ملغی عن العمل کېږي، لکه (لاغلام لک والفرسُ) وګوره دلته (الفرس) عطف دی د (غلام) پر محل او (غلام) چونکه محلا مرفوع دی، نو دالفرس مرفوع ویل هم واجب کېږي.

دوهمه خبره: پر مذکوره قاعده سوال او د هغه جواب:

ومثل لا ابًا له ولا غلامی له جائزٌ: دا دیوه سوال جواب دی له (مثل لا ابًا له ولا غلامَی له) څخه هر هغه ترکیب مراد دی، په کوم کي چي دلائ نفي جنس تراسم وروسته لام د اضافت وي، او پر هغه اسم د اضافت احکام جاري سوي وي.

د سوال تقریر دادی، چي مخکي تاسو ویلي وه، چي دلائ نفي جنس اسم که چېري نکره مفرده وي، نو مبني علی الفتح کېږي، لېکن په (لاابا له ولاغلامَی له) کي (ابًا) او (غلامی) دواړه دلائ نفي جنس اسم دي اونکره هم دي، ځکه چي نه مضاف دي او نه مشابه بالمضاف او بیا هم مبني پر فتح نه دي، بلکي معرب دي، که چېري دا مبني وای، نو (لا اب له ولاغلامَین له) به وای؟

د کافیه ملاصاحب رحمه الله په دې ټکو جواب ورکړی چي (تشبیهًا له بالمضاف لمشارکته له فی اصل معناه) یعني سوال کوونکې! تا چي کومه خبره وکړه، چي

نه مضاف دی، او نه مشابه بالمضاف نو وبخښنه دا که څه هم مضاف خو نه دی، لېکن مشابه بالمضاف هرومرو دی او له مضاف سره دده مشابهت د اصلي معنا په اعتبار سره دی او هغه ده اختصاص، يعني په مضاف کي اصل معنا اختصاص وي، او دلته هم اختصاص سته، ځکه (ابٌ) له (ابنٌ) سره خاص وي او (غلام) له (مولی) سره خاص وي، نو کله چي مشابهت راغی، نو دواړه مفرد نه پاتېږي او کله چي مفرد پاته نه سول، نو مبني پر فتح کېدل يې هم باطل سو، نو په دي صورت کي دا معرب کېږي، لکه د (لااَبَ) پر ځای (لااَبًا) او د (لاغلامَين له) پر ځای (لاغلامَی له) ويل کېږي.

ومن ثَمّ لم يجز لا ابا فيها: چي پورتني دواړه ترکيبونه موږ ځکه روا بللي وه، چي پکي له مضاف سره مشابهت و، ځکه په دواړو کي د اختصاص معنا وه، نو په کوم ترکيب کي چي دده په ډول د اختصاص معنا نه وي، هغه ناجائز کېږي، لکه: (لا ابا فيها) په دې کي د (فيها) د ضمير مرجع (دارٌ) ده او د (ابٌ او دارٌ) تر مينځ کومه د اختصاص معنا نسته، يعني دلته دلایٔ نفي جنس اسم (ابًا) نه خو د (فيها) وطرفته مضاف دی او نه مشابه بالمضاف دی، نو (لا ابًا فيها) ويل جائز نه سو، ځکه چي (ابٌ) د نکره مفرده کېدو په وجه مبني علی الفتح کېدل پکار وه.

درېيمه خبره: د کافيه د ملاصاحب پر سيبويه رد کول:

وليس بمضاف لفساد المعنى خلافًا لسيبويه:

په دې عبارت کي د کافيه ملاصاحب رحمه الله غواړي پر سيبويه رد وکړي، هغه په دې ډول چي مخکي دا خبره تېره سوه، چي (لا ابًا له ولاغلامَی له) د مشابه بالمضاف کېدو په وجه معرب دی، لېکن امام سيبويه صاحب وايي: چي دا دواړه معرب خو دي، لېکن د مشابه بالمضاف کېدو په وجه نه، بلکي د اضافت حقيقيه په وجه سره دي، ځکه چي دده په نزد په (لاابًا له او لاغلامَی له) دواړو کي لام زائد دی، نو اصل عبارت داسي دي: (لا اباه ولا غلامَيه) نو د کافيه ملاصاحب د سيبويه پر قول پر رد کولو وايي: چي دا دواړه د اضافت حقيقيه په وجه مضاف نسي کېدای، او د دې دليل دادی، چي (لفساد المعنى) يعني په داسي

كولو لفظي او معنوي دواړې خرابۍ لازميږي، په لفظي ډول دوې خرابيانې راځي: ①: كه چېري موږ دا مضاف ومنو، نو د (لا) معرف پر داخلېدل لازميږي، حال دا چي موږ مخكي وويل: چي (وان كان معرفة وجب الرفع والتكرير) يعني د لائې نفې جنس اسم كه چېري معرفه وي، نو يو خو دا چي هغه اسم به مرفوع وي او دوهم دا چي هلته به (لا) مكرره راغلې وي، حال دا چي دلته دا د واړه نسته.

②: كه چېري موږ په دواړو كي اضافت حقيقيه ومنو يعني (لا ابا له) (لا اباه) او (لاغلامَی له) (لاغلامَيه) ومنو، نو (اباه او غلامَيه) دواړه خو دلائ نفي جنس اسم كېږي، لېكن د خبر لپاره به موږ محذوف عبارت را باسو، كوم چي صحيح نه دي، د دې پر ځاى كه چېري دا مشابه بالمضاف ومنل سي، نو اسم او خبر دواړه په لفظ كي مذكور دي، هغه داسي، چي (ابا) د لائ نفي جنس اسم كېږي، او (له) يې خبر كېږي (وهكذا فی لاغلامَی له).

او معنوي خرابي دا لازميږي، چي په (لا ابا له وغلاميه) ويلو د متكلم مقصد داسي كېږي، چي د فلاني سړي نسب بلكل معلوم نه دی او د فلاني سړي هېڅ مرييى نسته، (دا معنا ځكه موږ وكړه، چي نكره كله تر نفې لاندي راسي، نو هغه عموم فائده كوي)، لېكن په دې كي كه چېري موږ اضافت حقيقه ومنو، نو په داسي عبارت سره د متكلم مقصد نه حاصليږي، ځكه د متكلم مقصد د فلاني سړي د نسب او د هغه د مرييانو نفې كول دي، لېكن دا عبارت د هغه له ارادې سره نه برابريږي، ځكه د دې معنا ده چي فلانی سړی معلوم النسب خو دی، لېكن د ده پلار تراوسه لا موجود هم نه دی، دا راز د فلاني سړي مرييى خو سته، لېكن تر اوسه موجود سوی نه دی، حال دا چي د متكلم مقصد دا نه دی.

څلورمه خبره: د لائ نفي جنس له اسم سره تړلې څلورمه قاعده:

ويحذف كثيرا فی مثل: لا عليک، ای لا بأس عليک: د لائي نفي جنس له اسم سره تړلې دا څلورمه قاعد وړاندي كېږي، دا قاعده تاسو په هداية النحو كي هم ويلې ده، په عبارت كي له (فی مثل لا عليک) څخه هر هغه تركيب مراد دی، په

کوم کي چې د لائ نفي جنس خبر مذکور وي او اسم د کومې قرينه حاليه. يا مقاليه له وجې حذف سوی وي.

: قاعدې تقرير داسې دی، چې کله کومه قرينه حاليه. يا مقاليه موجوده وي. نو د لائ نفي جنس اسم حذفول جائز دي، لکه (لا عليک) دا په اصل کي (لا بأس عليک) و، (بأس) اسم ځيني حذف سو، ځکه چې دلته قرينه سته چې لائي نفي جنس پخپله هم حرف ده او پر چاچي داخله ده هغه هم حرف ده، يعني (عليک).
حال دا چې حرف کله هم پر حرف نه داخلېږي، په خاصه توګه بيا لائ نفي جنس خو صرف پر اسم داخلېږي، له همدې ځخه څرګنده سوه، چې دلته يو اسم حذف سوی دی، کوم چې (بأس) دی.

يونيويم (۹۱) درس

د دوولسم منصوب (ماولامشابه بليس) دخبر بيان

خبر ما ولا المشبهتين بليس: هو المسند بعد دخولهما وهى لغةٌ حجازية واذا زيدت (ان) مع (ما) او انتقص النفى بإلّا او تقدم الخبر بطل العمل واذا عطف عليه بموجب فالرفع.

ترجمه: له منصوباتو ځخه د (ما) او (لا) خبر هم دي، کوم چې له (ليس) سره مشابه وي، دا هغه دي، چې پر چا داخل سي، هغه مسند کېږي او دا د اهل حجاز لغت دی او کله کله له دوی سره (ما) زياتېږي، او کله کله د دوی نفي د (الا) په ذريعه ختم کېږي، او کله کله د دوی خبر مقدم کېږي، نو دد وی عمل باطلېږي او کله چې د حرف ايجاب په ذريعه د دوی عطف وسي، نو مرفوع ويل کېږي.

تشريح: د نن په سبقه کي شپږ خبري دي:

①: د ماولا مشابه بليس د خبر تعريف، ②: د ما او لا له ليس سره مشابهت، ③: په تعريف کي د ذکر سويو قيدونو فائدي، ④: د ماولا مشابه بليس عمل او پکي اختلاف، ⑤: د ما اولا د عمل نواسخ (له مينځه ورونکي)، ⑥: د ما ولا نه خبر سره ترلي يوه قاعده.

د ماولا مشابه بليس د خبر تعريف

لومړۍ خبره: د ماولا مشابه بليس د خبر تعريف:

خبر ماولا المشبهتين بليس هو المسند بعد دخولهما:

له منصوباتو څخه اخيري منصوب د ماولا مشابه بليس خبر دی، په دې عبارت کې مصنف رحمه الله د ماولا مشبهتين بليس د خبر تعريف بيانوي، چې د ماولا مشابه بليس خبر هغه اسم دی، کوم چې له دوی دوو څخه د يوه تر داخلېدو وروسته مسند وي، لکه (ما زيدٌ قائمًا او لا رجلٌ حاضرًا).

په دې مثالونو کې د ماولا تر داخلېدو مخکې (قائمٌ) او (حاضرٌ) که څه هم مسند وه، لېکن کله چې پر ما اولا داخل سو، نو د دوی مخکنی ترکېب ختم سو، بيا چې کله له نوي سره د دوی ترکېب جوړ سو، نو دوی دواړه مسند جوړ سول.

د ما اولا له ليس سره مشابهت

دوهمه خبره: د ما اولا له ليس سره مشابهت:

د دې پوره تفصېل د مرفوعاتو په اووم مرفوع (ما اولا) مشابه بليس د اسم تر بحث لاندې په (۴۷) درس کې تېر سوی دی، هلته يې وګوره، لنډه خلاصه يې دا دی، چې د (ما اولا) له ليس سره مشابهت په نفي کې او پر جمله اسميه په داخلېدو کې او اسم ته په رفع او خبر ته په نصب ورکولو کې دی.

درېيمه خبره: په مذکوره تعرېف کې د قيدونو فائدې:

خبر ما ولاالمشبهتين بليس: هوالمسند بعد دخولهما: په دې عبارت کې د (هو) ضمير مرجع د ما ولا مشابه بليس خبر دی، کوم چې معرف دی او (المسند بعد دخولهما) يې تعرېف دی، بيا په دې تعرېف کې (المسند) جنس دی، کوم چې معرف او غير معرف دواړو ته شامل دی او (بعد دخولهما) فصل دی، په دې سره باقي ټول مسندات له تعرېف څخه ووتل، ځکه هغه که څه هم مسند دي، لېکن له دې وجې څخه نه دي، چې ما ولا پر داخل سوي دي، بلکې له کومې بلې څخه مسند دي، مثلا يا د افعال ناقصه پر داخلېدو له وجې وي، لکه د (زيدٌ عالمٌ) پر ځای (كان زيدٌ عالمًا) دلته (عالمًا) که څه هم مسند دی، ليکن د (ماولا) د داخلېدو په وجه نه دی، بلکې د (كان) فعل ناقص په وجه مسند دی، دا راز د

(زيدٌ قائم) پر ځاى (ان زيدًا قائمٌ) په دې کي هم (قائمٌ) مسند دى، لېکن د (ماولا) له وجې نه، بلکي د (ان) حرف مشبه بالفعل له وجې دى، پاته سو د ما ولا مشابه بليس خبر، نو هغه صرف له دوى دوو څخه د يوه د داخلېدو په وجه مسند وي.

څلورمه خبره: د ماولا مشابه بليس عمل او پکي اختلاف:

وهي لغة حجازية: په دې مختصرعبارت سره د کافيه ملاصاحب د ماولا مشابه بليس د عمل او په هغه کي د اختلاف وطرفته اشاره کوي، عمل خو ددوى دواړو دادى، چي دوى خپل اسم ته رفع او خبرته نصب ورکوي، دا دحجاز مقدس د علماء کرامو مذهب دى، د دې په مقابله کي علماء بنوتميم وايي، چي ماولا هيڅ عمل نه کوي، له دوى سره دوه دلېلونه دي:

①: ځکه چي دا دواړه لکه څرنګه چي پر اسم داخلېږي، همدا راز پر فعل هم داخلېږي.

②: ځکه چي د بنو تميم مشهورعربي شاعر زهير تميمي په يوه شعر کي دي، کوم چي په هداية النحو کي هم تېرسوى دى:

و مهفهف كالغصن قلت له انتسب * فأجاب ما قتل المحب حرام

ترجمه: د يوې ځانګې په څېر نرى ملا لرونکي ته مې وويل، چي خپل نسب خو بيان کړه، هغه په جواب کي وويل: د مين وژل حرام نه دي.

که چېري (ما اولا) عامل واى، نو دا (ماقتل المحب حرامًا) کېدى، حال دا چي دلته (حرامٌ) مرفوع دى، نو معلومه سوه چي دا دواړه عمل نه کوي.

د حجاز مقدس علماء کرامو جواب ورکړى، چي که چېري دا عامل نسي، نو د الله ﷻ په مبارکه وينا کي (ماهذا بشرًا) نسي ويل کېداى، بلکي (ما هذا بشرٌ) ويل کېږي.

او د مذکوره شعر جواب دادى، چي حضراتِ محترم! تاسو يو داسي شعرورانديز کړئ، چي داهل حجاز د شاعر وي، نو تاسو خو د خپل کور د شاعر قول وړاندي کړى، دا زموږ پر خلاف د دلېل په ډول نسي وړاندي کېداى، اعتبار نلري.

د ما اولا د عمل له مينځه وړونکي

پنځمه خبره: د ما اولا د عمل له مينځه وړونکي:

له و اذا زيدت ان مع ما څخه واخله تر اخېره پوري په عبارت کي د کافيه ملاصاحب درې داسي شيان بيانوي، کوم چي د ما اولا عمل له مينځه وړي،

لېکن تر دې مخکې يوه اصل او ضابطې ته غوږ سئ! چې هغه عامل کوم چې له کوم بل عامل سره دمشابهت په وجه عمل کوي، نو هغه ضعيف عامل شمېرل کېږي، تر څو چې په دې کې درې شرطونه موجود وي، نو هغه عمل کوي. لېکن که چېرې له دغو دريو شرطونو څخه يو شرط هم نه وي، نو ددوی عمل باطلېږي:

①: د عامل او معمول ترمينځ به فاصله نه وي، ②: د چا د مشابهت له وجې چې هغه عمل کاوه، هغه مشابهت به باقي وي، ③: په کوم ترتيب سره چې هغه عمل کاوه، هغه ترتيب به هم باقي وي.

اوس نو د نواسخ (د ماولا) د عمل له مينځه وړونکو ته غوږ سئ!

①: واذا زيدت ان مع ما: لومړی ناسخ دادی چې که چېرې تر (ما) وروسته (ان) راسي، نو د ما عمل باطلېږي، لکه (ما ان زيدٌ قائمٌ) د دې وجه داده، چې موږ لومړی شرط دا لګولی و چې د عامل او معمول ترمينځ به فاصله نه وي، او دلته فاصله راغلې ده.

يادونه: دلته (مع) د (بعد) په معنا ده، لکه په (ان مع العسر يسرًا) کې چې دي، دوهمه خبره داده چې مصنف رحمه الله تر (ما) وروسته صرف د (ان) زيادت ذکر کړی دی، ځکه چې په عربو کې ددې استعمال ډېر لږ دی.

②: او انتقض النفی بالّا: دوهم ناسخ دادی، چې (ماولا) کوم چې نافيه دي که ددوی نفې د (الا) په ذريعه ختم سي، نو ما ولا عمل نسي کولای، ځکه چې په دې کې دوهم شرط (د مشابهت بقا) نسته، لکه څرنګه چې تېر سوه، چې د دوی معنوي مشابهت له (ليس) سره په نفې کې دی او هغه د (الا) په وجه ختم سو، نو ددوی عمل هم ختمېږي، لکه د (مازيدٌ قائمًا) پر ځای (مازيدٌ الا قائمٌ).

③: او تقدم الخبر: درېيم ناسخ دادی، چې د (ما اولا) خبر د دوی پر اسم مخکې سي، نو هم ددوی عمل باطلېږي، ځکه په داسي صورت کې درېيم شرط (د عمل د ترتيب بقا) نسته، لکه د (مازيدٌ قائمًا) پر ځای (ما قائمٌ زيدٌ).

د جمهورو علماؤ مذهب خو همدادی، خو امام یونس نحوي ویلي دي: چې د نفې له انتقاض سره، سره هم ماولا خپل عمل کوي، په دلیل کې ده یو شعر وړاندې کړی دی:

ومالدهر الا مجنونًا بأهله * و ما صاحب الحاجات الا معذّبًا

دا رازیې یو بل شعر هم وړاندې کړی دی:

وما حق الذی یعثو نهارًا

ویسرق لیله الا نـــکالًا

جمهورو علماؤ جواب ورکړی دی، چې علامه یونس صاحب! په مذکوره دواړو شعرونو کې ستا هیڅ دلیل نسته، ځکه چې تر (مجنونًا، معذّبًا او نکالًا) هر یوه مخکې فعل محذوف دی، نو دغه درې سره اسماء د هماغه محذوف فعل له وجې منصوب دي.

د ماولاله خبر سره ترلې یوه قاعده

ځلورمه خبره: د ما اولا له خبر سره تړلې یوه قاعده:

واذا عطف علیه بموجب فالرفع: په دې عبارت کې د کافیه ملاصاحب رحمه الله یوه قاعده بیانوي، چې که چېرې د (ماولا) مشابه بلیس پر خبر له حروف ایجاب څخه د کوم حرف په ذریعه عطف سوی وي، نو په عامه ډول قاعده خو داده، چې د معطوف او معطوف علیه اعراب یو رنګه وي، لېکن دلته ددې حکم دادی، چې داسې معطوفِ همېشه مرفوع کېږي، لکه (مازیدٌ قائمًا بل قائمٌ)، وجه یې داده: چې (ماولا) دنفې له وجې عمل کاوه، لیکن حرف ایجاب (بل) د (قائمٌ) نفې ختم کړې، کله چې نفې ختم سوې، نو عمل هم ختم سو، کله چې عمل ختم سو، نو دا د معطوف علیه پر محل عطف کېږي، او هغه محلا د (خبر کېدو په وجه) مرفوع و، نو دا هم مرفوع سو.

وَ تَمَّتِ الْمَنْصُوْبَاتُ بِفَضْلِ اللهِ تَعَالٰى وَكَرَمِهٖ

اَلْمَجْرُوْرَاتُ

المجرورات: دا يې په دوو وجو د جمع په صيغه ذکر کړی، که نه مجرور خو يوازي يو (مضاف اليه) دی، نو داسي کېدل پکار وه، چي د مفرد په شکل يې راوړی وای، د جمع په صيغه سره د راوړلو يې شارحينو دوې وجې بيان کړي دي:

①: لومړی وجه داده چې تر دې مخکې (المرفوعات) او (المنصوبات) د جمع په صیغه راغلې وه، له هغوی سره د محض مشاکلت (ورته والي) په وجه دلته هم (المجرورات) د جمع په صیغه سره راوړل سو.
②: دوهمه وجه داده چې مجرور په واقع کې صرف یو یعني مضاف الیه وي، لیکن دغه مجرور بیا څو قسمونه دی (چې تفصیل به یې وروسته درته راسي)، نو هغو قسمونو ته اشاره کول مقصود وه، ځکه یې د جمع په صیغه راوړ.

دمجرورات تعریف

دوهمه خبره: د مجرورات تعریف:

هو ما اشتمل علی علم المضاف الیه: چې مجرور هغه اسم معرب دی، کوم چې د مضاف الیه پر علامه مشتمل وي او هغه علامې توتل درې دي:
①: کسره، لکه چې عام اسماء په کسره سره مجرور وي، لکه (مررتُ بزیدٍ او غلام زیدٍ).
②: فتحه، لکه چې په غیرمنصرف کې وي، یعني غیرمنصرف چې کوم اسم وي، نو د هغه جر په فتحه سره راځي، لکه (مررتُ بعمرَ او غلام عمرَ).
③: په یاء سره، بیا دا یاء یا خو به یې ماقبل مفتوح وي، لکه تثنیه او د دې ملحقات، تاسو ویلي دي، لکه (مررتُ برجلَین اثنَین کلَیهما) او یا به یې ماقبل مکسور وي، لکه په جمع مذکر سالمه او دهغې په ملحقاتو کې، تاسو ویلي دي، لکه (مررتُ بمسلمِین عشرِین اولی علمٍ).

دمضاف الیه تعریف اودهغه وضاحت

درییمه خبره: د مضاف الیه تعریف او د هغه وضاحت:

والمضاف الیه کل اسم: فاضل مصنف رحمه الله علیه په مذکوره عبارت کې د مضاف الیه تعریف راته کوي، چې مضاف الیه هغه اسم حقیقي یا اسم حکمي دی، د کوم طرفته چې د یو شي نسبت د حرف جر په واسطه سره وي او حرف جر په لفظ کې وي، لکه (مررت بزیدٍ) وګوره! دلته د (مررتُ) فعل نسبت د (باء) حرف جر په

ذریعه د زید وطرفته سوی دی، د نحویینو په اصطلاح کي دېته جار مجرور ویل کېږي، یا هغه حرف جر تقدیري وي، یعني اثر یې په لفظ کي باقي وي، لکه (غلام زیدٍ) دا په اصل کي (غلام لزیدٍ) و، دلته هم د غلام نسبت د لام مقدره په ذریعه د زید وطرفته سوی دی، د نحویینو په اصطلاح کي دېته مضاف مضاف الیه ویل کېږي، د (مرادًا) په قید سره د (صُمتُ یومَ الجمعةِ) وغیره ترکیبونه خارج سوه، ځکه چي په دغو کي که څه هم لام مقدر وي، خو په وروسته کي یې اثر باقي نه پاتېږي.

څرنګه چي موږ د مصنف رحمه الله د قول (کل اسم) مطلب پورته بیان کړ، چي مضاف الیه هغه اسم حقیقي، یاحکمي دی، نو په دې کي موږ اسم حقیقي او حکمي ځکه زیات کړي، چي په (یوم ینفع الصادقین صدقهم) او (یوم ینفخ فی الصور) کي ینفع او ینفخ کوم چي مضاف الیه جوړېږي، سره له دې دا دواړه فعل دي او بیا هم د حکمي په قید کي داخلېږي، ځکه ینفع او ینفخ که څه هم په لفظ ډول فعل دي، لېکن په حکمي ډول دا اسم دي، ځکه نو دوی د مصدر په تاویل اوړي، د آیتونو عبارتونه داسي کېږي: (یوم نفع الصادقین صدقهم او یوم النفخ فی الصور).

د حرف جر تقدیري لپاره د شرطونو بیان

څلورمه خبره: د حرف جر تقدیري لپاره د شرطونو بیان:

فالتقدیر شرطه ان یکون المضاف اسمًا مجردًا تنوینه: په دې عبارت کي مصنف رحمه الله د حرف جر تقدیري لپاره دوه شرطونه بیانوي، یعني هغه اضافت کوم چي په حرف جر تقدیري سره وي، د هغه لپاره دوه شرطونه دي:

①: مضاف اسم حقیقي وي، ځکه د اضافت چي کوم مقاصد دي، یعني تعریف، تخصیص او تخفیف دا په اسم حقیقي پوري خاص دي.

②: دوهم شرط دادی، چي هغه اسم مضاف به له تنوین څخه خالي وي، مصنف رحمه الله صرف د تنوین ذکر کړی، حال دا چي مضاف خو به له نون تثنیه او نون جمع څخه هم خالي وي، لېکن د دغو دوو ذکر یې ونکړ، دا ځکه چي تنوین په دې

تولو کي اصل دی او نونين يې فرع دي، نو د اصل په ذکر کولو کي د فرع ذکر په ضمني توګه پخپله راځي.

سوال: د مضاف له تنوين او نونين څخه خالي کېدل ولې ضروري دي؟

جواب: ځکه چي تنوين د شيانو پرپوره والي دلالت کوي او اسم تام هغه وي، چي نوريې اضافت نسي کېدای، يعني هغه انفصال غواړي او مضاف مضاف اليه اتصال غواړي، نو معلومه سوه، چي دغه دواړه يو له بل سره نسي يوځای کېدای، له همدې وجې چي له اسم تام څخه تنوين يا نونين ليري کړل سي، تام کېدل يې ختم سي، نو د دوی دواړو جمع کېدل ممکن کېږي، خلاصه دا سوه چي د دې دواړو د جمع کېدو د ممکن کېدو لپاره د نون تنوين او نون تثينه او نون جمع حذفول واجب دي.

لاجلها: چي له مضاف څخه د تنوين وغيره حذفولو باعث (لامل) همدا اضافت وي، لکه د (غلامٌ) پر ځای (غلامُ زيد) او د (ضاربان) پر ځای (ضاربا زيد) او د (ضاربون) پر ځای (ضاربوزيدٍ) لېکن هغه تنوين او نونين کوم چي د اضافت پر ځای له کومې بلې وجې غورزېدلي وي، نو هغه زموږ په بحث کي شامل نه دي، لکه د (غلامٌ) پرځای (الغلام) ويل کېدای سي، بيا ددې اضافت نسي کېدای، مثلا (الغلام زيدٍ) نسي ويل کېدای، ځکه چي (الغلام) که څه هم له تنوين څخه خالي دی، لېکن ددغه خالي والي باعث اضافت نه دی، بلکي الف اولام دی، دا رازد (ضاربٌ) پرځای (الضارب) ويل کېدای سي (الضارب زيد) نسي ويل کېدای.

دري نيويم (۹۳) درس د اضافت معنويه بيان

وهی معنوية ولفظية، فالمعنوية ان يكون المضاف غيرصفة مضافةٍ الى معمولها، وهی اما بمعنى اللام فی ماعدا جنس المضاف وظرفه واما بمعنى (من) فی جنس المضاف او بمعنى (فی) فی ظرفه وهو قليلٌ، مثل: غلام زيدٍ، وخاتم فضةٍ وضربُ اليوم و تفيد تعريفًا مع المعرفة وتخصيصًا مع النكرة وشرطها تجريدالمضاف من التعريف وما اجازه الكوفيون من الثلاثة الاثواب وشبهه من العدد ضعيفٌ.

ترجمه: او هغه (اضافت په تقدير د حرف) معنوي هم وي او لفظي هم، يا معنوي دادی، په كوم كي چي مضاف داسي صيغه صفت نه وي، كومه چي د خپل معمول وطرفته مضاف وي او هغه يا خو په معنا د لام وي، له دغو صورتونو پرته چي چيري مضاف اليه د مضاف له جنس څخه وي، يا د مضاف اليه لپاره ظرف وي، يا هغه په معنی د (مِن) وي كله چي مضاف اليه د مضاف له جنس څخه وي، يا په معنا د (فی) وي، كله چي مضاف اليه د مضاف لپاره ظرف وي او دا قليل الاستعمال ده، لكه (غلام زيد او خاتم فضة او ضرب اليوم) او دا (اضافت معنويه) په معرفه كي تعريف فائده كوي او په نكره كي تخصيص فائده كوي او شرط يې دادی، چي مضاف به يې له تعريف څخه خالي وي او كوم چي كوفيينو يه (الثلاثة الاثواب) او داسي نورو تركيبونو كي جائز بللی دی، هغه ضعيف دی.

تشريح: د نن په سبق كي په مختصره توګه شپږ خبري دي:

①: د اضافت قسمونه او د هريوه د تسميه وجه، ②: د اضافت معنويه تعريف، ③: د اضافت معنويه فائده، ④: د اضافت معنويه قسمونه، ⑤: د اضافت معنويه شرطونه، ⑥: د كافيه د ملاصاحب رحمه الله پر كوفيينو رد.

داضافت قسمونه او د هريوه د تسميه وجه

لومړی خبره: د اضافت قسمونه او د هريوه د تسميه وجه:

وهي معنوية ولفظية: د كافيه ملاصاحب رحمه الله وايي: چي اضافت تقديري، (يعني هغه اضافت چي د حرف جر په تقدير سره وي) هغه پر دوه قسمه دی: ①: اضافت معنويه، ②: اضافت لفظيه.

اضافت معنويه ته معنويه ځكه ويل كيږي، چي دا دمعنی وطرفته منسوب وي، يعني د دغه اضافت په وجه په مضاف كي تعريف او تخصيص پيدا كيږي، يعني دده اضافت كه چيري د نكره وطرفته سوی وي، نو تخصيص فائده كوي، لكه (غلام رجل)، دغه اضافت د غلام په معنی كي د تقليل معنا پيدا كړه، له (رجلٌ) سره يې خاص كړ، نو اوس دغه امرأة يعني كومه ښځه غلام ته نه شامليږي او كه چيري دده اضافت د معرفه وطرفته سوی وي، نو تعريف فائده كوي، لكه

(غلام زید) نو د دې غلام مصداق صرف د زید غلام کېږي او که چېرې د زید څو غلامان وي، نو هم له هغوی څخه یو خاص غلام مرادېږي او دا له دواړه قسمه معناوو سره تعلق لري، له همدې وجې ورته اضافت معنویه ویل کېږي، پردې سربېره دېته اضافت حقیقیه هم ویل کېږي.

او اضافت لفظیه ته لفظیه ځکه ویل کېږي، چې په دې سره صرف په لفظ کې تخفیف راځي، یعني که اسم منون وي، نو تنوین غورزول کېږي او که نون د تثنیه او نون د جمع وي، نو هغه غورزول کېږي او کلمه خفیفه (سپکېږي).

څرنګه چې د اضافت معنویه دوې فائدې وي او د لفظیه یوه فائده، نو اضافت معنویه یو ډول شرافت او لوړاوی پیداکړ، له همدې وجې په تعریف کې مخکې سو، چې په را روانه خبره کې راځي.

د اضافت معنویه تعریف

دوهمه خبره: د اضافت معنویه تعریف:

فالمعنوية ان يكون المضاف غير صفة مضافة الى معمولها: په دې عبارت کې مصنف رحمه الله د اضافت معنویه تعریف راته بیانوي، چې اضافت معنویه هغه اضافت دی، په کوم کې چې مضاف داسې صیغه صفت نه وي، کومه چې د خپل معمول وطرفته مضاف وي، دلته له صیغه صفت څخه مراد اسم فاعل، اسم مفعول، صفت مشبه او اسم تفضیل دي او له معمول څخه مراد فاعل او مفعول به دي، له دې تعریف څخه د اضافت معنوي درې صورتونه وفهمول سوه:

①: نه به مضاف صیغه د صفت وي او نه به د خپل معمول وطرفته مضاف وي، لکه (غلام زیدٍ).

②: مضاف به صیغه دصفت وي، خو د خپل معمول وطرفته به مضاف نه وي، بلکې د غیر معمول وطرفته به مضاف وي، لکه (کریم البلد) دلته (کریم) صیغه د صفت ده، خو (البلد) یې نه فاعل دی او نه مفعول، بلکې ظرف او مفعول فیه دی.

③: مضاف صیغه د صفت نه وي او دخپل معمول وطرفته مضاف وي، لکه (ضرب زیدٍ) دلته ضرب صیغه د صفت نه ده، بلکې مصدر دی او د خپل معمول

يعني زيد مفعول به وطرفته مضاف ده، نو په كوم اضافت كي چي دغه دري شرطونه پر ځاى وي، هغه ته اضافت معنويه ويل کېږي.

داضافت معنويه قسمونه

درېيمه خبره: د اضافت معنويه قسمونه:

وهى اما بمعنى اللام فى ماعدا جنس المضاف وظرفه....الخ : د كافيه ملاصاحب رحمه الله په دې عبارت كي د اضافت معنويه دوه قسمونه راته بيانوي: ①: اضافت به معنا د لام، ②: اضافت په معنا د (من)، ③: اضافت په معنا د (فى).

①: وهى اما بمعنى اللام: دېته اضافت لاميه او اضافت لميه هم ويل کېږي، اضافت لاميه هغه اضافت معنويه دى په كوم كي چي مضاف اليه نه خو د مضاف له جنس څخه وي او نه د مضاف لپاره ظرف وي، لكه (غلام زيد) دا په لام حرف جر تقدېري سره مضاف دى، ځكه په اصل كي دا (غلام لزيد) و، ګوره! دلته مضاف اليه (يعني زيد) د مضاف يعني (غلام) له جنس څخه هم نه دى او ورته ظرف هم نه ده، له جنس څخه د کېدو مطلب دادى، چي د مضاف اليه اطلاق پر مضاف او غير مضاف دواړو کېږي، دا راز د مضاف اطلاق هم پر مضاف اليه او غير مضاف اليه دواړو کېږي، لكه (خاتم فضة) دا پر (خاتم) هم صادقېږي او پر غير خاتم هم، پر فضه اوغير فضه دواړو صادقېږي، ځكه ګوتمۍ د سپينو زرو هم راځي او د غير سپينو زرو هم، دا راز سپين د ګوتمۍ هم وي او دغير ګوتمۍ هم، لېكن په (غلام زيد) كي دا راز نسي کېداى، ځكه د زيد اطلاق پر غلام نه کېږي، ځكه چي هغه ازاد دى او دا غلام او نه ورته ظرف دى.

②: واما بمعنى من فى جنس المضاف: چي اضافت په معنا د (من) هغه اضافت دى، په كوم كي چي مضاف اليه د مضاف له جنس څخه وي، لكه (خاتم فضة) دا په (من) حرف جر تقدېري سره مضاف دى، ځكه په اصل كي (خاتم من فضة) و د دې تفصيل مخكى تېر سوى دى، دېته اضافت (مِنِي او بيانيه) هم ويل کېږي.

۳: او بمعنی فی ظرفه: د کافیه ملاصاحب رَحِمَهُ اللهُ د اضافت معنویه دریم قسم راته بیانوي چي اضافت په معنا د (فی) هغه اضافت دی، په کوم کي چي مضاف الیه د مضاف لپاره ظرف وي، هغه که ظرف زمان وي، که مکان وي، لکه (صلاة اللیل او ضرب الیوم) دا په (فی) حرف تقدیري سره مضاف دی، ځکه په اصل کي (صلاةٌ فی اللیل او ضربٌ فی الیوم) وو، دلته (لیلٌ او الیوم) مضاف الیه د (صلاةٌ او ضربٌ) مضاف لپاره ظرف دي، دېته اِضافت (فوي) او اضافت (ظرفیه) هم ویل کېږي.

و هو قلیل: د کافیه ملاصاحب رَحِمَهُ اللهُ وایي: چي د اضافت معنوي دریم قسم عرب حضرات ډېر لږ استعمالوي، اکثره علماء نحوي د دغه لږ استعمال له وجې دا اضافت په معنا د (لام) بللی دی.

د اضافت معنوي فائده

ځلورمه خبره: د اضافت معنوي فائده:

و تفید تعریفًا مع المعرفة وتخصیصًا مع النکرة: په دې عبارت کي د کافیه ملاصاحب د اضافت معنوي یوه فائده ذکر کوي، لکه چي د لومړۍ خبرې په ضمن کي تېر سول، چي اضافت معنویه تعریف یا تخصیص فائده کوي، یعني که چېري مضاف الیه معرفه و، نو په اضافت سره مضاف معرفه کېږي، لکه (غلام زید او کتاب بکر) دلته غلامٌ او کتابٌ دواړه نکره وو، خو کله چي یې دَ زید او بکر وطرفته اضافت وسو، نو دواړه معرفه سول او که چېري مضاف الیه نکره و، نو د اضافت په وجه په مضاف کي تخصیص پیدا کېږي، لکه (غلام رجلٍ او کتاب امرأةٍ) د دې تفصیل مخکي تېر سوی دی.

د اضافت معنویه شرطونه

پنځمه خبره: د اضافت معنویه شرطونه:

وشرطها تجرید المضاف من التعریف: مصنف رَحِمَهُ اللهُ د اضافت معنویه د صحیح کېدو لپاره یو شرط بیانوي، هغه دا چي اضافت معنوي هغه مهال صحیح کېږي، کله چي مضاف د اضافت په وخت کي له تعریف څخه خالي وي، یعني نکره وي،

ځکه که چېرې مضاف معرفه وي، نو د ده مضاف الیه به له دوو حالونو څخه خالي نه وي، یا به هغه هم معرفه وي، یا به نکره وي، که چېرې هغه هم معرفه وي، نو د معرفه د معرفه وطرفته په مضاف کېدو سره تحصېل د حاصل لازمېږي، کوم چې قبیح دی (ځکه اجتماع د نقیضینو لازمېږي) او که چېرې مضاف الیه نکره وي، نو حصول اعلیٰ د (معرفه) په موجودګۍ کې ادنیٰ یعنې د (نکره) طلبول لازمېږي او دا هم صحیح نه دي، نو دا خبره ثابته سوه، چې د مضاف له تعریف څخه خالي کېدل ضروري دي.

شپږمه خبره: د کافیه د ملاصاحب د کوفي پر نحاتو رد:

و ما اجازه الکوفیون من الثلاثة الاثواب و شبهه من العد ضعیف: د کوفیېنو علماؤ مذهب دادی، چې (الثلاثة الاثواب) او که دده په ډول ترکیب وي، یعني مضاف معرفه وي، یا کوم عدد معرف باللام وي، بیا دده اضافت د تمیېز وطرفته وسي، لکه الخمسة الدراهم والمائة الدینار وغیره دا ټول جائز دي، لېکن مصنف علامه ابن حاجب رحمة الله علیه په مذکوره عبارت سره پر دوی رد کوي، چې (الثلاثة الاثواب) او (الخمسة الدراهم او المائة الدینار) او ددوی په څېر ترکیب ته صحیح ویل بلکل ضعیف قول دی، ځکه چې دا عقلا هم صحیح نه دي، چې له دې څخه تحصېل د حاصل لازمېږي او استعمالا هم صحیح نه دی، ځکه چې له فصحاؤ عربو څخه دا راز هېڅ خبره ثابته نه ده، بلکي عدد چې کله د خپل تمیېز وطرفته مضاف وي، نو پکي د الف لام پرېښودل ثابت دي، خو د فصحاؤ عربو په کلام کي چې ځای ځای عدد معرف باللام راغلی وي، او بیا یې اضافت سوی وي، نو د هغه په هکله ویښ اوسئ، چې هغه مضاف الیه نه وي، بلکي عدد معرف باللام مبدل منه یا معطوف جوړېږي او تر هغه وروسته معرف باللام اسم یې بدل الکل یا عطف بیان جوړېږي.

پر دې سوال کېږي، چې کله داسي ترکیب له سره ناجائز دی، نو د کافیه ملاصاحب (ضعیف) ولې وویل، ولې یې (لایجوز یا لا یصح) ونه ویل؟

دې جواب دادی، چې له فصحاؤ عربو څخه ځيني داسي مثالونه ثابت دي، کوم چي مبدل منه يا معطوف دي، نو دلته مذکوره (الثلاثة الأثواب) مثال چونکه په شکل له هغه سره مشابه دی، نو د مشابه په احترام کولو مې ورته صرف (ضعيف) وويل او (لايجوز، يالايصح) مې ونه ويل.

څلورم نيويم (۹۴) درس د اضافت لفظيه بيان

واللفظية ان يكون المضاف صفةً مضافةً الى معمولها، مثل: ضارب زيدٍ وحسن الوجه، ولاتفيد الا تخفيفًا فى اللفظ و من ثم جاز: مررت برجل حَسَنِ الوجه وامتنع مررت بزيد حَسَنِ الوجه وجازالضاربا زيدٍ والضاربو زيدٍ وامتنع الضارب زيدٍ، خلافًا للفراء وضعف الواهب الهِجانِ وعبدها وانما جاز: الضارب الرجل حملا على المختار فى الحسن الوجه والضاربك وشبهه فيمن قال: انه مضاف حملا على ضاربك.

ترجمه: او د اضافت لفظيه علامه داده، چې مضاف داسي صيغه صفت وي، چې د خپل معمول وطرفته مضاف وي، لکه (ضارب زيد او حسن الوجه) او اضافت لفظي يوازي په لفظ کي تخفيف فائده کوي، له همدې وجې (مررت برجل حسن الوجه) جائز دي او (مررت بزيدحسن الوجه) ناجائز دي، دا راز (الضاربا زيد او الضاربو زيد) هم جائز دي، لېکن (الضارب زيد) ويل صحيح نه دي، دا خبره د فراء خلاف ده او (الواهب المائة الهجان وعبدها) ضعيف دی او (الضارب الرجل) صرف له دې وجې جائز دي، چې د (الحسن الوجه) پر مختاره وجه محمول ده او جائز دي (الضاربک) او ددې په مثل د هغو خلکو په نزد چې دا مضاف بولي، يا يې پر (الضاربک) حمل کوي.

تشريح: د نن په سبقه کي پنځه خبرې دي:

①: د اضافت لفظي تعریف، ②: د اضافت لفظي فائده، ③: د اضافت لفظي پر تعریف تفریعات، ④: د امام افراء له جمهورو علماؤ سره اختلاف. ⑤: د جمهورو علماؤ له لوري جواب.

د اضافت لفظیه تعریف

لومړۍ خبره: د اضافت لفظیه تعریف:

واللفظية ان يكون المضاف صفةً مضافة الىٰ معمولها:
مصنف رحمه الله د اضافت معنوي له تعریف او د هغه له تفصیل څخه فارغ سو، اوس د اضافت لفظیه تعریف او د هغه پوره تفصیل بیانوي، نو په عبارت مذکوره کي د هغه تعریف بیانېږي، چي اضافت لفظیه هغه ته وایې، چي مضاف صیغه د صفت وي او د خپل معمول وطرفته مضاف وي، لکه په (ضارب زيدٍ) کي (ضاربْ) صیغه د صفت مضاف ده د خپل معمول (زید) وطرفته کوم چي مفعول به جوړېږي او په (حسن الوجه) کي (حسنْ) صیغه دصفت شبه مضاف ده د خپل معمول (الوجه) و طرفته، کوم چي یې فاعل جوړېږي.

دوهمه خبره: د اضافت لفظیه فائده:

ولا تفيد الا تخفيفًا فى اللفظ: مصنف رحمه الله په دې عبارت کي د اضافت لفظي فائده را ته بیانوي، چي اضافت لفظیه صرف تخفیف په لفظ یعني د کلمې اسانه جوړول فائده کوي او د معنا په اعتبار سره هیڅ فائده نلري، بیا د تخفیف فى اللفظ درې صورتونه دي، ①: صرف په مضاف کي تخفیف، بیا دا تخفیف یا خو د تنوین د حذف په ذریعه وي، لکه (ضارب زید) دا په اصل کي (ضاربٌ زيدًا) و، د اضافت په وجه تنوین ځیني و غورزېد، نو (ضاربُ زيدٍ) سو، یا دا تخفیف د نون تثنیه او نون جمع په حذف کېدو سره وي، لکه (ضاربازيدٍ) چي په اصل کي (ضاربان زيدًا) و او (ضاربوازيدٍ) چي په اصل کي (ضاربون زيدًا) و.
②: یا تخفیف صرف په مضاف الیه کي وي، لکه (زيدالقائم الغلام) چي په اصل کي (زيدالقائم غلامه) و، غلامه د مضاف په مضاف کېدو په وجه ضمیر ځیني حذف کړل سو او په القائم کي ضمیر مستتر ومنل سو.

③: کله کله تخفیف په مضاف او مضاف الیه دواړو کي وي، لکه (حسن وجهه)
چي په اصل کي (حسنٌ وجهه) و، د اضافت په وجه د (حسنٌ) تنوین حذف سو او
له (وجهه) مضاف الیه څخه هم ضمیر حذف کړل سو، په عوض کي الف لام
تعریف پر راغی، نو (حسن الوجه) سو.

درېیمه خبره: د اضافت لفظیه پر تعریف تفریعات:

ومن ثم جاز مررت برجل حسن الوجه: زما خوږو طالبانو! تاسو به په اصول الشاشي کي تېول تفریعات وواياست، نن د کافیه له ملاصاحب څخه یو دوه تفریعات واورئ:

لکه چي په مخکني عبارت کي موږ وویل چي اضافت لفظیه تخفیف فائده کوي، نو د مفهوم مخالف په ډول له دي څخه دا خبره معلومېده چي اضافت لفظي تعریف او تخصیص نه فائده کوي، نو دا دوې خبرې کېږي، یوه دا چي اضافت لفظیه فائده کوي، دوهمه دا چي اضافت لفظیه تخصیص او تعریف نه فائده کوي، له دې دواړو څخه پر هره یوه خبره مصنف رَحِمَهُ ٱللَّٰهُ یوه تفریع کړې ده:

لومړی تفریع پر دوهمه خبره:

ومن ثم جاز: مررت برجل حَسَن الوجه وامتنع مررت بزید حَسَن الوجه: په دي عبارت کي مصنف رَحِمَهُ ٱللَّٰهُ پر هغه خبره چي اضافت لفظیه تعریف نه فائده کوي یوه تفریع کوي، چي د (مررت برجل حسن الوجه) ترکیب خو صحیح دی، لیکن د (مررت بزید حسن الوجه) ترکیب صحیح نه دی، وجه یې داده، چي په (مررت برجل حسن الوجه) کي (رجلٌ) موصوف دی او (حسن الوجه) مضاف مضاف الیه صفت دي او د موصوف وصفت ترمینځ مطابقت ضروري وي او هغه دلته سته، ځکه چي رجلٌ هم نکره دی او (حسن الوجه) هم نکره دی، ځکه اوس موږ وویل چي اضافت لفظیه تعریف نه فائده کوي، نو (حسن الوجه) تراوسه هم نکره پاته دی. او د (مررت بزید حسن الوجه) ترکیب ځکه صحیح نه دی، چي (زیدٌ) موصوف دی او معرفه ده او (حسن الوجه) یې صفت دی او نکره دی، نو د موصوف او صفت ترمینځ د مطابقت نه راتلو له وجې دا ناجائز سو.

دوهمه تفريع پر لومړۍ خبره:

وحاز الضاربا زيدٍ والضاربو زيد وامتنع الضارب زيدٍ: پر لومړۍ خبره (يعني اضافت لفظيه تخفيف فائده كوي) تفريع كوي، چي (الضاربا زيدٍ او الضاربو زيدٍ) دا دواړه تركيبونه صحيح دي، لېكن د (الضارب زيدٍ) تركيب صحيح نه دی، لومړی دواړه ځكه صحيح دي، چي په دواړو كی د اضافت له وجې تخفيف راغلی دی، يعني له دواړو څخه نون د تثنيه او د جمع حذف سوی دی، دلېل يې دادی، چي كه چېري مورږ د دې دواړو اضافت ختم كړو (زيدٌ) ځيني ليري كړو، نو له الف لام سره سره هم دوی باقي پاتېږي، لكه (الضاربان او الضاربون)، نو له دې څخه معلومه سوه چي له دوی څخه نون (كوم چي غورزېدلی دی) هغه د اضافت په وجه دي، نه دالف په وجه.

د دې په مقابله كي د (الضارب زيد) تركيب ځكه صحيح نه دی، چي دلته داضافت په وجه هېڅ تخفيف نه دی راغلی، ځكه له الضارب څخه چي كوم تنوين غورزېدلی، هغه داضافت په وجه نه، بلكي د الف لام په وجه دی، ځكه كه چېري مورږ دده اضافت ختم هم كړو، بيا هم پر الضارب تنوين نه راځي، نو معلومه سوه چي د تنوين نه راتلل د الف لام په وجه دي، نه چي د اضافت په وجه سره.

څلورمه خبره: د امام فراء له جمهورو سره اختلاف:

له خلافًا للفراء څخه واخله تر حملا على ضاربک پوري په عبارت كي مصنف رحمة الله عليه د امام فراء له جمهورو سره اختلاف او د امام فراء پر خپله دعوه څلور دلېلونه او د جمهورو له لوري هغه ته چوپ كوونكي جوابونه بيانوي:

خلافًا للفراء: په دې كي د امام فراء اختلاف دی، چي د الضارب زيد په څېر چي كوم تركيب وي، هغه صحيح دی، پر دې امام فراء څلور دلېلونه وايې:

د امام فراء لومړی دلېل: لومړی دلېل دا چي په الضارب كي الف لام تر اضافت وروسته راغلی دی، نو دده تنوين د اضافت په وجه حذف سوی دی، نه چي د الف لام په وجه سره.

د جمهورو له لوري جواب:

جمهور علماءِ نحوه د دې دوه جوابونه ورکوي: لومړی هغه چې تېر سو، چې د (الضارب زید) اضافت که چېري ختم هم سي، نو بیا هم پر ده تنوین نه راځي، نو معلومه سوه، چې دا د الف لام په وجه حذف سوی، نه دا اضافت په وجه.
دوهم جواب دا چې ستا دا ویل چې اضافت تر دخول ا لف لام مخکي دی دا دعوی' بېله دلیل څخه ده، ځکه چې که چېري ظاهرته وکتل سي، نو دخول د الف لام مخکي معلومېږي، ځکه لام تعریف د ذات اسم د تحقیق لپاره راځي او اضافت د وصف اسم یعني د تخفیف د تحقیق لپاره راځي، یعني د الف لام تړاو له ذات اسم سره دی او د اضافت تعلق د اسم له وصف سره دی او دا ښکاره خبره ده، چې ذات پر وصف مقدم وي، نو معلومه سوه، چې د الف لام داخلېدل تر اضافت مخکي دي.

دامام فراء دوهم دلیل:

امام فراء دوهم دلیل د عربي د فصیح او بلیغ شاعر میمون بن قیون اعشی یو شعر وړاندي کوي:

الواهب المائة الهجان وعبدِها

عوذًا یزجّی خلفها اطفالها

ترجمه: زما د ممدوح د سخا دا حال دی، چې سل سپیني اوښې یې د هغوی له اوښېه سره وبخښل، په داسي حال کي چې د دغو اوښو نوي بچیان پیدا سوي وه او د دوی تر شایې پسې شړل.

د استشهاد محل: په مذکوره شعر کي عبدها پر المائة عطف ده او قاعده ده چې څوک د معطوف علیه فاعل وي، هماغه د معطوف هم وي، نو الواهب لکه څرنګه چې د المائة وطرفته مضاف دی، دا راز د عبدها وطرفته هم مضاف دی، نو ګواکي چې عبارت داسي سوه (الواهب المائة الهجان والواهب عبدها) نو کله چې د الواهب اضافت د عبدها وطرفته وسوا او فصحاؤ و بلغاؤ دا صحیح هم ومانه، نو د (الضارب زید) اضافت هم صحیح کېدل پکار دي، ځکه چې هغه هم دا راز ترکیب دی.

د جمهورو له لوري جواب:

د کافيه له ملاصاحب سره چونکه د الفاظو ذخيره ډېره کمه ده، ځکه يې نو فراء ته د جمهورو له لوري مختصر جواب ورکړی، چي (وضعف الواهب المائة الهجان وعبدها) يعني دا قول ضعيف دی، ځکه په دې کي مذکوره اضافت تخفيف نه فائده کوي، لکه چي په (الضارب زيد) کي يې نه فائده کاوه.

دلته يو سوال کېدای سي، چي محترمه! کله چي تا د (الواهب عبدها د الضارب زيد) مثل وګڼه، نو هلته خو تا ويلې وه، چي (وامتنع الضارب زيد) يعني د (الضارب زيد) ترکيب بلکل نا جائز دی او دلته ته وايې، چي (وضعف الواهب المائة الهجان و عبدها) يعني دا ترکيب جائز خو دی، لېکن جوازيې ضعيف دی.

د دې جواب دادی، چي دا دواړه اضافتونه امام فراء يو ډول بللي دي، لېکن په حېقت کي دا يو ډول نه دي، ځکه چي په (الضارب زيد) کي د معرف باللام اضافت د غير معرف باللام وطرفته بېله واسطې سوی دی او د اعشی په قول کي په واسطه د معطوف عليه اضافت سوی دی، نو په دې حيثيت سره چي معطوف بجميع الوجوه د معطوف عليه په حکم کي نه وي، دا ترکيب جائز سو او په دې حيثيت سره چي معطوف په بعضو وجو کي د معطوف عليه په حکم کي وي، نو دا ضعيف سو، په خلاف د (الضارب زيد) چي په دې کي بېله واسطه کېدو په وجه دا دواړه حيثيتونه نسته، نو په دې کي عدم جواز متعين و.

د امام فراء د دلېل دوهم جواب دادی، چي تا (واو) عاطفه بللی دی، حال دا چي (واو) عاطف نه، بلکي په معنا د (مع) دی او (واو) چي کله په معنا د مع سي، نو (عبدها) مفعول معه جوړېږي، نه چي مضاف اليه.

درېيم جواب دادی، چي که چېري مورږ دا واو عاطفه هم ومنو، بيا هم صحيح دی، لېکن په دې وخت کي ستا لپاره بيا هم حجت نه کېږي، ځکه ډېر وختونه د عطف په ذريعه يو شی ذکر سي، خو هغه صحيح وي، لېکن که چېري هماغه شی بېله عطف ځخه وي، نو صحيح نه وي، لکه (ربّ شاة وسخلتها) په دې کي (ربّ) د

عطف په ذريعه پر (سخلتها) داخل سوی دی، حال دا چي قاعده ده، چي (رب) صرف پر نکره داخلېږي، نو دلته هم همداسي ده، چي بېله عطف څخه داسي اضافت ناجائز دی، لکه په (الضارب زيد) کي چي دی او په عطف سره جائز دی، لکه د اعشی په قول کي چي تېر سو.

يادونه①: مذکوره شعر هغه مهال ضعيف دی، کله چي (عبدها) مجرور وويل سي، خو که چېري د (المائة) پر محل عطف سي، منصوب وويل سي، يا (واو) په معنا د (مع) سي، دده مفعول معه جوړ سي، منصوب وويل سي، نو بيا دا ضعيف نه دی، لېکن د امام فراء لپاره بيا هم دلېل نسي جوړېدای.

يادونه ②: په شعر کي (الواهب) خبر دی د مبتدا محذوف يعني (ممدوحي)، (المحان) په معنا د (اوبنو) دا لفظ د (فُلْکٌ) په څېر د واحد او جمع دواړو لپاره راتلای سي، که چېري د (قتال) پر وزن فرض کړل سي، نو دا مفرد کېږي، لکه چي وويل سي: (ناقة هجان) او که پر وزن د (رجالٌ) سي، نو دا جمع کېږي ، لکه (نوق هجان)، (عوذًا) دا د (عائذ) جمع دی په معنا د نوي پيداسوي جونګي دی، (يُزَجّٰی) د زجّی يُزجّی تزجية د تفعيل له باب څخه د مضارع صيغه ده په معنا د (د شړلو اوځرولو) دی، يزجّی په صيغه د معلوم او مجهول دواړو ويل کېږي، په صيغه د معلوم چي سي، نو (اطفالَهَا) د مفعوليت پر بناء منصوْب کېږي او که مجهول سي، نو د نائب فاعل کېدو په وجه مرفوع کېږي.

دامام فراء درېيم دلېل:

د امام فراء درېيم دلېل دا دی، چي د (الضارب زيد) ترکيب د (الضارب لارجل) په دول دی، ځکه په دواړو ترکيبونو کي مضاف اسم فاعل او مضاف اليه معرفه دی، نو چي کله د (الضارب الرجل) په څېر ترکيب د نحاتو په اتفاق جائز دی، نو د (الضارب زيد) ترکيب هم جائز کېدل پکار دی.

د جمهورو له لوري جواب:

د کافیه ملاصاحب د جمهورو له خوا په جواب کي ځان د هغوی ترجمان جوړ کړی، جواب یې ورکړی، چي (وانما جاز الضارب الرجل حملًا علی المختار فی الحسن الوجه) یعني محترمه! د (الضارب الرجل) د ترکیب د صحیح کېدو دلیل بل یو دی او هغه دادی، چي مونږ دا د (الحسن الوجه) پر مختار قول (کوم چي د مجرور ویلو دی) حمل کړی دی، حال دا چي د قیاس غوښتنه داوه چي دا هم جائز نه سي او د دې پر هغه د حمل کولو وجه داده، چي دا دواړه په دوو شیانو کي مشترک دي:

①: په دواړو ترکیبونو کي مضاف صیغه د صفت ده او معرف باللام هم ده، ②: په دواړو کي مضاف الیه اسم جنس او معرف باللام ده، حال دا چي په (الضارب زید) کي مضاف خو مشابهت ورسره لري، لېکن په مضاف الیه کي غیر معرف باللام او اسم علم دی، نو مطابقت تامه یې ترمینځ نه راغی.

د امام فراء څلورم دلیل:

کله چي د امام فراء مخکني ټول دلیلونه کمزوري ثابت سو، نو اوس د جمهورو کورته راغی له هغه کور څخه یې خبره را پورته کړه، چي خیر دی جمهورو صاحبانو! ما ومنل چي په (الضارب زید) وغیره مثالونو کي تنوین د اضافت په وجه سره نه، بلکي د الف لام په وجه غورزېدلی دی، نو اوس زه وایم لکه څرنګه چي تاسو دېته ناجائز وایاست، همدا سي (الضاربک) وغیره ترکیبونو ته هم ناجائز ووایاست، حال دا چي (الضاربک) خو ستاسو په نزد جائز دی، سره له دې چي له دې څخه هم چي کوم تنوین غورزېدلی، هغه دالف لام په وجه سره دی، نه چي د اضافت په وجه، نو یا خو دواړو ته جائز ووایاست، یا ناجائز، لېکن دا نسي کېدای چي یوه ته جائز او بل ته ناجائز ووایاست.

د جمهورو له لوري جواب:

د جمهورو له لوري دوه جوابونه ورکول سوي دي: له هغو څخه یو جواب محشي په حاشیه کي او دوهم په متن کي د کافیه ملاصاحب رحمه الله پخپله راوړی دی:

①: امام فراء صاحب! تا شبه کړې ده، ځکه جمهور علماء نحو خو په الضاربک کي په اضافت قائل نه دي، بلکي د اکثرو قول دادی، چي په دې کي الف لام د الذی په معنا دی او ضاربٌ صیغه داسم د ضرب په معنا ده او (ک) ضمیر مفعول به دی، ستا په دې سره دلیل نیول صحیح نه سو، ځکه چي له اضافت سره دا تړاو او تعلق نلري.

②: که چېري په دې کي اضافت ومنل هم سي، لکه چي د امام سیبویه او دهغه د متبعینو قول دی، نو بیا هم په دې سره ستا دلیل نیول نه صحیح کېږي، ځکه چي هغه پخپله ویلي دي: چي (انه مضاف حملا علی ضاربک) یعني مورږ دا قیاس کړی دی پر (ضاربک) او له ضاربک څخه تنوین د اتصاف د ضمیر په وجه غورزېدلی دی، نه چي د اضافت له وجې، نو په الضاربک کي هم تنوین هماغه راز د اتصاف ضمیر له وجې حذف سوی دی، نه چي د اضافت په وجه سره (کما فی تقریرالکافیه تهذیب الکافیه).

پنځه نیویم (۹۵) درس د موصوف، صفت او داسم مماثل د اضافت بیان

و لایضاف موصوف الی صفة ولاصفةٌ الیْ موصوفها، مثل مسجدالجامع وجانب الغربی وصلاة الأولی وبقلة الحمقاءِ متأولٌ، و مثل جرد قطیفةٍ و اخلاق ثیاب متأولٌ ولا یضاف اسمٌ مماثلٌ للمضاف الیه فی العموم والخصوص (کلیثٍ واسدٍ وحبسٍ ومنعٍ) لعدم الفائدة، بخلاف کل الدراهم وعین الشيء، فانه یختصّ به وقولهم: سعید کرزٍ ونحوه متأوّلٌ.

ترجمه: او اضافت نه کېږي د موصوف خپل صفت ته او نه د صفت موصوف ته او په (مسجدالجامع وجانب الغَربی وصلاة الاولیٰ وبقلة الحمقاءِ) کي تاویل سوی دی او په (جرد قطیفةٍ و اخلاق ثیابٍ) کي هم تاویل سوی دی او نه مضاف کېږي هغه اسم کوم چي په عموم او خصوص کي له مضاف الیه سره برابر وي، لکه (لیث واسد وحبس ومنع) د فائده نه کېدو په وجه سره، په خلاف د (کل

الدراهم وعین الشئ)، ځکه چي په دغو کي مضاف تر مضاف الیه خاص دی او ددوی په قول (سعید کرز) او ددې په ډول په ترکیبونو کي تاویل سوی دی.

تشریح: د نن په سبقه کي څلور خبرې دي:

①: د موصوف او صفت تر مینځ له اضافت سره تړلې یوه قاعده، ②: پر مذکوره قاعده سوالونه او جوابونه یې، ③: د اسم مماثل له اضافت سره تړلې یوه قاعده، ④: پر مذکوره قاعده د سوال جواب.

لومړۍ خبره: د موصوف او صفت تر مینځ له اضافت سره متعلق یوه قاعده:

و لایُضاف موصوف الی صفة ولا صفة الی موصوفها: مصنف رحمه الله په دې عبارت کي د موصوف او صفت تر مینځ له اضافت سره تړلې یوه قاعده بیانوي اووایي، چي نه خو د موصوف د صفت خواته او نه هم صفت د موصوف خواته اضافت کېدای سي د کافیه شارحینو په دوی کي د هریوه دوې وجې بیان کړي دي:

①: د موصوف د صفت خواته ځکه اضافت نسي کېدای، چي مرکب توصیفي او مرکب اضافي یو د ها بل ضد او سره مغائر وي، ځکه چي صفت له موصوف سره عین وي او مضاف الیه له مضاف نه غیر وي، نو که چېري د موصوف اضافت د صفت وطرفته وسي، نو عینیت په غیریت بدلېږي، کوم چي جائز نه دی.

②: دوهمه وجه دا چي د موصوف او صفت په اعراب کي مطابقت وي، لېکن که چېري موصوف د صفت وطرفته مضاف سي، نو هغه مطابقت له مینځه ځي، ځکه مضاف الیه خو په هر حال کي مجرور وي، لکه چي له (رجلٌ عالمٌ) څخه (رجلُ عالمٍ) جوړېږي.

دا راز د صفت اضافت هم د موصوف وطرفته نسي کېدای، د هغه هم دوې وجې دي:

①: لومړۍ وجه قاعده ده چي مضاف تل مقدم او مضاف الیه وروسته وي، دا راز موصوف تل مخکي او صفت وروسته وي، نو که چېري صفت مخکي سي، اضافت یې وسي، نو د صفت پر موصوف مخکي کېدل لازمېږي، لکه له (رجلٌ عالمٌ) څخه (عالمُ رجلٍ) او که چېري د صفت له مخکي کېدو پرته اضافت وسي،

نو د مضاف اليه پر مضاف مخکي کېدل لازمېږي، لکه له (رحلُ عالمٍ) څخه (رحلِ عالمٍ).

②: دوهمه هغه خرابي لازمېږي، کومه چي پورته ذکر سوه، چي د موصوف اوصفت د اعراب مطابقت نه پاتېږي.

دوهمه خبره: پر یاده سوې قاعده د دوو سوالونو جوابونه:

پر یاده سوې قاعد سوال کېږي، چي جنابه! تا خو وویل چي د موصوف د صفت خواته اضافت نسي کېدای، حال دا چي عربو ویلي دي: (مسجدالجامع) په دې کي (الجامع) د (مسجد) صفت دی، له دې سره سره د موصوف اضافت د صفت خواته سوی دی او دا راز په (جانب الغربی او صلاة الاولی او بقلة الحمقاء) کي هم سوی دی؟

د کافیه ملاصاحب جواب ورکړی، چي (ومثل مسجد الجامع وجانب الغربی وصلاة الاولی وبقلة الحمقاء متأولٌ) یعني دا ټول مثالونه او ددوی هریوه په څېر مثال په کوم کي چي په ظاهره اضافت د موصوف وصفت معلومېږي، په دې ټولو کي تاویل سوی دی هغه په دې ډول چي په دې ټولو مثالونو کي موصوف محذوف دی او اصل عبارت یې داسي دي: (مسجدالوقت الجامع، جانب المکان الغرب، صلاة الساعة الاولی او بقلة الحبة الحمقاء)، دلته د موصوف د حذف کېدو دلیل دادی چي په لومړي مثال کي د انسانانو را یوځای کوونکی شی د لمانځه وخت وي، نه چي مسجد، نو دلته (جامع) د وخت صفت دی، نه چي د مسجد، باقي هم دا ډول دي.

دوهم سوال دادی چي تا وویل چي د صفت اضافت د موصوف وطرفته نسي کېدای، حال دا چي عربو ویلي دي: جرد قطیفة واخلاق ثیاب په دې کي د صفت اضافت د موصوف وطرفته سوی دی؟

د کافیه ملاصاحب جواب ورکړی، چي (ومثل جرد قطیفة واخلاق ثیاب) یعني دا او ددې په څېر هر مثال په کوم کي چي په ظاهره د صفت اضافت د موصوف

وطرفته معلومېږي، د دې تولو چې کله پر عدم جواز دلیل وي، نو په دوی کې تأویل واجب دی، هغه دا راز چې دا په اصل کې (قطیفة جردٌ او ثیاب اخلاق) وو، دا ترکیب توصیفي دی، کله چې موصوف ځیني حذف کړې نو صرف (جردٌ) پاتېږي، په دې کې ابهام و، چې له دې څخه مراد څه دي، نو ددغه ابهام د لیرې کولو لپاره یې (قطیفة) ذکر کړ، چې ابهام پاته نسي، نو دلته چې د (جرد) اضافت د (قطیفة) وطرفته سوی دی، دا په دې اعتبار نه دی، چې د صفت اضافتٌ د موصوف وطرفته وي، بلکي په دې اعتبار سره چې د ذات مبهمه اضافت د ذات معینه وطرفته د تخصیص د حاصلېدو لپاره سوی دی.

درېیمه خبره: د اسم مماثل له اضافت سره تړلې یوه قاعده:

و لایضاف اسم مماثل للمضاف الیه فی العموم والخصوص: په دې عبارت کې مصنف رحمه الله د هغو دوو اسمونو په هکله یوه قاعده بیانوي، کوم چې په عموم او خصوص کې یو له بل سره برابر وي، په عموم او خصوص کې د برابرېدو مطلب دا دی چې که چېري یو اسم پر یوه شي صادق کېدی، نو دوهم به هم پر صادقېږي، او همدا اسم که پر کوم شي نه صادق کېدی، نو دوهم به هم نه پر صادقېږي.

فائده: مماثلت او برابري به یا د اعیانو له قبیلې څخه وي، لکه په لیث او اسد کي چي ده او کله کله د معنا په اعتبار سره وي، لکه په منع او حبس کي چي ده او کله کله د مصداق په اعتبار سره وي، لکه په انسان او ناطق کي چي ده.

بخلاف کل الدراهم وعن الشئ: یعني د عام اضافت د خاص وطرفته جائز دی، ځکه چې په دې مضاف کې تخصیص پیداکېږي، لکه په (کل الدراهم) کي (کل) عام د ی، ځکه چي له دې څخه مراد دراهم هم کېدای سي او دنانیر وغیره هم، خو کله چي یې اضافت د دراهم وطرفته وسو، نو صرف په دراهم پوري خاص سو.

دا راز په (عین الشئ) کي (عین) تر اضافت مخکي عام و، یعني موجود او معدوم دواړو ته شامل و، لېکن کله چي یې اضافت د (الشئ) وطرفته وسو، نو دا صرف له موجود سره خاص سو.

اوس قاعده دا بيانوي، چي د داسي دوو اسمونو اضافت د يوه د بل وطرفته جائز نه دی، مصنف رحمه الله يې وجه دا بيان كړې، چي (لعدم الفائدة) يعني په داسي اضافت سره زمونږ مطلوبه فائده نه حاصليږي، ځكه نو دا ناجائز دی، ځكه اضافت معنوي دوې فائدې لري (تعريف او تخصيص) او په دغو دوو كي هيڅ يوه دلته نه حاصليږي، بلكي تحصيل د حاصل راځي، مثلاً په (رأيت ليثَ اسدٍ) ويلو هماغه فائده حاصليږي، كومه چي بېله ذكر كولو د اسد يعني په (رأيت ليثًا) ويلو حاصليږي، نو د اسد ذكر كول او د ليث اضافت ورته كول هسي خوشي او لغوه كيږي.

ځلورمه خبره: د يوه سوال جواب:

پر مذكوره قاعده يو سوال واقع كيدی، چي جنابه! تا قاعده وړاندي كړه، چي د دوو مماثلو اسمونو د يوه اضافت د بل وطرفته نسي كېدای، نو (سعيد كرز) كوم چي دوه مماثل او مترادف اسمونه دي، ځكه سعيد او كرز دواړه د يوه شخص لپاره ويل سوي دي، سعيد يې خپل نوم وو او د ډېر چاغوالي او غټ بدن درلودلو له وجې ورته په كرز لقب ويل كېده، ځكه ددې معنا ده (خرجیّ) يعني هغه تېلۍ او بوری په كومه كي چي غله وغيره واچول سي او پر اوښ كښېښودل سي، نو سعيد او كرزْ دواړه د همدغه يوه شخص نوم دي، نو دا مترادف او مماثل سوا او بيا هم په دوی كي د يوه د بل وطرفته اضافت سوی دی؟

د كافيه ملاصاحب يې جواب كړی، چي (وقولهم سعيد كرز ونحوه متأول) يعني كله چي د دو مماثلينو د يوه وبل ته د اضافت پر عدم جواز دليل قائم وبيا هم په ظاهره مضاف معلومېدل، نو د هغه تأويل واجب دی، لكه په دې كي داسي تاويل كيږي، چي له مضاف (سعيدْ) څخه مراد ذات مسمی او له مضاف اليه (كرزْ) څخه مراد همدا لفظ (كرزْ) دی، نو د (سعيدُ كرزٍ) معنا سوه هغه ذات كوم چي د كرز په لفظ ملقب دی، نو د دواړو ترمينځ مماثلت پاته نسو، بلكي تباين او مخالفت دی، ځكه ددواړو مصداق يو نه دی او د متبائنين او مخالفينو د يوه و بل ته اضافت كېدای سي والله اعلم بالصواب

شپږ نیویم (۹۶) درس
د مضاف له اخیري حرف سره تړلې څلور اهمې مسئلې

و اذا اضیف الاسم الصحیح او الملحق به الیٰ یاء المتکلم، کُسر آخره والیاء مفتوحة او ساکنةٌ فان کان آخره الفًا تثبت وهُذَیل تقلبها لغیرالتثنیة یاءً، وان کان یاءً ادغمت ، ان کان واوًا قلبت یاءً وادغمت وفتحت الیاء للساکین.

ترجمه: او کله چې اضافت وسي د اسم صحیح یا جاری مجرای صحیح د یاء متکلم وطرفته، نو اخېر ته یې کسره ورکول کېږي، په داسې حال کې چې یا مفتوح وي، یا ساکن، بیا که چېري ددې په اخېر کې الف وي، نو هغه ثابت پاتېږي او قبیله هذیل یې په یاء بدلوي، چې کله هغه د تثنیه نه وي او که چېري په اخیر کې یاء وي، نو هغه مدغم کېږي او که چېري واو وي، نو په یاء بدلېږي، بیا یاء په یاء کې مدغم کېږي او یا ته فتح ورکول کېږي د ساکنین د جمع کېدو له وجې څخه.

تشریح: ورورکیه! د نن په سبقه کې د مضاف له اخیري حرف سره تړلې څلور مهمې مسئلې ذکر کېږي:

لومړۍ مسئله: د یاء متکلم مفتوح او ساکن ویل:

و اذا اضیف الاسم الصحیح او الملحق به الیٰ یاء المتکلم، کُسر آخره والیاء مفتوحة او ساکنةٌ : مصنف رحمه الله په دې عبارت کې لومړۍ دا مسئله بیانېږي، چې کله د اسم صحیح یا جاري مجرائ صحیح اضافت د یاء متکلم وطرفته وسي، نو د دغه اسم اخیر د یاء په مناسبت مکسور کېږي او پخپله یاء ساکن او مفتوح دواړه رنګه ویل جائز کېږي، لکه د اسم صحیح مثال (غلامیْ او غلامیَ او کتابیْ او کتابیَ) او د جاري مجرائ صحیح مثال (دلویْ او دلوِیَ او ظبییْ او ظبییَ).

بیا په دې کې اختلاف دی، چې آیا فتح اصل ده، یا سکون، نوله صحیح ترین قول سره سم فتح اصل ده، څکه چې یاء متکلم بېل او یو حرفیزه کلمه ده او په یو حرفیزه کلمه کې اصل دادي، چې هغه متحرکه وي، د دې لپاره چې ابتداء په ساکن لازمه نسي او تر ټولو سپک حرکت د فتح حرکت دی، له همدې وجې د یاء متکلم مفتوح کېدل اصل وبلل سوه ، د همدغه اصل کېدو په وجه مصنف رحمه الله

(والياء مفتوحة) وويل دا يې مقدم كړل، پر دې سربېره دده ساكن ويل هم جائز دي، ځكه خفت په دې كي هم سته، له همدې وجې مصنف رحمه الله تر دې وروسته (او ساكنة) هم وويل.

دوهمه مسئله: د الف مقصوره ثابت پاتېدل، يا په ياء بدلول:

فان كان آخره الفا تثبت: دوهمه مسئله داده، چې كه چېري د اسم اخيري حرف الف مقصوره وي، بيا يې اضافت د ياء متكلم وطرفته سوى وي، نو اكثره عرب قبائل دغه الف پر خپل حال پرېږدي، لكه له (عصا) څخه (عصاى) او له (رحى) څخه (رحاى) او له (رجى) څخه (رجاى).

مصنف رحمه الله ويلي چي (وهذيل تقلبها لغيرالتثنية) يعني د هذيل قبيله داسي الف په ياء بدلوي، بيا داسي ياء په ياء متكلم كي مدغم كوي، په دې شرط چي دغه الف د تثنية نه وي، لكه له (عصا) څخه (عصيّ) او له (رحى) څخه (رحيّ).

د هذيل والا دغه الف ځكه په ياء بدلوي، چي دده په اخېر كي ياء متكلم وي او ياء د خپل ماقبل كسره غواړي او الف حركت نسي قبلولاى، له همدې وجې نو الف په ياء بدلېږي، ځكه چي ياء حركت قبلولاى سي.

د (لغيرالتثنية) قيد يې ځكه لګولى، چي كه چېري دا هم په ياء بدل كړل سي، نو د حالت رفعي له حالت نصبي او جري سره التباس لازمېږي او له مفرد سره يې هم التباس لازمېږي، لكه له (غلامان) څخه (غلاماىَ).

درېيمه مسئله: د ياء په ياء متكلم كي مدغمول:

وان كان ياء ادغمت: درېيمه مسئله داده چي د داسي اسم مضاف په اخير كي چي ياء وي، نو داسي ياء په ياء متكلم كي مدغمېږي، ځكه دوه حرف له يوه جنسه سره جمع سوي دي او دوهمې ياء ته فتح وركول كېږي، ددې لپاره چي اجتماع د ساكنينو لازمه نسي، لكه له (قاضى) څخه (قاضيّ) او له (مسلمين) څخه (مسلميَّ).

څلورمه مسئله: د واو په ياء اوښتل:

وان كان واوا قلبت ياء: كه چېري د دغه اسم په اخير كي (واو) و، نو په ياء بدلېږي، ياء په ياء كي مدغمېږي، بيا مصنف رحمه الله وايي: چي (وفتحت الياء

للساکنین) یعني یاء متکلم ته فتح ورکول کېږي، د دې لپاره چې التقاء د ساکنینو لازمه نسي، لکه له (مسلمون) څخه (مسلميّ).

که چېرې یو طالب العلم ته سوال پیداسي، چې په پورتنۍ مسئله کې د محض التباس په وجه الف د تثنیه پر خپل حال پاتېدی، نو (مسلمون) یعني د جمع په صیغه کې هم مناسب همدا وه، چې (واو) یاء نه وای سوی، ځکه دلته هم ددې له حالت نصبي او جري سره التباس لازمېږي؟

د دې جواب دادی، چې هلته الف پر خپل حال ځکه پاتېدی، چې لغت مشهوره او فصیحه والا پخپله ویلي دي چې تر یاء متکلم مخکې که چېرې الف راسي، نو موږ ته د هغه په ویلو کې هېڅ وخت مشکل نه پېښېږي، خو هذیل والا کوم چې دا په یاء بدل کړی و، هغه هم صرف د جواز په درجه کې دی، که نه لومړی صورت ددوی په نزد هم پر خپل حال پاتېږي، پر خلاف فیما نحن فیه یعني له (مسلمون) څخه په (مسلميّ) کې چې کوم حذف سوی دی، نو دا په اتفاق د علماء لغت د عرب وجوبًا داسې سوي دي، ځکه چې په یوه کلمه کې په یوه و ار واو او یاء جمع کېدل لازمېدل او خوندوره خبره خو داده، چې لومړی چې ساکنه هم وي، نو په داسې صورت کې که چېرې د التباس خطره هم نه وي، بیا هم واو یاء کېږي، یاء په یاء کې مدغمېږي، لکه له (مسلمون) څخه (مسلميّ).

د مذکوره څلور سره مسئلو لنډیز:

د مذکوره څلورو مسئلو خلاصه داسوه چې هر هغه اسم چې د یاء متکلم وطرفته مضاف سوی وي، نو دهغه په اخیر کې به یا حرف صحیح وي، یا حرف علت، که چېرې حرف صحیح و، نو هغه ته کسره ورکول کېږي، پخپله یاء متکلم ساکنه یا په فتح سره ویل جائز دي او که یې چیرې په اخیر کې الف وي، نو هغه پر خپل حال پاتېږي، په خلاف د هذیل د قبیلې چې هغوی دا الف (چې د تثنیه نه وي) په یاء بدلوي او که چېرې یاء وي، نو په یاء متکلم کې یې مدغموي او که چېرې واو و، نو په یاء یې اړوي، بیا یاء په یاء کې مدغموي.

اووه نېویم (۹۷) درس

داسماء سته مکبره له اضافت سره تړلې شپږ اهمې مسئلې

و أماالأسماء الستة فأخي وأبي واجازالمبردُ اخِيَّ وابِيَّ، و تقول: حمی وهنی ويقال: فِيَّ في الاكثر وفمي، واذا قُطعت قيل: اخٌ وابٌ وحمٌ وهنٌ وفمٌ وفتح الفاء افصح منهما وجاءَ حمٌ مثل يدٍ وخبءٍ ودلوٍ وعصًا مطلقًا وجاء هنٌ مثل يدٍ مطلقًا و ذو لايُضاف الى مضمرٍ و لايُقطع.

ترجمه: او پاتې سوه اسماء سته (کله چې د یاء متکلم وطرفته مضاف وي، نو داسې ویل کېږي: اخی او ابی) او امام مبرد (اخِيّ او ابِيّ) ويل جائز بللي دي او ښځينه وايي: (حمی او هنی) او ويل کېږي (فِيّ) په اکثره استعمال کې او کله کله (فمي) او کله چې يې اضافت قطع سي، نو ويل کېږي (اخٌ، ابٌ، حمٌ، هنٌ او فمٌ) او د فاء فتح ترضمه او کسره زياته فصيح ده او حمٌ راځي د يدٌ، خبء او دلوٌ او عصًا په ډول هم مطلقًا او هن راځي د يدٌ په ډول مطلقًا او د ذو اضافت د ضمير وطرفته نسي کېدای او نه له ده څخه اضافت منقطع کېدای سي.

تشريح: د نن په سبقه کي له اسماء سته مکبره سره تړلې شپږ اهمې مسئلې او په اخير کي يو سوال او دهغه جواب ذکر کېږي:

لومړۍ مسئله: له ابٌ او اخٌ سره متعلق:

و أن الأسماء الستة فاخي واُبي: چي له اسماء سته مکبره څخه کله د (ابٌ او اخٌ) اضافت د ياء متکلم وطرفته وسي، نو د جمهورو نحاتو په نزد چي د دوی په اصل کي کوم (واو) دی د هغه له اعتبار کولو پرته (اخی او ابی) ويل کېږي.

و أحازالمبرد اخيّ و ابيّ: امام مبرد وايي: چي د دوی لومړي اصل ته اعتبار ورکول کېږي، کوم چي (اخو او ابو) دی، بيا دغه واو په ياء بدلېږي، ياء په ياء کي مدغمېږي، نو (اخيّ او ابيّ) ويل کېږي، لېکن تر ټولو صحيح قول د جمهورو دی، ځکه د دوی دلېل وزني دی، چي کثرت استعمال د تخفيف تقاضا کوي او تخفيف د حذف سوي حرف په بېرته راتلو سره نه راځي، ځکه چي هغه خو نسيًا منسيًا حذف سوی دی.

دوهمه مسئله: له حمٌ او هنٌ سره متعلق:

دوهمه مسئله کومه چي له (حمٌ او هن) سره تړلې ده، دا که څه هم په اصل کي (حمو او هنو) و، لېکن کله چي یاء متکلم ته مضاف سي، نو بالاتفاق بېله دې چي حذف سوی حرف (واو) را وګرزي (حمی او هنی) ویل کېږي.

یادونه: امام مبرد په د غو دوو صېغو کي هم له جمهورو سره اختلاف لري، لېکن په مخکنیو دوو صېغو کي دده اختلاف ډېر مشهور و، ځکه نو مصنف رحمه الله ذکر کړ او دلته د عدم شهرت پر بناء دا اختلاف پرېښودل سوی دی.

درېیمه مسئله: له فمٌ سره متعلق:

درېیمه مسئله: له (فمٌ) سره تړلې ده، دا په اصل کي (فوهٌ) وو، (ها) نسیًا منسیًا حذف سوه، نو (فو) پاته سو، بیا (واو) هم حذف کړل سو، په عوض کي یې (میم) راغی، نو (فمٌ) سو، اوس چي کله یاء متکلم ته مضاف سو، نو جمهور علماء نحو وایې چي له (فوهٌ) څخه (ها) نسیًا منسیًا حذف سوې ده، بېرته نه راګرزي، لېکن د واو په بدل کي چونکه میم راغلی و، ځکه دلته واو بېرته را ګرزي، په یاء بدلېږي، بیا یاء په یاء متکلم کي مدغمېږي، نو (فیّ) ځیني جوړېږي، همدا مطلب د مصنف رحمه الله ددغه قول (ویقال فیّ فی الاکثر) دی.

و فمی: په کتاب کي تر دې لاندي ناکت صاحب لیکلي دي (فی بعضها) یعني د بعض علماء نحو مذهب دادی، چي د (فمٌ) میم پر خپل حال پاتېږي او د متکلم یاء ته یې اضافت کېږي، نو ددوی په نزد له (فمٌ) څخه (فمی) ویل کېږي، لېکن تر ټولو صحیح قول د جمهور علماء نحو دی.

څلورمه مسئله: له اسماء سته مقطوع عن الاضافة سره متعلق:

واذا قطعت قیل: اخٌ وابٌ وحمٌ وهنٌ وفمٌ: په دې عبارت کي څلورمه مسئله بیانېږي، چي کله له اسماء سته مکبره څخه د پنځو اسمونو اضافت ختم سي، نو د مفرد منصرف صحیح، جاری مجرائ صحیح او جمع مکسر په ډول پر دوی درې

سره اعرابه جاري کېږي، لکه د حالت رفعي مثال (جاءني اخٌ وابٌ وحمٌ وهذا هنٌ وهذا فمٌ) وقس عليه حالة نصبها وجرها.

پنځمه مسئله: د فمْ، حمْ او هن له قرأتونو سره متعلق:

وفتح الفاء افصح منهما: له دې ځایه واخله تر (مثل يد مطلقًا) پورې له اسماء ستة نه ځنې د دریو یعني (فم، حم اوهن) له لغات او قراءتونو سره تړلې مسئله بیانېږي، لکه چې ویې ویل (وفتح الفاء افصح منهما) د دې عبارت تړاو له کومې کلمې سره دی؟ مصنف رَحِمَهُ الله که څه هم په دې کوم صراحت نه دی کړی، لېکن د کافیه د شارحینو پر دې اتفاق دی، چې د دې تعلق له (فمٌ) سره دی، نو وایي: چې د (فمٌ) په لفظ کې درې لغات دي:

①: فتح الفاء لکه (فَمٌ)، ②: بکسر الفاء لکه (فِمٌ)، ③: بضم الفاء، لکه: (فُمٌ).

په دې کې درې قسمه لغات ولې راغله؟ د دې جواب دادی، چې دا د عين کلمه په مناسبت سره راغله، مثلا چې د دې (میم) حذف کړل سي، (واو) بېرته راسي، نو په حالت رفعي کې یې مورږ (هذا فوک) وایو، نو د (واو) په وجه پر فاء کلمه ضمه راغله او په حالت نصبي کې یې مورږ (رأيت فاک يا نظفت فاک) وایو، نو د الف په وجه پر فاء کلمه فتحه راغله، او په حالت جري کې مورږ (وضعت اللقمة في فيک) وایو، نو د یاء په وجه پر فاء کلمه کسره راغله، نو دا راز دغه درې سره لغتونه جائز دي، لېکن مصنف رَحِمَهُ الله وویل: چې (وفتح الفاء افصح منهما) چې فاء کلمه په فتحه سره ویل ترضمه او کسره زیات فصیح دی، د دې یې دوې وجې بیان کړي دي:

①: ځکه چې دا په اصل کې هم مفتوح الفاء وه، ځکه دا په اصل کې (فَوَهٌ) و. نو دا اصل په اعتبار کولو سره فتحه فصیح وبلل سوه، ②: ځکه چې فتحه اخف الحرکات (تر ټولو حرکتونو سپکه) ده.

د منهما ضمیر مرجع که څه هم په عبارت کي ذکر سوې نه ده، لېکن کله چي موږ فتحه ته ترجیح ورکړه، نو دا خبره پخپله معلومه سوه چي د (منهما) ضمیر مرجع ضمه او کسره دي، ځکه فتحه ددوی دووپه مقابله کي راځي.

و جاء حمٌ مثل یدٍ و خبءٍ ودلوٍ وعصًا مطلقًا: د حمْ په هکله وایې، چي په دې کي څلور قسمه لغات دي:

①: په مطلق ډول د یدٌ په څېر ویل کېږي، یعني که مضاف وي، که نه وي په دواړو حالتونو کي (واو) محذوفه نه راګرزي، لکه (جاءنی حمٌ وحمُک، ورایتُ حمًا وحمَک ومررت بحمٍ وحمِک).

②: د خبء په څېر یعني که مضاف وي، که نه وي مضاف په دواړو حالتونو کي دا مهموزاللام ویل کېږي، لکه (جاءنی حموٌ وحمئک ورایت حمًا وحمئک ومررت بحمئٍ وحمئِک).

③: د دلوْ په څېر یعني که مضاف وي که نه وي، محذوف حرف بېرته راګرزي، اعراب پر جاري کېږي، لکه (هذا حموٌ وحموُکِ ورایت حموًا وحماکِ و مررت بحموٍ وحموِک).

④: د عصا په ډول یعني که دغه حم مضاف وي، که نه وي په دواړو صورتونو کي دېته تقدیري اعراب ورکول کېږي، لکه (هذا حمًا وحماکِ ورأیت حمًا وحماکِ ومررت بحمًا وحماکِ).

په اخیر کي یې (مطلقًا) وویل، ددې مطلب دادی، چي مذکوره څلور سره صورتونه که مضاف وي، که نه وي، په هرو دواړو حالتونو کي دوی په مذکوره طریقو ویل کېږي، لکه چي موږ هرصورت تشریح کړاو په مثالونو مو واضح کړ.

و جاء هنٌ مثل یدٍ: د (هنٌ) په هکله وایې، چي دا د (یدٌ) په څېر دی، یعني که مضاف وي، که نه وي، محذوف حرف یې بېرته نه را ګرزي، لکه (هذا هنٌ وهنُک وغَسلتُ هنًا وغسلتَ هنک، واجتنبت عن هنٍ وهنِک)، د دې په اخېر کي یې د (مطلقًا) قید لګولی دی، نو ددې مطلب هم هماغه دی، کوم چي همدا اوس وبنودل سو.

شپږمه مسئله: د (ذُو) له کلمه سره متعلق:

وذو لایُضاف الی مضمر ولایُقطع: د کافیه ملاصاحب رحمه الله تر دې مخکې په اسماء سته مکبره کې له پنځو اسماؤ سره تړلې پنځه مسئلې بیان کړې، په اخیر کې (ذو) پاته سوه، اوس دغه اخیرې مسئله بیانوي، مسئله داده، چې د (ذو) اضافت نه خو د کوم ضمېر وطرفته کېږي او نه هم کله بېله اضافته استعمالېږي، مطلب دادی، چې داتل یوازې د اسم جنس وطرفته مضاف کېږي.

مصنف رحمه الله په دې قاعده کې ددوو خبرو نفې کوي:

①: د ذو د اسم ضمېر وطرفته د اضافت نفې، ②: ذو بېله اضافته کله هم نه مستعملېږي، د دواړو وجه داده، چې د (ذو) وضع صرف د دې لپاره راغلې ده، چې دده په ذریعه اسم جنس د نکره یا معرفه صفت جوړېږي، لکه چې په (جاءنی رجلٌ ذومال) کې یې د نکره لپاره اسم جنس صفت جوړ کړی دی او په (جاءنی زید ذوالمال) کې یې د معرفه لپاره اسم جنس صفت جوړ کړی دی.

او که چېرې ددې اضافت د ضمېر وطرفته وسي، یا یې له سره اضافت ونسي، نو له وضع څخه مخالفت لازمېږي، ځکه یې نو وویل چې (و ذو لایُضاف الیٰ مضمر ولایُقطع).

یو سوال او دهغه جواب:

سوال: دادی چې تا وویل چې د (ذو) نه اضافت د اسم ضمېر وطرفته کېږي او نه بېله اضافته استعمالېږي، بلکې اضافت یې صرف د اسم جنس وطرفته کېږي، حال دا چې په یوه مبارک درود کې راغلې دي: (اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ و ذویه) یعني ای الله جل جلاله! رحمتونه او سلامتیانې نازل کړه پر رسول الله ﷺ او دهغه پر صحابه کرامو رضي الله عنهم، نو دلته (ذو) د اسم ضمېر وطرفته مضاف سوې ده، دا راز د عربي یو شعر هم دی:

اهنأ المعروف مالم يتبذل فيه الوجوه
انما يعرف ذا الفضل مـــن الناس ذووه

ترجمه: تر ټولو خوندور احسان هغه دی، په کوم کې چې احسان کوونکی د خلکو مخې ته نه راځي، یعني د دوی بې عزتي نه کوي او د فضل څښتن یوازي د فضل څښتنان خلک پېژني.

نو په دې کې هم د (ذو) اضافت د ضمیر وطرفته سوی دی.

د دې لنډ جواب تاسو په هدایة النحو کي ویلی دی، چې دا او د دې په څېر مثالونه چې چېري هم وي، هغه ټول شاذ دي.

وَإِلَيْهِ إِلَّا بِالصَّوَابِ وَعَلَيْهِ إِنَّ وَالتُّكْلَانِ
تُرَبِّبُ رَحْمَةُ الشَّعْرَانِ بِفَضْلِ الْإِيمَانِ بِنَعَالٍ وَبَرِّكَةٍ

تـــوابـــع

اته نیویم (۹۸) درس

د لومړي تابع (صفت) بیان

التوابع: كل ثانٍ باعراب سابقه من جهةٍ واحدةٍ، النعت: تابعٌ يدل على معنىً في متبوعه مطلقًا، وفائدته تخصيصٌ او توضيحٌ وقد يكون لمجرد الثناء اوالذم او التوكيد، نحو: (نفخةٌ واحدةٌ).

ترجمه: توابع هر هغه دوهم اسم دی کوم چې له مخکني اسم سره په اعراب کې موافق وي، له یوه جهت څخه، صفت هغه تابع دی، چې مطلقًا پر داسي معنا دلالت کوي، کومه چې دده په متبوع کې وي او د دې فائده یا تخصیص وي، یا توضیح او کله کله صفت یوازي د تعریف (ستاینې) یا مذمت، یا تاکید لپاره هم راځي، لکه (نفخةٌ واحدةٌ).

تشریح: د نن په سبقه کې پنځه خبرې دي:

①: د توابع تعریف، ②: په تعریف کې دقیدونو فائدې، ③: د صفت لغوي او اصطلاحي تعریف، ④: د صفت په تعریف کې د قیدونو فائدې، ⑤: د صفت فائدې.

تمهید: د کافیه ملاصاحب رحمه الله علیه اصلي معربات بیان کړل، اوس معربات تبعیه بیانوي، مطلب دا چې اسماء معربه یعني د مرفوعات، منصوبات او مجرورات اعراب پر دوه قسمه دی، اعراب بالاصالة او اعراب بالتبعية او اعراب بالتبعية دا معنا چې پخپله پر اسماء معربه کوم داسي عامل داخل نه وي، بلکي تر دوی

مخکي چي کوم اسم دی پر هغه داخل وي، د هغه اعراب دغه اسماء تابع راځي، يعني که چېري لومړی اسم مرفوع وي، نو دا هم مرفوع کېږي او که چېري هغه منصوب وي، داهم منصوب کېږي او که چېري مجرور وي نو دا دوهم هم مجرور کېږي، په دې ټولو کي لومړي ته متبوع او دوهم ته تابع ویل کېږي.

د توابع تعريف

لومړی خبره: د توابع تعريف:

كل ثان با عراب سابقه من جهة واحدة: په دې عبارت کي د کافيه ملاصاحب رحمه الله د مطلق تابع تعريف کوي، لېکن تر دې مخکي د توابع له لفظ سره متعلق په دې پوه سئ، چي دا د (تابعٌ) جمع ده، ځکه چي تابع کېدل د اسماؤ صفت دی او د اسماءمفرد (اسمٌ) يعني د مذکر په صيغه سره راځي، نو د توابع مفرد هم (تابعٌ) د مذکر صيغه راځي، د دې لپاره چي د موصوف او صفت تر مينځ مطابقت راسي.

که چېري يو طالب العلم سوال وکړي، چي توابع پر وزن د فواعل دی او فواعل وزن خو د فاعلة جمع راځي، لکه د طالبة جمع طوالبٌ او د صاحبة جمع صواحبُ، نو مناسب دا وه چي دا د تابع پر ځای د تابعةٌ جمع وای؟

جواب: ددې جواب دادی: څرنګه چي وښودل سوه، چي دا داسماؤ صفت دی او اسماء مذکر لايعقل يعني داسم جمع دی او قاعده ده چي د لايعقل د صفت جمع د فواعل پر وزن راځي، لکه صواهل، طوالع او شواهق وغيره.

او دوهم جواب يې دادی، چي تابع که څه هم د خپلې اصلي وضع په اعتبار وصف دی، لېکن د نحويينو په اصطلاح کي دا منقول سوی، اسم ذات سوی دی او قاعده ده چي دفاعل پر وزن چي کوم اسم ذات وي، د هغه جمع د فواعل پر وزن راځي، لکه د کاهلٌ جمع کواهل راځي، له همدې وجې د تابعٌ جمع هم توابع راغلې ده.

اوس تعريف ته غوږ سئ! چي تابع په يو جمله کي موجود هر هغه اسم دی کوم چي له لومړي اسم سره په يوه جهت په اعراب کي موافق وي، مثلاً که چېري لومړی اسم د فاعليت له وجې مرفوع وي، نو دی به هم د فاعليت له وجې مرفوع وي، لکه (جاءنی زيدٌ العاقلُ) دلته (زيد) دفاعل کېدو له وجې مرفوع دی او (العاقل) کوم چي دوهم اسم دی، دا هم د فاعل کېدو په وجه مرفوع دی او که

چېرې لومړی اسم د مفعولیت یا حرف جر په وجه منصوب، یا مجرور وي، نو دوهم هم دهمدغه مفعولیت له وجې منصوب کېږي، لکه: زرتُ رجلًا عالمًا او که چېرې لومړی مجرور په حرف جر یا مجرور بالمضاف وي، نو دوهم هم د حرف جر یا د همدې مضاف په وجه مجرور کېږي، لکه: التقیتُ برجلٍ عالمٍ او طالعت کتابَ رجلٍ عالمٍ.

دوهمه خبره: په تعریف کې د قیدونو فائدې:

التوابع کل ثانٍ باعراب سابقه من جهةٍ واحدةٍ: په دې عبارت کې التوابع معرَّف دی او کل ثانٍ تر اخیره پورې عبارت یې تعریف دی، په تعریف کې (کل ثان) جنس دی، کوم چې هر دوهم اسم ته شامل دی (باعراب سابقه) دا لومړی فصل دی، په دې سره د (انّ) او دهغه د اخواتو او د (کان) او د هغه د اخواتو خبرونه، دا راز د (ماولا) مشابه بلیس خبر خارج سول، ځکه د هغو اعراب د لومړي اسم اعراب نه دی.

من جهةٍ واحدةٍ: دا دوهم فصل دی، په دې سره د مبتداء خبر او دباب علمت مفعول ثاني او د باب اعلمت درېیم مفعول خارج سول، ځکه دا ټول که څه هم اسم ثاني دي، او د سابق له اعراب سره یې اعراب برابر دی، لېکن جهت یې یو نه دی، ځکه چې مبتداء د مسندالیه کېدو په وجه مرفوع ده او ددې خبر د مسند کېدو په وجه مرفوع وي، دا راز دباب علمت او اعلمت مفعول اول د محکوم علیه کېدو په وجه منصوب وي او ثاني یې د محکوم به کېدو په وجه منصوب وي.

د صفت لغوي او اصطلاحي تعریف

درېیمه خبره: د صفت لغوي او اصطلاحي تعریف:

النعت تابع یدلّ علیٰ معنی فی متبوعه مطلقا: النعت د فتح یفتح د باب مصدر دی، لغوي معنا یې ده تعریف (ستاینه) کول، تعریف کوونکي ته ناعت (د فاعل پر وزن) او د چا چې تعریف کېږي، هغه ته منعوت (د مفعول پر وزن) ویل کېږي.
او په اصطلاح کې صفت هغه تابع دی، کوم چې بېله یو مانع او بېله کوم قید څخه پر یو داسې معنا دلالت کوي کومه چې په متبوع کې وي، لکه (جاءنی رجلٌ عالمٌ) دلته عالم پر داسې معنا دلالت کوي، کومه چې په زید کې سته.

مصنف رحمه الله په تعریف کي د مطلقًا په قید سره نورټول توابع وایستل، ځکه بعض توابع مثلاً بدل، تاکید او معطوف که څه هم پر داسي معنا دلالت کوي، کومه چي په متبوع کي موجوده ده، خو دا دلالت د تل لپاره نه وي، بلکي له بعض مادو سره خاص وي، مثلاً (اعجبنی زید علمه) په دې کي (علمه) له (زید) څخه بدل واقع دی او دا پر داسي معنا دلالت کوي، کومه چي په زید کي سته، خو دا دلالت په هر حالت کي نه دی، همدا وجه ده چي که چېري د (علمه) پر ځای (غلامه) وویل سي، نو په دې وخت کي د بدل د لالت پر متبوع نه کېږي، په خلاف د صفت چي هغه په هر حال او هره ماده کي پر داسي معنا دلالت کوي، کومه چي په متبوع کي موجوده وي.

څلورمه خبره: د صفت په تعریف کي د قیدونو فائدې:

النعت تابعٌ یدلّ علیٰ معنیً فی متبوعه مطلقًا: په دې عبارت کي النعت معرّف دی او له تابع څخه تر اخیره پوري عبارت یې تعریف دی، بیا په دې تعریف کي (تابعٌ) جنس دی کوم چي ټولو توابع او دکانَ وغیره خبرونو ته شامل دی (یدل علی معنی فی متبوعه) دا لومړی فصل دی په دې سره له توابع پرته نورټول اسماء وزي، او (مطلقًا) دوهم فصل دی په دې سره له صفت پرته نورټول توابع ووتل.

د صفت فائدې

پنځمه خبره: د صفت فائدې:

وفائدته تخصیصٌ او توضیحٌ...... په دې سره د کافیه ملاصاحب د صفت پنځه فائدې بیانوي:

لومړی فائده: تخصیص بیانول:

تخصیصٌ که چېري موصوف او صفت دواړه نکره و، نو صفت تخصیص فائده کوي او تخصیص تقلیل الاشتراک فی النکرات یعني د نکره په افرادو کي کمي ته ویل کېږي، لکه (جاءنی رجلٌ عالمٌ) دلته (رجلٌ) هر فرد عالم او جاهل ته شامل و، خو کله چي عالمٌ صفت ورسره راغی، نو جاهل افراد ووتل او اشتراک کم سو.

دوهمه فائده: د موصوف واضح کول:

توضيح: يعني كه چيري موصوف او صفت دواړه معرفه وو، نو صفت د موصوف وضاحت كوي او توضيح رفع الاجمال في المعارف يعنى له معرفه څخه د اجمال ليري كېدو ته ويل كېږي، لكه: (جاءني زيدالفاضل) دلته په زيد كي اجمال و، چي كوم زيد مراد دى، نو په الفاضل ويلو سره هغه اجمال له مينځه ولاړ.

دريمه فائده: تعريف بيانول:

و قد يكون لمجردالثناء: چي كله كله صفت د يو چا يوازي د مدح اوستاينې بيانولو لپاره هم راځي او دا هغه مهال كېږي، كله چي متكلم يا مخاطب له مخكي نه لا معلوم وي، چي موصوف په فلاني صفت پوښلى دى، لكه (بسم الله الرحمن الرحيم) دلته په (الرحمن الرحيم) سره مقصود يوازي د الله ﷻ ثناء او ستاينه بيانول دي، ځكه له مخكي نه لا معلوم ده او د هر مسلمان عقيده (باور) دى، چي د الله ﷻ ذات رحمـــــن او رحيم دى.

څلورمه فائده: د مذمت بيانول:

اوالذم: كله چي د موصوف په هكله دا معلومه وي، چي په فلاني صفت سره موصوف دى، نو په داسي صفت سره يې متصف كول كله كله خو محض د ده دمدح او ثناء لپاره وي، لكه چي تېر سو او كله كله بيا دده د مذمت لپاره هم وي، لكه: (اعوذ بالله من الشيطن الرجيم) دلته (الرجيم) د شيطان دمذمت لپاره راوړل سوى دى.

پنځمه فائده: د تاكيد بيانول:

اوالتوكيد: كله كله صفت يوازي د تاكېدل لپاره كېږي، دا هغه مهال وي، كله چي موصوف پخپله هم پر دغه معنى دلالت كوي، كومه چي د صفت معنا ده، لكه (فاذا نفخ في الصور نفخة واحدة) دلته (واحدة) د (نفخة) صفت دى او محض د تاكېد لپاره راوړل سوى دى، ځكه د (واحدةٌ) معنى هم يو ده او د (نفخة) له تاء وحدة څخه هم ديوه معنا معلومېږي، پر دې سربېره تاسو په علم الصيغه كي هم ويلي دي، چي (وفعلة للمرة) يعني د فعلة وزن د يوه عدد بيانولو لپاره راځي او نفخة هم ددغه فعلة پر وزن ده.

والله اعلم بالصواب وعنده علم كل شئ

نه نیویم (۹۹) درس

کوم شیان صفت جوړیدای سي او کوم نسي

ولا فصل بين ان يكونَ مشتقًا او غيره ا ذا كان وضعُه لغرض المعنى عمومًا، نحو: تميمي وذى مالٍ او خصوصًا، مثل: مررتُ برجلٍ اىِّ رجلٍ ومررتُ بهذا الرجل وبزيدٍ هذا وتوصف النكرة الجملة الخبرية ويلزم الضمير وتوصف بحال الموصوف وبحال متعلّقه ، نحو: مررت برجل حسنٍ غلامه، فالأول يتبعه في الاعراب والتعريف والتنكير وا لافراد والتثنية والجمع والتذكير والتأنيث.

ترجمه: او دا هيڅ فرق نلري، چي صفت مشتق وي، يا غير مشتق، په دې شرط چي وضع يې په عامه توګه د معنى د غرض لپاره وي، لکه تميميّ او ذومال يا خاص وي، لکه: (مررت برجل اىّ رجل ومررت بزيدهذا) او که د نکره صفت په جمله خبريه کېږي، خو ضمير به لازمي وي او صفت کيږي د موصوف د حال په ذريعه سره او دحال د متعلق په ذريعه سره، لکه: (مررت برجل حسن غلامه) بيا لومړى په اعراب، معرفه او نکره کېدو ، په مفرد، تثنيه اوجمع او په تذکير او تانيث کي د متبوع تابع کيږي.

تشريح: د نن په سبقه کي درې خبرې د ي:

①: د اسم مشتق اوغير مشتق په ذريعه صفت راوړل، ②: د جمله خبريه په ذريعه صفت راوړل، ③: د حال او دهغه دمتعلق په ذريعه صفت راوړل.

داسم مشتق وغير مشتق په ذريعه صفت راوړل

لومړى خبره: داسم مشتق وغير مشتق په ذريعه صفت راوړل:

ولا فصل بين ان يكون مشتقًا.....و بزيدٍ هذا: د نحوي ځيني علماؤ ويلي د ي، چي د صفت لپاره داسم مشتق کېدل ضروري د ي او که چيري مشتق نه وي، نو پکي تأويل کيږي، د مشتق په معنا ا خستل کيږي، تر دې وروسته صفت جوړيږي، نو مصنف رحمه الله د مذکوره عبارت په ذريعه دداسي علماؤ قول رد کړی دی، چي د صفت لپاره مشتق او غير مشتق کېدل هيڅ فرق نلري، بلکي لکه څرنګه چي اسم مشتق صفت کېدای سي، همدا راز اسم غير مشتق هم جوړيدای

سي، په دې شرط چې وضع یې دداسي معنا لپاره وي، کومه چې په موصوف کي موجوده وي.

یا مخکي مصنف رحمه الله علیه (عمومًا) لیکلي دی، یعني کله کله خو په دې صفت کي عموم وي، یعني د متبوع پر معنی دده دلالت د همېشه لپاره وي، لکه (تمیمیٌ او ذومال) د تمیمي دلالت همېشه پر هغه سړي کېږي، کوم چې د تمیم له قبیلې سره تړاو لري او د ذومال دلالت همېشه پر هغه سړي کېږي، کوم چې شتمن وي، هغه که هرڅوک وي او په هره زمانه کی چې وي.

تر دې وروسته یې (خصوصًا) ټکی ویلی دی، دا پر مخکني عبارت (عمومًا) عطف دی، د پوره عبارت معنا داسي ده: چې د صفت لپاره مشتق کېدل او غیر مشتق کېدل هېڅ فرق نلري په دې شرط چې وضع یې دداسي معنا لپاره وي، کومه چې په موصوف کي موجوده وي، هغه که د همېشه لپاره پکي موجوده وي، یا په عارضي توګه پکي موجوده وي، لکه: (مررت برجل ای رجل) دلته (ای رجل) پر کمال ادمیت (سړیتوب) دلالت کوي، کوم چې د مخکني رجل لپاره صفت دی، حال دا چې (ای) همېشه د کمال په معنا نه راځي، صرف دلته په دې کي دا معنا سته، دا راز په (مررت بهذا الرجل) کي (الرجل) د (هذا) صفت دی، ځکه چې هذا اسم اشاره پر ذات مبهم دلالت کوي او الرجل پر ذات معین او ذات معین دلالت کول دا داسي معنا ده کومه چې په متبوع یعني په (هذا) کي موجوده ده، نو کله چې (اذاکان وضعه لغرض المعنی) والا شرط پیداسو، نو الرجل د ماقبل (هذا) لپاره صفت جوړول صحیح سو، دا راز په (مررت بزید هذا) کي هم (هذا) پر هغه معنی دلالت کوي، کومه چې په متبوع یعني (زید) کي موجوده ده، له همدې وجې نو د (هذا) د زید لپاره صفت جوړول صحیح سو، حال دا چې الرجل او هذا همېشه د صفت لپاره نه کېږي.

خلاصه دا سوه چې په لومړي مثال کي (تمیمیٌ)، په دوهم کي (ذومال) او په دریم کي (ای رجل)، په څلورم کي (الرجل) او په پنځم کي (هذا) کوم چې صفت

جوړېږي، دا تول له اسم مشتق نه کېدو سره سره صفت جوړ سوي دي، له دې څخه ثابته سوه چې د نحوي د ځيني علماؤ قول صحيح نه دی.

دوهمه خبره: د جمله خبريه په ذريعه د نکره صفت راوړل:

و توصف النكرة بالجملة الخبرية: په دې عبارت کي د کافيه ملاصاحب رحمه الله له صفت سره تړلې يوه مسئله بيانوي، چې موصوف که چېري نکره وي، نو لکه څرنګه چې اسم نکره د مفرد په شکل دده صفت جوړېدای سي، دا راز د جمله خبريه په صورت هم دده جوړېدای سي، هغه که جمله که اسميه وي، که فعليه، لېکن که چېري موصوف معرفه و، نو جمله خبريه دده لپاره صفت نسي کېدای، ځکه چې جمله من حيث الجملة معرفه نه وي، ځکه چې پکي د معرفه کومه علامه نه وي، له همدې وجې دا دنکره په حکم اخستل کېږي او د نکره لپاره صفت جوړېږي، ددې په مقابل کي که چېري يو څوک دا د معرفه لپاره صفت جوړول غواړي، نو نه صحيح کېږي، ځکه چې موصوف معرفه کېږي او دا نکره، حال دا چې د موصوف او صفت دواړو ترمينځ مطابقت ضروري وي.

دا راز که چېري کومه جمله انشائيه دده لپاره صفت جوړول غواړي، نو هم نه صحيح کېږي، ځکه چې صفت پر هغه معنا دلالت کوي، کومه چې په موصوف کي له پخوا لاموجوده وی، حال دا چې جمله انشائيه خوايجاد د مالم يوجد لپاره راځي.

ويلزم الضمير: د کافيه ملاصاحب رحمه الله د مذکوره مسئلې لپاره يو شرط لګولی دی، چې کله جمله خبريه تاسو د نکره لپاره صفت جوړوئ، نو ضروري ده، چې په جمله خبره کي يو داسي ضمير وي، کوم چې د مخکي نکره موصوفه وطرفته راجع وي، دا شرط ځکه ورسره لګول سوی چې جمله من حيث الجمله مستقل کلام وي، د کوم چې ماقبل او مابعد ربط نه غواړي، صفت ددې پر خلاف دی، ځکه چې هغه له خپل موصوف سره ربط غواړي، نو دلته شرط لګول کېږي، چې لږترلږه به په داسي جمله کي د ربط لپاره يو ضمير هرومرو وي.

د حال او دهغه د متعلق په ذريعه صفت راوړل

دريېمه خبره: د حال او دهغه د متعلق په ذريعه صفت راوړل:

و توصف بحال الموصوف وبحال متعلقه: په دې عبارت کې د کافیه ملاصاحب رحمه الله د صفت متعلق یوه مسئله بیانوي، لیکن تر دې مخکې دې خبرې ته غور سئ! چې صفت پر دوه قسمه دی: ①: صفت بحاله او ②: صفت بحال متعلقه.
صفت بحاله: دا معنا چې صفت پر داسې معنا دلالت کوي، کومه چې د موصوف په ذات کې موجوده وي، لکه (جاءنی رجلٌ عالمٌ) دلته (عالمٌ) د (رجل) صفت دی او د علم صفت د رجل په ذات کې موجود دی.
صفت بحال متعلقه: د دې مطلب دادی، چې صفت پر داسې معنا دلالت کوي، چې د موصوف په متعلق کې موجوده وي، لکه (جاءنی رجلٌ عالمٌ ابوه) دلته (عالم) د (ابوه) صفت دی، کوم چې د رجل متعلق دی.
تر دې تمهید وروسته مسئلې ته غور سئ! چې د موصوف صفت مذکوره د دوو قسمونو په ذریعه راتلای سي:
د لومړي قسم په هکله وایې: چې (فالأوّل یتبعه فی الاعراب....) یعني صفت بحاله له خپل موصوف سره په لسو شیانو کې مطابق کېدل ضروري دي: په اعراب، معرفه، نکره کېدو کې، په مفرد، تثنیه او جمع کېدو کې، په مذکر، مؤنث کېدو کې، له دغو ټولو څخه په یوه وخت کې د څلورو راتلل ضروري دي، یعني له رفع، نصب او جر څخه د یوه او له معرفه او نکره څخه د یوه، او له افراد، تثنیه او جمع څخه د یوه او له تذکیر او تانیث څخه د یوه کېدل چې ټول څلور کېږي، یعني په دغو څلورو کې د صفت او موصوف برابرېدل ضروري دي، لکه (جاءنی رجلٌ عالمٌ)، دلته رجل (موصوف) او عالم (صفت) په څلورو شیانو کې برابر دي (افراد، نکره، تذکیر او رفع).

سلم (۱۰۰) درس

له موصوف او صفت سره تړلې څو مهمې قاعدې او تفریعات

والثانی یتبعه فی الخمسة الأُول وفی البواقی کالفعل ومن ثم حسَنَ قام رجلٌ قاعدٌ غلمانُه وضعُف قاعدون غلمانُه ویجوز قعودٌ غلمانه.

ترجمه: او د دوهم (صفت بحال متعلقه) له خپل موصوف سره په پنځو شیانو کې مطابق کېدل ضروري دی ا و په باقي (پنځو) کې د فعل په څېر کېږي ، له همدې وجې د قام رجلٌ قاعدٌ غلمانه ترکیب حسن او د قاعدون غلمانه ترکیب ضعیف دی او د قعود غلمانه ترکیب (صرف) جائز دی.

تشریح: د نن په سبقه کې درې خبرې دي:

①: د صفت بحال متعلقه حکم، ②: د صفت بحال متعلقه په هکله څو مهمې قاعدې، ③: پر لومړۍ قاعده تفریعات.

د صفت د دوهم قسم حکم

لومړۍ خبره: د صفت د دوهم قسم حکم:

په مخکني درس کې موږ د صفت د لومړي قسم بیان وکړ، دلته دوهم قسم یعني صفت بحال متعلقه بیانوو، چې والثانی یتبعه فی الخمسة الأول یعني دوهم قسم کوم چې صفت بحال متعلقه دی دده له خپل موصوف سره په پنځو شیانو کې مطابقت ضروري دی یعني په رفع، نصب، جر، تعریف او تنکیر کې، په یوه وخت کې له دغو پنځو څخه د دوو موجودېدل ضروري دي، یعني له رفع، نصب او جر څخه د یوه او له تعریف او تنکیر څخه د یوه کېدل ضروري دي، لکه (جاءنی غلامان عالمةٌ امهما) دلته (غلامان) موصوف او (عالمةٌ) یې صفت دی، په دې کې صرف په دوو شیانو کې مطابقت موجود دی: ①: غلامان او عالمةٌ دواړه مرفوع دي، ②: دواړه نکره دي، له دغو دوو پرته په نورو کې په افراد، تثنیه، جمع، تذکیر او تانیث کې یې مطابقت نسته، ځکه غلامان تثنیه او عالمة مفرد دی، دا راز غلامان مذکر او عالمة مؤنث ده.

دوهمه خبره: له صفت بحال متعلقه سره تړلې څو مهمې قاعدې:

وفی البواقی کالفعل: د کافیه ملاصاحب رحمه الله وایې: چې صفت بحال متعلقه په پاته پنځو شیانو (افراد، تثنیه، جمع او تذکیر او تانیث) کې د فعل په ډول دی، علامه ابن حاجب رحمه الله ته الله جل جلاله یو داسې مهارت ورکړی دی، چې په څو لندو الفاظو یې د ډېرو شیانو وطرفته اشاره کړې وي، مثلا په مذکوره تر مختصر لا مختصر عبارت کې یې د دغو درو قاعدو وطرفته اشاره کړې دی:

①: لکه څرنګه چي تاسو په نحومېر کي دا قاعده ویلې، چي فاعل که چېري اسم ظاهر وي، نو فعل همېشه مفرد راوړل کېږي، فاعل که مفرد وي، که تثنیه او جمع وي، لکه (دخل التلامیذ فی الفصل) او د صیغه صفت معامله هم داسي ده، یعني دده فاعل که چېري اسم ظاهر وي، نو صېغه صفت همېشه مفرد راوړل کېږي، لکه (مررت برجل قاعدٍ غلامه) او (مررت برجلین قاعد غلاماهما) او (مررت برجال قاعدٍ غلمانهم) وګوره! په دې ټولو مثالونو کي (قاعدٌ) صېغه دصفت مفرد راغلې ده، که څه هم موصوف یې ورسره بدل، بدل راغلی دی، خو فاعل یې د اسم ظاهر په صورت کي موجود و، له همدې وجې (صېغه د صفت) مفرد راوړل سوې ده.

②: دا راز تاسو ویلې، چي د فعل فاعل که چېري مذکر یا مؤنث حقیقي وي، لېکن ددواړو تر مینځ کوم فصل نه وي، نو په مینځ کي یې مطابقت ضروري وي، یعني فاعل که چېري مذکر وي، نو فعل به هم مذکر راوړل کېږي، لکه (کتب الطالبُ درسَهُ) او که چېري فاعل مؤنث حقیقي وي، نو فعل به هم مؤنث راوړل کېږي، لکه (نظفت المرأة ثیابها)، نو همدا سي ده که دصېغه صفت فاعل مذکر وي، یا مؤنث حقیقي وي، فصل یې تر مینځ نه وي، نو مطابقت ضروري دی، لکه مررت برجل قاعدٍ غلامُه او (مررت برجل قائمةٍ جاریتُه) دلته د صېغه صفت فاعل (جاریته) مؤنث حقیقي بېله فصله دی، لهٔ همدې وجې (قائمة) مؤنث راوړل سوی دی.

③: که چېري د فعل فاعل مؤنث غیر حقیقي وي، یا مؤنث حقیقي وي، لېکن دده او د بل فعل تر مینځ فصل راغلی وي، نو فعل مذکر او مؤنث دواړه راتلای سي، لکه (طلع الشمس او طلعت الشمس) دا راز (وصلت الی المدرسة تلمیذةٌ) او (وصل الی المدرسة تلمیذة)، نو دلته په صېغه صفت کي هم داسي ده، لکه د مؤنث غیر حقیقي مع الفصل مثال (مررت برجل قائم فی الدار، جاریته یا قائمة فی الدار جاریته).

دریمه خبره: پر لومړی قاعده تفریعات:

ومن ثم حَسُنَ قام رجلٌ قاعدٌ غلمانُه و ضعف قادون غلمانه ویجوز قعودًا غلمانه، په دې عبارت کې مصنف رحمه الله له مذکوره قواعدو څخه پر لومړی قاعده درې تفریعاتې کوي:

لومړی تفریع:

قام رجلٌ قاعدٌ غلمانه: چې د مذکوره قاعدې په رڼا کې دا مثال بلکل صحیح دی، ځکه د (قاعدٌ) صیغه صفت فاعل (غلمانه) د اسم ظاهر په صورت کې خو د قاعدې له مخې (قاعدٌ) مفرد راوړل کیږي.

دوهمه تفریع:

وضُعِّفَ قاعدونَ غلمانُه: ددې پوره عبارت داسې دي: (قام رجلٌ قاعدون غلمانه) ددې په هکله علامه ابن حاجب رحمه الله وایې: چې داسې ویل ضعیف دي، ځکه (غلمانه) فاعل اسم ظاهر دی، له دې سره صیغه صفت د جمع په صیغه سره راوړل سوی دی.

فائده: په داسې ځای کې فعل او د صفت صیغه مفرد راوړل ځکه ضروري دي، چې د تثنیه او جمع په صورت کې په فاعل کې تعدد راځي، لکه په مثال مذکور (قاعدون غلمانه) کې چې (غلمانه) هم فاعل دی او په (قادون) کې هم ضمیر فاعل دی.

یو سوال او دهغه جواب:

دلته به طالب العلم ته یو سوال پیداکیدی، چې لومړنی قاعده وجوبي وه او د وجوب مخالفت په عدم جواز تعبیرېږي، نو څه وجه ده چې په (قاعدون غلمانه) کې د قاعده وجوبي د مخالفت سره سره او د تعدد فاعل سره سره یې د (لایجوز یا لایصح) پر ځای (وضعف) حکم کړی، له دې څخه معلومېږي چې ددې مطلب دادی چې داسې ویل جائز خو دي، لېکن په جواز کې یې څه ناڅه کمزوري سته؟

د دې جواب دادی چي دکافیه ملاصاحب رَحِمَهُ اللهُ د نحوي د نورو علماؤ په رعایت کولو سره دا ضعیف بللی جائز یې نه دی بللی، ځکه د نحو د علماؤ په دې کي څو اقوال دي مثلا: ①: بعض علماء نحو وایې: چي واو اونون فاعل نه دي، بلکي دا خو صرف د جمع علامې دي او فاعل (غلمانه) دی.
②: او بعض علماؤ ویلي دي: چي (قاعدون) خبر مقدم دی او (غلمانه) مبتداء مؤخره ده.
③: او د بعض علماؤ په نزد واو او نون مبدل منه دي او (غلمانه) بدل، بیا بدل او مبدل منه دواړه د (قاعدون) لپاره یوازي فاعل دي.
خلاصه دا چي دا علماء وایې: چي د مذکوره قاعدې د خرابۍ علت تعدد دفاعل دی او هغه دلته نسته، ځکه نو دا مثال صحیح کېږي، له همدې وجې د کافیه ملاصاحب رَحِمَهُ اللهُ هم د دغه رعایت کولو له وجې (وضعُف) وویل.

دریمه تفریع:

ویجوز قعودٌ غلمانه، ددې پوره عبارت داسي دي: (قام رجلٌ قعودٌ غلمانه) ددې په اړه وایې: چي دا جائز دي، ځکه (قعود) دجمع مکسر صیغه ده او جمع مکسر د مفرد په حکم کي وي، لیکن دایې (حسن) ځکه ونه بلل، چي دا که څه هم د مفرد په حکم کي دی، لیکن حقیقي مفرد خو بیا هم نه دی، له همدې وجې یې صرف (یجوز) وویل.

یوسل یوم (۱۰۱) درس

له موصوف او صفت سره تړلې اهمې قاعدې

والمضمر لایوصَف ولایوصَف به والموصوف اخص او مساوٍ ومن ثم لم یوصف ذواللام الا بمثله او بالمضاف الیٰ مثله، وانما التُزِمَ وصف باب (هذا) بذی اللام للابهام ومنْ ثم ضَعُف مررت بهذا الابیض وحَسُنَ بهذا العالم.

ترجمه: او ضمیر نه موصوف کېدای سي او نه صفت او موصوف یا خو اخص وي، یا مساوي او له همدې وجې د معرف باللام صفت نه راوړل کېږي، خوکه چېري راغلی و، نو صفت به هم دده په مثل وي، یا به دده د مثل وطرفته مضاف

وي، او يقيناً لازم بلل سوی دداسي مثالونو صفت معرف په لام سره د ابهام له وجي ځخه، له همدې وجې (مررت بهذاالابيض) ترکيب ضعيف دی او (مررت بهذاالعالم) حسن دی.

تشريح: د نن په سبقه کي درې خبرې دي:

①: د ضمير په ذريعه صفت راوړل، ②: له موصوف او صفت سره تړلې يوه قاعد اوتفريعات، ③: د اسم اشاره له صفت سره تړلې يوه قاعده او تفريعات.

د ضمير په ذريعه صفت راوړل

لومړی خبره: د ضمير په ذريعه صفت راوړل.

والمضمر لا يوصف ولايوصف به: په دې عبارت کي يوه قاعده بيانېږي، چي ضمير نه موصوف کېدای سي او نه صفت، ځکه چي صفت به يا د تعريف لپاره وي، يا به د تخصيص لپاره او ضمير خو اعرف المعارف دی، دده لپاره دزيات وضاحت ضرورت نه وي او نه د تعريف، لهذا ضمير موصوف نسي کېدای.

او صفت هم نسي کېدای، ځکه چي د اخبره را روانه ده چي د موصوف تر صفت اخص کېدل، يا لږ تر لږه ورسره برابرېدل ضروري دي، حال دا چي په تعريف او تخصيص کي تر ضمير زيات په هيڅ شي کي نه تعريف سته او نه تخصيص، ځکه ضمير اعرف المعارف دی.

او دوهمه وجه داده چي صفت هغه وي، چي پر داسي معنی دلالت کوي، کومه چي په موصوف کي موجوده وي او د ضمير د معنی پر ځای رأسًا پر ذات دلالت کوي، له همدې وجې ضمير صفت هم نسي کېدای.

دوهمه خبره: له موصوف او صفت سره تړلې يوه قاعده:

والموصوف اخص اومساوٍ: په دې عبارت کي د کافيه ملاصاحب رحمه الله د اسم موصوف درجه بيانوي، چي د موصوف لپاره ضروري ده چي د تعريف او تخصيص په اعتبار تر خپل صفت زيات اعرف او اخص وي، يا دا چي لږ تر لږه ورسره برابر خو هرومرو وي، ځکه صفت د موصوف تابع وي او متبوع تل تر خپل تابع اعلیٰ او لوړ وي، که نه د فرع پر اصل لوړتيا لازمېږي او دا صحيح نه ده.

پر مذکوره قاعده یوه تفریع:

ومن ثم لم یوصف ذواللام الا بمثله او بالمضاف الی مثله:

پر مخکني اصل دلته تفریع بیانوي، لېکن تر دې مخکي دا خبره زده کړئ، چي د معرفه په ټولو قسمونو کي اعرف المعارف ضمائر دي، بیا اعلام او تر دې وروسته اسماء اشارات او بیا تر دې وروسته معرف باللام او اسماء موصولات دواړه سره برابر دي.

اوس تفریع ته غوږ سئ! چي موصوف که چېري معرف باللام وي، نو دده صفت هم دده په مثل کېدل، یا دمثل وطرفته مضاف کېدل ضروري دی، ددې ټول څلور قسمونه جوړېږي:

①: د موصوف په ډول صفت هم معرف باللام وي، لکه جاءنی الرجل الفاضل، ②: د موصوف په ډول پخپله خو معرف باللام نه وي، لېکن د بل معرف باللام وطرفته مضاف وي، لکه: جاءنی الرجل صاحب الفرس یا صاحب القلم، ③: له اسماء موصولاتو څخه کوم یو دده صفت جوړ سوی وي، لکه: جاءنی الرجل الذی کان عندک امس، ④: له اسماء موصولاتو څخه د یوه وطرفته مضاف وي، لکه: جاءنی الرجل صاحب الذی فی الدار.

حاصل دا چي د معرف باللام موصوف صفت صرف همدا څلور صورتونه دي، ځکه که چېري د کوم بل صورت په ذرېعه صفت راوړل سي، نو دتابع پر متبوع فوقیت لازمېږي، ولې په معرفه کېدو کي معرف باللام د معرفه تر ټولو قسمونو کمزوری معرفه دی، خو یوازي اسماء موصولات له ده سره برابر دي.

درېیمه خبره: د اسم اشاره له صفت سره تړلې یوه قاعده:

وانما التزم وصف باب هذا بذاللام للابهام: د کافیه ملاصاحب رحمه الله ددې عبارت په ذرېعه د یوه سوال جواب کوي: سوال دادی: لکه څرنګه چي د معرف باللام صفت معرف باللام، موصول او مضاف ومعرف باللام والموصول راځي، نو دا راز د اسماء اشارت صفت هم په دغو ټولو صورتونو سره راتلل پکار دي، ځکه دا

تول په معرفه کېدو کي تر اسماء اشاراتو په درجه کي کښته دي، حال دا چي داسماء اشارات صفت صرف معرف باللام راتلای سي؟

جواب: ددې جواب دای، لکه څرنګه چي موږ په نحومیر کي ویلي وه، چي اسماء اشارت او اسماء موصولات ته مبهمات هم ویل کېږي، ځکه چي په دوی کي د جنس ابهام وي او جنس ابهام معرف باللام ختموي، ځکه د الف لام وضع د تعریف لپاره راغلې ده، له دې پرته هغه اسم کوم چي د معرف باللام و طرفته مضاف وي، په هغه کي پخپله ابهام وي، کوم چي د مضاف الیه په ذریعه لیري کېږي، نو کوم اسم چي په خپله له ځان څخه په ابهام لېري کېدو کي بل چاته محتاج وي، نو د بل چا ابهام به څنګه لیري کوي، خو داسم موصول او اسم اشاره صفت واقع کېدای سي، لکه: (مررت بهذا الذی اکرم).

بیا سوال کېږي، چي کله داسماء اشارت صفت د معرف باللام په ډول اسم موصول هم راتلای سي، نو مصنف رحمه الله ولې ذکر نه کړ؟

جواب: چي کله د معرف باللام ذکر وسو، نو اسم موصول پخپله پکي داخلېږي، ځکه اسم موصول او معرف باللام په معرفه کېدو کي سره برابر دي، نو که چېري یو صفت جوړ سي او بل نسي جوړېدای، نو ترجیح بلامرجح راځي.

پر مذکوره قاعده یوه تفریع:

ومن ثم ضعف مررت بهذا الأبیض: د اسم اشاره صفت معرف باللام هغه مهال راتلای سي، کله چي هغه له ده څخه ابهام لیري کولای سي، که نه نسي راتلای، مثلا یو داسي معرف باللام اسم وي، چي له کوم جنس سره خاص نه وي، نو هغه داسم اشاره لپاره صفت نسي جوړېدای، ددغه اصل په مخکي بنودلو سره ویل سوي چي: (مررت بهذا الابیض) ویل ضعیف دي، ځکه (الابیض) د (هذا) له جنس څخه ابهام نه دی لېري کړی، ځکه چي (الابیض) له کوم جنس سره خاص نه دی، بلکي د هر جنس سپین فرد ته (الابیض) ویل کېږي.

دلته سوال کېږي، چي کله (الابیض) له (هذا) څخه ابهام لیري نکړ، نو د کافیه ملاصاحب رحمه الله به (لایجوز، یا لایصح) ویل، (ضعُف) یې ولې وویل؟

د دې جواب دادی چې (الابيض) که څه هم من كل الوجوه له (هذا) څخه ابهام نه دی ليري کړی، خو څه نا څه يې هرومرو ليري کړی دی، هغه داسې چې زما تګ له کوم تور، سره او ژېړ سره نه دی سوی، بلکې له سپين سره سوی دی، نو ددغه لږ ابهام ليري کېدو په اعتبار کولو سره مصنف رحمه الله ورته (ضعف) وويل.

وحسن بهذا العالم: چې (مررت بهذا العالم) ويل بلکل صحيح دي، ځکه دلته (العالم) من كل الوجوه ابهام ليري کړی دی، ځکه چې خبره يې واضحه کړې ده چې مشاراليه انسان دی او له انسانانو څخه نارينه دی او بيا له نارينه وو څخه هم عالم مراد دی (كما فی تقرير الكافيه).

يوسل اودوهم (۱۰۲) درس

ددوهم تابع (عطف بيان) بيان

العطف تابعٌ مقصودٌ بالنسبة مع متبوعه و يتوسّط بينه وبين متبوعه احدالحروف العشرة وسيأتی مثل: قام زيدٌ وعمرٌو واذا عُطفَ على المرفوع المتصل اكّد بمنفصلٍ، مثل: ضربتُ انا وزيدٌ الا ان يقع فصلٌ فيجوز تركه مثل: ضربتُ اليومَ وزيدٌ.

ترجمه: عطف هغه تابع دی چې مقصود بالنسبة وي له خپل متبوع سره او دده او دمتبوع تر مينځ يې له لسو حروفو څخه يو حرف راغلی وي او ددې بيان به درته راسي، لکه (قام زيدٌ وعمرٌو) او کله چې عطف وسي پر ضمير مرفوع متصل، نو دده تاکيد کېږي په ضمير مرفوع منفصل سره، لکه (ضربتُ انا وزيدٌ) خو که فاصله واقع وي، نو د ده (تاکيد) پرېښودل جائز دي، لکه (ضربتُ ا ليوم وزيدٌ).

تشريح: د نن په سبق کې درې خبرې دي:

①: د عطف بيان تعريف، ②: په مذکوره تعريف کې دقيدونو فائدې، ③: له عطف بيان سره تړلې يوه مهمه مسئله.

دعطف بيان تعريف

لومړی خبره: دعطف بیان تعریف:

العطف: تابعٌ مقصودٌ بالنسبة مع متبوعه، یعني عطف په حرف سره هغه تابع دی، چي له خپل متبوع سره په نسبت مقصود وي، یعني د کومې خبرې نسبت چي متبوع ته سوی وي، هماغه نسبت به تابع ته هم سوی وی، وروسته د کافیه ملاصاحب رَحِمَهُ اللّٰهُ ددې لپاره یو شرط بیانوي، چي (ویتوسط بینه وبین متبوعه احدالحروف العشرة)، یعني د عطف بالحرف د جواز لپاره ضروري ده، چي دده او د متبوع ترمینځ به له لسو حروف عاطفه څخه یو حرف موجود وي، لکه (جاءنی زیدٌ وعمرٌو)، ګوره !دلته زید متبوع دی او عمرېې تابع دی او ترمینځ یې (واو) حرف عطف موجود دی او لکه څنګه چي مقصود په نسبت سره زید دی، بلکل همداسي عمرو هم دی، ځکه متکلم ته د راتګ نسبت لکه څنګه چي زید ته سوی دی، همداسي عمر ته هم سوی دی، تر دې وروسته د کافیه ملاصاحب وایي: (وسیأتی) یعني ددغو حروف عاطفه تفصیلي بیان نژدې د حروفو په بحث کي راتلونکی دی.

دوهمه خبره: په مذکوره تعریف کي دقیدونو فائدې:

العطف تابعٌ مقصودٌ بالنسبة مع متبوعه: په دې کي (العطف) معرف او (تابعٌ) یې تراخېره پوري تعریف دی او په تعریف کي (تابعٌ) جنس دی، کوم چي ټولو توابعو ته شامل دی او (مقصودٌ بالنسبة) لومړی فصل دی ددې په ذریعه له بدل پرته نور توابع یعني صفت، تاکید او عطف بیان وزي، ځکه دا درې سره مقصود بالنسبة نه دي، بلکي مقصود بالنسبة په دوی کي صرف ددوی متبوع دی، (مع متبوعه) دوهم فصل دی، ددې په ذریعه بدل وزي، ځکه هغه که څه هم پخپله مقصود بالنسبة دی، لېکن دده متبوع مقصود بالنسبة نه وي، لکه (جاءنی زیدٌ حمارًا) په دې کي د مجیئت نسبت صرف د حمار وطرفته سوی دی، نه چي د زید وطرفته.

له عطف سره تړلي څواهمي مسئلې

درېیمه خبره: له عطف سره تړلي څو اهمي مسئلې:

و اذا عُطف على الضمير المرفوع المتصل اكّد بمنفصل..........په دې پوره عبارت کې د کافیه ملاصاحب له عطف سره تړلې څو اهمې مسئلې راته بیانوي، چې یکې لومړۍ مسئله به نن تاسو ووایاست او پاتې به په راتلونکې درس کې ووایاست انشاء الله تعالی!

لومړۍ مسئله: د اسم ظاهر پر ضمیر مرفوع متصل عطف:

واذا عُطف على الضمير المرفوع المتصل اكّد بمنفصل: لومړۍ مسئله داده چې کله پر ضمیر مرفوع متصل کوم اسم عطف سي، نو تر عطف مخکې په ضمیر مرفوع منفصل سره دده تاکید کول ضروري دی، وجه یې داده چې ضمیر مرفوع متصل لفظًا او معنًا د شدت اتصال په وجه د مخکنۍ کلمې د یوه جزء په ډول وي او د کلمې پر جزء د اسم ظاهر عطف کول جائز نه دي، که نه د کلمه مستقله پر جزء د کلمې عطف لازمېږي، کوم چې صحیح نه دی، لکه: (ضربتُ انا وزیدٌ)، کله چې یې په منفصل سره تاکید وسي، نو ظاهرا دده پر تاکید عطف وسو کوم چې جزء د کلمې نه دی، که څه هم په حقیقت کې پر همدغه ضمیر عطف سوی دی.

ددې بالمقابل که چېرې پر ضمیر مرفوع منفصل عطف سوی وي، یا پر ضمیر منصوب یا مجرور عطف سوی وي، نو بیله تاکید څخه پر هغه د اسم ظاهر عطف کېدای سي، لکه (اناقائم وزیدٌ) او (ضربتک وزیدًا) او (مررت بک وبزیدٍ).

الّا ان يقع فصلٌ فيجوز تركه: چې که چېرې پر ضمیر مرفوع متصل اسم ظاهر عطف سوی وي، نو دده لپاره د مذکوره قاعدې پر بنسټ ضمیر منفصل تاکید راوړل لازمي دي، لېکن که چېرې د معطوف علیه او معطوف تر مینځ فصل وي، نو هلته د تاکید راوړل که څه هم جائز خو دي، لېکن ضروري نه دي، ځکه دلته فاصله د تاکید پر ځای درېږي، لکه: (ضربتُ اليوم وزيدٌ) او د الله جل جلاله په قول کې هم دي: (مَا أَشْرَكنا ولا آبائنا) دلته د (ابائنا) عطف د (ما اشركنا) پر ضمیر مرفوع متصل سوی دی، لېکن تر مینځ یې (لا) زائده فصل راغلی دی، ځکه یې نو په ضمیر منفصل سره تاکید نه دی سوی.

د مصنف رحمه الله د اسلوب له تعبیر یعني (فیجوز ترکه) څخه څرګندېږي چي په داسي ځای کي تاکید هم کېدای سي، لکه د الله جل جلاله قول: (فکبکبوا فیها هم والغاوون) دلته د (فکبکبوا) پر ضمیر مرفوع متصل (الغاوون) عطف سوی دی، تر مینځ یې (فیها) فصل موجود دی، لیکن بیا یې هم د (هم) ضمیر مرفوع منفصل په ذریعه تاکید سوی دی، دا راز (ماعبدنا من دونه من شیئ نحن ولا آبائنا) په دې کي د (عبدنا) ضمیر مرفوع متصل معطوف علیه او (ولاآبائنا) معطوف علیه دی، تر مینځ یې (من دونه من شیئ) دومره لویه فاصله هم موجوده ده، لیکن بیا یې هم په (نحن) ضمیر مرفوع منفصل سره تاکید سوی دی.

یو سل او دریم (۱۰۳) درس

له عطف بیان سره تړلې دوهمه، دریمه او څلورمه مسئله:

و اذا عُطف على الضمير المجرور أُعيدَالخافضُ نحو: مررت بكَ وبزيدٍ والمعطوف فى حكم المعطوف عليه، ومن ثم لم يجز فى ما زيدٌ بقائم او قائمًا ولا ذاهبٌ عمروٌ الا الرفعُ وانما جاز الذى يطير فيغضب زيدُالذبابُ، لانها فاء السببية و اذا عُطف على عاملين مختلفين لم يجز، خلافًا للفراء الا فى نحو: فى الدار زيدٌ والحجرة عمروٌ، خلافًا لسيبويه.

ترجمه: او کله چي پر ضمیر مجرور عطف وسي، نو جار و مجرور راوړل کېږي، لکه (مررتُ بک وبزید) او معطوف د معطوف علیه په حکم کي کېږي، له همدې وجې جائز نه دی (مازیدٌ بقائم او قائمًا او لاذاهبٌ عمروٌ) خو رفع او بیله شک څخه جائز دي (الذي یطیر فیغضب زیدُالذبابُ)، ځکه فاء د سببیت لپاره د دا او کله چي عطف وسي پر دوو مختلفو عاملانو نو جائز نه دی، دا خبره دامام فراء خلاف ده، خو د (فی الدار زیدٌ او الحجرة عمروٌ) په څېر ترکیبونو کي دا دامام سیبویه خلاف دی.

تشریح: د نن په سبقه کي له عطف بیان سره د تړلې دوهمې، دریمې او څلورمې مسئلې او په اخیر کي د دریو مذهبونو بیان کېږي.

دوهمه مسئله: د اسم ظاهر پر ضمير مجرور عطف:

و اذا عُطف على الضمير المجرور اعيدالخافض: دوهمه مسئله داده چي كه چيري اسم ظاهر پر ضمير مجرور متصل عطف سي، نو پر معطوف د جار اعاده (راګرزول) لازمي دي، هغه جار كه حرف وي، لكه (مررت بک وبزيد) يا اسم مضاف وي، لكه (المال بينى وبينک)، په داسي صورت كي جار(هغه كه جار ومجرور وي، يا مضاف ومضاف اليه وي)، ځكه راګرزول كېږي چي ددوى تر مينځ شدت اتصال وي او د همدغه سخت اتصال له وجې ګواكي چي دا يوه كلمه ده، اوس كه چيري بېله اعادي دجار پر مجرور عطف وسي، نو د كلمه پر جزء د مستقلي كلمي عطف كېدل لازمېږي، كوم چي جائز نه دى.

دريمه مسئله د معطوف د اعراب حكم:

والمعطوف فى حكم المعطوف عليه: چي معطوف د همېشه لپاره د معطوف عليه په حكم كي وي، يعني كوم شى چي د معطوف عليه لپاره جائزوي، هماغه شى د معطوف لپاره هم جائز دى او كوم شى چي دده لپاره ممنوع وي، هماغه د معطوف لپاره هم ناجائز دى، لكه په (جاء زيدٌ وعمرٌو) كي پر (زيدٌ) د فاعل كېدو له وجې رفع واجب او نصب وجر ممنوع دي، بلكل همداسي پر عمرٌو هم رفع واجب او نصب وجر ممنوع او ناجائز دي، دا راز كه چيري معطوف عليه د يو شى صفت يا خبر وي، يا صله يا حال وي، نو معطوف به هم د هماغه شى صفت، صله، يا حال جوړېږي، د صفت مثال (قام زيدٌ العالمُ والعاقل) په دې مثال كي لومړى (العالم) د (زيدٌ) صفت دى او معطوف عليه دى ، نو دوهم (العاقل) كوم چي معطوف دى دا هم د (زيدٌ) صفت كېږي.

د خبر مثال (زيدٌ عاقلٌ وشاعرٌ) په دې مثال كي (عاقلٌ) معطوف عليه دى، (زيدٌ) يې خبر دى او (شاعرٌ) معطوف دى پر (عاقل)، دا هم د (عاقل) په ډول د (زيد) خبر واقع كېږي.

د صله مثال (قام الذى صلى وصامَ) په دې مثال كي (صلى) معطوف عليه دى او (الذى) يې صله ده او (صام) معطوف دى پر (صلى) او دا هم د (الذى) صله جوړېږي.

دا راز د حال مثال (جاءني زيدٌ مشدودًا ومضروبًا) په دې مثال كې (مشدودًا) معطوف عليه دى او له (زيدٌ) څخه حال دى او (مضروبًا) پر (مشدودًا) عطف دى او داهم حال جوړېږي، نو (زيدٌ) لكه څرنګه چې د (مشدودًا) ذوالحال دى، همداسې د (مضروبًا) هم ذوالحال دى وقس على المثال الآخر قولَ الله سبحانه وتعالى: (لتدخلن المسجدالحرام ان شاء الله آمنين محلقين رؤوسكم ومقصرين لاتخافون).

پر مذكوره مسئله يوه تفريع:

ومن ثم لم يجز في مازيدٌ بقائم او قائمًا ولاذاهبٌ عمرٌو الا الرفع: د كافيه ملاصاحب رحمه الله پر مخكې اصل (يعني معطوف د معطوف عليه په حكم كې وي) د مذكوره عبارت په ذريعه پر دغه اصل يوه تفريع كوي، چې په (مازيدٌ بقائمٍ ولا ذاهبٌ عمرٌو) يا په (ما زيدٌ قائمًا ولا ذاهبٌ عمرٌو) كې د (ذاهبٌ) رفع ويل جائز دي او نصب وجر يې دواړه ناجائز دي، ځكه دا كه چېرې منصوب، يا مجرور سي، نو دا پر (بقائم، يا قائمًا) عطف كېږي، حال دا چې دا دواړه نه صحيح كېږي، ځكه په (بقائم او قائمًا) دواړو كې (هو) ضمير فاعل موجود دى، كوم چې د زيد وطرفته راجع دى، لېكن په (ذاهبٌ) كې يو داسې ضمير نسته كوم چې د زيد وطرفته راجع وي، ځكه دده فاعل (عمرٌو) داسم ظاهر په شكل موجود دى، حال دا كه چېرې په معطوف عليه كې ضمير وو ، نو په معطوف كې هم ضمير ضروري دى كه نه د دواړو ترمينځ مطابقت نه راځي او د (والمعطوف في حكم المعطوف عليه) قاعده ماتېږي،له همدې وجې د كافيه ملاصاحب پر (بقائم) مجرور او پر (قائمًا) منصوب باندې دده عطف ناجائز دى، نو دا مرفوع ويل كېږي، خبر مقدم كېږي او (عمرٌو) يې مبتداء مؤخره كېږي، مبتداء مؤخره سره له خبر مقدم جمله اسميه خبريه پوره جمله پر جمله عطف كېږي.

د يوه مقدر سوال جواب:

سوال: چې تاسو مخكنى مثال صرف له دې وجې ناجائز باله چې هلته په معطوف عليه كې ضمير عائد موجود و او په معطوف كې نه و، حال دا چې په

(الذی یطیر فیغضب زیدُالذباب) کي (یغضب) پر (یطیر) عطف دہ، حال دا چي په (یطیر) کي یو ضمیر دی کوم چي د (الذی) اسم موصول وطرفته راجع دی او په (یغضب) کي هیڅ ضمیر عائد نسته او بیا هم د عربو په نزد دا ترکیب جائز دی؟

جواب: د کافیه ملاصاحب رحمه الله په (وانما جازالذی یطیر فیغضب زیدالذباب) سره جواب ورکوي:

جواب: چي ورورکیه! دا ترکیب جائز دی او وجه یې داده چي (لأنها فاء السببیة) یعني په (فیغضب) کي (فاء) عاطفه نه ده، بلکي سببیه ده، نو دا ترکیب د سبب او مسبب له ډلې څخه دی، نو کوم سوال نسو پاته، ځکه سوال هلته کېږي، چېري چي ترکیب دمعطوف او معطوف علیه له قبیلې څخه وي.

دوهم جواب: چي دلته فاء د عطف او سبب دواړو لپاره د ه او ضمیر چونکه د ربط لپاره راځي، نو ربط له پخوا لا موجود دی، ځکه د سبب او مسبب ترمینځ ربط موجود وي، نو د ضمیر راوړلو ضرورت پاته نسو، نو دا مذکور مثال صحیح سو.

څلورمه مسئله: د یوه حرف عطف په ذریعه د دوو عاملانو پر معمولونو عطف کول:

و اذا عُطف علی عاملین مختلفین لم یجز: له عطف سره تړلې اخیره مسئله داده چي آیا د یوه حرف عطف په ذریعه ددوو بېلابېلو عاملانو پر معمولونو عطف کول جائز دی، که نه؟ نو په دې هکله د کافیه ملاصاحب رحمه الله د درېو مذهبونو په حواله خبره کوي، لېکن تر دې مخکي د تمهید په ډول دا خبره زده کړئ، چي له (فی الدار زیدٌ والحجرة عمرٌو) څخه هر هغه ترکیب مراد دی چېري چي معطوف علیه مجرور مقدم وي او دده مابعد مرفوع یا منصوب وي او په معطوف کي هم داسي دي، مذکوره مثال د مرفوع و او د منصوب مثال (ان فی الدار زیدًا والحجرة عمرًا) دی، تر دې تمهید وروسته د اصل مسئلې تفصیل او په هغه کي اختلاف ته غوږ سئ!

لومړی مذهب: د نحوي د جمهورو علماؤ:

و إذا عطف علی عاملین مختلفین لم یجز....الا فی نحو: فی الدار زیدٌ والحجرة عمرو: جمهور نحاة وايي: دا راز عطف له (فی الدار زیدٌ والحجرة عمروٌ) پرته چيري هم روانه دی، او دا مصنف رحمه الله په (خلافًا للفراء) سره په را روان عبارت (الا فی نحو فی الدار زیدٌ والحجرة عمروٌ) کي بيان کړی دی.

د دوی دليل دادی چي حرف عطف يو کمزوری عامل دی، کوم چي د يوه عامل پر ځای خو درېدای سي، لېکن د دوو پر ځای نسي درېدای، او په مذکوره مثال کي ځکه جائز دی چي دا خلاف القياس له عربو څخه اورېدل سوی دی، په (فی الدار زیدٌ والحجرة عمروٌ) کي سره له دې چي د يوه حرف عطف په ذريعه ددوو بېلابېلو عاملانو (يعني د في او ابتداء) پر دوو معمولانو (الدار او زيدٌ) د دوو اسمونو (يعني الحجرة اوعمروٌ) عطف سوی دی، لېکن بيا هم ددوی په نزد دا صحيح دی، ځکه چي په دې کي مونږ دخل نسو کولای.

دوهم مذهب دامام فراء:

خلافًا للفراء: د امام فراء په نزد دا راز عطف کول مطلقًا جائز دی، د مطلقًا مطلب دادی چي که د دغه مذکوره مثال په ډول کوم ترکيب وي، يا له ده غير وي، هرځای جائز دی، دَی پر خپله دعوه دوه دليلونه لري:

①: کله چي په مذکوره مثال کي د ټولو نحوي علماؤ په نزد په اتفاق عطف جائز دی، نو پر دغه مثال په قياس کولو په نورو ټولو ترکيبونو کي هم جائز دی.

②: کله چي د يوه عامل پر معمول عطف کول صحيح دي، نو د دوو عاملانو پر معمول هم صحيح دی، لکه (ما کل سوداء تمرة والبيضاء شحمة) يعني نه خو هر تور شی خورما ده او نه هر سپين شی وآزګه ده، ګوره په دې کي يو عامل (مامشابه بليس) دی او دوهم عامل (کل) دی، کوم چي مضاف دی او (سوداء) معمول دی د همدغه (کل). (کل) مضاف سره له خپل مضاف اليه د (مامشابه بليس) اسم جوړېږي او (تمرة) د (ما) دوهم معمول دی، ځکه چي د (ما) لپاره دا

خبرونه جوړېږي، اوس د (بیضاء) عطف پر (سوداء) او د (شحمةٌ) عطف پر (تمرةٌ) سوی دی، نو امام فراء وایي: چي دا راز کول هر ځای جائز دي.

درېیم مذهب د امام سیبویه:

خلافًا لسیبویه: امام سیبویه صاحب وایي: چي دا راز عطف کول مطلقًا جائز نه دی، ځکه چي حرف عطف د ضعیف عامل کېدو په وجه د دوو مختلفو عاملانو قائم مقام نسي کېدای.

او د (فی الدار زید والحجرة عمرو) په اړه وایي: چي لومړی خبره خو دا ده چي دا هم صحیح نه دی، لېکن که چېري دا صحیح ومنل هم سي، نو د لته په معطوف کي حرف جر مقدر دی، چي د عبارت تقدیر دا سي کېږي: (فی الدار زید وفی الحجرة عمرو) نو دا د عطف الجملة علی الجملة له قبیلې څخه سو، نه له فیما نحن فیه څخه.

خو تر ټولو صحیح مذهب د جمهورو علماؤ دی، ځکه چي هغه له افراط (زیاتوب) او تفریط (کمي) څخه هم خالي دی او مصنف رحمه الله هم دا مخکي ذکر کړی دی، چي ترجیح یې معلومېږي.

یو سل او څلورم (۱۰۴) درس

د درېیم تابع (تاکید) بیان

التاکید تابعٌ یُقرِّر امر المتبوع فی النسبة اوالشمول وهو لفظیٌّ ومعنویٌّ، فاللفظی تکریر اللفظ الأول نحو: جاءنی زیدٌ زیدٌ ویجری فی الألفاظ کلّها والمعنوي بالفاظ محصورةٍ وهی نفسه وعینه وکلاهما وکلّه واجمع واکتع وابتع وابصع، فالأولان یعمّان باختلاف صیغتهما وضمیرهما، تقول: نفسه ونفسها وانفسهما وانفسهم وانفسهنّ والثانی للمثنیْ، تقول: کلاهما وکلتاهما والباقی لغیرالمثنیْ باختلاف الضمیر فی کله وکلها وکلهم وکلهنّ والصیغ فی البواقی، تقول: اجمع وجمعاء واجمعون وجمع.

ترجمه: تاكيد هغه تابع دى، كوم چې دمتبوع حال په نسبت يا شامليدو كې ښخوي او (تاكيد) لفظي او معنوي ته وېشل كيږي، بيا تاكيد لفظي د لومړي لفظ مكرر كېدو ته ويل كيږي، لكه (جاءنى زيدٌ زيدٌ) او تاكيد په ټولو الفاظو كې جاري كيږي او تاكيد معنوي له محصوره الفاظو سره مخصوص دى، هغه الفاظ (نفسٌ، عَيْنٌ وكلاهما وكلّه واجمع واكتع وابتع وابصع) دي، بيا لومړى دوه (نفسٌ او عينٌ) عام دي له خپلو صيغو او ضميرو سره په بدليدو سره، لكه چې ووايې: (نفسه ونفسها وانفسهما وانفسهم او انفسهنّ) او دوهم قسم (كلاهما) د تثنيه لپاره راځي، لكه (كلاهما او كلتاهما) او پاته نور د غير تثنيه لپاره د ضمير په بدلون سره راځي، لكه (كله، كلها او كلهم او كلهن) او په نورو كې صرف د صيغو په بدلون سره، لكه چې ووايې: (اجمع او جمعاء او اجمعون او جُمَعُ).

تشريح: ورورګيه! نن عبارت لږغوندې طويل دى، ليكن ته مه خفه كيږه، خبرې پكې صرف څلور دي:

①: د تاكيد لغوي او اصطلاحي تعريف، ②: په تعريف كې د قيدونو فائدې، ③: د تاكيد اقسام، ④: د تاكيد الفاظ او تفصيل يې.

د تاكيد لغوي او اصطلاحي تعريف

لومړۍ خبره: د تاكيد لغوي او اصطلاحي تعريف:

تاكيد: د اكّد يؤكّد تاكيدًا تفعيل د باب مصدر دى، لغوي معنا يې ده: التقرير والاثبات يعني د يو شى مضبوط او پخول، پخوونكي ته مؤكِد او كوم شى چې پوخ سوى وي، هغه ته مؤكَد ويل كيږي.

او اصطلاحي تعريف يې پخپله مصنف رحمه الله بيان كړى، چې (التاكيد تابعٌ يقرر امرالمتبوع فى النسبة اوالشمول) يعني تاكيد هغه تابع دى، كوم چې د متبوع حال د سامع په مخكې مضبوطوي په نسبت كې يا په شمول كې، د دې لپاره چې د اوريدونكي كوم شک پاته نسي، تفصيل يې په دې ډول دى: چې د متبوع طرفته چې كوم شى منسوب وي، د سامع په نزد په هغه كې د مجاز، يا سهو، يا نسيان (هيري) احتمال وي، نو د تاكيد په راوړلو هغه احتمال ليرې كړل سي، لكه

چې یو څوک ووایې: (جاءنی زیدٌ) په دې کې دا احتمال و، چې کېدای سي د متکلم هېر سوي وي، یا سهوه سوی وي، زید نه وي راغلی، بلکې کوم بل څوک راغلی وي، لېکن کله چې ورسره تاکېد ولګېدی، داسي ووېل سول (جاءنی زیدٌ زیدٌ)، نو داسي احتمالات ختم سوه او د مخاطب په مخکې دا خبره پخه سوه، چې د راتګ نسبت د زید وطرفته حقیقي دی، مجازي نه دی، همدا مطلب دی د نسبت او د شمول مطلب دادی چې تاکید دا ښیي چې د کوم حکم نسبت د دغه متبوع وطرفته سوی دی، هغه حکم ددغه متبوع ټولو افرادو ته شامل دی، لکه (جاءنی القوم کلهم) په دې کې لومړی شک کېدی چې پوره قوم به نه وي راغلی، لېکن د کلهم تاکېد دا وښودل چې د راتګ حکم پوره قوم ته شامل دی.

دوهمه خبره: په تعریف کې د قیدونو فائدې:

التاکید تابعٌ یقررامر المتبوع فی النسبة اوالشمول: په دې کې التاکید معرف او تابعٌ تر اخیره پوري یې تعریف دی، په دې کې تابع جنس دی، کوم چې ټولو توابعو ته شامل دی.

یقررامرالمتبوع: دا لومړی فصل دی ددې په ذریعه عطف بالحرف او بدل خارج سو، ځکه هغه دواړه د متبوع حالت مضبوطوي او پخوي.

فی النسبة: دا دوهم فصل دی ددې په ذریعه صفت او عطف بیان هم ووت ځکه دا دواړه که څه هم متبوع ثابت او مقرر وي، لېکن د (فیما نسب الی المتبوع) تقریر نه کوي، بلکې د متبوع د ذات تعیین او وضاحت کوي.

اوالشمول: دا درېیم فصل دی دا صرف ددې لپاره راوړل سوی، چې د تاکېد دوهم قسم ته هم دا تعریف شامل سي.

د تاکېد قسمونه

درېیمه خبره: د تاکېد قسمونه:

وهو لفظي ومعنوي: چې د مؤکد په اعتبار تاکېد پر دوه قسمه دی: تاکېد لفظي او تاکېد معنوي.

فاللفظى تكرير اللفظ الأول يعني تاكيد لفظي هغه تابع دى كوم چي د اول لفظ په مكرر راوړلو حاصلېږي، لكه: جاءنى زيدٌ زيدٌ.

د تاكيد لفظي حكم:

و يجرى فى الألفاظ كلها: يعنى تاكيد لفظي په هر قسم الفاظو كي جاري كېږي، محشي صاحب د غاية التحقيق په حواله ددې لويه جامع تشريح كړې ده: (اى فى الاسماء والأفعال والحروف والجمل والمركبات التقييدية وغيرها) يعني په تاكيد لفظي كي لفظ مكرروي او په هر لفظ كي جاري كېږي، هغه لفظ كه حرف وي، لكه: (انّ إنّ زيدًا قائمٌ)، يا فعل وي، لكه (ضرب ضرب زيدٌ) يا اسم وي، لكه (ضرب زيدٌ زيدٌ) يا پوره جمله وي، لكه (زيدٌ قائمٌ زيدٌ قائمٌ) او د الله جل جلاله په قول كي هم راغلى دى: (كلا سوف تعلمون ثم كلا سوف تعلمون) او يو ځاى وايي: (وما ادراك ما يوم الدين ثم ما ادراك ما يوم الدين).

د تاكيد معنوي حكم

والمعنوى بألفاظ محصورة: تاكيد معنوي په كوم شى حاصلېږي او په كومو شيانو كي جاري كېږي ددې په هكله وايي: چي هغه په څو ځانګړيو الفاظو سره دى: (نفسه، عينه، كلاهما، كله، اجمع، اكتع، ابتع، ابصع).

د تاكيد د الفاظو تفصيل

ځلورمه خبره: د الفاظ تاكيد تفصيل:

مذكوره الفاظ له تاكيد څخه لومړى د لومړيو دوو (نفسٌ او عينٌ) په هكله وايي: چي (فالأولان يعمان باختلاف صيغهما وضميرهما) يعني لومړى دوه عام دي، د مفرد، تثنيه، جمع، تذكير او تانيث ټولو لپاره استعمالېږي، او د هر يوه لپاره د دوى صيغي او ضمائر بدلېږي، مثلا د واحد مذكر لپاره ويل كېږي: جاءنى زيدنفسه او عينه) او د واحده مؤنثه لپاره ويل كېږي: (جاءتنى هند نفسها او عينها)

او د تثنیه مذکر او مؤنث لپاره ویل کیږي (جاءني زید وعمرو نفسهما و عینهما او جاءتني هند وفاطمة نفسهما او عینهما)

یادونه: دلته په تثنیه کي مصنف رحمه الله د (نفس او عین) د جمع صیغې په (انفس او اعین) سره ذکر کړي دي، ځکه چي تثنیه له جمع سره ملحق ده، کوم حکم چي ملحق به ته ورکول کیږي، هماغه ده ته هم ورکول کیږي، یا ځکه چي دا هم جمع دي او د جمع اقل تعداد هم دوه وي، لکه چي ویل کیږي: (الاثنان فما فوقهما جماعة) پر دې سربېره ځیني عرب حضرات دا داسي استعمالوي: (جاءني زیدٌ وعمروٌ نفساهما وعیناهما) یعني د تثنیه په صیغو سره، په دې صورت کي هیڅ سوال نه پاتېږي، لیکن صاحب حاشیه ویلي دي: چي لومړی صورت زیات اولیٰ دی.

او د جمع مذکر لپاره ویل کیږي: جاءني زید وعمرو وبکر انفسهم واعینهم او د جمع مؤنث لپاره ویل کیږي: جاءتني هند وفاطمة وعائشة انفسهنّ واعینهنّ.

والثاني للمثنی: مصنف رحمه الله د تاکید دالفاظو دریې برخې وښودلې. په لومړی برخه کي دوه الفاظ و، چي تفصیل یې تېر سو، اوس دوهمه برخه (یعني د کلاهما او ددې مؤنث کلتاهما) په هکله وایې: چي دا دتثنیه لپاره استعمالیږي، لکه: ماجاءني الرجلان کلاهما او جاءتني المرأتان کلتاهما.

والباقي لغیر المثنی: له مذکوره دریو پرته چي کومې پنځه پاته دي دهغو په هکله وایې: چي دا له تثنیه پرته دبل چا یعني د مفرد او جمع لپاره دي، هغه که مذکر وي، یا مؤنث، د ټولو لپاره استعمالیږي، لیکن فرق یې دا دی، چي (باختلاف الضمیر في کله) یعني له هغو پنځو ځخه چي کو لفظ (کُلُّ) دی په هغه کي د مؤکد په اعتبار سره صرف په ضمیر کي تبدیلي راځي، باقي صیغه هماغه پاتېږي، لکه د واحد مذکر مثال (اشتریت العبد کلّه) او دواحده مؤنثه مثال (اشتریتُ الجاریة کلّها) او د تثنیه لپاره خو وښودل سوه، چي نه راځي، د جمع مذکر مثال (جاءني القوم کلّهم) او دجمع مؤنث مثال: (جاءتني النساء کلّهنّ).

والصیغ فی البواقي: پاتې سوه څلور (اجمع، اکتع، ابتع، ابتع)، ددې په هکله وايې: چې په دې کې د مؤکد په اعتبار سره په صېغو کې تبدیلي کېږي او د دوی په ضمېر کې هېڅ بدلون نه کېږي، په متن کې ددوی ټولو صرف يو يو مثال لېکل سوی دی (اجمع، جمعاء، اجمعون او جُمع) لېکن صاحب حاشیه د ټولو مثالونه په پوره وضاحت لیکلي دي، هلته يې وګورئ.

دواحد مذکر مثال: اشتریت العبدَ کلّه اجمع، اکتع، ابتع، ابصع.

د واحده مؤنثه مثال: اشتریت الجاریةَ کلّها، جمعاء، کتعاء، بتعاء، بصعاء.

د جمع مذکر مثال: جاءنی القومُ کلّهم اجمعون، اکتعون، ابتعون، ابصعون.

او د جمع مؤنث مثال: جاءتنی النسوةُ کلُّهنَّ جُمع، کُتع، بُتع، بُصع.

يو سل او پنځم (۱۰۵) درس

د تاکېد له الفاظو سره تړلې څو اهمې قاعدې

و لایؤکد بکل واجمع الا ذو اجزاء یصح افتراقها حسًّا جاء زیدٌ کلُّه واذا اُکّدالضمیر المرفوع المتصل بالنفس والعین اُکّد بمنفصل مثل ضربتَ انت نفسَک واکتع واخواه اتباعٌ لِاَجمع، فلا یتقدّم علیه وذکرها دونه ضعیفٌ.

ترجمه: او په کل او اجمع سره تاکېد نه کېږي، خو دداسي اجزاء لرونکي، د کوم چي افتراق (بېلول) حسًّا یا حکمًا صحیح وي، لکه (اکرمت ا لقوم کلّهم او اشتریت العبدَ کلّه) په خلاف د (جاء زیدٌ کلّه) او کله چي تاکید وسي د ضمیر مرفوع متصل په (نفسْ او عینْ) سره، نو ددغه ضمیر متصل تاکېد په منفصل سره کېږي، لکه (ضربتَ انتَ نفسکَ) او (اکتع) او دده دواړه هم مثله (ابتع او ابصع) دواړه د (اجمع) تابع دي، نو دوی پر (اجمع) نسي مخکي کېدای او له (اجمع) پرته ددوی ذکر کول هم ضعیف دي.

تشریح: ورورکیه! د نن په سبقه کي د تاکېد له الفاظو سره تړلې درې اهمې قاعدې ذکر کېږي:

لومړی قاعده: د کلّ او اجمع متعلق:

و لایؤکد بکل واجمع الا ذواجزاء یصح افتراقها حسًا اوحکمًا: چي د تاکید له الفاظو څخه د کل او اجمع په ذریعه صرف د هغه شی تاکید کیږي، کوم چي په حسي، یا حکمي توګه تقسیم قبلولای سي، د حسي مثال (اکرمت القوم کلّهم اجمعین) وګوره قوم تقسیم کېدای سي او افراد یې جلا جلا کېدای سي، مثلا د زید بېل اکرام کول، د بکر بېل اود عمرو بېل، له همدې وجې یې په کل سره دده تاکید بیان کړی، او د حکمي مثال (اشتریت العبدَ کلّه) دلته د مریيي اجزاء مثلا لاس وغیره تقسیم کېدای خو نسي، لېکن د مریيي حکمي تقسیم کېدای سي، هغه دا راز چي د مریيي نیمه حصه خرڅه سي او نیمه یې له تاسو سره وي، یا یې نیمه برخه اوس خرڅه کړې او نیمه یې وروسته، نو دا راز ممکن دي، له همدې وجې یې وویل چي (اشتریت العبد کله اجمع).

بخلاف جاء زیدٌ کلّه: مصنف رحمه الله وایي: چي د مذکوره قاعدې پر بنا جاء زیدٌ کلّه ویل صحیح نه دي، ځکه چي زید نه حسي تقسیم قبلوي او نه هم تقسیم حکمي.

دوهمه قاعده: له نفسْ او عینْ سره متعلق:

وا ذا اکد الضمیر المرفوع المتصل بالنفس والعین اکّد بمتصل: د تاکید له الفاظو څخه چي کله د نفس او عینْ په ذریعه د ضمیر مرفوع متصل تاکید وسي، نو ضروري ده چي لومړی دده تاکید په ضمیر منفصل سره وسي، لکه (ضربتَ انتَ نفسک)، دلته د (نفسک) په ذریعه په (ضربت) کي د (تاء) ضمیر مرفوع متصل تاکید سوی دی، ځکه یې نو تر ده مخکي د ضمیر مرفوع منفصل په ذریعه دده تاکید کړی دی.

د مذکوره شرط وجه دا ده چي د (نفسٌ او عینٌ) لفظ اکثره فاعل واقع کیږي، لکه (زیدٌ ضرب نفسُهُ) یعني زید دده ذات وواهه او (عمرٌو جاء عینُه) عمرو دده ذات راغی، نو که چیري له ضمیر منفصل پرته صرف د نفسْ او عینْ په ذریعه دده تاکید وسي، نو په ځیني صورتونو کي د تاکید له فاعل سره التباس لازمیږي، لکه چي په (زیدٌ ضربنی نفسُه) کي نه معلومیږي، چي نفسه د ضربنی فاعل دی، یا

دده دضمیر فاعل تاکید دی، دارازپه (به زیدٌ اکرمنی نفسه) کي هم دا خرابي لازمېږي، لیکن که چېري دده تاکید په ضمیرمنفصل سره وسي، مثلا (زیدٌ ضربنی هو نفسُه او زیدٌ اکرمنی هو نفسُه) نو اوس پکي فاعل اوتاکید بلکل صفا معلومېږي، چي هو ضمیر د ضرب او اکرم فاعل او نفسه ددغه ضمیر فاعل تاکید دی او ځیني مثالونه که څه هم داسي دي چېري چي التباس نه لازمېږي، لکه په ضربت انت نفسُک کي، لیکن په هغه کي هم طردًا للباب داسي کېږي.

په مذکوره قاعده کي د قیدونو فائدې:

و اذا اُکد الضمیر المرفوع المتصل بالنفس والعین اکد بمنفصل:

①: لومړی په دې کي ضمیر ذکر سوی دی، نو د ضمیر پر ځای که چېري دا اسم ظاهر تاکید وسي، نو په ضمیر منفصل سره یې تاکیدکول ضروري نه دی، لکه: جاء زیدٌ کلّه.

②: ضمیر یې په المرفوع سره مقید کړی دی، نو که د ضمیر مرفوع پر ځای ضمیر منصوب، یا مجرور وي، نو د هغه لپاره هم دا حکم نه دی، لکه: ضربتکَ نفسک او مررت بک نفسک.

③: د تاکید له الفاظو څخه یې صرف نفسْ او عینْ ذکر کړل، نو که چېري په کوم بل لفظ سره تاکید وسي، نو هم یې دا حکم نه دی، لکه: جاءنی القوم کلهم اجمعون اکتعون، په دې ټولو کي مذکوره حکم ځکه نه جاري کېږي، چي په داسي ځایونو کي دفاعل له تاکید سره التباس نه لازمېږي، نو کله چي لازم رانغی، نو ملزوم هم نه پاتېږي.

دریيمه قاعده: د اکتع د اخواتو متعلق:

واخواه اتباع لأجمع، فلا تتقدم علیه، وذکرها دونه ضعیف:

اکتع او ددې دواړه اخوات، یعني ابتع او ابصع دا ټول د اجمع تابع دي، نو دا درې سره تراجمع مخکي کېدای نسي، که نه د تابع پر متبوع مخکي کېدل لازمېږي او

له اجمع پرته ددغو دريو سره ذکر کول هم ضعيف دي، ځکه په دې صورت کې له متبوع پرته صرف د تابع ذکر لازميږي.

فائده: علامه زمخشري رحمه الله او دده له اتباعو څخه د کافيه د ملاصاحب مذهب دادی لکه څرنګه چې اکتع او دده اخوات پر اجمع نسي مخکې کېدای، دا راز ابتع او ابصع دواړه پر اکتع نسي مخکې کېدای او دا راز ابصع پر ابتع نسي مخکې کېدای، لکه چې همداسې ويل کېږي: جاء القوم کلهم اجمعون واکتعون وابتعون وابصعون.

او دبغداديه او جزولي په نزد هم فقط همدا ترتيب لازم دی، چې ابصع پر اکتع مخکې کول جائز دي او علامه ابن کيسان رحمه الله ويلي دي: چې اکتع او ددې اخوات پر اجمع خو نسي مخکېدای، لېکن پخپله په دوی کې ترتيب لازمي نه دی، بلکې کوم چې غواړي مخکې کولای يې سي.

يوسل اوشپږم (۱۰۶) درس
دڅلورم تابع (بدل) بيان

البدل: تابعٌ مقصودٌ بما نُسب الى المتبوع دُونه وهو بدل الكل والبعض والاشتمال والغلط، فالأول: مدلوله مدلول الأول، والثانی جزؤه، والثالث بينه وبين الأول ملابسةٌ بغيرهما والرابع: ان تقصد اليه بعد ان غلطتَ بغيره ويكونان معرفتين ونكرتين ومختلفين واذا كان نكرةً من معرفةٍ فالنعت مثل: (بالناصية ، ناصية كاذبة) ويكونان ظاهرين ومضمرين ومختلفين، ولايبدل ظاهرٌ من مضمر بدل الكل الا من الغائب نحو: ضربته زيدًا.

ترجمه: بدل هغه تابع دی، چې په يو داسې شی سره مقصود وي، د کوم چې نسبت دمتبوع وطرفته سوی وي، نه چې پخپله متبوع او هغه بدل الکل دی او بدل البعض دی او بدل الاشتمال دی او بدل الغلط، بيا لومړی هغه دی چې مدلول يې د لومړي والا مدلول وي او دوهم هغه کوم چې د لومړي جزء وي او دريم هغه

دی، چې دده او دده د متبوع ترمینځ یو قسم تړاو (تعلق) وي چې له (مذکوره) دواړو څخه غیر وي او څلورم هغه دی چې ته غلط سي، بېرته یې وطرفته را وګرزي او داد واړه معرفه کېږي او دواړه نکره کېږي او مختلف هم کېږي او کله چې بدل نکره وي له معرفه څخه نو له بدل سره صفت راوړل ضروري د ي. لکه (بالناصیة، ناصیة کاذبة) او دواړه اسم ظاهر کېږي او دواړه ضمېرونه کېږي او دواړه مختلف کېږي او بدل نسی جوړېدای د بدل الکل په ډول اسم ظاهر له اسم ضمېر څخه مګر له ضمېر غائب څخه، لکه: (ضربته زیدًا).

تشریح: د نن په سبقه کې څلور خبرې دي وررورکیه!

①: دبدل لغوي او اصطلاحي تعرېف، ②: په تعرېف کې د قیدونو فائدې، ③: د بدل قسمونه، ④: له بدل او مبدل منه سره تړلې ضروري مسئلې.

دبدل لغوي اواصطلاحي تعرېف

لومړی خبره: د بدل لغوي او اصطلاحي تعرېف:

له توابعو څخه څلورم تابع بدل دی ددې لغوي معنا ده عوض او مقابل او دده متبوع ته مبدل منه ویل کېږي.

او اصطلاحي تعرېف یې پخپله مصنف رحمه الله کړی دی، چې (البدل تابعٌ مقصودٌ بمانسب الی المتبوع دونه) یعني بدل هغه تابع دی، دکوم حکم نسبت چې د متبوع وطرفته سوی وي، د همدې حکم نسبت د تابع وطرفته هم سوی، لېکن مقصود بالنسبة صرف همدا تابع وي، نه چې متبوع، لکه (جاءني زیدٌ اخوک) دلته زید مبدل منه د ی او اخوک یې بدل دی او د زید طرفته چې د کوم راتګ نسبت سوی دی، هماغه د تابع (اخوک) وطرفته هم سوی او مقصود دهمدغه (اخوک) وطرفته نسبت کول دي، د (زید) لفظ صرف د تمهید لپاره راوړل سوی دی.

دوهمه خبره: په تعرېف کې د قیدونو فائدې:

البدل تابعٌ مقصودٌ بما نسب الی المتبوع دونه: په دې عبارت کې البدل معرف دی او تابعٌ تراخیره پوري یې تعرېف دی، په تعرېف کې تابعٌ د جنس په درجه کې دی، کوم چې ټولو توابعو ته شامل دی.

مقصود بالنسبة الى المتبوع: دا لومړی فصل دی په ذريعه يې عطف بيان، تاكيد او صفت ووتل، ځكه په دې ټولو كې مقصود بالنسبة متبوع دی، نه چې تابع.
دونه: دا دوهم فصل دی په ذريعه يې عطف بالحرف ووت، ځكه په هغه كې مقصود بالنسبة تابع او متبوع دواړه وي.

دبدل قسمونه

درېيمه خبره: د بدل قسمونه:

وهو بدل الكل والبعض والاشتمال والغلط: د كافيه ملاصاحب رحمه الله د بدل څلور قسمونه را ښيي، ①: بدل الكل، ②: بدل البعض، ③: بدل الاشتمال، ④: بدل الغلط، بيا پسې د هريوه تعريف راته كوي:

الأول بدل الكل:

فالأول: مدلوله مدلول الأول: يعني بدل الكل هغه تابع دی، چې دده او د مبدل منه مدلول يو وي، لكه: (جاءنى زيدٌ اخوک) په دې كې زيدٌ مبدل منه دی او اخوک ځيني بدل دی او دواړه پريوه شي يعني د زيد پر ذات دلالت كوي.

الثاني: بدل البعض:

الثاني: جزءه: د كافيه د ملاصاحب رحمه الله كمال او د الفاظ له خپلې خزانې څخه يې د الفاظو په خرڅولو كې احتياط ته وګورئ، چې په دې لنډو ټكو كې د بدل البعض تعريف كوي، وايې: چې بدل البعض هغه تابع دی، چې مدلول يې د مبدل منه د مدلول يو جزء او برخه وي، لكه: (ضُرب زيدٌ رأسُه) وهل سوی دی زيد يعني دده سر، په دې كې زيد مبدل منه او رأسه يې بدل دی او د پوره زيد يو جزء او برخه ده.

الثالث بدل الاشتمال:

الثالث: بينه وبين الأول ملابسة بغيرهما: يعني بدل الاشتمال هغه تابع دی، چې دده او دده د مبدل منه ترمينځ د لومړيو دوو قسمونو له تعلق پرته كوم چې د كليت او بعضيت تعلق وو كوم بل تعلق وي، لكه: (سُلِبَ زيدٌ ثوبُهُ) وګوره! جامه نه خو د زيد كل ده او نه يې جزء بلكې له دې پرته يو بل خارجي تعلق له زيد سره لري، چې د كليت او بعضيت ترمينځ دی، داراز د الله جل جلاله قول دی:

(یسئلونک عن الشهرالحرام قتال فیه) په دې کي (الشهرالحرام) موصوف سره صفت مبدل منه دی او (قتال فیه) یې بدل دی او (قتال) نه خو د (الشهرالحرام) کل دی او نه یې جزء بلکي له کلیت او بعضیت پرته یو خارجي تعلق ورسره لري، چي د کلیت او بعضیت تر مینځ دی او هغه تعلق د ظرف او مظروف دی.

الرابع بدل الغلط:

الرابع: ان تقصد الیه بعد ان غلطت بغیره: یعني بدل الغلط هغه تابع دی، چي د مبدل منه تر غلط ذکرکېدو وروسته دده قصد وسي، لکه: مررت برجل حمارٍ، دلته متکلم (مررت بحمار) وایه، خو د غلطۍ او ژبې ته د مخکي راتلو له وجې یې تر خوله رجل ووتل، بیا یې سمدستي (حمارٍ) وویل، د هغې غلطۍ اصلاح یې وکړه.

فائده: د بدل الغلط په تعریف کولو مصنف رحمه الله (ان تقصد الیه بعد ان غلطت بغیره) وویل او ددې پر ځای یې (بعد ان غلطت بالمبدل یا بالمتبوع) ونه ویل، دایې دې خبرې ته اشاره وکړه، چي لومړنی اسم ددوهم اسم لپاره په حقیقت کي هیڅ متبوع نه دی، بلکي ژبې ته د را مخکي کېدو له وجې تکلم په وسو او کوم عامل چي پر وروستني اسم داخلېدی، هغه پر لومړني اسم داخل سو.

له بدل او مبدل منه سره تړلې ضروري مسئلې

څلورمه خبره له بدل او مبدل منه سره تړلې ضروري مسئلې:

لومړۍ قاعده: د بدل او مبدل منه معرفه، یا نکره کېدل:

ویکونان معرفتین ونکرتین ومختلفین: په دې عبارت کي مصنف رحمه الله د بدل او مبدل منه د تعریف او تنکیر په اعتبار سره یوه قاعده بیانوي، چي د بدل او مبدل منه دواړوه لپاره هیڅ مطابقت شرط نه دی، بلکي دواړه معرفه هم کېدای سي، لکه (ضرب زیدٌ اخوک) او دواړه معرفه هم کېدای سي، لکه (جاءني رجل غلامٌ لزیدٍ) او یو له بل سره مخالف او مغائر هم کېدای سي، چي لومړی معرفه او دوهم نکره وي، لکه (بالناصیة، ناصیة کاذبة خاطئة)، یا لومړی نکره او دوهم معرفه وي، لکه (جاءني رجل غلام زید).

فائده: د تقریر کافیه مصنف لیکلي دي او محشي صاحب په حاشیه کي هم لیکلي دي، چي د تعریف او تنکیر په اعتبار سره بدل کل شپاړس (۱۶) قسمه جوړېږي، لکه مذکوره څلور قسمونه دي، دا څلور قسمونه دبدل په څلورو قسمونو کي جاري کېږي، نو څلورو ته چي په څلورو کي ضرب ورکړل سي، نو شپاړس صورتونه جوړېږي، د ټولو مثالونه ملاحظه کړئ.

د بدل الکل مثالونه:
چي بدل او مبدل منه دواړه معرفه وي، لکه: جاءنی زیدٌ اخوک.
چي بدل او مبدل منه دواړه نکره وي، لکه: جاءنی رجلٌ غلامٌ لزید.
بدل نکره او مبدل منه معرفه وي، لکه: جاءنی زیدٌ غلامٌ له.
بدل معرفه او مبدل منه نکره وي، لکه: جاءنی رجلٌ غلام زید.
د بدل البعض مثالونه:
چي بدل او مبدل منه دواړه معرفه وي، لکه: سُلب زید رأسه.
چي بدل او مبدل منه دواړه نکره وي، لکه: سُلب رجلٌ رأس له.
بدل نکره او مبدل منه معرفه وي، لکه: سُلب زیدٌ رأس له.
بدل معرفه او مبدل منه نکره وي، لکه: سُلب رجلٌ رأسه.
د بدل الاشتمال مثالونه:
بدل او مبدل منه دواړه معرفه وي، لکه: اعجبنی زیدٌ علمه.
بدل او مبدل منه دواړه نکره وي، لکه: اعجبنی رجلٌ رأسٌ له.
بدل نکره او مبدل منه معرفه وي، لکه: اعجبنی زیدٌ علمٌ له.
بدل معرفه او مبدل منه نکره وي، لکه: اعجبنی رجلٌ علمه.

د بدل الغلط مثالونه:
بدل او مبدل منه دواړه معرفه وي، لکه: جاءنی زيدٌ الحمار.
بدل او مبدل منه دواړه نکره وي، لکه: جاءنی رجلٌ حمارٌ له.
بدل نکره او مبدل منه معرفه وي، لکه: جاءنی زيدٌ حمارٌ له.
بدل معرفه او مبدل منه نکره وي، لکه: جاءنی رجلٌ حمارٌ له.

فائده ②: د بدل الکل دوهم مثال په کوم کې چې بدل او مبدل منه دواړه نکره وي، نو په هغه کې چې پر (غلام) کوم تنوين راغلی دی، غلام يې له کبله نکره دی، تاسو داسي ونه فهموئ، چې د زيد وطرفته د اضافت په وجه غلام معرفه کېږي، ځکه پر زيدٌ لام هم داخل سوی دی، ځکه دلته اضافت نسته (کمافی تقرير الکافيه ج: ۱، ص: ۲۶۲).

دوهمه قاعده: د نکره له معرفه څخه بدل واقع کېدل:

و اذا کان نکرة من معرفة فالنعت: معلومېږي چې د کافيه ملاصاحب علامه ابن حاجب رَحِمَهُ اللهُ د کافيه د ليکلو په وخت کې د مرګ زنګونه محسوسول، له همدې وجې يې بلکل په ادل، بدل الفاظو کې تعريفات، مسائل او قواعد وغيره بنودلي دي، ددې لپاره چې کوم شی پاته نسي، نو دلته هم يوه اهمه مسئله په مختصرو الفاظو کې بيانوي، چې که چېري کوم اسم نکره له اسم معرفه څخه بدل واقع سوی و، نو په اسم نکره کې د څه ناڅه تخصيص پيداکېدو لپاره صفت راوړل ضروري دي، ځکه چې مقصود بالنسبة دلته بدل وي او د مقصودي شی درجه د غير مقصودي شی په مقابل کې اعلیٰ کېدل پکار دي او دلته مبدل منه په معرفه کېدو سره اعلیٰ ده او بدل په نکره کېدو سره ادنیٰ دی، له همدې وجې يې ورسره صفت راوړ، چې تخصيص پيداسي، ددې لپاره چې د نکارت په وجه د ادنیٰ او انقص کېدو څه ناڅه حصه زائل سي، لکه: (لنسفعًا بالناصية ناصية کذبة خاطئة) يعني موږ به هرومرو ابوجهل ونيسو په تندي سره، نو سوال پيداکېدی چې کوم تندی؟، نو ويې ويل: چې (ناصية کاذبة خاطئة) يعني هغه کوم عام تندی نه دی، بلکي دروغجن او خطاوي کوونکی تندی دی، هغه رانيسو.

دريمه قاعده: د بدل او مبدل منه د اسم ظاهر او اسم ضمير په صورت راتلل:

و يکونان ظاهرين ومضمرين ومختلفين: په دې عبارت کې مصنف رحمه الله دبدل اومبدل منه داسم ظاهر او اسم ضمير په اعتبار سره يوه قاعده بيانوي، چې ددې لپاره هم کوم شرط نسته، بلکې دواړه اسم ضمير هم راتلای سي، لکه: (زيد ضربته اياه) او يو له بله مغائر هم کېدای سي، چې لومړی اسم ظاهر وي او دوهم اسم ضمير وي، يا ددې پر عکس وي، لکه: (زيدضربته اخاک).

فائده: لکه څرنګه چې په لومړۍ قاعده کې شپاړس صورتونه جوړېدل، بلکل همداسې دلته هم شپاړس صورتونه جوړېږي، کوم مثالونه چې د اصل کتاب په حاشيه کې لېکل سوي دي، هلته يې وګورئ.

څلورمه قاعده: داسم ظاهر له اسم ضمير څخه بدل الکل جوړېدل:

و لا يُدل ظاهرٌ من مضمر بدل الکل الا من الغائب: **يعني** اسم ظاهر له ضمير متکلم او ضمير مخاطب څخه بدل الکل نسي جوړېدای، بلکې صرف دٔ غائب له ضمير څخه جوړېدای سي، لکه (ضربته زيدًا).

د دې وجه داده چې د متکلم او مخاطب ضميرونه اعرف المعارف وي او مقصود بالنسبة بدل وي، نو که چېري د متکلم يا مخاطب له ضمير څخه اسم ظاهر بدل سي، نو د اعلیٰ ادنیٰ او د ادنیٰ اعلیٰ کېدل لازمېږي او د غائب له ضمير څخه ځکه دا بدل جوړېدای سي، چې هغه که څه هم معرفه دی، لېکن د کمې درجې معرفه دی، له همدې وجې مذکوره خرابي په هغه کې نه لازمېږي.

يو سل اووم (۱۰۷) درس

د پنځم تابع (عطف بيان) بيان

عطف البيان: تابعٌ غير صفة يوضح متبوعه مثل: اقسم بالله ابو حفص عمر، وفصله من البدل لفظًا فی مثل: انا ابن التارک البکریّ بشر.

ترجمه: عطف بيان هغه تابع دی، چې له صفت څخه غير وي او د خپل متبوع وضاحت کوي، لکه (اقسم بالله ابو حفص عمر) يعني د الله جل جلاله په نامه قسم! ابو حفص يعني عمر رضي الله عنه او جلاوالی دده له بدل څخه په لفظي توګه وي په داسې مثالونو کې (اناابن التارک البکری بشر) يعني زه د ابن التارک بکری بشر زوی يم.

تشريح: ورورګيه! د نن په اخيري سبقه کي درې خبرې دي:

①: د عطف بيان تعريف، ②: په تعريف کي د قيدونو فائدې، ③: د بدل او عطف بيان ترمينځ فرق.

دعطف بيان تعريف

لومړی خبره: د عطف بيان تعريف:

عطف البيان تابعٌ غير صفة يوضح متبوعه: په دې عبارت کي د کافيه ملاصاحب رَحِمَهُ اللّٰهُ د عطف بيان تعريف بيانوي، چي عطف بيان هغه تابع دی، کوم چي صفت نه وي او د خپل متبوع وضاحت کوي، لکه: (اقسم بالله ابو حفص عمر) په دې کي (ابو حفص) متبوع دی او (عمر) يې تابع دی، يعني عطف بيان دی، ځکه (ابوحفص) کوم چي د عمر رضي الله عنه کنيه نوم دی، دا نا واضح دی، نو د عمر په راوړلو سره واضح سو.

د شعر دورود محل:

يو صحرايي عمر رضي الله عنه ته راغی، ويې ويل: اميرالمؤمنين! زما کور ډېر ليري دی او اوښ کوم چي له ما سره دي، هغه کمزوری دی او نس يې ژوبل دی او په پښو کي يې سوريان پيداسوي دي، نو ته ماته يو بنه اوښ راکړه، ځرنګه چي عمر رضي الله عنه عالم الغيب خو نه و، نو ګمان يې وکړ، چي کېدای سي دی دورغ وايې، نو يې د اوښ له ورکړې څخه انکار وکړ، اعرابي (صحرايي) چي دا واورېدل، نو له خپل ناروغ اوښ سره روان سو او دا شعرېې وايه ع:

اقسم بالله ابو حفص عمر

ما مسّها من نقبٍ ولادَبَــــــرِ

اغفر له اللّهمّ ان كان فـــــجر

ترجمه: ابوحفص يعني عمر رضي الله عنه په الله جل جلاله قسم وخوړ، چي نه خو دده په اوښ کي کوم سوری پيداسوی او نه يې نس ژوبل دی، نو ای الله جل جلاله! که چېري عمر رضي الله عنه په دروغو قسم خوړلی وی، نو ده ته بخښنه وکړې.

د الله ﷻ شان او قدرت ته وګورئ! چي عمر رضي الله عنه پر لاره مخامخ را روان و، دا حالت يې ليدی او دا اشعار يې واورېدل، نو ويې ويل: ای الله ﷻ! د دې صحرايي وينا رشتيا کړې، بيا يې صحرايي ترلاس ونېو، ورته ويې ويل: له خپل اوښ څخه دي سامان را کښته کړه، هغه سامان را کښته، عمر رضي الله عنه وليدل، چي هغه اوښ رشتيا ناروغ و، نو خپل اوښ او دلارې څوری او څه جامې و غيره يې ورکړل او رخصت يې کړ (کما فی تهذيب الکافيه ص: ۲۱۳).

لطيفه (خوږ.کی): يوه طالب العلم ته چا وويل: چي وښييه! پير بابا رحمه الله لوی دی، که دا مخامخ غر؟، طالب العلم چي دا واورېدل نو په فکر کي سو، چي څه ځواب ورکړم؟، که ووايم چي پير بابا لوی دی، نو غر خو دومره لوی دی، چي ګواکي له اسمان سره د نياز وراز خبرې کوي، نو دا جواب خو صحيح نه دی، او که چېري ووايم چي غرلوی دی، نو د پير بابا درجه کښته کېږي، نو دا جواب هم صحيح نه دی، په اخېر کي يې تر څه فکر کولو وروسته ساده پاده جواب ورکړ، ويې ويل: وروره! الله ﷻ دي تا داسي حيران کړي، لکه زه چي دي حيران کړم.

نو خوږو طالبانو! نن تاسو ته هم همداسي معامله راغلې ده، هغه دا چي تېر کال تاسو په هداية النحو کي د عطف بيان په تعريف کي ويلې وه، چي (و هو اشهر اسمي شئ) يعني عطف بيان د يو شی په دوو نومونو کي په مشهور ترين نامه سره کول او ددې په مقابله کي به تاسو په راتلونکي کال کي په شرح جامي کي ووایاست، چي (وليس بلازم فی عطف البيان ان يکون اوضح من متبوعه...فيمکن ان يکون الأول (المتبوع) اوضح من الثانی) يعني د عطف بيان لپاره دا څه لازمي نه دي، چي هغه دې تر خپل متبوع زيات واضح وي، بلکي لازمي صرف دادي چي هغه وضاحت کوم چي په تابع او متبوع کي په يوه يوه سره نه حاصلېږي، هغه ددواړو په يو ځای کېدو سره حاصلېږي او په دې کي دا هم عين ممکن دي، چي لومړنی يعني متبوع زيات واضح وي تر خپل تابع يعني عطف بيان.

نو تر مينځ موږ او تاسو حضرات په حيرانۍ کي واقع سو، نو موږ د کافيه له ملاصاحب رحمه الله څخه غواړو، چي جناب! موږ په دې مشکل کي لوېدلي يو، ته موږ ته را وښييه چي موږ کومه خبره ومنو؟ که د هداية النحو خبره ومنو، نو د

جامي ملاصاحب رحمه الله ناراضه کېږي او که دده خبره ومنو، نو د هداية النحو ملاصاحب رحمه الله ناراضه کېږي، نو د کافيه ملاصاحب رحمه الله هم د پورتنی لطيفې د طالب العلم په څېر د عطف بيان ساده پاده تعريف وکړ، چي (تابعٌ غير صفة يوضح متبوعه)، له دواړو تعريفونو يې ځان خلاص کړ، لېکن د انصاف خبره داده چي د شرح جامي د ملاصاحب رحمه الله خبره صحيح سي.

دوهمه خبره: په تعريف کي د قيدونو فائدې:

عطف البيان تابعٌ غير صفة يوضح متبوعه: په دې عبارت کي (عطف البيان) معرّف دی او (تابعٌ) تر اخيره پوري يې تعريف دی، بيا په تعريف کي (تابعٌ) د جنس په درجه کي دی، کوم چي ټولو توابعو ته شامل دی او (غير صفة) لومړی فصل دی، په ذريعه يې صفت وزي، (يوضح متبوعه) دوهم فصل دی، په ذريعه يې نور توابع وزي.

د بدل او عطف بيان ترمينځ فرق

درېيمه خبره: د بدل او عطف بيان ترمينځ فرق:

وفصله من البدل لفظًا: په دې عبارت کي د کافيه ملاصاحب رحمه الله د نحو پر هغو علماؤ رد کول غواړي، کوم چي وايې: توابع ټول څلور دي، هغه داسي چي عطف بيان کوم مستقل قسم نه دی، بلکي په بدل کي شامل دی، نو د کافيه ملاصاحب رحمه الله پر دوی په رد کولو سره وويل: چي عطف بيان او بدل دواړه يو شی نه دي، بلکي د دواړو ترمينځ باقاعده په لفظي او معنوي دواړه ډوله فرق سته، معنوي فرق خو يې مشهور و، چي په بدل او مبدل منه کي مقصود بالنسبة بدل دی او مبدل منه صرف د تمهيد او توطيه لپاره راځي او په عطف بيان کي مقصود بالنسبة دده متبوع وي او تابع صرف د وضاحت لپاره وي، له همدې وجې دده ذکر نه کېږي.

البته لفظي فرق يې بيان کړی، چي د (انا ابن التارک البکری بشر) په څېر مثالونو کي د عطف بيان او بدل ترمينځ لوی فرق سته، چي (بشر) د (البکری) لپاره عطف بيان سي، هېڅ خرابي نه لازمېږي، لېکن که همدا (بشر) له (البکری)

څخه بدل سي، نو خرابي لازمېږي، ځکه بدل د عامل د تکرار په حکم کي وي، نو ګواکي چي دلته د (بشر) په شروع کي (التارک) لګول صحيح دي، نو بيا عبارت داسي کېږي: (انا ابن التارک التارک البکری التارک بشر) او دا ناجائز دی، ځکه دا بعينه د (الضارب زيد) په څېر کېږي او مخکي مور ددې وضاحت کړی دی، چي دا ناجائز دی، ځکه په (الضارب زيد) کي د اضافت په وجه سره هيڅ تخفيف نه راځي، بلکي له (الضارب) څخه چي کوم تنوين ليري سوی هغه د الف د داخلېدو له وجې ليري سوی دی او دلته په (التارک بشر) کي هم همداسي کېږي، ځکه يې نو بدل جوړېدل صحيح نه دي، بلکي دا عطف بيان جوړېږي او عطف بيان د عامل د تکرار تقاضا نه کوي، نو عبارت صرف داسي کېږي: (انا ابن التارک البکری بشر) او دا سي عبارت صحيح دي.

فائده ①: د کافيه ملاصاحب رحمه الله (فی مثل انا ابن التارک البکری بشر) وويل، خو له (مثل) څخه يې مراد هر هغه ترکيب دی، په کوم کي چي د عطف بيان متبوع داسي معرف باللام وي، د کوم طرفته چي د صيغه صفت اضافت سوی وي، په داسي حال کي چي هغه صيغه د صفت هم معرف باللام وي، لکه په مذکوره شعر (انا ابن التارک البکری بشر) کي، وګوره! د (بشر) متبوع (البکری) معرف باللام دی او دده اضافت سوی د ی د (التارک) صيغه صفت وطرفته کوم چي معرف باللام دی.

فائده ②: مذکوره شعر د المراري الأسدي نومي شاعر دی، پوره شعر داسي دی:

انا ابن التارک البکری بشر * عليه الطير ترقبه وقوعا

ترجمه: زه د هغه سړي زوی يم، کوم چي د بکري بشر په څېر زړور او پهلوان سړی په ډګر کي وواژه، په داسي حال کي يې پرېښود، چي مرغانو دده د مړيني انتظار کاوه او په داسي حال کي چي مرغان په هواکي موجود وه.

ترکيب:

انا ابن التارک البکری بشر

علیه الطیر ترقبه وقـــــوعا

(انا) ضمیر د متکلم مبتداء، (ابن) مضاف، (التارک) د ماقبل لپاره مضاف الیه او د مابعد لپاره مضاف (البکری) معطوف علیه، (بشر) عطف بیان، معطوف علیه سره له خپل عطف بیانه مضاف الیه لفظًا او مفعول به اول د (التارک) صیغه صفت لپاره، (علی) جار، (ها) ضمیر مجرور، جار سره له خپل مجروره ظرف مستقر متعلق تر (کائنة) پوري، (کائنة) صیغه داسم فاعل (هی) ضمیر ذوالحال، (الطیر) مبتداء مؤخر، (ترقب) فعل (هی) ضمیر ذوالحال، (ه) ضمیر مفعول به، (وقوعا) دواقعة جمع دی دا حال سو، ذوالحال سره له خپل حال فاعل سو د (ترقب) لپاره، (ترقب) فعل سره له خپل فاعل اومفعول به جمله فعلیه خبریه خبر مقدم دی د (الطیر) مبتداء مؤخر لپاره، مبتداء مؤخر سره له خبر مقدم جمله اسمیه خبریه مفعول ثاني د (التارک) صیغهٔ صفت لپاره، (التارک) صیغه صفت سره له خپلو دواړو مفعولونو مضاف الیه د (ابن) مضاف لپاره، (ابن) مضاف سره له خپل مضاف الیه خبر د (انا) ضمیر مبتداء لپاره، مبتداء سره له خپل خبره جمله اسمیه خبره سوه.

والله تعالی اعلم بالصواب وعلمه اتم واکمل (وَ مَا اُوْتِيْتُمْ مِنَ الْعِلْمِ اِلَّا قَلِيْلًا) رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّا اِنَّکَ اَنْتَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْم وَ تُبْ عَلَيْنَا اِنَّکَ اَنْتَ التَّوَّابُ الرَّحِيْم. وَ صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَی النَّبِیِّ الْاُمِّیِّ وَ عَلٰی آلِهٖ وَ اَصْحَابِهٖ وَ اَتْبَاعِهٖ وَ اُمَّتِهٖ اَجْمَعِيْنَ اِلٰی يَوْمِ الدِّيْنِ بِرَحْمَتِکَ يَآ اَرْحَمَ الرَّاحِمِيْنَ

سید عبدالرشید بن مقصود هاشمي

عفی الله عنه وعافاه

استاذ مدرسه عربیه تجویدالقرآن قیوم آباد کراچي

(۳ شوال المکرّم سنه: ۱۴۳۰هــ د شروع ورځ)